# زنداني خاطرات

د. محمد هاشم زماني



# زنداني خاطرات

(دهاشم خان د جهنمي زندانونو يوه گوښه)

د

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

PROPERTY OF
ACKU
9237

محمد هاشم زماني

د زندان د ۱۳ کلنۍ دورې يادداشتونه

۱۳۷۹ / ۲۰۰۰

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00009237 8



# اهـــداء

زه دا کتاب

د دهمزنگ د زندان د کوټه قلفۍ دیوې کاسې انډیوال

محترم مشر ورور

الحاج محمد ارسلان خان زماني لاله ته

چې اوس د زمانی کورنۍ مشر هم دی،

په ډېره مینه اهداء کوم!

محمد هاشم زماني

## سریزه

{ ۱ }

د هېواد حساس جغرافیایي موقعیت دې هېواد ته ځپځپاند او خوځند تاریخ وربخښلی، په هره پېړۍ کښې یو ځل دوه ځل تر تېرې او برید لاندې راغلی یا د دښمنانو په لمسون په کورنیو خونړیو جګړو اړول شوی دی.

زمونږ د تاریخ سنت داسې راغلی چې هر بهرنی دښمن په مخامخ مقابله کښې مات شوی او بیا یې په غیر مستقیم ډول د پنځم ستون په استخدامولو سره غچ اخیستي، په هېواد کښې یې ګډوډي پېښه کړې او یا یې د بندوخونو د ترون لیکونو له مخې خپل ګوډاګیان د افغانانو په جامه کښې رالېږلي او خپل ښکېلاکي هدف ته رسېدلي دي.

لرې به نه ځو په دې وروستیو دریو پېړیو کښې څو څو ځل داسې شوي دي، د نمونې په توګه میرویس نیکه صفویان مات کړل او له هېواده یې وایستل خو هغوی دده د ورور عبدالعزیز په څېره کښې بېرته راغبرګ شول او میرویس نیکه ته یې د خپلې دښمنۍ زهر ور وڅښل.

شاه زمان سدوزایي چې د انګرېزانو ښکېلاکي اهدافو ته غاړه نه اېښوده له سختو کورنیو مخالفتونو سره مخامخ کړای شو چې په دې لړ کښې یې د

خپلو ستر گو ځراغونه له لاسه ورکړل او بیا انگرېزان وتوانیدل چې پر شاه شجاع د لاهور د ری اړخیزه معاهده ومني، دافغانستان گني خاورې لاندې کړي او پر پاتې خاوره ددوی له پاره واکمني وکړي. مجاهدینو چې په ۱۸٤۱ کال په بې ساری مېړانه د انگریز مخامخ ښکېلاک پرشا وتمباوه او نه هېرېدونکې ماته او نه جبیره کېدونکی زیان یې ور واړاوه نو انگرېزان بیا هم په غیر مستقیم ډول د امیر دوست محمد خان په ځېره کښې راغلل او کله چې شیر علیخان بیا خپلواک حکومت ټینگ کړ نو د وحشیانه برید له مخې یې لومړی افغانستان وران او بیا یې امیر عبدالرحمن خان پکښې حکمران کړ. په ۱۹۱۹ کال چې اعلیحضرت امان الله خان د هېواد خپلواکي ترلاسه کړه او د روسي او انگلیسي ښکېلاک ترمنځ یې د خپلواکې پالیسی له مخې حکومت کاوه او په یوه وخت کښې یې د هندوستان او منځنی آسیا آزادي غوښتونکو ته ددې دواړو ښکېلاکي ځواکونو په وړاندې پناه ورکوله، همهغه وو چې د شینوارو او شمالي داړدوړډ رامه د انگلیسی ماهرینو په وسیله جوړه او په افغانستان کښې په خونړۍ تو گه ستبهج شوه خو دا لویه هم د دوام نه وه نو د دوام او استقرار له پاره د هېواد په یوه داسې پېژندل شوي ځېره باندې لاس کښېښودل شو چې په خلکو کښې یې شهرت لاره او په ډېر تدبیر یې کولای شول هېواد د انگرېزانو په گټه اداره کړي.

{۲}

جنرال محمد نادر خان داسې وخت چې امان الله خان له هېواد نه په وتو ؤ له فرانسې نه د یوې مفاهمې له مخې هندوستان ته راغی هلته یې د هند دخلکو او آزادي غوښتونکو د ملاتړ له پاره وعده ورکوله چې دی تخت ېېرته د امان الله خان له پاره نیسي خو دده له پاره د برتانوي هند د حکومت امنیتي تدبیرونو او د مواقعو مساعدولو ښودله چې انگرېزان یې افغانستان ته له تلو سره مخالف نه دي.

ده په ډېره هوښياري د هند د آزادي غوښتونکو ملاتړ هم ترلاسه کړ او د افغانستان د هېواد پالو هم خو کله چې کابل ته ورسېد حکومت يې په خپل نامه اعلان کړ او خپله زړه ژمنه يې تر پښو لاندې کړه.

نادر خان د افغانستان په اولس کښې ښه شهرت درلود ، د خپلواکۍ په جگړه کښې دده جبهه د ټولو جبهو مخکښه وه او تر هغې وروسته چې اعليحضرت امان الله خان د کابل په لويديځ کښې د علي آباد ځمکې ورويخښلي ده دا ځمکې طبي زده کړو او طبي خدماتو ته وقف کړې، همدا راز کله يې چې د سقو د زوی په وړاندې جنگي عمليات کول کورنۍ يې د کابل په ارگ کښې وه او هر آن ددې وېره وه چې تر تعرض او تېري لاندې راشي خو هم ده په ډېر جرأت جنگي عمليات وکړل او هم د سقو زوی د يوه افغان په صفت دده پر ماشومانو او ښځو د تېري اقدام و نه کړ. همداراز تر پاچا کېدلو وروسته يې هم په ډېر احتياط د اماني حکومت د اصلاحاتو پروگرام له سره راونښلاوه خو په دې ترتيب چې حساسيت پاروونکې برخې لکه د ښځو زده کړې، د مطبوعاتو آزادۍ او نور يې ترې لرې کړل او يا يې غوښتل چې ورو - ورو زمينه ورته برابره کړي خو بيا هم دده پوشمېر نور کارونه د ژور انتقاد وړ وو او له ملي نظره په شک ورته کتل کېدل لکه د هېواد پالو کسانو او حتی کورنيو وژل، بنديانول او ددوی ماشومان د تعليم له حق نه محرومول.

په هر حال نادر خان په ډېره هوښياری د ملي او ځاني غوښتنو تر يوه حده ساتله خو کله چې دده ورور سردار عزيز او بيا ورپسې دی د دوو افغاني ځوانانو له خوا ووژل شول نو دده ورور محمد هاشم خان له ملت سره ډاگيزه دښمني راواخيسته، د هېواد په څه پوه او تحصيليافته ځوانان يې يا د خپل وحشت د حاکمولو له پاره د ځان مله کړل او يا يې که لاره نه ورسره وړه نو د زندانونو مېلمانه يې کړل او د زجرونو او شکنجو له لارې يې د لېونتوب او فکري امحاء حالت ته ورسول. د وحشت ساحه يې دومره پراخه وه چې د يوه قوم

په مخالفت به يې د قوم ټول مشران نيول. د يوې کورنۍ په مخالفت به يې د کورنۍ ټول غړي او متعلقين نيول او د دوی ډېر ليرې، ليرې خپلوان به هم تر تعقيب او تهديد لاندې او ماشومان به يې په ښوونځيو کښې له زده کړې نه محروم ؤ. دده له استبدادي نظام نه به چې لږ سرغړاوی وشو نو په هېواد کښې به يې ټول روښانه او په څه پوه کسان نيول او بنديانول، د باغ بالا د تپې نه لاندې دداشونو په باب د يوه داشوان روايت دی چې د داش د ښه سره کولو امر به وشو او بيا به نيمه شپه له موټر نه لاس تړلي او پښې تړلي کسان راوايستل شول او په دې سرو اورونو کښې به يې واچول چې په څو دقيقو کښې به يې لاشونه د اور خوراک شول.

{۳}

دا ستاسو په لاس کښې کتاب هم د هاشم خاني استبداد يوه وړه ځونه ده چې د يوه بل مظلوم او معصوم هاشم چې له خپلې ټولې کورنۍ سره دده د وحشت ښکار شوی ؤ، په قلم ليکل شوی دی. څرنګه چې د کتاب ليکوال ته زيات درد او ځور رسېدلی، د نوې ځوانۍ خوږ عمر يې په کوټه قلفيو او زولانو کښې تېر شوی نو ژبه يې تر معمول خلاف ډېره ترخه استعمال کړې او د لوی ملي مبارز ارواښاد بابا عبدالعزيز خبرې خو يې بېخي کټ مټ له ټولو سختو جملو سره را اخيستې دي.

په هر حال د کتاب واقعات ډېر زيات جالب دي د هغې وخت د زندانونو په باب (چې اوس يې هم په افغانستان کښې چندان توپير نه دی کړی) ډېر څه لري او د وخت په زندانونو کښې ټولنيزه، رواني، اخلاقي او اقتصادي وضع روښانوي ، د زماني صاحب په ياد داشونو کښې ډېرې عاطفي صحنې هم په ډېره هيجاني ژبه ادا شوې لکه: د مظلومانو کاروان، په توره شپه کښې وحشيانه چپاو، د ناروغۍ له کټ نه د زندان کوټې ته، ګرمې وهلې تږې ماشومان، زموږ لوڼو او سپږو وژلې ماشومان، د لمر له وړانګو نه يو نيم کلن

محرومیت، خصوصاً بندي زوی د بندی مور په غېږ کښې یوه داسې هیجاني صحنه ده چې له ډېرې نه د سخت زړه لروونکی انسان هم ژړولای شي. ځینې صحنې یې د ژورې ژړا تر څنګ ترخه خندا هم سړی ته وروليی او د کومېډی او تراژیدی یو عجیب ګډون دی، لیکوال د کومیډی لیکنو لوړ استعداد لري نو ځکه د ژړا په صحنو کښې هم د خندا برخه رانغاړي لکه د جشن په لاره زندان ته، د سپږو بهیرونه، د جشن سیلاني ملګری، د ببر او بیست بندیان او خصوصاً د غاښ درد یا بهر ته د وتلو چانس یې د ډېرې خندونکي صحنې دی، همداراز ګڼې معلوماتی برخې لري لکه د محبس د صنعتی څانګو کته د صدراعظم جیب ته لوېدل او نور.

له بندیانو سره یارانه یې د معلوماتو او یادداشتونو جالبه برخه ده او له مشهورو نامتو سیاسي بندیانو سره یې ناسته پاسته او زده کړه د خپل سیاسي او اجتماعي درک د ترلاسه کولو زمینې راښیي.

د زماني صاحب مشاهدات ژور او خوندور دي خو له یو شمېر بندیانو نه یې چې روایات لیکلي هغه اکثر ددوی د ذهني فشارونو نه د راولاړ شوي حالت محصول دي او زما له نظره نوره څېړنه، دقت او خارجي دلایل غواړي لکه: د مولوی یار محمد یاري، د نورعلم خان روایتونه او خصوصاً د ملا بهرام دردوونکي ماجرا چې د کتاب زیاته برخه یې هم اشغال کړې ډېره زیاته له نقاضتونو څخه ډکه او د شک او تردید وړ ده، دده زیات معلومات ډېر زیات تخیلي دي او خصوصاً د کندهار له پاره یې په خپل خیال کښې د هند د سیاسي او اجتماعي فضا په رڼا کښې نقشه جوړه کړې ده : هلته مدرسه جوړوي، اسلامي کمیته جوړوي او سقوي دوره په زماني لحاظ ډېره زیاته اوږدوی چې تاریخ یې ملاتړ نه کوي، دی چې په کندهار کښې د خپل فعالیت وخت ښیی دا هغه وخت دی چې د سقو زوی پر کندهار قبضه لري او هېڅوک هم علني فعالیت نه شي کولای، زما له نظره مولوی بهرام زجرونو او شکنجو د رواني توازن د

ګډوډۍ مرحلو ته رسولی او دا ته یې چې څه ویلی هغه یې د فکر د ګډوډۍ د وخت محصول دي او باید په دومره تفصیل نه وای.

سره له دې چې زه ددې کتاب له ترخې لهجې سره موافق نه یم خو په مجموعي توګه د افغانستان د تاریخ او خصوصاً په افغانستان کښې د زندانونو د څېړونکو له پاره ډېر معلومات لري او هم د عامو لوستونکو له پاره ډېر داستاني، بوختوونکي، بوږنوونکي او لړزوونکي مطالب پکښې راغلي دي.

په مینه

حبیب الله «رفیع»

لانګی، کاناډا

۱۹۹۹

# فهرست


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| د مظلومانو کاروان | ۱ |
| په توره شپه کښې وحشیانه چپاو | ۳ |
| د ناروغۍ له کټ نه د زندان کوټې ته | ۶ |
| په لته بند کښې د بند خبر | ۸ |
| د جشن په لاره زندان ته | ۱۰ |
| ګرمۍ وهلي تږي ماشومان | ۱۱ |
| د قلعهٔ جدید په زړو کوټو کښې | ۱۲ |
| نامتو سیاسي بندیان | ۱٤ |
| د سپږو بهیرونه | ۱۵ |
| د خلاصون دعا | ۱۷ |
| د بندیانو همدردي او زمونږ کوټه قلفي | ۱۷ |
| نومیالي سیاسي بندیان | ۱۸ |
| نازولي ماشومان او مېرمنې | ۲٦ |
| د زنانه توقیف نورې مېرمنې | ۲۸ |

سرلیک

مخ


| | |
|---|---|
| زمونږ لوړو او سپړو وژلي ماشومان | ۲۹ |
| زموږ د تولو ماشومانو او ښځو د تباهۍ خبر | ۳۲ |
| زمونږ د ماشومانو او ښځو ډاډمن خبر | ۳٦ |
| د بابا عبدالعزیز جرم | ۳۷ |
| د محمد یعقوب خان سرگذشت | ۳۹ |
| صندلۍ او د برستنو اور | ٤۱ |
| انقلابي درسونه | ٤٤ |
| هم زندان، هم وهل ټکول | ٤٥ |
| د لمر له وړانگو نه یو نیم کلن محرومیت | ٤۷ |
| د جشن سیلاني ملگري | ٤۹ |
| د عمومي زندان د بندیانو حال | ٥۰ |
| د صنعتي کارگرانو گټه د صدراعظم په جیب کښې | ٥۱ |
| کُره خانه که د ماشومانو زندان | ٥٥ |
| بیا هم سیل ته راغلي ملگري | ٥٦ |
| جعلي سردار | ٥۷ |
| د ببر او بیست بندیان | ٦۱ |
| د غابن درد یا بهر ته د وتلو چانس . | ٦٤ |
| بندي زوی د بندۍ مور په غېږ کښې | ۷۰ |
| سگرېټ او ښېراوې | ۷٦ |
| د بابا تقریر او د پاچا خیال | ۷۷ |
| د لمر ورځ او د وْربځو لړې | ۷۹ |
| زولنې ماتېږي، هیلې غوړېږي | ۸٤ |
| د بابا درسونه | ۸٦ |

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| د زولنو تأثير | ۸۸ |
| د مولوي يار محمد ياري | ۹۰ |
| خورد تعمير او د خليفه دردوونكې كيسه | ۹۸ |
| د كاكو كيسه | ۱۰۱ |
| زموږ د ښځو او ماشومانو خلاصون | ۱۰٦ |
| زموږ د وړيو ماشومانو راتلل | ۱۰۸ |
| د حکومت له خوا زموږ د حاصلاتو د روپيو راکول | ۱۱۰ |
| په نس وږی صنعتی کارگران او د ډوډيو غلا | ۱۱۲ |
| سرحدداريې ملگری مړ ، مال غلا او دی بندي كړ | ۱۱۷ |
| ابراهيموف د اور په لنبو كښې | ۱۲۰ |
| د زندان نه د بابا عبدالعزيز خلاصون | ۱۲۳ |
| قلعۀ جديد ته تلل | ۱۲٦ |
| د زجرونو سياسي لېونيان | ۱۲۸ |
| د لېونيانو دنيا | ۱۳۳ |
| د لېونيانو خواړه: واښه او ميده كړي هډوكی | ۱۳۵ |
| د لېونيانو د لوړې د مخنيوي پروگرام | ۱۳٦ |
| د ارباب داسونو غلا | ۱٤۱ |
| د ډوډی او ښوروا د قرارداد فسخ كېدل | ۱٤۳ |
| وږي لېونيان او د ډوډيو تالان | ۱۵۰ |
| د ښوروا ديگونه | ۱۵۵ |
| د قرار داد نويېدل او د تېپي بنديانو تداوي | ۱۵۷ |
| يوه پنډه ډوډی او د سكونډلو سزا | ۱٦۳ |
| د شهر ناپرسان د پاچا كيسه | ۱٦٦ |

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| د ظالم سره جگړه لوی جهاد دی | ۱۷۰ |
| لېونیانو ته ډوډی او د کندهار تازه مېوه | ۱۷۲ |
| کُره خانه: د ماشومانو زندان | ۱۷٦ |
| د روژې محتسب د لېونیانو په اخ و ډب کښې | ۱۷۷ |
| ډاکټر محمودی، یو نوی بندی | ۱۸٦ |
| بندي فریادي لېونی | ۱۸۹ |
| یو ډارن بندي | ۱۹۲ |
| د نور علم خان شاهي تاج او چپنه | ۱۹٤ |
| د لېونیانو له پاره مرسته او ددوی عریضې | ۲۱۸ |
| د ډُربابا ملنگ او د اختر خطابه | ۱۲۱ |
| زما او لېونیانو کوټه قلفی کېدل | ۲۲۷ |
| د یوه هېواد پال هېوادوال امانت | ۲۲۹ |
| د بهرام دردوونکې ماجرا | ۲۳۹ |
| د پای خبره | ۲۸۸ |

# د مظلومانو کاروان

د ۱۳۲٤ هجري لمريز کال دزمری دمياشتي اوويشتمه نېټه وه چې دزماني لوی ظالم هاشم خان صدر اعظم جاه طلب او مستبد داود ته چې په ننګرهار کښې نظامي او ملکي نايب الحکومه ؤ امر وکړچې دميرزمان خان ټوله کورنۍ بنديان کړه او کابل ته يې راولېږه!

نهه لارۍ راغلې زمونږ نر ښځې ماشومان يې پکښې واچول او درې لارۍ وسله وال عسکرېې زمونږ له لاريو سره ملګرۍ کړل چې يوه لارۍ په سر کښې، دويمه په منځ او دريمه په آخر کښې وه. کله چې يې زمونږ نران، ښځې ماشومان لاريو ته خېژول ويرونه، ژړاګانې او شور ماشور او انګولا جوړه وه مونږ ته زمونږه د لاريو محافظو افسرانو ويل چې تاسې جشن ته ځئ ځکه چې ستاسې ټول مشران په کابل کښې دي اودلته ستاسې دسرونو خطره ده نو له همدې امله حکومت تصميم نيولی دی چې تاسې روغ رمټ کابل ته ورسوي او دا درې موټرې محافظان له تاسې سره ستاسې دسرونو دحفاظت دپاره دي دا ځکه چې اشرار په لارو کښې ناست دي چې په تاسې حمله او يرغل ونه کړي او دايې هم

موټر ته وویل چې خپل دخوراک شیان موهم دخانو سره راواخلئ په لاریو کښې بې واچوئ دکابل دبینی حصار په کلا کښې خو ستاسې کورونه شته دي هلته به دیره شئ او جشن چې تېر شه بیا به بېرته راځئ! اودکلیو خلکو داسې ژړاګانې او ویرونه شروع کړل چې زموږ محافظ منصبدار ودارشو لاریوته یې حرکت ورکړ، لس تنه نوکران چې زمونږ خپلوان هم وو هغوی چې دجشن واورېده هغوی هم لاریو ته راوختل، ماښام مهال زمونږه لارۍ څوکۍ ته راورسېدلې دد بوه ګل ددرې په خوله کښې دڅوکۍ په ډاګ او حکومتي رباط کښې بوه فرقه عسکر ځای په ځای شوي وو ددغې فرقې مشر سید صالح خان پاچا ؤ چې دا پخپله دکونړ دپشد دکلي اوسېدونکی او دسېد محمود پاچا لمسی ؤ، سید صالح خان فرقه مشر زمونږ دلاریو خواته راغی او زمونږ محافظ منصبدار ته یې څه ووېل او لاریو ته یې حرکت ورکړ.

په لاره کښې ددوړو او ګردونو دلاسه سپېره دویه شوي وو چې هېڅ یوبل مونه پېژانده اودیوبل نه هېڅ خبرنه وو، نیمه شپه یې ددرونټې پل ته راورسولو، لارۍ کتار ودرېدې ددرونټې دپله چارچاپېر برچیک عسکر ولاړ وو، مونږه یې دلاریو نه راښکته کړو او ګرد چاپېر راڅخه عسکریان ودرېدل دلته په درونټه کښې دنظامي او ملکي نایب الحکومه دمستبد او ظالم لیوني سردار محمد داؤد یاور عبدالکریم مستغني مخکښې دمخکښې نه ولاړ ؤ او زموږ دشمېر لست یې زمونږ دمحافظ منصبدار برهان الدین نه واخیست او بیا په خپله یاور مستغني دبرهان الدین سره یو ځای په لارۍ کښې کښېناست کله چې یې مونږه درونټې ته راورسولو پدغه وخت کښې یاور مستغني زمونږ دکورنۍ دشمېر دلست اورسېدو خبر مغروره جاه طلب سردار داؤد ته په ننګرهار کښې ورکړ، لیوني سردار زمونږه دباقي پاتې کورنۍ کسان چې هغه زمونږ دکورنۍ مشران وو او دډېرو کلونو راهیسې دیحیی کورنۍ دیرغمل په توګه په کابل کښې پخپلو کورونو کښې کښېنولي وو خپل ظالم کاکا هاشم خان صدر اعظم ته خبر ورکړ، دغه دزمانې لوی منافق اود تاریخ بې ساري اوبې

اندوله غله او ټکمار په هماغه شپه دضبط احوالاتو رئیس محمد شاه خان اودکابل امنیه قوماندان خواجه نعیم خان ته امر ورکړ چې سمدستي په همدې شپه دمیرزمان دکورنۍ هغه مشران چې دکابل دبهنی حصار په کلا چه کښې هستوګنه لري ګرفتار کړه!

## په توره شپه کښې وحشیانه چپاو

ددغه ظالم دامرپه اساس په دغه توره شپه کښې دضبط احوالاتو رئیس محمد شاه او دکابل امنیه قوماندان خواجه نعیم خان دیوسلو پنځوسو وسلوالو برچپکو عسکرو سره دبینی حصار کلاچې ته دخان محمد خان، شیر محمد خان او عصمت الله خان دګرفتارولو دپاره دشپې په دوولسو بجو ورغلل عسکر دکلاته چارچاپېر برچپک ودرېدل، دکلا دروازه یې وټکوله دکلا دروازې ته دخان محمد خان نوکر لالو راغی چې په لالونډی مشهور ؤ غږیې وکړ څوک یاست خپل یاست که پردي؟ یوه منصبدار په ډېر شدت او قهرجنه لهجه غږ وکړ:

بېوقوفه ژر دروازه خلاصه کړه چې جناب رئیس صاحب او قوماندان صاحب راغلی انتظار کاږي. داخل دلالونډي چرسي په مغزو داخبرې ډېرې بدې ولګېدلې نو بېرته یې ورته په قهر او غضب داسې ځواب ورکړ: پدې کراره شومه چې مرغۍ هم پر نه وهي او خپل سرونه یې په ځانګونو کښې ورکړېدي په خواږه خوب ویدې دي، رئیس صاحب او قوماندان صاحب څه کوي؟ ولې په خپلو کورونو کښې نه کینېني چې خلک برناحقه دخواږه خوبه پدې نیمه شپه راپاڅوي! بیا هماغه منصبدار دپخوانه زیات په شدت دروازه وټکوله غږ یې وکړ: بې شعوره احمقه زر دروازه خلاصه کړه! دلالونډي اوقات ډېر تریخ شه نو په خپل بغن آواز یې هغویته داسې څرګنده کړه: صبر وکړئ قلف نه بېرته کېږي څه غدۍ خو درېسې نده چې وارپار مو داسې خطا دی چې دیو آواز په ځای دوه آوازونه غبرګ کوئ اوبیا بې دروازه خلاصه کړه چې راځئ! ددروازې

دخلاصېدو سره سم عسکرو په دروازه هجوم راووړ او ټول راننوتل. لالونډي چې داحال ولیده وارخطا غونډې شه چې څه خبره ده، نو هر عسکر ته به یې له ډاره لاس ورکولو چې رئیس صاحب ستړی مه شی په خیر راغلې قوماندانصاحب هرکله راشې ستا قدم زما په سترګو څه امر دی؟ څه خدمت وکړم؟ دعسکرو په منځ کښې دضبط احوالاتو رئیس لالونډي ته وویل: ژر لاړ شه خان محمد خان، شیر محمد خان او عصمت الله خان خبر کړه چې ژر دلته درې واړه راشي.

لالونډی پاس سراچې ته وخاته هلته شاه مرد (ملیا) ؤ ددې نوې کیسې نه بې خبر کړ چې رئیس او قوماندان صاحب دواړه دعسکرو سره راغلي دي!

شاهمرد ملیا دسراچې نه هغویته راښکته شه او لالونډی دننه کلاته ننووت خان محمد خان اودهغه زوی عبدالقادرخان دواړه راووتل له رئیس ضبط احوالات او قوماندان امنیه سره یې روغبړ وکړ دضبط احوالاتو رئیس خان محمد خان ته داسې وویل: مونږ او تاسې خو وعده کړې وه چې په راتلونکي هفته کښې به په یو ځای کښې مېله کوو خو خیر څرنګه چې همدا اوس خبر راورسېده چې په کونړ کښې اوضاع ډېره خرابه اوګډه وډه ده نو زه او قوماندان صاحب دواړه صدر اعظم صاحب کبیر محمد هاشم خان په تاسې پسې رالېږلو چې یوځل ټول دصدراعظم صاحب کبیر حضورته لاړ شو چې سلامشوره در سره وکړي! خان محمد هغه ته وویل: تاسې دهېلی بچی ته غوټې مه ښایئ مونږ چې صدراعظم صاحب کبیر دمشورې دپاره غوښتلی یو نودې دومره عسکرو اوېګېر ځان ته څه حاجت دی؟

په داسې حال کښې چې قوماندان تمانچه په لاس کښې ټېنګه نېولې وه خان محمد خان ته په موسکا ښکاره کړه: تاسې پدې کښې هېڅ شک مه پېدا کوئ چې ګوندې رئیس صاحب به تاسې ته زیاته خبره کوي او وروسته یې پسې زیاته کړه: شېر محمد خان او عصمت الله خان چېرته دي هغوی هم خبر کړئ! خان محمد هغویته وویل شېر محمد خان اودهغه زوی عبدالرحمن خان پدغه بله کلا کښې دي او عصمت الله خان دخپل خسر په کور چهل ستون کښې دی. لالونډي

بیا لاړه شېرمحمد خان او عبدالرحمن خان یې درئیس او قوماندان دراتګ نه خبرکړل هغوی دواړه هم راغلل کله چې هغوی دواړو دومره عسکر ولیدل قوماندان ته یې وویل: څه خبره ده؟ خیریت خودی؟

خواجه نعیم قوماندان هغوی ته وویل خیروخیریت دی هېڅ خبره نشته ده خو ځانونه موټر تیار کړئ چې صدارت ته ځو. کله چې هغوی دصدارت نوم واورېده پوه شول چې خبره خطرناکه ده.

وروسته رئیس او قوماندان او هغه څلورتنه په یوه موټر کښې کښېناستل. پدې وخت کښې شاه مرد ملیا دموټر خواته راغی دضبط احوالاتو رئیس او قوماندان ته یې وویل دغه خان محمد خان ته ما پلار ویلي دي او زه دده زوی یم که پده هرڅه تکلیف او ربړوی زه یې افتخار ګنم چې زه هم ور سره یو ځای لاړ شم.

رئیس ملیا ته مخ راوګرځولو او ورته څرګنده یې کړه : دا ارمان به دې دزړه نه ډېر ژر ووځي ته به هم ور سره ملګری شې، موټر چې دصدارت خواته حرکت کاوه قوماندان یو ضابط اوشل تنه عسکر مؤظف کړل چې دچهل ستون نه عصمت الله خان دهغه دخسر دکور نه راولی او پوره هدایت یې ضابط ته ورکړ.

پدې وخت کښې په دواړو کلاګانو کښې ویرونه او ژړاګانې شروع شوې چې دشپې دچوپتیا پرده یې په شور ماشور ګډه کړه. پنځوس تنه عسکر هلته په دواړو کلاګانو کښې دمحافظت دپاره پاتې شول، لالونډی اوشاه مرد ملیا هم هلته له عسکرو سره پاتې شول او نور عسکر بېرته له قوماندان سره لاړل کله چې دقوماندان موټر صدارت ته راورسېده دضبط احوالاتو رئیس لوی تېګمار او خونکار صدراعظم کبیر هاشم خان ته تلفون وکړ چې ستاسې دامر تعمیل مو په ځای کړ نور څه امر فرمایئ چې هغه هم په ځای شی. دضبط احوالاتو رئیس راغی خان محمد خان او دهغه نورو ملګرو ته یې وویل چې تاسی خپه نشئ صدر اعظم صاحب کبیر اوس ډېر مصروف دی اوس و، سره ستاسې دملاقات وخت نشته دی بیا به په بل مساعد وخت کښې ور سره ملاقات وکړئ ، نن شپه به

تاسي دقوماندان صاحب مېلمانه ياست! قوماندان په موټر کښې خپل مېلمانه سپاره کړه پداسې حال کښې چې يو برچپک وسلوال عسکر پسې بل په شاته موټر کښې روان ؤ. موټرې سمې دده‌مزنگ جهل ته راننوتلې دجهل مدير ته قوماندان خپل مېلمانه پوره وروپېژندل چې نن شپه زما مېلمانه خوشاله او آرام وساته! دجهل مدير ته مخکښې دمخکښې نه پوره هدايت ورکړ شوی ؤ هغه داطاعت په لهجه رسم تعظيم وکړ او بيا قوماندان بهرته ولاړ؛ دجهل مدير امر وکړ هغه ميلمستون چې دقوماندان دمعززو ميلمنو دپاره تياکل شوی ؤ هلته يې بوځئ دجيل يو سر مبصر او څو تنو عسکرو دقوماندان هغه معزز ميلمانه پدغه کراره شومه کښې خرد تعمير ته چې دسياسي بنديانو مخصوص يې هم ورته ويل څلور واړه بوتلل اوپه يوه غجنه کوټه کښې يې واچول او دروازه يې پسې قلف کړه؛ په کوټه کښې شور او غالمغال جوړ شو چې دقوماندان صاحب ميلمستون دادی؟ داڅنگه ميلمستون دی داخو تياره سياه چا ده، ای دروغجنو منافقو تېگمارو په خولو يو څه واياست او په زړونو موبله ده! دجهل سر مبصر ورته غږ وکړ: ای دقوماندان صاحب دنيمې شپې معززو ميلمنو کرارې څملئ شور او غالمغال مو څه فايده نه کوي دلته ستاسې په شان ډېر دنيمې شپې معزز ميلمانه په ژوند راغلي او په مرگ ترې وتلي دي.

## د ناروغۍ له کټ نه د زندان کوټې ته

هغه شل تنه عسکر او منصبدار چې دعصمت الله خان دنيولو دپاره چهلستون ته ورغلي وو دعصمت الله خان دخسر کورېې پېداکړ او دروازه يې ورته وروټکوله. فاتو چې دعصمت الله خان دخسر خدمتگاره وه ددروازې دشانه يې غږ وکړ: څوک ياست؟ څه کوئ؟ دچا سره موکار دی؟ په يو جگ اواز هغې ته ځواب ورکړ شو: هله ژر کوه دروازه را خلاصه کړه چې عصمت الله خان صدر اعظم صاحب کبير غوښتلی دی! ددروازې دشا څخه ورته فاتو په نرې آواز

زیاته کړه هغه ناروغ دی په کټ کښې پروت دی هیڅ حرکت کولی نشي فالج وهلی دی په دواړو پښو شل شویدی! دروازه په ډېر زور سره ټېله شوه ددروازې دزنځیر کونډه را وختله دروازه خلاصه شوه، دعسکرو یوه ټېله کورته ورننوتله.

فاتو چې داحال ولیده وډاره شوه او ډېره زیاته وارخطا شوه دخولې نه یې بې اختیاره یوه چیغه راووتله، دفاتو په دغه چیغه دعصمت الله خان دخسر دکور ټول خلک راویښ شول هغوی ټولو دعسکرو منصبدار ته وویل چې عصمت الله خان ډېر زیات ناروغ دی هیڅ دځایه خوځېدلی نشي خو منصبدار دهغوی خبرو ته څه اهمیت ورنکړ او هغوی یې پدې پوه کړه چې دا هیڅ امکان نلري زه یو ځل په خپله عصمت الله خان وینم! هغوی سمدستي منصبدار دعصمت الله کوټې ته وروسته تردې وخته پورې عصمت الله خان هیڅ دځان نه خبر ندی چې څه خبره ده او څه شی شویدي خو کله چې هغه ته منصبدار وویل: پاڅه ژر کوه هله ځه چې ځو! هغه ورته په یو دردناک آواز غلي شان په کراره وویل ته ماته و ګوره چې په څه حال یم اوته څه وایې زه هیڅ دځایه خوځېدلی نشم! خو دهغه داخبرې تشې خبرې وې او دعسکري منصبدار په مغزویې بده اغېزه وکړه نو دیو لېوني سپي پشان یې په ناروغ حمله وکړه او دپښې نه یې ونیوه دکټ نه یې مځکې ته راغوزار کړ خو په هغه ناروغ کښې هیڅ دمه او حرکت نه ؤ، منصبدار دوو تنو عسکرو ته امر وکړ چې دلاسونو او پښو نه یې ونېسئ او په موټر کښې یې واچوئ عسکرو هغه دپښو او لاسونو نه ونیوه اوډنګې ډولئ یې کړ، داسې یې په زور په جرق په موټر کښې واچاوه چې یو سوړ اوسېلی د یو دردناک فریاد نه ډ ک دهغه دخولې نه راووانه او بیا وروسته نور هیڅ په ځان پوه نه شو. دکور خلکو چې دا ظلم نه ډ که صحنه ولیده دغم هنګورونو دژړا او کریکو سره دکور په منځ کښې دډار او وهم نه ډکې غلبلې جوړې کړې چې دکور خواوشاګاونډیان ټول په یو ناځاپي دهیبت په غږ راپاڅېدل چې ګوندې غلو ډاکه غور ځولې ده یاڅوک چا وژلي دي؟

موټر د د همزنګ د جېل په خوله کښې ودرېده منصبدار د موټر څخه را کوز شه د جېل د دروازې پېره دار ته یې وویل د جېل انضباطي مدېر ته خبر ورکړه د جیل انضباطي مدیر ژر راغی او ناروغ بندي یې ځان ته تسلیم کړ ځکه چې لې سات مخکې د همدې موضوع په باب ورته د صدارت نه تلفون شوی ؤ چې یو خطرناک بندي درځي هلته یې د نورو ملګرو سره واچوه.

انضباطي مدیر چې هر څو مره عصمت الله خان ته وویل: پاڅه، پاڅه نور ستا د څملاستو وخت ندی خو هغه ورته د سر په اشاره داسې ښکاره کړه چې هېڅ حرکت را پکښې نشته دی.

پدې وخت کښې د د همزنګ د جیل د لوېې دروازې سرداریاشی احمد شېر ته چې هغه هم بندی ؤ د جیل انضباطي مدېر وویل: دا ناروغ بندي د خپلو هغو نورو ملګرو سره یو ځای کړه! څه وخت چې عصمت الله خان احمد شېر ولیده، دواړو سره ډېر ښه پېژندل او د پخوانه یې خپل د دوستۍ علایق تېنګ ساتلي وو دا ځکه چې احمد شېر هم د کونړ د پشد د کلي ؤ. د جېل سرداریاشی ناروغ په شاکړ او برابر یې د خپلو نورو ملګرو کوټې ته ویووړ د کوټې دروازه یې خلاصه کړه او عصمت الله خان یې پکښې واچاوه پداسې حال کښې چې ناروغ زګېروي او فریاد و نه کول دروازه یې پسې قلف کړه.

ناروغ د خپل تره خان محمد خان او خپل ورور شېر محمد خان نه داسې پوښتنه وکړه: مونږه څه ګناه کړېده چې داسې سخت یې بندیان کړي یو؟ هغوی ورته وویل: ته دا پوښتنه زمونږ نه څله کوې؟ ته دا پوښتنه د هغه چانه وکړه چې مونږه یې د لته داسې بندیان کړي یو.

## په لته بند کښې د بند خبر

د د رونتې په پله کښې د لې سات تم نه وروسته یې بیا مونږه په لاریو کښې واچولو او د کابل په لور یې حرکت را کړ لاریو پدغه توره شپه کښې داسې ګرندی

اوچابک حرکت شروع کړ چې دلاریو دچینونو دټیرونو غرار ددوړو او گردونو توپاني ځپو مونږه یو مجهول تباه کن سرنوشت ته په انتظار کښې اچولي وو.

دماشومانو دژړا آوازونو دلاریو له غرار سره داسې یو تراژیک غم ځپلی سرود جوړ کړی ؤ چې هېڅوک پدغه غم ځپلي ددردونو ډک سرود باندې نه پوهېده په غیر دظالم جاه طلب لیوني داؤد نه.

ماسپښین قضا زمونږ لاری دلته بند کوتل ته نږدې کتار ودرېدې مونږ ټول دخپلو ضرورتونو دپاره راکوز شولو، دغرمې ډوډی مو خوړله یوشین تېز رفتار موټر راغی زمونږه د لاری نه یو څو قدمه تیر شه هلته ودرېده یو سړی ددغه تېز رفتار څخه راکوز شه او زمونږ خواته یې دلاس په خوځولو اشاره وکړه عبدالکریم مستغنی او زمونږ محافظ منصبدار چې دغه اشاره ولیدله، دډوډی نوری یې په خولو کښې وې دتېز رفتار موټر په لور یې په ځغاسته پیل وکړ دموټر خواته چې ور ورسېدل عسکري سلامي یې ونیوله تیارسئ ودرېدل. مونږ ټولو دوړاندې نه داحالت ښه لیده څه کاغذونه ور ته عبدالکریم مستغنی ورکړه او دکتلو نه وروسته یې بېرته مستغني ته ورکړل. پدې موټر کښې جاه طلب مستبد لیونی داؤد ؤ تېز رفتار حرکت وکړ روان شو. برهان الدین او مستغنی لږ سات په هماغه ځای ولاړ وو بیا چې موټر زمونږ له نظره څخه فنا شه هغوی دواړه زمونږ خواته را روان شول. کله چې زمونږ خواته رانږدې شول برهان الدین دسمال ستر گو ته نیولی ؤ او هېڅ خبرې یې نه کولې او مونږ چې دغه صحنه ولیده هېڅ نه پوهېدلو چې څه خبره ده او څه شوي دي. زمونږ محافظ منصبدار برهان الدین چې دلغمان ؤ ډېر بادرده او با ایمانه ځوان ؤ. زمونږ مشر ګل محمد خان یې جلاکړ پداسې حال کښې چې دستر گو اوښکې یې په دسمال پاکولې او عبدالکریم مستغني ته یې دستر گو لاندې کتل یو څه خبره یې هغه ته وکړه او هغه خبره دا وه چې جاه طلب مستبد لیونی داؤد دکاغذ په یوه کوچنۍ ټوټه داسې امر کړی ؤ: نرښځې ماشومان دې ټول سخت بندیان وی!

برهان الدین دمستغنی نه په پټه گل محمد خان ته داخبره هم کړې وه چې زه

د یته چمتو یم چې تاسې و تبنتئ او زه هم در سره تبنتم داځکه چې دازما دپاره د پېر شرم او پېغور دی چې دومره بېګناه او معصوم ماشومان جیل ته پخپله ننباسم خوله هغه سره داخبره هغه و نه منله او هغه ته يې وويل زمونږ ټول مشران په کابل کښې دي. برهان الدین تردې اندازې پورې هغه ته ویلي وو چې دلته بند ددغه غونډۍ شاته یوه لاره کورمې ته سمه تللې مالېدلې ده دا د پېره نېژدې لاره ده، دپاک ضمیر او وجدان خاوندان هېڅکله دانه غواړي چې بېګناه مظلومان دې دغرودي سور اور په کنده کښې وغورځوي. مونږ دمغرور مستبد سردار داؤد لېونی دامر نه ټول خبر شوو دلته بند دکوتل په غونډۍ غونډۍ غرونو کښې دچېغو او ویرونو انګولا دیو بې ساري تراژیک ډرام عکاسي کوله، زمونږه لاریو دپخوا او مخکښې نه زیات په چټکتیا باندې خپل حرکت ته زور ورکړ.

په لاریو کښې دویرونو او ژړاګانو ډول ډول آوازونه چې دغم ځپلي سرود ترجماني يې کوله ملګري وو او هېڅ نه قطعه کېده په حقیقت کښې زمونږه لارۍ زمونږه جنازې وې چې دلته بند غونډیو هم پرې ژړل.

## د جشن په لاره زندان ته

دمازیګر لمر دغره په سر په غړغړه ولاړ ؤ چې نیمایي مخ يې دغره هغه خوا او نیما يي بل مخ يې زمونږ دغم ځپلي دردوونکي وېرجن حالت تماشا کوله چې دکابل دچمن بازار نه راورسېدلو، دوطن دخپلواکۍ دجشن دپاره ترتیبات نیول شوي وو خلک دسرسام شوو غونیسو په شان دخربوزو دډېرو دپاسه بنګېدل، ټانګه والا ؤ دخپلو ټانګو په زنګونو پښې ټېنګې کړې وې، خلکو چې زمونږ دماشومانو ژړا ګانې په لاریو کښې لیدلې زمونږ پر حال غمجنېدل.

ددهمزنګ جېل ته مو لارۍ راورسېدې لاریو په راننوتلو پیل وکړ دجېل بهر چار چاپېر په اسونو سواره برچپک عسکر لیدل کېده سړي به داسې خیال کاوه

چې دقتل عام امر ته تيار غوږ په آواز ولاړ دي. انګه بنګه نه وه، زمونږ په لاريو ترپالونه خپاره شول توره شپه يې جوړه کړه، دډار پرده يې راوغوړوله، مونږ د ترپالونو دلاندې ليدل چې عبدالکريم مستغنى اويو جګ لوړ سړى دجيل ددروازې دکوټې تلفون ته ننوتل اودفرعون وارث نرښځي صدراعظم کبير هاشم خان ته يې زمونږ درارسېدلو خبر ورکړ، ددغه لوى منافق دروغجن له خوا داسې هدايت او امر ورکړشو: داوُد خان چې ددوى دنرښځو ماشومانو دبند سخت امر کړى دى تطبيق دې شي! يعنې ښځې دى تراته کلن نرماشوم پورې دښځو جهل (داد کابل دولايت زنانه ترقيف کوټه قلفى وې) او داته کلن ماشوم نه پورته نارينه دې ددهمزنګ دجيل په سياسي مخصوص کښې کوټه قلفيان وي او سخته څارنه يې دې کړي.

## ګرمۍ وهلي تږي ماشومان

زمونږه دلاريو څخه يې ترپالونه جګ کړه، ماشومان ګرمۍ وهلي وو ډېر زبات تږي شوي وو هرڅومره چې مو داوبو! اوبو! نوم يادولو دهېچا غوږونو ته داوبو نوم نه ور رسېده داسې معلومېده چې دلته هېڅوک داوبو له نوم سره آشنا ندي اوهېڅ اوبه نه پېژني. يو جګ لوړ سور مخ سړى راغى دغه سړى ددهمزنګ دجيل انضباطى او صنعتى لوى عمومي مدير ؤ دده نوم عبدالخالق خان ؤ ، څه وخت چې دجيل لوى مدير دمستغنى نه زمونږ دسرونود شمېر لست واخېسته امر يې وکړ: نارينه دې داتو کالو دعمر نه پورته ټول دلاريو نه راښکته شي! داصحنه داسې غم لړلې تراژيکه صحنه وه چې ميانديې پخپلو زامنو وغوړېدلې اوداسې تېنګ يې په خپلو زړونو پورې ونيول چې دخپلو سترګو داوښکو دباران په شېبو؛ شېبو يې دهغوى مخونه داسې پاک ومېنځل چې دلاريو سپېره ګردونه او دوړې يې ورنه پاکې کړې، دنهه کلنو اولس کلنو به يو لاس دميانډو په لاس کښې ؤ اوبل لاس به يې دعسکرو په لاس کښې ؤ يو تړله يې

سره ځانونو ته را ښکل دلاریو نه یه یې په ډېره بې رحمانه توګه را ارتول، ډېری میاندې هلته وې چې په خپلو زامنو پسې یې ځانونه دلاریو نه راوارتول او خپل زامن یې په غېږو کښې داسې ټېنګ ونیول چې په خوښه یې هېڅ دجلا کېدو امکان نه درلوده ځکه چې دمیاندو دعاطفې او خواخوږی اغېزو دیوې مضبوطې کړی او حلقې پشان دائره چاپېره کړې وه چې دخپلو اوښکو په باران بې زامن داسې لانده کړي وو لکه دجاکړی توپاني باران دلاسه چې دمرغیو بچي لانده شوي وي او په غېږو کښې یې ټېنګ ځانونه نېولي وو ډېر زامن دمیندو دغېږو نه په زور جلا کېدل، ډېرو میندو دمنصبدارانو ګرېوانونه وشلول او له عسکرو سره یې وهل ټکول شروع کړه چې دیو غم لړلي او دردوونکي ویرجن هنګور نه پرته بل هېڅ ددهمزنګ دجېل دعمومي دروازې دننه په مېدانی کښې دلاریو په منځ کښې نه وو.

دماښام خړه لګېدلې وه چابه بسترې دموټرو څخه غورځولې، چابه وریژې، غوړي، اوړه، بوره، چلمچي، پتنوس، کاسې، بکسونه او ټول دضرورت وړ شیان.

## دقلعهٔ جدید په زړو کوټو کښې

مونږ دوه دېرش تنه دجېل انضباطي مدېر عبدالخالق خان دمخصوص ځای دنوم سرمبصر محمد امین ته چې دتورن رتبه یې درلوده وروسپارلو او دجیل ددویمې دروازې نه یې رانوېستلو بیا یې دقلعهٔ جدېد هغه ځای ته راوستلو چې مخکښې دمخکښې نه یې زمونږ دپاره ټاکلی ؤ او په یوه درازخانه کښې یې واچولو کله چې یې دوه دېرش تنه مونږه دمخصوص سرمبصر ته تسلیمولو لس تنه په مونږه کښې هغه کسان وو چې زمونږ دراتلو په وخت کښې دجشن دلېدلو دپاره زمونږ لاریو ته راختلي وو هرڅومره چې هغوی وویل مونږ دجشن دلیدلو دپاره راغلي وو او مونږه هم ورته وویل چې دالس کسان له مونږ سره زمونږه

دکومک دپاره راغلي دي چې نومونه يې دادي: -۱ حبيب ماما ۲ - دواجان ماما ۳ - غلام، ٤ - اکبرخان ٥ -احمد شاه ٦ - قاضي فضل احمد ماما ۷سليم ۸ - شاه پسند، ۹ -عبدالقيوم ۱۰ - طالب مشهور په دبليو ډي. انضباطي مدير وويل داماته په لست کښې راکړل شويدي اوس دې وي وروسته به يې بيا غور کومه او زياته يې کړه تاسې به ددوی پشان نور ډېر کسان هم ووينئ چې په بيستو کښې راغلي دي. په نهمايي درازخانه کښې مو بسترې کښېښودلې او نور دضرورت وړ شيان مو چې دځانونو سره راوړي ؤ ځای په ځای په ترتيب سمبال کړه او په نهمايي درازخانه کښې مونږ کښېناستلو هغه عسکرو او داباشيانو چې له مونږ سره سامان راوړئ ؤ نهمايي سامان يې دسرمبصر کوټې ته وړی ؤ او نهمايي يې زمونږه په کوټه کښې وغورځولو اوبېرته ولاړل. يو سپين ږيری سړی چې جګه غبرګه وته؛ سوروري او پراخه اوږې، اوږده پيړلاسونه؛ دګونجو ډکه تنده چې پېري دربېږې شوندې يې درلودلې زمونږ درازخانې ته راننوتو، مونږه ته يې ښکته پورته وکتل بېرته ژر ووت بيا يې خپل سر دزړې سمساري پشان ښکته پورته وخوځولو او دروازه يې په جړک راښکوده دروازه يې راپسې قلف کړه، سکندرخان چې يو شازلمی چالاکه ځوان ؤ دروازې ته ورغی غږ يې وکړ او دروازه يې ځان ته راښکوده دادې څه وکړل؟ پدې سرماښام راپسې ولې دروازه قلفوې دروازه خلاصه کړه، زوروره ته خولوی سړی يې ماشوم خو نه يې خو هيڅ دغه ځوان ته ځواب ورنکړ. بيا يې په زور زور دروازه په لغتو ووهله چې سپين ږيری دروازې ته راغی غږ يې وکړ : دروازه تاسې پسې زه نشم خلاصولی تر څو چې ماته د مخصوص سر مبصر امر ونکړي زه يو داباشي سړی يم تاسې کوټه قلفيان باست کراري غلي کښېنئ ستاسې شور او غالمغال ما ته څه فايده نه کوي زه هيڅ مرسته له تاسې سره نشم کولای. دا سپين ږيری سړی د لوګر ؤ او په حاجي داباشي مشهور ؤ او پنځلس کاله سپاسي بند يې تېر کړی ؤ ددغه سپين ږيري داباشي دغه خبرې مونږ ته نوې بېخي نا آشنا خبرې وې چې تاسې کوټه قلفيان باست، د کوټه قلفی نوم مونږ

هېڅ په ژوند کښې اوربدلي نه ؤ او نه موداسې فکر کاوه چې څوک به په چا پسې کوټه قلفوي؛ په وطن کښې مو داسې لېدلي وو چې خره به دچا په فصل کښې ګډ شول او فصل به يې ورته خوړلی ؤ نو بيا يې هغه خره په کوټه کښې اچول چې خاوند يې پيدا شي او د فصل تاوان ترې واخلي .

## نامتو سياسي بنديان

په دراز خانه کښې تورتم ؤ ،د بنديانو د کنځاؤ ټکار د کوڅې نه کوټې ته راته چې په خپلو منځو کښې به يې خبرې کولې دلته پدې کوټه کښې له مونږ سره ډېر سياسي بنديان وو چې هر يو څوارلس او پنځلس کاله زندان تېر کړی ؤ . د غلام نبي خان څرخي دوه وروڼه د محمد صديق خان زامن غلام دستګير او خالد ، ابراهيم صفا ؛ بسمل ،مېته سنګه ، مولوي يارګل او نور ډېر هغه سياسي بنديان وو چې ددويم عمومي جنګ نه مخکښې د پار دريا ( دآمو نه پورې غاړې هېوادونه ) او د بخارا نه افغانستان ته سياسي پناه راوړې وه ځينې د جنګ نه را تېښتېدلي وو او تش د مخصوص په نوم يې نېولي وو تېل داغ ، په سکروټو سېزل ، د قمچينو لاندې غورځول او داسې يې کړکې وهل چې نور به پکښې د خبرو توان نه ؤ ، د سر او مخ نه وېښتان وېستل د لاسونو او پښو نوکان په انبور راوېستل او لس منې غرابونه او پېړې پېړې زولانې په غاړ و او پښو ګرځول ددغه بېوزلو انسانانو په برخه شوي وو . زمونږ دغه انسان خوري دراز خانې درې کړکۍ درلودلې چې د کړکيو شا ته يې يو ، حوېلۍ وه چې يو کوچنی ميدان يې درلوده پدغه کوچني ميدان کښې يو دکان او يو سموار ؤ دغه دکان او سموار د سرمېصر محمد امين وو . پدې وخت کښې ددغه دکان دکاندار مېته سنګه ؤ سګرټ ، شمعې ، جاروګانې او رلګيت او د وچو مېوو کڅوړې او نور شيان د بهر نه زمونږ د کوټې په کړکۍ راارتول کېده .

څو دانې شمعې مو ولګولې حاجي داباشي او دسرمېصر آشپز راغلل دروازه

یې خلاصه کړه دوه دانې برقي ګروپونه یې د دراز خانې په هولړونو کښې واچول او بیا یې سوچونه ووهل کوټه بیه پسې رڼا شوه. د سرمبصر آشپز ووهل زه سرمبصر رالیږلی یم څه چې د خوړلو شیان لرئ ټول ما ته راکړئ چې مونږه یې اشپز خانې ته یوسو. غوړي، وریجې، چای بوره او همداسې نور د خوړلو شیان مو ټول ور کړل بیرته یې راپسې دروازه بنده کړه.

## د سپږو بهیرونه

ډیر زیات سترې ستومانه وو او ډیر زیات خپه وو هریو خوب زنګولو ځانونو ته مو ځایونه جوړ کړل بسترې مو خورې کړې، سترګې مو لا پټې شوې نه وې چې هر یو د ځان په ګرولو لاس پورې کړ او یو بل ته مو غلي وېل دا څه شی دي؟ قاضي فضل احمد ماما غږ وکړ: په ړیره کښې مې دوه غټې سپږې غبرګې ونیولې. حبیب الله خان ور ته ووېل: سپږجنه ږیره دې د سپږو جاله ده سبا ور ته اور اچوم، دوه غبرګ اوازونه نور وشول: په مخ او تندي مې د سپږو بهیر روان دی دهر یو خپل ځان ته پام شو څوک د مخونو څخه سپږې ارتوي او څوک یې د غوړونو نه، ټول بوخ کښېناستلو، برق مورڼا کړ، چې یو بل ته مو وکتل په جامو مو داسې سپینې تور بخونې غټې غټې لکی دارې سپږې سرې وږې منکوږې او تور غټې کټ مټ خسک را روان دي چې مونږ ټول یې وارخطا کړو. د سپږو! منګوږو او خسکو نه ټوله کوټه خوځېږي چې د دراز خانې د کوټې لاندې د مځکې تلې او پاس دېوالونو ته مو پام کړ دخزنده ؤ داسې د لښکرو بهیرونه راروان دي چې مونږ په ژوندانه داسې حالت لیدلی نه ؤ او نه مو کله د چا نه اوریدلی ؤ.

سلیم غږ وکړ: که خپل ځانونه په سپږو او منګوږو ماتوئ کرارې ور ته څملئ د سبا پورې خودا مونږه ټول وژني پاڅئ جاروګانې خو شته دي پاڅئ سپږې او منګوږې جارو کړئ. درې جاروګانې مو د کوټې لاندې تلې او دېوالونو ته

ونیولې د خزنده ؤ نه مو غتې غتې د برې جوړې کړې او په سرمو ورته جاروګانې کښېښودلې. حاجي داباشي ته مو د روازه وروټکوله: دروازه خلاصه کړه چې سپېړې او منګوړې د کوټې نه بهر وباسو. حاجي داباشي ډېر په دمه زړه غږ وکړ: کرارې ځملئ دا سپېړې نه خلاصیږي په کرار کرار به ورسره بلد شئ، تاسې بې د سپېړو او منګوړو دخوړلو او شپېلولو د پاره دلته راوستلي یاست دا سپېړې او منګوړې چې وینئ ستاسې راتلو ته یې ډېر ډېر انتظار ونه وښکلي دي په تاسې به غم وې خو په دوی اختر دی او دخوشالۍ ورځ ده!

د حاجي داباشي داخبرې مونږه ته نوې خبرې وې هر څومره چې مو ورته عذر او زارۍ وکړې دروازه یې راته خلاصه نکړه ټوله شپه مو د سپېړو، منګوړو او کتملو په جارو کولو تیره کړه. د چا سترګې پټې شوې نه وې څوک وبښ ناست او څوک خوب زنګولو چرګ بانګ شه حاجي داباشي دروازه خلاصه کړه په زوره یې غږ وکړ: هلهژر کوئ پاڅیږئ تشنابونو ته لاړ شئ او دسونه او ضرورتونه مو رفع کړئ، چې بیا تشنابونه بندیږي. د سپېړو او منګوړو ډېرې چې ولاړې وې د کوټې نه مو په جاروګانو بهر راوښکلې یو یو د کوټې نه راوتلو د حاجي داباشي او نورو داباشیانو په رهنمایۍ تشنابونو ته تلو کله چې د تشنابونو نه بیرته مونږ کوټې ته راتلو په کوڅه کښې ډېر و شریفو سیاسي بندیانو چې د پوره خواخوږۍ او واقعي انسان دوستۍ اغېزه د هغوی په خبرو کښې په ډاګه معلومیده مونږ ته هر ډول ډاډ او تسل راکړ. دهغوی ډاډ او تسل چې د رحم، خواخوږۍ او عاطفې ترجماني یې کوله زمونږ د زخمي زړونو د پاره یې دروغتیا د پټیو زیرې د ځان سره درلودل. څوارلس ورځې په همدغه شان مونږه پدغه دراز خانه کښې تیرې کړې هر چرګ بانګ چې به یې مونږه تشنابونو ته بیولو دغه شریفو زړورو سیاسي بندیانو به د یوې ورځې نه بلې ورځې ته زمونږ د حال احوال پوښتنه ښه کوله او له مونږ سره به یې د خپلې همدردۍ مناسبات په ښه پېرزوینه ښکاره کول.

# د خلاصون دعا

حاجي سردار باشي راغی ویېل: زه به تاسې ته یوه دعا دروښایم هر ماښام به یې په ډله سره لولئ خدای به مو ژر خلاص کړي، گل محمد خا ن لالا چې شیخ او پرهیز گاره انسان ؤ حاجي باشي ته وویل: مونږه ته دعا راوښایه! هغه وویل: ډېره ښه ده ما تیاره پدې کاغذ لیکلې ده دا کاغذ واخله او دعا ټول ترینه ولېکئ دعا داسې وه:

یَا خالصُ یَا مُخلِص یَا خلاص     بَحَقٌ یَا مهتَر خَضر یا مهتَر الیاس

إللهي مونږ کړې ددې بنده خلاص

د ماز دیگر لمونځونه چې به مو وکړل نو بیا به د درازخانې د یو سر نه بل سر ته تللو او هر یو به خپله دا دعا ویله، سکندر خان دعا ویله گل محمد خان لالا ور ته په قار شه: د عا غلطه مه وایه چې ما کړې ددې بنده خلاص! ووایه: مونږ کړې ددې بنده خلاص! هغه ورته وویل: که د حاجي داباشي دا دعا داسې وي چې سړی په څو ورځو کښې د زندان نه خلاصیږي نو بیا ولې هغه پنځلس کاله کیږي چې بندي دی او پخپله یې وویل چې زه یې هم هره ورځ وایم.

هغه ورته په قار وویل ستا له حاجي داباشي سره څه کار دی خپله دعا درسته وایه.

# د بندیانو همدردي او زموږ کوټه قلفي

داباشیانو چې به له مونږه سره د بندیانو همدردي او خواخوږي لیدله نو بیا به یې محمد امین سرمبصر ته شیطاني کوله او هغه ته به یې د سیاسي بندیانو تماس زمونږه سره رپوټ ورکولو خو هغه سیاسي بندیان د هیچا نه، نه ډاریدل او نه یې په داسې خبرو د چا پروا کوله د دغو سیاسي بندیانو تماس له مونږ سره ورځ په ورځ ډیریده او دیوې ورځې نه یې بلې ورځې ته پسې خپله لمنه غوړوله او خپل

د مینې او دلسوزۍ په زړونو کښې یې ځای راکاوه .څرنګه چې محمد امین سرمبصر ته امر شوی ؤ چې هیڅوک له مونږه سره خبرې ونکړي او تماس راسره ونه نیسي ، یوه شپه محمد امین سرمبصر خپل آشپز راولیږه چې: دوه تنه راشئ چې خپل حسابونه فیصله کړئ. محمد ارسلان او محمد نادر لاړل هغوی ته یې وویل: د جیل انضباطي مدیر خبر شویدی چې له تاسې سره سیاسي بندیان خبرې کوي او پر تاسې باندې د سخت بند امر شویدی چې هیڅوک له تاسې سره تماس و نه نیسي نو زه تاسې نور پدې ځای کښې نشم پرینبودلی. سبا یې زمونږ نه هغه لس تنه خپلوان او نوکران چې د جشن د سیل د پاره زمونږه لاریو ته راوختل جدا کړه ددهمزنګ عمومي جیل ته یې ولیږل او مو نږه یې د نورو سیاسي بندیانو مخصوص ته راولیږلو او هلته یې کوټه قلفیان کړو .

## نومیالی سیاسی بندیان

په دوو کوټو کښې یې واچولو یو سهار او بل سهار به یې تشناب ته بهولو دهرې کوټې مخې ته مو دوه دوه پیره دار عسکر ودریدل پیرې پیرې زولنې یې راته واچولې او د لوږې او روحي فشارونو د شکنجو لاندې یې ونیولو. څو تنه چې مونږه نوي ځوانی ته رسیدلي وو چې ډیرې مو په مخونو ښې نه وې راغلې، ددغه کاریډ ور سیاسي بندیانو به مونږه ته د زمرو بچیان ویل خپله ډوډۍ به یې له مونږه سره نیمایي کوله پوره ډاډ او تسل به یې هم راکاوه، دا سیاسي بندیان ځینې هغه کسان وو چې د ارګ د بندي خانې نه یې دری کاله مخکښې را استولي وو او ځینې ملګري یې هلته د ارګ په بندیخانه کښې پاتې شوي وو او دغه بندیان په کابل کښې د انګریزانو د نائب سفیر د قتل په موضوع کښې په سخت بند محکوم شوي وو ، محمد نادر خان امر کړی ؤ چې شخصاً محمد هاشم خان صدراعظم او د ضبط احوالاتو رئیس احمد شاه خان دې پخپله د تحقیقاتو نظارت وکړي دا ټول هغه پاک وجدانه ملي، وطنپال انقلابي عناصر

وو چې د انګریزانو د سیاست سخت نه پخلا کیدونکي دښمنان وو ددغو وطنپالو آزادي غوښتونکو نوموونه دادي: بابا عبدالعزیز الکوزی کندهاری چې یو اویا کلن سړی ؤ، عمر خان چې اصلاً د هرات ؤ په جرمني کښې یې د توکرانو د رنګولو د فابریکو په باره کښې تعلیم کړی ؤ، سرور جویا ؛ غلام نبي خان هزاره چې په چپه شاخ فرقه مشر مشهور ؤ، کاکا علي خان؛ کاکا امین جان؛ ترک افندي؛ وکیل سعد الدین؛ عبدالغفار چې په سرحددار یې شهرت درلود؛ عبدالغفور؛ آغای حقیقي چې د غازي امان الله خان سلماني ؤ او نور بندیان هم وو.

بابا عبدالعزیز ډېر لوی متفکر رښتیاني وطنپالونکی ملي شخصیت؛ د آزادۍ د شمعې پتنګ، د ملي سیاست ددبستان پوخ ماهر استاد، دانګلیسي استعمار سرسخت دښمن او دانګریز پالونو کړانو نه پخلا کیدونکی دښمن او دوطن د آزادۍ او ملي سیاست سرتیری مبلغ ؤ.

استاد سرور جویا پوخ نه ماتیدونکی د وطن د آزادۍ انقلابي مبارز؛ پوه، عالم فاضل شخصیت، د ملي کریکترخاوند، د وطن جمهوري خواه بچی. دغلام نبي خان هزاره فرقه مشر غبرګه کوټلې دنګه جګه و نه پیر اوږده داروونکي کجک بریتونه، پراخه ټنده، لنډه ډبله پزه، ګرده خمنډۍ د مخ کاسه، د پړانګ په شان بیخي سوروره سینه چې یو رښتیانی ملي افغان وو.

بابا عبدالعزیز ډیر زیات سخت ربړوونکي تکلیفونه او عذابونه لیدلي وو کله چې به یې مغزو تور و خوړ او خراب به شول نو د کاریدور په مینځ کښې به ودریده پداسې حال کښې چې ددواړو پښو د زولنو پټۍ به یې په یو لاس کښې نیولې وه او په پاکه سپینه روحاني ږیره باندې به یې مړې سپینې اوښکې راروانې وې او په بل لاس به یې درښتیاني وطن پالونکي مبلغ په شان، اشارې کولې اوداسې لنډې؛ لنډې جملې به یې په یو قهرجن تاثیرناک آواز باندې ویلې:

اې د انګریز جوته خورو، د هندوانو زامنو! نادره، هاشمه، شاولیه، او شاه

محموده! بې واکه بې اختیاره تش په نامه پاچا ظاهره ! مستبد سردار داوده، نعیمه! واورئ! تاسې ته وایم ظالمانو واورئ تاسې د هغه ملي مجاهدینو افغانانو د زامنونه د خپلو انګریزي بادارانو د شکستونو او وژلو انتقام اخلئ.

اې د ملعون شیطان علیه اللعنه غدارې کورنۍ تاسې چې اوس هر څومره ددې بدبخت افغان ملت وینې څښلی شئ څښئ یې زما له خوا تاسې ته دا اعلان دی دېر ژر هغه ورځ راروانه ده، زه یې وینم چې ستاسې وینې به دمجاهدو افغانانو زامن داسې توی کاندې لکه د لیونو سپو په شان.

بیا به یې خپلې اوښکې پاکې کړې لږه دمه به یې وکړه بیا به یې څو آیتونه او حدیثونه وویل: د خدا ی په کلام کښې خو هېڅ دروغ نشته دي او د پیغمبر صلي الله علیه و سلم په خبرو کښې هم، زه د خپله ځان څخه داخبرې نه کوم دا ظلمونه چې تاسې کړ یدي همداسې به درسره کیږي څرنګه چې بابا لوی اسلامي عالم او دېر لوی ملي لیکوال ؤ بیا به یې په قهرجن آواز داسې وویل:

اې د یوسف مکار بچی نادره! تا له غازي امان الله خان سره څومره لوی خیانت کړیدی. تا په هندوستان کښې ټولو خلکو ته ویل چې زه پاچایي د امان الله خان د پاره نیسم تا په افغانستان کښې هر چا ته په وازه خوله ویلې چې زه پاچایي نه کوم زه یې د امان الله خان دپاره نیسم. ټولو خلکو له تاسره د هغه په نامه مرسته کړیده تا بې حیا مکاره لوی دروغجن څومره ملي قهرمانان او دهغوی زامن ددرندو غرابونو د لاندې د ارګ په سیاه ځاؤ کښې چې دهغوی غوښې او هډوکي ستاسې د ظلم د سیاه ځاؤ د ګجنو خاورو سره یو ځای خاورې شول دهغوی بچیان به یوه ورځ له تاسې سره په مړینې حساب وکاندې ستا دروغجن مکار لوی شیطان او ملعون هډوکي به د مرنجان د تپې نه راوباسي او له دې وطن سره ستا د بې شمیره خیانتونو ؛ منافقتونو او ظلمونو هندوګی څېره به د افغان ملت د واقعي تاریخ په پاڼو کښې څرګنده شي. ته کله خلاصیدی شې نن ستا وار دی سبا زما وار دی. تا د خپل انګریز بادار د خوشالولو دپاره څه ناروا ظلمونه ددې قهرمان ملت په زامنو وکړل، د جهالت په تورتم کښې دې

وساتل تا هیڅوک د دوی نه نشي خلاصولی . اې د بکهنگهم د مانۍ تالي څټ غلام ابن غلام ... نادره! وطن زمونږ مور ده او تا د خپلې مور لمنه جگه کړه ځکه درته حرامي وایم.

ای خصي هجړا ریاکار مکار دروغجنه هاشمه!

ای د استعمار فراش باشي وطن دښمن شاولیه!

ای د شمالي د بیوزلو خلکو د قتل عام خونکار جلاد شاه محموده!

ای کاغذي بې روحې لولۍ تش په نامه بې مسئولیته پاچا ظاهر گیه! ته خپل عشرت کوې د ملت د درد و رنځ نه هیڅ خبر نه یې چې حاکمان پرې څنگه ظلم او تعدی کوي پر تا باندې د خدای لعنت اوري په اسلام کښې تاسې ډیر زیات مسئولیتونه لرئ.

ای بې شعوره احمقه! اې سروپ مستبدلیونی د غټ خرد جال لمسی داوده!

تاسې ټول زما پدې خبرو ښه پوه شئ څه چې مو ددې وطن د خلکو سره کړیدي هغه درسره کیدونکي دي.

د دنیا تاریخ شاهد دی د فرانسې د لوی انقلاب تاریخ ژوندی دی او عملي یې خلک بیدار کړیدي خلک په وژلو نه خلاصیږي؛ ډیریږي؛ دنیا د خلکو ده؛ هرڅه چې په دنیا کښې دي د خلکو د پاره خدای پیدا کړیدي دخلکو زور، قوت د تل دپاره دی تاسې مغلوب او ناکام یاست؛ خلک غالب او بریالي دي .

هو! همداسې ده. خبر شئ ښه خبر شئ! بیا به یې خپلې اوښکې پاکې کړې لږه دمه به یې وکړه بیا به یې د کاریډور ټولو بندیانو ته په جگ آواز وویل: تاسې ټول زما پدې خبرو شاهدان شئ چې هیرې مو نشي. بیا به یې زمونږه د کوټې دروازه وټکوله غږ به یې وکړ د زمریانو بچیانو چې زړه مو ښکته پو رته نکړئ زما خبرې مو واوریدلې چې دا مو هیرې نه شي تاسې هم زما په خبرو شاهدان شئ. تاسې پدې تنگو سختو دا ملعونان ظالمان نشي وژلی تاسې خدای پیدا کړي یاست او پخپله نیته چې خدای د هر چا دپاره مقرره کړیده مرئ به؛ بیا به یې وویل :د زمرو بچو په خدای به ډیر ټینگ ایمان او عقیده لرئ د خپل وطن

سره به د قرباني مينه لرئ او دافغان اولس به ډېر زيات احترام وکړئ.

زموږ وروړ گل محمد خان چې يو زاهد شيخ مشر به سهري ؤ تږوله شپه او ورځ به يې د قرآن مجيد تلاوت کاوه او يا به يې خپل څادر په سر کوډى کړى ؤ خپله وظيفه به يې کوله.

کله چې به بابا عبدالعزيز په ډېر انقلابي شور او ځوږ سره داسې خبرې کولې؛ هغه ته به ډېر زيات قهر ورته؛ نو موږ ته به يې ويلې دا سړى ليوني شوى غوندې دى چټيات وايي د سرما غزه يې بيخي خراب شويدي چټې فضوله خبرې کوي شپه او ورځ په ښکنځا ؤ سروي خپل تلاوت او وظيفې ته مې نه پرېږدي څومره سپين ږيرى زوږ سړى دى او دومره ډېرې خبرې کوي چې هيڅ نه ستړى کيږي. پر موږه باندې به ددغه زوږ سپين ږيري او يا کلن بابا خبرې داسې خوږې لگيدلې چې موږه هيڅ فکر نه کاوه چې موږ کوته قلفيان يو، د بابا خبرو به موږ ته دراتلونکې نيکمرغه ژوند زيرى راکاوه او موږه ته به يې دسياسي مبارزې، د وطن د ترقۍ او دولس د نيکمرغه ژوند د انقلابي شعور د اصولو د زږورتيا او جرأت رهنمايي کوله.

د بابا خبرو به زموږه په مغزو کښې دولس د ژوندون د نيکمرغۍ د سمون دپاره د انقلابي مبارزې څراغ رڼا کولو، بابا عبدالعزيز زموږ د وطن پالنې او د افغان ولس د نيکمرغه مترقي ژوندون د سياسي مبارزې استاد او رهنما ؤ. د فارسي پښتو د ليک لوست معلم مو هم وو.

سرور جويا ډېر لوى ملي انقلابي وطنپال مبارز ؤ او زموږ دانگريزي ژبې د القبا د زده کړې استاد وو. شيخ بهلول ايراني د خارق العاده حافظې خاوند او ستر مذهبي روحاني عالم او بې اندوله شاعر زموږ دعربي د زده کړې معلم ؤ. دابه ډېره ښه خبره وي چې يو لنډ ځغلند نظر د شيخ بهلول ايراني په برخه کښې واچوو چې څنگه دلته بندي دى.

داد شيخ بهلول د خولې خپله خبره ده: څه وخت چې په ايران کښې د رضا شاه پلار پاچا ؤ او د ايران ښځو ته يې د مخ لوڅې اجازه ورکړه نو په ځينو

ځایونو کښې مذهبي روحاني عالمانو پرې تنقیدونه وکړه شورشونه او مظاهرې جوړې شوې پدغه وخت کښې بهلول په مشهد کښې ؤ او دهغه روحاني عالمانو په کتار کښې ودریده، د رضا شاه په ضد یې تبلیغ شروع کړ.

د ایران په نورو ښارونو او ځایونو کښې شور شونه او مظاهرې پای ته ورسیدلې ځانله په مشهد کښې یې جریان درلود، د ایران د نورو ښارونو نه به ډلې ډلې خلک راتلل د مشهد له شورشیانو او مظاهره چیانو سره به په یو کتار کښې ودریدل څو ورځې وروسته دومره خلک راغلل چې د مشهد په ښار کښې نه ځاییدل.

پاچا جرگه ور ولیږله چې خواره شئ او که خپلو شورشونو ته دوام ورکړئ نو د نظامي قوت په زور به تاسې خپاره کړای شئ او یوې عسکري فرقې ته یې امر وکړ: په هغه جومات کښې چې شیخ بهلول تبلیغ کوي او خلک پکښې دي عسکري چال چلند دې ورسره وشي عسکرو هم یو څو ته عالمان ورولیږل چې خواره شئ، شورشونه ختم کړئ او که نه نو بیا له تاسې سره نظامي چال چلند کیدونکی دی. د مشهد شورشیان د دې امر نه خبر شول بیا جومات ته د نورو ورځو نه خلک ډیر راغلل ما تبلیغ کولو چې نا څاپه د توپ ډز وشو او د جومات د دیوال یوه کوچنۍ برخه یې ونړوله او هوایي ډزې هم شروع شوې، شورشیان وارخطا شول په تښتیدلو یې پیل وکړ عسکر د جومات نه بهر مخکښې د مخکښې نه ځای په ځای شوي وو مظاهره چیان چې به تښتیدل عسکرو به نیول او په موټرو کښې به یې اچول، جومات د نیمایي نه زیات خالي شو ما دعا ویله د عسکرو په مینځ کښې راروان وم هیچا ونه لیدلم، د مشهد د ښار نه راووتلم د. افغانستان سرحد ته مې ځان راورسولو، ځان مې ورته تسلیم کړ، څو ورځې په هرات کښې وم بیا یې کابل ته راولیږلم چې تر اوسه پورې دلته پروت یم په زندان کښې یم او پنځه کاله کیږي چې له بابا سره په یوه کوټه کښې ژوند کوم.

بهلول ویل یوه ورځ گرځیدم د چنچنې بچې د ځالې نه رالویدلی ؤ د مځکې نه مې راپورته کړ د ځان سره مې کوټې ته راووړ په کوټه کښې مې ورته ځاله

PROPERTY OF ACKU 9237

جوړه کړه او زه یې مور شوم څو ورځې وروسته د چنچڼې بچې ښه تکړه شه ورځ په ورځ به ښه کیده ښکې پرې راغلې په کوټه کښې یې په ګرځیدلو شروع وکړه ما به ورسره خبرې او کیسې کولې او هغه به راته هم اوازونه کول زه یې ډیر ښه وپیژندلم.

هر ډول دانې او خوراکه باب به مې چې په مخکښې ورته کښیښود ل خوړل به یې دالوتلو شو چې ورته ویه مې ویل چې د کوټې په تاخچه کښې کښینه هلته به کښېناسته یوه ورځ مې په لاس کښېنولو ورته ومې ویل ګوره الوځې به نه هیڅ واته لواته بیرون مې په آزاده هوا کښې وګرځاوه ورته ومې ویل اوس بیرته کوټې ته ځو په تاخچه کښې به کښېنې خبرې درسره کوم چې کوټې ته ننوتم زما د لاس نه والووت په تاخچه کښې کښیناست پنځه شپږ میاشتې چې مې تعلیم ورکړ څه چې به مې ورته ویل هماغه شان به یې کول ډیره زیاته مینه او محبت به مې ورسره کولو پدې مې پوره باور راغی چې دا چنچنه زما له مینې او محبت سره ښه آشنا شویده او زما نه بل چرته نه ځي تر څو چې ورته ما اجازه نه وي کړې!

یوه ورځ مې ورته وویل: زما په سر کښینه بهر ته ځو زه په تپه کښې ګرځم ځغلم ته به هم الوځې زما په اواز پسې به راځې لکه چې مې ورته ویل هماغه به یې کول، یوه میاشت پوره مې ورسره دا تمرین وکړ، بله ورځ مې ورته وویل څه لاړه شه دد غه برج په سر به کښېنې آوازونه راته وکړه چې ما درته آوازونه وکړه بیا به راوالوځې زما په سر به کښینې چې بیا کوټې ته ځو څه چې مې ورته ویلي وو هماغه شان یې وکړه ما هم ورسره خپله مینه او محبت زیات کړ او هغه آوازونه به مې کول چې یوه چینچنه مور یې خپلو بچو ته کوي یوه میاشت مې ورسره همدا شان تمرین وکړ.

بله ورځ مې ورسره د تېولو ورځو نه ډیره مینه وکړه ډیر د مور اوازونه مې ورته وکړه ورته مې ویل : څه والوځه لاړه شه د برج په سر کښېنه سیل صفا وکړه که زړه دې غواړي چې بل چیرته لاړه شې هم لاړه شه خو بیرته به راځې د برج په سر

به کښېنېي ماته به آوازونه کوي چې ما درته آوازوکړ نو بیا به را الوځي زما پر سر به کښېني چې کوټې ته څو . دبرج په سر کښېناسته اوازونه يې وکړل ما ورته هم آوازونه وکړل راوالوته زما په سر کښېناسته کوټې ته لاړو.

هر سهار به دا چيچنه بهلول د کوټې نه وښکله الوتله به ما زيگر به بيرته راتله د برج په سر به کښېناستله آوازونه به يې کول شيخ بهلول به ځان تيې (۱) ته رسولی ؤ بيا به ورته هغه هم آوازونه کول د شيخ بهلول په سر به کښېناستله.

زما په عقيده شيخ بهلول عادي انسان نه ؤ پخپله د اهل تشيع مذهب روحاني عالم ؤ، خو هغه ته شيعه، سني دا ډيرې کوچنۍ خبرې وې حتی هغه ته هندو، مسلم، نصارا ټول د خدای مخلوق يو شان وو، ماته د کرامت او مرتبې خاوند ښکاريده، هر څه چې به يې يو ځلې ولوسته بيا به يې په حافظه کښې ناست وو د نورو خلکو سره يې ډير زيات فرق درلود.

دغو دری کسانو به مونږ ته پدغه طريقه درس راکولو مونږ خو کوټه قلفيان وو يو چرگ بانگ او بل چرگ بانگ به يې را پسې دروازې خلاصولې زمونږه د دروازو محافظان څلور تنه هزاره عسکر وو، هغو څلور تنو هزاره محافظانو ته چپه شاخ غلام نبي خان فرقه مشر چې هغه هم هزاره ؤ ويلي وو هر کله چې بابا، شيخ بهلول او جويا دغو کوټه قلفيانو ته درس ورکوي تاسې به دعمومي کاريډور دروازه کلکه تړئ چې مبصريا سرمبصر رانه شي او که هغوی دروازه وټکوله نو يو تن په تاسو په قراره ځئ او د کاريډور دروازه به خلاصوئ او د کوټه قلفيانو معلم به د هغوی د کوټو نه راوباسئ بېرته به پسې دروازه قلفوئ چې هغوی هيڅ پوه نه شي. زمونږه محافظانو دغلام نبي خان هزاره چپه شاخ فرقه مشر ډير زيات احترام کاوه او هيڅ د هغه د خبرې نه، نه تيرېدل په همدې شان به هغوی مونږ ته درس راکولو.

له مونږه سره پدغه مخصوص کاريډور کښې د ساپيو د قام څو تنه مشران هم

---

(۱) تپه د قلعهٔ جديد د مخصوصو شاته د خاورو بوه پلنه غونډی وه چې سياسي بنديان به پکښې گرځېدل.

وو چې هغوی یې هم څو ورځې مخکښې زمونږ کوټې ته راوستلې وو چې نومونه یې دادي :

د باډیل امیر سلام خان، ملک غلام حسن خان دد غو دواړو مشرانو دیوه پلاراود بل کاکا د وطن د آزادۍ په جنګ کښې د چترال یعنې د استقلال د څلورمې جبهې په محاذ کښې د انګریزانو له لاسه شهیدان شویدي، د څوکۍ د دیوه ګل د درې ملک میر باز خان او ملک حیدر خان چې د ګنداو په غزاوو کښې دواړو د انګریزانو سره غزاوې کړیدي، د مزار درې ملک امیر او د کلک ایمان خاوند ملک اله خان چې دغو دواړو مشرانو هم د انګریزانو سره د ګنداو او کړپو په غزا کښې ګډون کړی ؤ دغه مجاهد سپین ږیري یې درې ورځې مخکښې کوټه قلفیان کړي وو ددوی سره هم دغو سیاسي بندیانو ډیره زیاته مرسته کوله.

## نازولی ماشومان او میرمنې د توقیف په سپړو وږږو کښې

اوس به بیرته د هغه ښځو او ماشومانو دحال نه ځان خبر کړو چې د دهمزنګ په جیل کښې ماښام په موټرو کښې پاتې شوي وو اوله خپلو پلرونو، وروڼو، زامنو، لمسیانو نه په ډیره بې رحمۍ، په زور ظلم جلا کړی شوي وو او هغوی هیڅ نه پوهیدل چې د طلایي ظالمانو د نمرودي سره او ر په کومه کنده کښې به غورځیږي په هغوی کښې د ژړا واویلا او فریاد نور هیڅ طاقت پاتې شوی نه ؤ داسې د سکوت او خاموشۍ پرده هلته خپره شوې وه چې هیچا دا خیال نه کاوه چې پدغه موټرو کښې ژوندي انسانان شته دي.

پدغه سرې ماښام یې موټرې د کابل د ولایت زنانه جیل ته واستولې مخکښې د مخکښې نه د هغوی په باره کښې پوره هدایت ورکړ شوی ؤ، څه وخت چې لارۍ د ولایت زنانه توقیف ته ورسیدلې او هغه مظلومان ترې راکوزیدل او خپل کالي یې د موټرونه راکوزول د هغوی په کالو، زیوراتو چور

جوړ شو هیڅا ورته غږ کولی نه شو چې دا څه کوئ ماشومان ؛ ښځې هم ټولې ولټول شوې دا زما دمور دخولې خپله خبره ده د استقلال هغه تاریخي اسناد ، فرامین او عکسونه یې چې اخیستل ما بیرته د هغوی د لاسونو نه واخیستل د هغوی نه ما په ګوتو لګولو د خپل خاوند میر زمانخان د استقلال بیرغ او کمر بند واخیست او نور هر څه یې په زور واخیستل.

ماته یې وویل چې داد صدراعظم کبیر امر دی چې ستاسې دا ټول داسې شیان چې هغه اسناد وي او فرامین وي او یا قیمتي زیورات وي مونږه به لست واخلو صدارت ته یې وړو ، قبالې او اسناد یې ټول ترې واخستل او دنمرودي سور اور په هغه کنده کښې چې په (زنانه توقیف) کښې ټاکل شوې وه ورغوزار شول، هلته هم دومره سپږې او خزنده وو ، چې د معصومو پاکو سپیڅلو ماشومانو او پاک لمنو پښتنو پیغلو او میرمنو وینو څښلو ته د ډیرو کلونو راهیسې په انتظار کښې پاتې شوي وو.

هغه ماشومان او ښځې چې د کابل د بیني حصار په کلاچه کښې بې سرنوشته پاتې وې چې څو تنه نارینه یې د ضبط احوالاتو رئیس احمد شاه خان او د کابل امنیه قوماندان خواجه نعیم د صدارت په نامه د ځانونو سره بیولي وو ، هغوی هم یوه شپه وروسته د ظالم نمرود د سور اور په بله کنده کښې ور غوزار شولې او هغو یته یې د زنانه توقیف په بله برخه کښې ځای ورکړ چې د کونږ د ښځو او ماشومانو نه جلاوي چې یو تر بله سره هیڅ خبرې نشي د هغوی په کوټو کښې هم د سپږو او خزنده ؤ بهیرونه وو . د زنانه جیل آمر یو کوړ خولی شین سری سړی ؤ چې خواجه محمد نومیده هغه چې به کله خبرې کولې نابلده سړي به داسې خیال کولو چې ټوکمار دی ټوکې مسخرې کوي خو دهغه دا ذاتي عادت ؤ خبرې چې به یې کولې خوله به یې ورانه ویجاړه کړه او دواړه سترګي به یې غبرګې رپولې او خپلې اوږې به یې ښکته پورته غورځولې پداسې حال کښې چې یو لاس به یې د ګوزني په شان خوځیده هر نابلده سړي چې به د خواجه محمد دغه مورزادي عادتونه ولیدل ضرور به یې خندل .

# د زنانه توقیف نورې مېرمنې

( لاندې دا معلومات ماته زما مور راکړيدي ) :

پدغه زنانه توقیف کښې نورې سیاسي بندیانې ښځې هم وې چې نومونه یې دادي: ببو گل د سقاو حبیب اللّه میرمن چې په (سنگرۍ) مشهوره وه او حبیب اللّه به ورته سنگرۍ ویله، د سنگرۍ دوه لوڼه وې، مشره لور یې سلطانجانه او کشره لور یې سلطانه نومیده چې په زنانه جیل کښې پیدا شوې وه او اوولس کاله بندیې تیر کړيؤ. د سقاو حبیب اللّه د وزیر جنگ میرمن مزارۍ هم وه. شیرین گله د غلام نبي خان د ناظر میرمن او د نادرخان د قاتل عبدالخالق خپله ترور؛ تر اوسه دغه ښځه د زنانه جیل داباشي هم وه. بي بي خورد د شیرین گل بن او حوره جان د هغه وریره هم وه چې د عبدالخالق نامزد کیده. د عبدالرحمن ازبک د کورنۍ څخه چې اتیا تنه کیدل صرف یوه ښځه ژوندۍ پاتې شوې وه، عبدالرحمن ازبک د پار دریا مهاجر ؤ چې د روسانو د لاسه یې افغانستان ته پناه راوړې وه او ډیر دولت یې لکه الماس او نور قیمتي زیورات د ځان سره راوړي وو چې خپل مال دولت ورته سور اورشه، مال او دولت یې ټول ترې واخیست او بیا یې بندیان کړه او ټوله کورنۍ یې نوره مړه شوه. د شیرین گل د خولې دا څو غم لړلي دردوونکې خبرې چې افغانیت او انسانیت ترې شرمیږي واورئ: کله چې نادر خان د خپلو ظلمونو او ناوړه اعمالو په جزا ورسیده زما د توریالي وراره عبدالخالق خان ټوله کورنۍ، خپلوان او دوستان ونیول شول ،د ارگ په بندي خانه کښې بندیان شول په قمچینو وهل؛ تیل داغ کول او هر ډول زجر او شکنجې یې راکولې د لاسونو او پښو په غوڅولو، د سترگو په وښکلو چې ډیر دد غه تکلیفونو او زحمتونو د لاندې مړه شول زه هم پدغه ډله کښې وم.

کله چې به شپه شوه د ظالم طلايي نمرود زامن هاشم؛ شاه ولي او شاه محمود او دهغوی قصابان به حاضروو چې د هغوی په مخکښې به یې مونږه ته داسې شکنجې او عذابونه راکول او د يو بل زجرونه او تکليفونه به مونږه پخپلو سترګو ليدل دډیر زجر او تکليف د لاسه به څو ک مړه شول او څوک نيم ځانه بيهوشه پراته وو.

هغه څه چې له ماسره شويدي زه يې په ويلو شرميږمه، ټولو د خپل مرګ دعا کوله.

# زمونږ لورو او سپرو وژلي ماشومان

په زنانه توقيف کښې زمونږ ماشومان او ښځې د لوږې له لاسه او د سپږو د لاسه ټول ناروغان شول په ډيره مظلومتيا، مأيوسۍ او بيکسۍ به يې خپلې سترګې ددغه نمرودي کندې د کوټو چتونو ته نيولې وې او فريادونو به يې د زړونو سوزناکه آوازونه چې د دردوونکو براسونو ډک وو هوا ته پورته کول چې په دغو آهونو کښې د بې عدالتۍ، ظلمونو، خونکارۍ پوره نخښې ښانې ښکاره کيدې.

ددغو سپږجنو غمناکو کوټو د رنځونو ډکو خونو د موجونو سره جوخت تاويدل را تاويدل او بيا د هوا د مرموزو او مجهولو څپو سره يو ځای کيدل او ورکيدل به؛ ميا ندو ډيرې چيغې او سورېډ جيل آمر او داباشيانو ته وکړې:

ډوډۍ راوړئ ماشومان مو دلوږې نه مري په سپږجن مرض (حمای لکدار) باندې ټول پراته يو ډاکتر راولئ چې څه دوا درمل ورکړي خو دهغوی چيغو نارو او فريادونو او ژړاګانو هيڅ فائده نه کوله چانه اورېدلې داځکه چې طلايي خونکارانو نمرودانو خپلو قصابانو ظالمانو نوکرانو ته همداسې امر او هدايت ورکړی ؤ چې ټول دسپږو شپېلولو او لوږې دلاسه مړه کاندې دهغه معصومو

پاکو ماشومانو سلګی هېڅا نه لیدلې بوازې چاچې ورته په ځیر ځیر کتل هغه دهغوی مېندې او خوېندې وې چې دهغوی حالت هم ددوی په شان وو.

په ډېرو لږو ورځو کښې یو دبل پسې دری او څلور تنه به دلوږې او سپږ جن مرض دلاسه مړه کېدل چې ټول دمړو شمېر اته وېشت تنه ؤ چې دهغوی نومونه دادي:

عبدالظاهر، غلام سرور، بي بي حوا؛ دوست محمد، بخت بي بي؛ ماه ګل؛ شاه جهان، لیلی؛ نواب جانه، امرو؛ رابعه؛ چې په کاکا ابی یا ککا ابی مشهوره وه؛ شبیر؛ صابر؛ کابلی؛ بختوره؛ او..................

او پنځه اتیا تنه نورې ښځې او ماشومان ټول دحمای لکدار په سپږجن مرض ګرفتار شوي وو چې دخپلو زامنو؛ لوڼو؛ خویندو؛ میندو او لمسو د مړینی نه هیڅ نه خبریدل چې چا ولمبول، چا ورته کفن ورکړ، چا خاوروته په کوم ځای او کومه هدیره کښې وسپارل قبرونه یې چاته معلوم دي که نه؟

ځکه چې هغوی ټول دحمای لکدار په سپږجن مرض اخته شوي وو او دخپلو ځانونو نه هیڅ خبر نه وو ددغو مړو ټول نومونه د زنانه توقیف د مړو په کتاب کښي ثبت دي. ددې غم لړلې واقعې نه وروسته د زنانه جیل آمر خواجه محمد خپلو ظالمانو د نمرود د سور اور دکندې بادارانو ته خبر ورکړ هغوی تصمیم ونیوه چې جزایي ټولې بندیانی ښځې دې د کلاچې د بیني حصار د خان محمدخان کلا ته بوتللې شي.

پدې وخت کښې ظالم د فرعون وارث هاشم خان صدراعظم کبیر صاحب زمونږ د ټول منقول او غیر منقول جایداد د ضبطولو فرمان هم صادر کړی، زمونږه د قلعه جدید د مخصوص هغه سیاسي بندیان چې له مونږ سره په یوه مخصوص کار یدور کښې و و، مونږ به یې د خپل اولاد په ځیر روزلو او پاللو، ډیر پام او مرسته به یې راسره کوله ځینو د غو مخصوصو سیاسي بندیانو ته په هفته کښې یو ځل د پایوازې اجازه ورکړ شوې وه.

لکه عبدالغفار خان سرحددار؛ وکیل سعد الدین د ناظر سفر د کورنی غړی،

سرور جویا؛ او آغای حقیقي دامان الله خان سلماني. دوی ته چې به ښځې د پایوازۍ په توګه راتللې نو بیا به دوی د ولایت توقیف زنانه ته لیږلې چې زمونږ د ماشومانو او ښځو خبر واخلي دویته خپلو میرمنو زمونږ د ښځو او ماشومانو دزنانه توقیف حال ویلی ؤ، زمونږ د ښځو او ماشومانو د مړو نوموونه یې هم زده وو، خو مونږ ته یې هیڅ نه ویل؛ تل به یې مونږ ته داډ او تسل راکاوه او دا به یې راته ویلې چې په زنانه جیل کښې ستاسې ټولې ښځې او ماشومان روغ رمټ دي او له تاسې نه هم هغوی خبر دي چې تاسې روغ او ژوندي یاست. څه وخت چې به وکیل سعد الدین یا عبدالغفار سرجدار بابا عبدالعزیز زمونږ د زنانه توقیف د مړو څخه خبر کړ. پدغه ورځ به د بابا فکر او اعصاب دومره خراب وو چې له خولې نه به یې داسې الفاظ راوتل چې هیڅ حد او اندازه نلري.

بیا چې به د بابا عبدالعزیز لږ قار سوړ شه نو مونږ ته به یې غږ وکړ اې د زمریانو بچو! تاسې د وطنپالۍ او رښتیاني انقلابي په مفهوم ځانونه پوه کړئ. خپل ځانونه د پولا دود غره پشان نه ماتیدونکي وګڼئ؛ د مرګ نه هیڅ مه داریږئ؛ مرګ د خپلو ځانو څخه وډار کړئ د دې سخت ژوند د مشکلاتو نه تجربې حاصلې کړئ. زمانه تل زوړ حالت په نوي حالت بدلوي دا جهان چې خدای خلق کړیدی د زمانې دا عملیه ورسره روانه ده پدې ښه پوه شئ سبا پدې وطن کښې د سیاسي مبارزې میدان د تاریخي شواهدو له امله دومره پراخیږي چې ټول افغانان به پدغه میدان کښې ودریږي او د دغه نمرود یانو د ظلمونو او فجایعونه به پردې جګې کړي. ددې ظالمانو اخره خاتمه خطا ده پښې یې دمځکې نه په هوا شویدي هر څومره چې کوښښ وکړي چې خپلې پښې د افغان ولس په مځکه ولګوي، لګولی یې نشي دا پدې چې ددوی ظلمونو او نارواؤ نور بیخي افغان ولس تنګ کړیدی ددوی ظلمونه زیاتي نشي زغملی که ددوی انګلیسي باداران هم ددوی پښې په مځکه باندې ورولګوي ایښودلی او لګولی یې نشي خو سره ددې هم انګریزي باداران دوی ته هیڅ ګټه نشي رسولی دا ځکه چې ددوی د بادارانو انګریزانو پښې هم ددنیا په هر ملک کښې خلکو په هوا کړیدي

د انگریزي بادارانو د ملا تانگ پې نور بیخي سست شویدی.

دغه جمله به یې څو ځلې تکرار کړه او بیا به یې کټ کټ وخندل او نورو بندیانو به ورسره هم وخندل.

## زموږ د ټولو ماشومانو او ښځو د تباهی خبر

د ۱۳۲٤ لمریز هجري کال د کب د میاشتې پنځمه نیټه ذ سهار اته بجې دي «چکړي» چې د پنځه نوي کلونو په عمر زوړ سړی ؤ، دا سړی زموږ د سیاسي مخصوص د کاریډور مبصر ؤ زموږ کوټه یې خلاصه کړه دننه کوټې ته راننووت پداسې حال کښې چې خپله کړشو په خوله یې د نسوارو نه ډکه وه خپله چونډکی لنډه یو متر لس سانتي ونه یې د غزنیچي پوستین د لاندې نه ښکاره کوله د چخپیت شوي پیتاکدو پشان دوه جنگیز چمبه سر یې خوځولو لنډه بوڅجی پزه یې د گونجو د غټې مخ په کاسه کښې د خرې د نوي پیدا شوي کوټې په څیروه او دخپلې پزې د سورونه یې آوازونه راوښکل، دلنډه خمنډي لاسونو په گوتو یې د پوستین د لاندې غټې غټې تسپې اړو لې، زمونږه دانگریزي هغه کتابونو ته یې اشاره وکړه بیا یې په قهر راواخیستل شور او ځوږ یې جوړ کړ ویویل: تاسې ته دا کافري کتابونه چا درکړیدي؟ زه پوهیږم ښه خبر یم چې دا تاسې ته سرور جویا درکړیدي دلته تاسې هم مسلمانان نه شولئ د قرآن تلاوت ولې نه کوئ زه درته هره ورځ لگیا یم چې سم مسلمانان شئ تاسې چې دا کافري کتابونه لولئ ځانونه کافران کوئ توبې وباسئ؛ استغفار ووایئ خو تاسې همداسې په چتیاتو اخته یاست. عبدالعزیز او جویا خو کافران دي هغه دواړه ستاسې استادان دي هغوی غواړي چې تاسې هم د خپلو ځانو پشان کړي بیا به یې وویل: نن سبا به خدای تاسې ټول ستاسې د زنانه توقیف د ښځو او ماشومانو پشان هلاک کړي، په زنبیلو کښې به مو د هغوی پشان په کندو کښې وغورځوم!

د چکړي د دې خبرو د اوریدو سره سم شیخ گل محمد خان لالا غږ وکړ:

په زنانه توقيف کښې زمونږ ټولې بنديانې ښځې او ماشومان مړه شويدي څه! ؟

-هو! ټولې ښځې او ماشومان مړه شوي دي! ژوندي نشته دي؟ هو! يو زنده سړ پکښې هم پاتې ندی ټول مړه شوي دي.

- دوی څه وخت مړه شويدي؟

-د هغوی د بنديوه مياشت لا پوره شوې نه وه چې ټول د ب د يرۍ او اوف تباه شول

-آيا چا خښ کړه؟

-ليونيه څوک خو ستاسې نوکران ندي چې تاسې به خښوي.

-نو څه مو پرې وکړل؟ او کوم ځای ته مو يوړل؟

-په زمبيلونو کښې مو واچول او دنو آباد ده افغانان د غره په لمن کښې مو په کندو کښې واچول!

-په څه مرض په دومره لنډه موده کښې ټول مړه شول؟

-د لوږې او د سپږ جن مرض (حمای لکدار) دلاسه او په قهر جنه لهجه يې وويل:

دا بنديان چې له تاسې سره پدې ځای کښې دي تاسې نه مرئ زه د ټولو نه خبر يم بايد تاسې ستاسې د توقيف زنانه د بنديانو نه مخکښې مړه شوي وای تاسې په سپږجن مرض او د لوږې نه نه مرئ.

زه خواجه نعيم خان قوماندان ته وايم چې تاسې ددې ځای نه وباسي داسې ځای ته مو بوځي چې هلته څوک نه وي، له تاسې سره دغه بنديان مرسته کوي، زه د هر څه نه خبر يم بيا يې مونږ ته گوته ونيوله دا کوچني کافران چې د عبدالعزيز او جويا شاگردان دي او په کفري کتابونو کښې ورته کفري خبرې زده کوي. توبې ولې نه باسئ چې کفري کتابونه لولئ تاسې ته ددې اجازه چا درکړيده که سر مبصر ددينه خبر شي تاسې خو نن سبا په غير ددينه دلته مرئ زه به ستاسې په ټيله کښې بر ناحقه چتي ځوانيمر گ شم. چکړي خپلې خبرې کولې

چې خپل د انګریزي کتابونه مو دهغه د لاسه نه په زوره واخیستل او په تیله مو ددروازې نه وښکود دهغه سرد دروازې د تمبې سره ولګیده سر یې لږ شانته مات شه سرې وینې یې په تندي را روانې شوې پدې وخت کښې زما بل ورور خیر محمد خان ماته په قهر شه او څو څپړې یې ووهلم چې ولې دې د چکړې سر مات کړ او حال داؤ چې ما د چکړې سر هیڅ لیدلی نهٔ چې مات شویدی هغه پخپله په قار توند پاڅیده ددروازې دتمبې د یوې تیرې برخې سره یې سر ولګیده. ما په خپله سورۍ نرۍ بړستن کښې ځان تاوراتاو کړ کرار څملاستم.

په کوڅه کښې نورو سیاسي بندیانو په چکړې پورې خندلې خوشالي یې کوله دورځې درې بجې وې بابا عبدالعزیز دروازې ته راغی عسکر ته یې وویل: بچی دروازه خلاصه کړه هغه ته عسکرو د پخوا پشان دروازه خلاصه نکړه پدې وخت کښې په کوڅه کښې غلام نبي خان چپه شاخ فرقه مشر ګرځیده . عسکر ته یې په خوږه هزارګۍ لهجه وویل: بچی بابا ته دروازه خلاصه کړه ! بابا کوټې ته رانننوا ته غږ یې وکړ کوم د زمري بچي ددې زوړ سپي سر مات کړیدی. شیخ لالا په خپل سر باندې څادر کوډۍ کړی ؤ استخاره یې وښکله چې د چکړې مبصر د لاسه به مونږه ته څه راپېښیږي، د څادر د ګوډۍ څخه یي سر راوښکوده بابا ته یې په ډیره قهرجنه لهجه وویل بیا یې ماته لاس ونیوه دغه سپي خوړلی دی.

بابا د شیخ لالا دې خبرې ډیر زیات په قار کړ هغه ته یې وویل: ته نه شرمیږې چې د یو مردار خور ،ظالم ، بدبخت ملګرتیا کوې، بیا یې زما نه بړستن پورته کړه مچې یې کړم پداسې حال کښې چې د هغه سترګې د اوښکو نه ډکې وې ماته یي وویل: بچی زه اوس پوره پدې ښه پوه شوم او ډاډه یم چې د ظالم په مقابل کښې خپل سر نه ټیټوې او د مظلومانو خدمت کولی شې، زه تا ته نور خپل زوی او دوطن مبارز بچی وایم!

د بابا ددې خبرو په اوریدو سره زما په زړه کښې داسې د قوت رڼا پیدا شوه چې ځان مې د غره نه قوي او مضبوط وګانه.

د غرمې دوډۍ مې هم نه وه خوړلې، بابا د ځان سره د سو جي حلوا ډک غوری راوړی ؤ هغه يې ماته راکړ د هغه ورځې نه چې د بابا خبرو زه روحي تلقين کړم بيا د هيڅ نه، نه ډاريدم پوه شوم چې د هر ظالم سره مبارزه پکار ده او له هغه چا سره مرسته کول پکار دي چې مرستې ته ضرورت لري.

ټول زما د کاريدور سياسي بنديان خبر شول چې چکرې مونږه د زنانه جيل د ټولو مېرونه خبر کړي يو د شپې له خوا هغوی ټول راغلل ډاډ او تسل يې راکاوه د مېړو په حق کښې يې دعا وکړه او مونږ ته يې وويل څو مياشتې مخکښې مونږه ستاسې د دغو مېړونه خبر وو خو تاسې ته مو څه نه ويلې هغوی ټول په څو لومړيو ورځو کښې د سپېږجن مرض او لوږې د لاسه مړه شوي وو نور ټول ژوندي پاتې شوي دي.

عبدالغفار سرحددار وخندل و يويل: تاسې چکري پيژنئ هغه څوک دی؟ خپل سوال ته يې په خپله داسې ځواب ورکړ: د چکري پلار او د تور بنديوان پلار دواړه د امير عبدالرحمن خان جلادان وو، د زندانونو او سياڅاؤ مديران وو د تور بنديوان او د چکري له پلار سره به ددواړو زامن د شير پور اود ارګ په بنديخانه کښې وو او د بالا حصار د سيا څاؤ ساتونکي هم دوی وو د خلکو په ډول ډول وژلو کښې لکه دسترګو په وښکل کيدو، د کولمو په راښکلو د سپو پشان په غاښونو د خلکو ته غوښې څيرلو، د لاسونو او پښو په غوڅولو، د سرونو په غوڅولو، توپونو ته په تړلو، چارماري ته جوړولو کښې به يې له خپلو پلرونو سره يو ځای مرسته کوله او د امير حبيب الله خان په وخت کښې ددواړو پلرونه مړه شول دوی هم دواړه د امير جلادان وو او دخپلو پلرونو وظيفه دويته وسپارل شوه تور بنديوان مړ شويدی او چکري دهغه وخت نه تر اوسه پورې د خپل پلار وظيفه اجرا کوي. چکري سړي ته داسې شکسته خبرې کوي چې د سړي زړه غورځيږي او حيات يې په تلقين ډير کمزورې کيږي د چکري اوسنۍ وظيفه داده په چا چې داعدام حکم وشي لاسونه يې شاته ورتړي، د غرغرې حلقه ورته په غاړه کښې اچوي او بيا يې غرغرې ته پورته کوي، پام کوئ چې ددغه ملعون

لوی خبیث خبرو ته هیڅ غوږ ونه نیسئ په هغه ورځ چې چکړي څوک غرغره کړي وي نو دی ډیر خوشحاله وي؛ دا ډیر مضر، خونکار قصاب سړی دی. پدې هفته کښې چې زما میرمن ماته په پایوازۍ راغله زه به یې زنانه جیل ته ولیږم چې تاسې ته د خپلو بندیانو میندو او خویندو او ماشومانو چې ژوندي دي پوره نخښې راوړي چې ستاسې باور راشي چې هغوی مړه شوي ندي، شکر دی ټول ژوندي دي، چکړي لعین تاسي ته ټول دروغ ویلي دي.

پدې وخت کښې ناڅاپه د عبدالغفار سرحددار نه، بابا عبدالعزیز د خبرې سر ونیوه و یو یل: د چکړي څیره او شکل بالکل مسخه شویدي تاسې د هغه مکار لعین په خبرو باندې باور مه کوئ تاسې د هغه خبرې داسې فرض کړئ لکه چې یو زوړ کوڅه ډب سپی خپل ځان ته غاپي.

## زموږ د ماشومانو او ښځو داډمن خبر

یوه هفته وروسته د عبدالغفار سرحددار میرمنې د زنانه جیل څخه زمونږه د ماشومانو دروغتیا د پوره اطمینان وړ نخښې راوړې وې چې زمونږه پرې پوره یقین راغی چې رښتیا دي حتی زمونږه د ژوند یو کسانو نومونه یې هم د ځان سره اخیستي وو.

چکړي بیا سپکه وړی شوی ؤ، د لوی دروغجن په صفت بیا ټولو پیژانده. داخبره د یادولو وړ ده هلته په زنانه توقیف کښې نورې بندیانې ښځې وې چې د سرحددار ښځې هغوی پیژندلې د هغوی په نامه به زنانه توقیف ته په پایوازۍ تلله او د هغوی په وسیله به یې خپل ټول معلومات تکمیلول زمونږه خبر به یې زمونږه بندیانو ته ورکولو چې ژوندي یو او دامونږ مونږه دي او د هغوی مونږ ته. بیا به د بابا دا خبره همیشه مونږ په خپلو منځو کښې کوله : چکړي زوړ سپی دی خپل ځان ته غاپي.

# د بابا عبدالعزیز جرم ( ؟ )

بابا عبدالعزیز الکوزی کندهاری ډیر لوی ملي شخصیتؤ دا د بابا دخولې خپله خبره ده کله چې نادر خان د ملي شورى د لومړی دورې وکیلان شورى ته راوغوښتل د کندهار د خلکو له خوا زه عبدالعزیز کندهاری وټاکل شوم د دغه لومړی دورې وکیلان دوه نوي تنه وو او د دغه شورا رئیس عبدالاحد ؤ ، نادر د شورا رئیس ته هدایت ورکړی ؤ چې د شورا په وکیلانو د انگلیس له دولت سره دوسلو د اخیستلو تړون لاس لیک کړي.

کله چې د شورا د وکیلانو د غونډې په مینځ کښې دا خبرې راولویدلې نو بابا عبدالعزیز ددې خبرې سخت مخالفت وکړ او وکیلانو ته یې وویل د افغانستان خلک او ملت هیڅکله دا نه غواړي چې د برطانیې له دولت سره دې ددوستی یا دوسلې اخستلو قرارداد وکړي د افغانستان ټول خلک د انگریزانو نه ډیرې زیاتې بدې خاطرې لري او هغوی خپل دښمنان گڼي اوس د افغانانو وطن افغانستان یوازاد او په خپل واک وطن دی چې د هیڅ بل اجنبي وطن د تأثیر لاندې نشي راتلای پخپل واک او خپله اراده آزاد مستقل دولت دی له انگریزانو سره زمونږ د وطن د وسلې قرارداد امضاء کول داسې معني لري چې مونږ د انگریزانو د سیاست نه په غیر بل څه نه شو کولای مونږ د انگریزانو مرستې او کومک ته هیڅ محتاج نه یو ، مونږ دلته پدغه غونډه کښې د افغانستان د ملت د ملي شورا دوه نوي تنه وکیلان یو مونږ هر یو وکیل د وطنپرستی او د افغانستان د خپلواکی له لحاظه وظیفه لرو چې هر یو دوه – دوه لکه روپۍ د خپلو مؤکلینونه واخلو او دوطن د ساتلو دپاره پرې وسله واخلو او دهغه حکومت نه وسله واخلو چې افغانستان ته ددوستی په سترگه گوري ، د بابا عبدالعزیز دې خبرو د شورا په تالار کښې د وکیلانو په مینځ کښې د وطن

پرستۍ جذبې راوپارولې ټولو په یوه آواز د بابا خبره تأیید کړه او چک چک یې وکړ، د شورا رئیس عبدالاحد چې د وکیلانو دا هم آهنګي ولیده هیڅ یې نور ونه ویل د مجلس د خوړولو اعلان یې وکړ.

سبا بابا عبدالعزیز د خپلو تجارانو موکلینو نه چې په سرای زرداد او سرای عبدالرحمن کښې یې تجارت خانې درلودلې دوه لکه روپۍ د ملي جذبې د وطن پالنې د دوستۍ په تقوی د وطن د ساتلو د وسلو اخیستلو دپاره واخیستلې او په دوه سوه کوچنۍ خلطو کښې یې ملي شورا ته په یوه بګۍ کښې راوړې. څه وخت چې د شورا رئیس عبدالاحد دغه روپۍ ولیدلې دا ورته ښه ثابته شوه چې د بابا نظر او عمل یو دی د بابا دغه عمل د شورا په وکیلانو کښې د وطن پرستۍ احساسات داسې راوپارول چې ټولو بابا ته په یوه خوله وویل: ته به مونږ ته هدایت کوې مونږه به هماغه کوو دا ځکه چې ته په مونږه ټولو کښې د شورا په کارونو ښه پوهیږې حتی چې د شورا وکیلانو بابا ته د شورا رئیس وواېه او عبدالاحد خان نادر خان د شورا رئیس ټاکلی ؤ.

دبابا دغه د وطن پرستۍ نظر سرته ونه رسېد حکومت د بابا پشان ملي شخصیت چې د ښه علم او معرفت خاوند هم ؤ په ملي شورا کښې پریښودلی نه شو او د شورا د وکالت نه یې وښکود د نادر شاهۍ او ظاهر شاهۍ د شهر ناپرسان فاسدو بیروکراسي رژیمونو په بابا ډیرې زیاتې تنګې سختې تیرې کړې او تکلیفونه او عذابونه یې ګاللي دي. د ارګ په بندیخانه کښې، د سرای موتي په بندیخانه کښې او د دهمزنګ په قلعهٔ جدید کښې په سیاسي مخصوص کښې د بابا عبدالعزیز پنځلس کاله سیاسي بند دومره زیاتې شکنجې او عذابونه هغه ته ورکړیدي چې دلته د هغوی د ټولو یادولو ګنجایش نشته دی چې یادونه یې وشي دا پوره ډیر وخت غواړي چې ددغه ملي قهرمان د ژوند ټوله بیوګرافي په واقعي ښه راټوله شي او یو غټ کتاب ترې جوړیږي.

# د محمد یعقوب خان سرگذشت

محمد یعقوب خان غونډ مشر چې د امان الله خان د سلطنت په دوره کښې د عسکري مقدس مسلک د عالي تحصیل په غرض فرانسې ته استول شوی ؤ چې خپل بری لیک یې په اعلی درجه د توپچي په مسلک کښې راوړی ؤ او د فرانسې په عسکري اکاډمۍ کښې د یو ممتاز شاګرد په حیث پېژندل شوی ؤ او په عین زمان کښې د ریاضي ماهر استاد هم ؤ او د عسکري اکاډمۍ له خوا ورته د ممتاز شاګرد په حیث دوه توپونه ورکړ شوي وو چې افغانستان ته یې راوړل، غونډ مشر محمد یعقوب خان پخپله داسې کیسه کوله :

مونږ څو تنو افغانانو د پاریس په ښار کښې یو ځای تعلیم کاوه چې له مونږه سره ډیر غبي سردار نعیم او سروپ مستبد لیونی داود او ډیر زیات نالائق غبي ظاهر شاه وو، ددې دری واړو تعلیمي سویه د ټولو شاګردانو نه ټیټه وه چې د خپل ښوونکي په لیکچر نه پوهیدل او نوټونه یې تري اخستلی نه شول څرنګه چې ددوی کور د پاریس په ښار کښې ؤ نو ماته به یې ډیره زاري کوله چې زما د کتابچې نه نوټونه واخلي او دا لجبر د فارمولونو په حلولو کښې ورسره مرسته وکړم په ټول مکتب کښې دادری واړه د نالایقو غبي شاګردانو په نوم پېژندل شوي وو دا دری واړه به پدې ډیر زیات خوشالیدل چې کله به ورته یو افغان وویل نعیمه لاړ شه سګرټ راوړه! داوده لاړ شه سګرټ راوړه. ظاهره! لاړ شه سګرټ راوړه. نو په یوه منډه به تلل او د سترګو په رپ کښې به یې سګرټ راوړل. دوی په ژر سګرټ راوړلو کښې ډیر زیات ښه مهارت درلوده چې په ټول مکتب کښې ددوی پشان هیڅوا نه درلود او د لیاقت د سویې معیار یې صفر ؤ. کله چې نادر خان د خپلو ناوړو اعمالو په جزا ورسیده زه نالائق ظاهر شاه د خپل ځان سره د مشاور یاور او دریاضي د معلم په صفت ونیولم. ټوله ورځ به مو پر بازي؛ کرهبول او شطرنج کولو. صرف په تش نامه مشاور یاور او د ریاضي معلم وم.

دری میاشتې مې په همدې شان تیرې کړې. د خپل وجدان په شهادت ځان راته ډیرېږي کاره او تنبل معلوم شه ظاهر شاه ته مې وویل: دلته خو زه هیڅ کار نلرم زه باید ضرور په کوم ځای کښې کار وکړم په دغه وخت کښې لیونی داود د مرکزي قواؤ قوماندان ؤ هغه ته یې معرفي کړم هغه د یاور په صفت د ځان سره ونیولم. یوه ورځ په عادي توگه د نورو ورځو پشان د هغه د کار کوټې ته ورننوتم هغه په ځان د لیونتوب چپه راوسته په ډیر قهر او غضب یې راته وویل: ولې دې دروازه و نه ټکوله بې اجازې را ننوتلې نالایقه! ما ورته وویل: زه نالائق نه یم؛ ما کله ستا دروازه ټکولې ده او ستا نه مې اجازه غوښتې ده! زما دې خبرې هغه عصبي کړ، د لیونتوب چپه یې په ځان راوسته ماته یې ښکنځله پورته وکتل او همدومره یې راته وویل: زما نور په کار نه یې.

له کوټې نه چې راووتم لږ سات وروسته یې په موټر کښې واچولم برابر یې د دهمزنگ جیل ته راوستلم. ولچک او زولانه یې کړم سترگې یې راته وتړلې، عسکري یونیفورم یې زما له دریشي نه وشکاوه. بیرته یې په موټر کښې واچولم څو دقیقې وروسته یې د موټر څخه راښکته کړم په یوه تمجنه توره کوټه کښې یې چې سورې سورې دیوالونه یې درلودل کوټه قلفي کړم ماښام راپسې یو سړي دروازه خلاصه کړه چې نیمایي وچه ډوډۍ یې راوار توله بیرته یې راپسې دروازه قلف کړه ، د کوټې تمجن دیوال ته مې ډډه لگولې وه خوب راباندې غلبه کړې وه ویده شوی وم چې هغه صحنه مې په خوب کښې لیدله چې زه او زما نور ملگري د شاولي سره د جنوبي نه د سقاو یانو د شړلو د پاره د. جنوبي د خلکو سره یو ځای کابل ته راتللو چې مونږه ته او دجنوبي تولو خلکو ته نادر خان او شاولي وویل: مونږ غواړو چې بیرته غازي امان الله خان راولو مونږ د هغه دپاره د کابل تخت و تاج نیسو چې هغه بیرته راولو او د سقاویانو نه دا وطن پاک کړو . څه وخت چې د جنوبي لښکر کابل ته راورسیده سقاویانو دوه توپونه د توپ غونډۍ ته خیژولي وو زمونږ لښکر د توپ غونډۍ ونیوله د سقاویانو د سخت مقاومت سره مخامخ شولو چې لښکر هیڅ حرکت کولی نه شو

او سات په سات به د سقاویانو د تهدید سره مخامخ کیدلو.

ما شاه ولي ته وویل: چې په ارګ باندې د توپونو ډزې وکړم چې زمونږ محاصره ماته شي هغه وویل دا به ډیر ښه وشي. دا د توپونو لومړۍ ډزې وې چې ما په ارګ باندې وکړې او زما د توپ دویمه ګولۍ د ارګ په جبه خانه او میخزین کښې د ننه وچاودله چې جبه خانې او میخزین په انفلاقونو پیل وکړ او په ارګ کښې د ننه داسې ډز او ډوز شه چې سقاو او دهغه ټول ملګري دغو انفلاقونو او ډزو سخت وارخطا کړل اود کابل ټولو ښاریانو په ارګ کښې د ننه دا حالت ډیر ښه لیده چې د بټ دنینو په شان یې ډز او ډوز جوړ کړی ؤ دا هماغه توپونه وو چې د فرانس حکومت له خوا ماته د ممتاز شاګرد په توګه راکړل شوي وو او بیا یې د افغانستان حکومت ته رالیږلي وو. پدې وخت کښې مې په خوب کښې داسې حس کړه چې څوک مې غوږ غوڅوي،دواړه لاسونه مې غبرګ غوږ ته واچول چې یوه غټه مږه مې په غوږ پورې کلکه نښتې ده مږه مې دغوږ څخه وار توله، دهغه ځای څخه پاڅیدم په بل ځای کښې څملاستم لږ سات لا تیر شوی نه ؤ چې بله غټه مږه مې د پښې په غټې ګوتې پورې ونښتله، دا زندان په سرای موتي مشهور ؤ، دلته داسې غټې مږې او لړمان وو چې ډیر زیات ورسره په عذاب وم شپې میاشتې یې رابانديې دلته تیرې کړې بیا یې د ارګ بندیخانې ته بوتلم اېته کاله مې هلته تیر کړه اوس دوه کاله کیږي چې د قلعه جدید په سیاسي مخصوص کښې یم.

## صندلۍ او د برستنو اور

د ژمي وروستۍ شپې ورځې وې، ډیره زیاته واوره وریدلې وه هوا داسې سړه وه چې د شپې له خوا په غیر د صندلۍ نه بله هیڅ چاره نه وه. عبدالغفار سرحددار د صندلۍ میز او کاکا علي خان په منقل کښې ډیر سکاره راوړل. دا لومړۍ شپه وه چې مونږ ته یې صندلۍ برابره کړه او خپلې برستنې مو د صندلۍ د میز د پاسه واچولې، صندلۍ مو ترې جوړه کړه چې نیمه شپه شوه د صندلۍ

برستنو داسې اور اخېستی دی چې کوټه ټوله تريخ لوګي نيولې ده چې مونږه يې ټول وارخطا او سرسام غونديکړو څوک کانګې کوې څوک وران وران ټوخيږي څوک وچې باقي کوي. دروازه مو په لغتو په زور، زور ووهله څوکيدار محافظ عسکر راپاڅيده پوښتنه يې وکړه څه شی دي؟ څه غواړئ؟ ورته ومو ويل مړه شوو د صندلۍ برستنو اور اخيستی دی. هغه وويل: کلي عبدالرحمن مبصر د ځان سره وړې ده.

زمونږ په شور او غالمغال د کاربدور ټول بنديان راغلل ددوی په مينځ کښې عبدالغفار سرحددار او کاکا علي خان غږ وکړ :د کوټې دکړکيو لټيونه مات کړئ چې لوګی ووځي کړکۍ خلاصې کړئ! سکندر خان په ډير تکليف د يوې لټې راوخيژاوه کړکۍ يې خلاصه کړه بيايې غږوکړ چې سرحددار صاحب وايي د کوټې نه ټول فرش ټول کړئ مونږ اوبه راوړو د کوټې ددروازې په درشل يې اړوو چې کوټې ته در ننوځي تاسې خپلې برستنې چې اور يې اخيستی دی مړې کړئ.

دغو بنديانو به په دغه نيمه شپه کښې په ستلونو، کوزو او کاسو کښې اوبه ژر راوړلې او دکوټې د دروازې په درشل به يې اړولې اوبه به کوټې ته د ننه راننوتلې او د برستنو اور به مو پرې مړ کاوه، ټوله کوټه لمده شوه د برستنو دلوګو ترخو بويونو زمونږ مرۍ ګانې ډيرې ترخې کړې وې او زمونږ سترګې د ترخو لوګو دلاسه سوزيدلې او د باران پشان اوښکې ترې راراتې وې.

سهار ملا اذان مهال عبدالرحمن مبصر راغی زمونږه حال چې يې وليده ډير خپه شو او وارخطا هم شو دا ځکه چې ټوله کوټه په اوبو لمده وه او مونږ هم ډيرې کانګې کړې وې خپل سرونه مو ټينګولی نه شول، بابا عبدالعزيز مبصر ته وويل: کلي ګانې تا د ځان سره وړې وې؟ هغه ورته وويل سر مبصر امر کړی وُ چې د کوټه قلفيانو کلي ګانې د شپې ماته راوړه. بابا سرمبصر ته ډيرې ښکنځا وې وکړې او عبدالرحمن ته يې وويل : اوس ورشه سر مبصر راوله چې دا حالت ووينې کله چې سرمبصر خبر شه هغه عبدالرحمن مبصر ته وويل کوټه قلفيانو ته خو بيخي د صندلۍ او دسکرو د منقل اجازه نشته ده، مبصر ته يې

ډېرې ښکنځاوې کړې وې. عبدالرحمن مبصر ډېر زړه سواندی با عاطفې انسان ؤ ، دسرمبصر تول قهر و منت به یې په ځان تیرولو مونږ. ته یې هیڅ نه ویل. زمونږ دکوټو قلفونه عبدالرحمن مبصر بدل کړل نور یې داسې قلفونه راوړل چې دواړه یوشان وو بیا به یې دوه کلي ګانې سرمبصر ته ورکولې او یوه کلي به یې زمونږ څوکیدار و محافظو عسکرو ته چې دواړه قلفونه پرې خلاصیدل.

دغه شپه په مونږه داسې تیره شوه چې هر یو مونږ خپل مرګ په خپلو سترګو لیده او د ژوند امید مو هیڅ نه ؤ خو ددغو سیاسي بندیانو د بشري عواطفو د مرستو له امله مونږ ژوندي پاتي شوو؛ ددغو شریفو او نجیبو سیاسي بندیانو مرستې او قربانۍ چې زمونږه د پاره یې کولې نه هیریدونکې دي. کله چې به مونږه د هغوی څخه د هغوی د مرستو شکریه ادا کوله هغوی به دخندا په ډکو خولو مونږ ته داسې وویل: دا زمونږ انساني فرض دي چې له تاسې سره مرسته کوو؛ کله چې مونږ ستاسې پشان کوټه قلفیان وو هلته هم داسې شریف خواخوږي بندیان وو چې زمونږ ژوندي پاتي کیدل د هغوی د مرستو محصول دي که هغوی هلته له مونږ سره بندیان نه وی مونږ مړه کیدلو؛ کله چې تاسې د کوټه قلفۍ نه خلاص شوئ او نور سیاسي بندیان کوټه قلفیان مو لیدل تاسې بیا د هغوی سره د انساني کرامت له مخې د هغوی د مشکلاتو په حلولو کښې پوره مرستې او همکارۍ کوئ. دا پدې چې زمونږ د ګران افغانستان د وطنپرستانو په وژلو؛ بندیانولو؛ د طلایي د تیر دخونخوارې، ظالمې، قصابې کورنۍ د زړه تنګې لا ماتې شوې ندي. ترڅو چې پدې وطن کښې یو وطن پرست ژوندی پاتې وي دوی ترې ډاریږي؛ دوی ته د خپلو انګلیسي بادارانو له خوا وظیفه ورکړ شویده چې تاسې به وطن پرستان وژنئ؛ بندیانوئ؛ او له ډول ، ډول ، سختو عذابونو او شکنجو سره به یې مخامخ کوئ؛ دا ځکه چې وطنپرستان ملي انقلابي خلک دي او په وطن مین ملي انقلابي خلک وظیفه لري چې خپل وطن آزاد او مستقل وساتي ، ملي انقلابي خلک ددوی د انګلیسي بادارانو سره نه پخلا کیدونکي دښمنان دي.

داسې خبرې به مونږ ته بابا عبدالعزیز ډېرې زیاتې کولې او مونږ ته به یې د سیاسي مکتب د انقلابي استاد پشان ددې وطن د خلکو د دښمنانو د پېژندلو او د هغوی د امحا کولو او د افغانستان د آزاد ملي حکومت په باره کښې درسونه راکول.

## انقلابي درسونه

یوه ورځ مونږ د بابا څخه پوښتنه وکړه : دا طلایي تبر به تر څو پورې همداسې ناروا وې او ظلمونه کوي؟ هغه وخندل ویې ویل: بچو! زما څخه داسې پوښتنې کوئ چې زه پدې ډېر خوشالیږم؛ ددې ظالم تبر د ظلم جرړې نورې په وتلو دي؛ دوه د ظلم غټې پیړې جرړې غوڅې شویدي چې یو د انګریزانو د سلطنتی دربار جاروکش غلام نادر شاه او بل د هغه ورور عبدالعزیز وو او دا نورې وړې جرړې دي چې دا د افغانستان وطنپالونکو ته ټینګیدلی نشي. ددوی انګلیسي باداران د تل د پاره د ا کوښښ جاري ساتي چې د هغوی د غو وړو استعماري جرړو ته ښه وده ورکړي چې ښې پیړې او مضبوطې شي خو دا د هغوی چتي خیال او هوس دی د انګلیس استعماري تور ناولی ټغر د دنیا په ګوټ ګوټ کښې د ملي وطنپالو خلکو په زور او قوت په ټولیدو دی؛ نور پدې ناولي تور ټغر د استعمار نوکران د ملي وطنپالو خلکو د لاسه نشي کښېناستلی، د انګلیس د استعمار او استثمار غواګانې نورې شیدې نه کوي، شیدې یې وچې شویدي، تاسې به ډېر ژر د انګلیس د تالي څټو غلامانو هلاکت په خپلو سترګو وویني زمونږ د وطن خلک په آزادی مین خلک دي د دنیا هیڅ قوت یې غلامولی نشي.

د وطن پالنې د آزادی ملي روحیه د افغانانو د زړونو د وینو سره یو ځای د هغوی د بدنونو په رګونو کښې ښکته پورته حرکت کوي، ددوی انګلیسي بادارانو نه څو ځلې زمونږ وطنپالو ملي ننګیالیو ماتې ورکړیدي. دغه د

استعمار نوکران نور پدې وطن کښې د پاتې کيدو ندي تاسې پدې ښه پوه شئ هغه قهر او غضب چې زمونږ افغان ولس د طلايي تېر ته په زړونو کښې لري دا هيڅکله ددوی د زړونونه، نه وځي ترڅو چې دوی محوه او نابود نکړي.

ددوی ظلمونه او ناروا وې زمونږ وطنپال ملي خلک نور نشي زغملی ددوی د ظلمونو د غرور کاسه نوره ډکه شويده نوره دا د ظلم او غرور کاسه به د زمان ايجابات چپه کوي زمونږ د وطنپالو ملي خلکو نه ددوی ژوندي پاتې کيدل هيڅ امکان نلري. بابا په جګ آواز په کاريډور کښې همداشان خپلې خبرې کولې د ساپو د قام يو شمېر سپين ږيرو د خپلې کوټه قلفۍ د کوټې نه غږ وکړ: وطنپال ملي بابا په خوله دې برکت شه ستا خبرې ټولې رښتيا دي همداسي به د طلايي تېر سره کيږي څنګه چې دوی له خلکو سره کړي دي. بياکاکا علي خان د ساپيو د قام ملک حيدر خان ته غږ وکړ: چلم څکوې؟ هغه ورته غږ وکړ کاکا د بابا پدې خبرو خو د تمباکو يو موړ چلم راباندې وڅکوه.

## هم زندان، هم وهل ټکول

يوه شپه ملک الله خان چې ډير باغيرته او راستګو با ايمانه سړی ؤ د کوټه قلفۍ نه محمد امين سر مبصر. دځانه سره بوته د ملک اله خان غازي د زولنو شرنګار مونږه اوريده چې په کاريډور کښې سر مبصر روان کړی ؤ څرنګه چې ملک الله خان غازي د سوچه ايمان خاوند او پاک سپيڅلی مسلمان ؤ غږ يې هرې کوټې ته کاوه :دعا راته کوئ او بخښنه هم راته کوئ پدې ظالمانو باور پکار ندی څه چې انسان ته د خدای له طرفه مقرره شوې وي هماغه وررسيږي.

مونږ داسې فکر کاوه چې يا يې وژلو ته بيايي او يا خلاص شويدی. سهار چې يې زمونږ کوټې خلاصې کړې تشناب ته تللو د ملک الله خان غازي کوټې ته چې راورسيدلو د زګير ويو او فريادونو اوازونه مو واوريدل هغه ته مو غږ وکړ نا روغ يې؟ هغه د فريادونو نه ډک غږ وکړ داسې يې وويل: بيګا دغه

خدانا ترسه ظالمانو ډیر زیات وهلی یم په ټول بدن کښې مې روغ ځای پاتې شوی ندی. مونږ هیڅ پوه نه شوو چې په څه خبره یې وهلی دی، د تشناب نه بیرته کوټو ته راغلو، چې غرمه شوه وکیل سعدالدین زمونږه د کوټې دروازې ته راغی ویویل: غازي الله خان وایي بیګا د کابل امنیه قوماندان خواجه نعیم او رئیس الشیاطین د ضبط احوالاتو رئیس احمد شاه د جیل انضباطي مدیریت ته غوښتلی ؤ او دهغه نه یې تحقیقات کاوه پوښتنه یې ترې کوله چې ته وزیر عبدالرحیم خان ساپی پیژنې؟ هغه ورته وویل چې ما اوس دهغه نوم ستاسې د خولې نه واوریده! هغوی ورته وویل چې مونږ صدراعظم صاحب کبیر د همدې د پاره رالیږلي یو چې ستا نه تحقیقات وکړو او نتیجه یې هغه ته یوسو. تاسې د کونړ ونو خلک ولې د عبدالرحیم خان ساپي په لمسون او تحریک د حکومت په مقابل کښې بغی او سرکشي کړې وه ملک الله خان چې هغوی ته هر څومره ویل چې په خدای او قرآن مې قسم دی چې دا ټول دروغ دي او د وزیر عبدالرحیم خان نوم ما اوس ستاسې د خولې نه واوریده خو هغوی ورسره دا هیڅ نه منله چې آخر هغه ظالمانو ملک غازي الله خان دومره په قمچینو او لرګو وهلی دی چې د ډیرو وهلو د لاسه یې ټولې جامې ښځې ښځې او ر یتاړې؛ ریتاړې شویدي او په وجود کښې یې هیڅ روغ ځای پاتې شوی ندی چې د ډیرو وهلو د لاسه بیهوشه پریوتلی او کوټې ته یو دا باشي په شا راوړی دی.

بابا چې د وکیل سعدالدین خبرې واوریدې د ملک اله خان غازي کوټې ته لاړ هغه ته یې وویل: که ته اوس په یخو اوبو غسل ونکړې ستا بدن وروسته ډیر زیات خرابیږي. هغه ورته وویلې زه پاڅیدلی نه شم څنګه به غسل وکړم بابا سرحددار ته غږ کړ: چې چوکۍ دې تشناب ته یوسه! هغه چوکۍ تشناب ته ویوړه ټولې جامې یې ترې وښکلې لنګ یې ورله وواهه په چوکۍ یې کښېناوه څو دقیقې یې یخې اوبه پرې واړولې بیا یې ورته بیرته جامې واغوستلې کوټې ته یې راووړ او داروچې ورته بابا د مخکښې نه جوړ کړي وو هغه یې ورکړل. څو شپې سر په سر ملک اله خان ووهل شو خو هغه هیڅ دروغ ونه ویل او خپل راحت

يې د بل په زحمت کښېوته غوښته، هغه ته خواجه نعيم خان قوماندان او د ضبط احوالاتو رئيس همدا ويل: ته همدومره ووايه چې مونږ ته وزير عبدالرحيم خان ويلي چې د حکومت سره جنګ وکړئ!

## د لمر له وړانګو نه يو نيم کلن محروميت

يو کال، اتلس مياشتې مو لمر هيڅ په سترګو نه ؤليدلی. ورځ په ورځ زمونږ د روغتيا حالت خرابيده. زمونږ د کاريډور سياسي بنديانو سر مبصر مجبور کړ چې مونږ ته ډاکتر راولي يوه ورځ د سهار لس بجې دي په کاريډور کښې د پښو د ټکار آوازونه خيژي زمونږ دروازه خلاصه شوه د دهمزنګ د جيل د روغتون سر طبيب ډاکتر عبدالمجيد خان (چې بيا وروسته د روغتيا وزير شه) او عبدالرحمن مبصر کوټې ته راننوتل. کله چې مونږ سرطبيب و ليدلو ډير افسوس يې وکړ بيرته ژر د کوټې څخه ووت هر څومره چې مو ورته نارې وکړې بيرته رانغی، په کاريډور کښې مبصر او نور و سياسي بنديانو ته سرطبيب وويل: د دې کوټه قلفيانو د پاره دوا څه فايده نه ورکوي د دوی د بدنونو ټول عضلات د فلجيدو په حالت کښې دي د دوی رنګونه تک سپين شويدي د لمر وړانګو ته ضرورت لري که دوه مياشتې نور دوی په همدې حالت پاتې شي بيخي ټول له منځه ځي مړه کيږي. نو زه خپل نظر د جيل انضباطي مدير ته ليکم چې هره ورځ د پنځلسو دقيقو د پاره دغه کوټه قلفيان لمر ته وباسي او خپل دا نظر د کورنيو د چارو وزير ته هم ليکم.

زمونږ د بدنونو ټول اعضا داسې نازک شوي وو چې په ډير لږ تماس به درديدل او يا که به مو کوم ځای د ديوال يا بل شي څخه ولګيده سپينې رنې اوبه به يې کولې وينه ترې هيڅ نه راوتله د وينې په ځای به يې اوبه کولې. مونږ يو تر بله د خپلو رنګونو سپينوالی محسوسولی نشو دوه هفتې وروسته عبدالرحمن مبصر ډير خوشحاله کوټې ته راننووت ويې ويل: دداخله وزارت له خوا تاسې ته

ورځ تر منځ د لسو دقیقو دپاره، جیل د سر طبیب په نظریه لمر ته د وتلو اجازه درکړ شویده. ډیر وخت راهیسې مو د لمر نوم نه ؤ اوریدلی د لمر په نامه پورې مو ډیر وخندل او د لمر د وړانګو ژیړ بخون رنګ مو په سترګو کښې مجسم شه؛ بابا عبدالعزیز؛ سرور جویا، شیخ بهلول او د کاریډور ټول بندیان راغلل مونږه نه یې د لمر د وتو مبارکي راکړه او خپلې خوشالتیا وې یې ښکاره کولې.

بله ورځ عبدالرحمن مبصر دوه بجې راغی چې هله ځئ خیر لمر ته وځئ دا لومړی ځل دی چې د یو کال او اتلسو میاشتو نه وروسته لمر ته وځو او لمر وینو. هغه حویلۍ چې زمونږ د کاریډور شاته پرته وه ټول هلته ووتلو. د زولنو شرنګار زمونږ د کاریډور سکوت مات کړ او زمونږ د ژوند د امید هیلې یې ژوندۍ کولې؛ خو څرنګه چې مو سترګې د لمر په وړانګو ولګیدلې سترګې مو برېښیدلې؛ چې په لمر کښې مو یو بل ته وکتل هر یو داسې سپین شوي وو لکه سپین مالوچ، خپلې پخوانۍ څیرې مو هیڅ نه وې پاتې شوې، ډیر زیات مو پر یو بل پورې خندل او یو بل ته مو د مبصر هنداره ورکوله چې خپله سپینه څیره دې پدې هنداره کښې ووینه.

مونږ ته د لمر د اجازې دراکولو په مناسبت عبدالرحمن مبصر ډیر ښه وچ توتان مویز او د غوزانو چغزې راوړې وو خپل څادرېې د حویلۍ په منځ کښې وغوړاوه میوه یې پرې واچوله مونږه ورته ټول کښېناستلو د میوې په خوړلو مو لاس پورې کړ. پنځه دقیقې به لا تیرې شوې نه وې چې د لمر وړانګو ټول ګنګس کړو او د شبکورۍ له حالت سره داسې مخامخ شولو چې یو بل مو ښه نه لیدل، سترګې مو مرغې، مرغۍ کیدلې، سرونه رابانديې چورلیدل. د لمر نه مو خپل ځانونه د حویلۍ د دیوال سیورو ته ورورانديې کول، مرې خولې راباندې راماتې شوې، په ټول بدن مو د میږتون علامه شروع شوه، نور را کښې د لمر د کښېناستلو طاقت هیڅ پاتې نه ؤ.

د زولنو د کړ یو خاپونه زمونږ د پښو په بندونو کښې داسې ننوتلي وو لکه زمونږ په پښو کښې چې چا نورې زولنې جوړې کړې وي مونږ په سورې کښې دا

هیڅ نشو لیدلی بیرته خپلو کوټو ته راغلو دبدن بندونه مو سوځیدل، اندامونه مو بند په بند ماتیدل، ډیر ناکراره او ستومانه شوي وو، زمونږ د کاریږور سیاسي بندیانو زمونږ وضعیت ډیر ښه محسوسولای شو دا ځکه چې په هغوی هم دا مرحلې تیرې شوې وې.

بابا عبدالعزیز په یو ناني طبابت ډیر ښه پوهیده او دیوناني طبابت کتابونه یې ټول ویلي وو او په یوناني طبابت کښې یې پوره معلومات درلوده. دوه بوتله مالش یې راوړو ویو ېل: بچو پدې خپل ځانونه ښه مالش کړئ چې د شپې آرام بیده شئ. د بابا په مالش مو خپل ځانونه ښه مالش کړه لږ څه دمه مو راسته شوه او دبدنونو سوزیدل مو لږ په کرار شول.

## د جشن سېلاني ملګري

دلته داهم د هیریدلو خبره نده چې لږ دهغه خپلوانو له حالت نه ځان خبر کړو چې زمونږ نه څوارلس ورځې وروسته سرمبصر محمد امین د سپږ جنې دراز خانې څخه جلا کړل او دوی یې بیا ددهمزنګ عمومي جیل ته ولیږل. ددې خپلوانو دوستانو نومونه دادي: دواجان ماما؛ حبیب ماما؛ اکبر خان؛ محمد غلام؛ شاه پسند؛ عبدالقیوم؛ محمد سلیم؛ احمد شاه ؛سید محمد چې په(پي ډبلیوډي) مشهور ؤ ډیر غښتلی او ایماندار سړی ؤ؛ او قاضي فضل احمد ماما. دوی ټول یې ددهمزنګ بندیخانې په صناعتي فابریکو کښې په کار واچول لکه د جړې او دڅرخ تاوولو په څانګو کښې یې کار کاوه. څرنګه چې پدغه وخت کښې ددهمزنګ په عمومي جیل کښې ډیر زیات بندیان وو؛ چې په کوټو کښې نه ځاییدل، په برنډو او دهلیزونو کښې یې دوی ته ځای ورکړ. سپږې او ناولتیا خو دومره وه چې د ناولتیا د بویونو د لاسه څوک په برنډو او دهلیزونو کښې نه شو ګرځیدلی او تیریدلی او که څوک به ګرځیده یا تیریده نو خپلې سپږې به یې کلکې نیولې وې د نظافت او پاکۍ هلته هیڅ نخښه نښانه

نه وه، د بندیانو د غم ځپلي دردوونکي کثیف ژوند د تراژیدي ډرامې ویرجن سرود غږیده او د بندیانو د روغتیا د سمون چارې هیڅ د چا په فکر کښې نه وې.

## د عمومي زندان د بندیانو حال

د دهمزنگ د عمومي جیل کار کوونکو له بندیانو سره د جیل د صنعتي مدیر بداخلاقه انضباطانو، سرداریاشیانو او باشیانو ډیر بد سلوک کاوه.

هر سهار او مازدیگر به دغه کارکوونکي بندیان دغو بداخلاقو انضباطانو او سرداریاشیانو په بندیانو به قمچینو وهل سهار به یې په وهلو کار ته لیږل چې هلته ژر کوئ کار ته ځئ او چې د کار نه به مازیگر خلاص شول نو بیا به یې هم ووهل چې ژر ځپلو ځایونو ته ځانونه رسوئ چې د بندیانو د سرشمیرنې حساب شروع کیږي. د جرې په ځانګه کښې ټولې جرې شوې وړې او جړشوي تارونه وو چې بندیانو به را خلاصول او بیا به یې په څرخو په نچو کښې تاوول. دغه وړینو جړشوو تارونو نه په وړینو ټغرو او قالینو کښې استفاده کیدله او دغه نخي جړشوو تارونو نه هم د نخي ټوکرانو په اوبدلو کښې استفاده کیدله.

د دهمزنگ دعمومي جیل په دغو ځانګو کښې بندیانو کار کاوه: نانوایي، خیاط خانه، د جرې ځانګه، د سمنټو د خښتو او بلولونو د جوړولو ځانګه، آهنگري، ترکاڼي او د ډول ډول نخي ټوکرانو لکه گامسکوټ، گلدارې کشمیرې، روجایي گانو، د لاس او حمام د سمالونو ځانګه، د وړینو جاکټو نو او دسکشو ځانګه، د جراب بافي، ترکاڼي، دکمه سازي، دندافي د ماشین ځانګه او ددهمزنگ شاته داړو دوه ماشینونه هم وو چې په دغه ماشینونو کښې به یو روس او دووه نورو بندیانو کار کاوه چې هر سهار به ددوو عسکرو محافظانو سره داړود ماشین ژرندې ته تلل او ماښام به بیرته راتلل.

هغه کسان چې یو لوی شمیر درې نیم سوه کم و زیات چې ددویم عمومي جهاني جنگ نه د روس نه را تښتیدلي وو لکه د مرکزي آسیا مسلمانان چې

ددوی سره څو انجنیران او تخنیکران روسان هم راتبنتیدلي وو او په افغانستان کښې يې پناه غوښتله له دوی سره هم د شهر ناپرسان حکومت هغه ظلمونه او ناروا وې کړې وې.

د جیل د صنعتي ځانګو په ټولو ماشینونو کښې روسانو او پاردریایانو کار کاوه ځرنګه چې د جیل صنعتي رئیس عبدالخالق خان د صدراعظم کبیر محمد هاشم خان شخصي نفر ؤ، د جیل ټولې صناعتي ځانګې د صدراعظم کبیر په شخصي سرمایه چلیدلې او که روښانه يې کړم د جیل ټولې صناعتي ځانګې د نوموړي صدراعظم وې او مفاد به يې ټول هغه اخیسته.

## د صنعتي کارګرانو ګټه د صدراعظم په جېب کښې

یو زوړ سیاسي بندي چې د یارلس کاله ناحقه بې جرمه تش د سیاسي بندي په نامه بندي ؤ سعادت خان نومیده د میدان ؤ څو کاله بیا د دهمزنګ د جیل د ننه د عمومي تحویلخانې تحویلدار ؤ هغه ته ډیر ښه معلومات وو هغه ماته وویل: څه چې د حکومت د وزارتونو د ضرورت وړ شیان قرارداد کوي ټول وزارتونه د دهمزنګ د جیل د صناعتي رئیس عبدالخالق خان سره قرارداد کوي د مثال په ډول د وزارت حربیه له خوا چې د عسکرو د دریشي ګانو قرارداد کیږي یعني پتلون، کرتی، کمیس د ژمي دریشي ورته د قرار داد مطابق د بالاپوش سره د سرج نه جوړوي او د اوړي دریشي ورته د جیم نه جوړوي.

د دهمزنګ د جیل په خیاط خانه کښې ډیر قابل او لایق خیاطان شته دي دغو لایقو خیاطانو ته خیاط باشیان وايي چې د دوی تر لاس لاندې شل، شل او دیرش دیرش تنه شاګردان کار کوي په دغه خیاط خانه کښې کله سل تنه خیاطان کار کوي او کله یوسلو اتیا یا دوه سوه. د دهمزنګ په ټولو صناعتي ځانګو کښې د قرارداد مطابق کارکوونکي کار کوي په زرونو زرونو دریشي ګانې او بوټونه دلته جوړیږي او وزارتونه په ملیونو ملیونو روپۍ د صنعتي

ریاست د بانګ په حساب کښې تحویلوي او دا ټولي روپۍ د قارون د سکه ورور صدراعظم کبیر د شخصي جیب په بانک کښې اچول کیږي . ټول خا م مواد د دهمزنګ د صناعتي ریاست ځانګو ته مفت راځي دغه خام موا؛ خو ټول د ملت دي خو حکومت پرې خپله خیټه اچولې ده د مثال په ډول د جبل السراج او غوري سمت یا د جنوبي چارتراش او د کونړ د نښترو لرګي چې د صنعتي ریاست په ځانګو کښې ترې استفاده کیږي د کندهار ، هلمند ، هرات او بادغیس د مالدارونه په سلونو خروارونو وړۍ د هغوی د مالونو د چیلیک(۱) دروپو په مقابل کښې د هغه ځای د حاکمانو په زور اخیستل کیږي او دورکړ شوي هدایت سره سم په چال چلند لوېږي. خو هیڅا ته تر اوسه پورې دا معلومات نشته دي چې د دهمزنګ د ځیل صناعتي ریاست ټولې ځانګې په کال کښې څو ملیونه مفاد کوي او د چا جیب ته ځي تحویلدار سعادت خان چې دا وویل ما ته یې وخندل ویویل: زه خو پدې ښه پوهیږم چې ته دا ټول لیکې او یوه ورځ به دا افغانانو ته معلومه شي خو نه به زه یم او نه به ته یې. بیا یې په موسکا داسې وویل : صالح جان تحویلدار هم له یوې روسۍ پیغلې سره دوه کاله مخکښې واده وکړ او د دهمزنګ صنعتي رئیس عبدالخالق خان هم د صالح جان د ښځې په واسطه له یوې ښکلې روسۍ ښځې سره څه موده مخکښې واده وکړ خپل کورته یې راوستله. ما سعادت ته وویل: تاسې ددې دواړو روسي ښځو په باره کښې ما ته یو لنډ معلومات راکړئ! ده وویل: دې دواړو ښځو له هغه روسانو او دپاردریا له مسلمانانو سره افغانستان ته پناه راوړې وه چې ددویم جهاني جنګ نه راتښتیدلي وو او بیا یې په مزار شریف کښې ونیول وروسته دډیر زجر او

---

(۱) چیلیک د یو مال په سر مالیې ته وایي چې هر کال یو ځل هغه کسان چې مالونه لري ټول حسابیږي او بیا یې چیلیک ورکوي د مثال په توګه غوا ، اوښ ، بزه ، ګډه ، خر او ټول مالونه د هر یو روپۍ د مال په سر معلومې وي د ځمکې په یو جریب مالیه ورکول کیده او د مال په سر چیلک ورکول کیده .

عذاب نه یې ټول دلته راوستلي وو روسۍ ښځې په زنانه توقیف کښې بندیانې وې او نور راتښتیدلي کسان ټول په دهمزنګ کښې دي.

د صالح جان ښځه چې خلاصه شوه ویویل زه بیرته مسکو ته نه ځم هلته ما وژني! صالح جان وکړه او هغه بله روسۍ ښځه د ملارفتار د ښځې په نامه دیوې مخابرې سره په مزار شریف کښې ونیول شوه دا ښځه عبدالخالق خان لیدلې وه چې خلاصه شوه د صالح جان په کور کښې وه.

صالح محمد تحویلدار عبدالخالق خان رئیس میلمه کړ وروسته د میلمستیا نه رئیس وویل: دا روسۍ ښځه خو دلته بې سرنوشته ده مسکو ته ځي که دلته پاتې کیږي هغه ورته وویل: مسکو ته نه ځي دلته پاتې کیږي او که دلته څوک یو ښه سړی پیدا شو دهغه سره واده هم کوي. رئیس ورته وویل: تاسې ورسره خبرې وکړئ زه خو یوه ښځه لرم که ما کوي زه یې ځان ته واده کوم، د صالح جان روسۍ میلمنې چې داواوریدل ویویل: زه به پدې کښې یوه هفته فکر وکړم تا ته به بیا ځواب درکړم، بله ورځ بیا صالح جان رئیس میلمه کړ مخکښې د مخکښې نه هر څه پروګرام جوړ شوی ؤ، نکاح یې وتړله، صالح جان بل لوی کور په شهرنو کښې په کرایه ونیوه دواړه پکښې دیره شول، د رئیس ښځه به هم د صالح جان د ښځې سره د صالح جان مغازې ته راتلله یو کال وروسته د رئیس یو زوی ددغه روسۍ ښځې نه پیدا شو چې وحید نومیده اوس دغه روسۍ ښځې ته رئیس ځان له کور نیولی دی او ټولو خلکو ته دا پته لګیدلې ده چې رئیس دا روسۍ ښځه کړیده.

هغه زیاته کړه د ملا رفتار تش په نامه پخوانۍ ښځه او د رئیس عبدالخالق خان دغه نکاحي ښځه ما د صالح جان د ښځې سره یو ځای په مغازه کښې لیدلې وه چې ډیره ښکلې او قابله ښځه معلومیده هسې عادي ښځه بالکل نده په فارسي داسې خبرې کوې لکه خپله ژبه، ماترې پوښتنه وکړه تا فارسي په کوم ځای کښې زده کړیده ؟ هغې وویل: زه د مسکو نه تاجکستان ته بدله شوم په سفارت کښې ماموره وم هلته مې فارسي زده کړیده . نورې پوښتنې مې چې د

هغې نه وکړې هیڅ ځواب یې رانکړ ویویل: اوس مې په سردرد دی ډیر ې خبرې نشم کولای ماته دا ښځه یوه مرموزه ښځه ښکاري.

هغه ته مې وویل: تحویلدار صاحب دلته خواوس په صناعتي ځانګو کښې ډیر روسي تخنیکران کار کوي ستا په نظر دا څنګه خلک دي ؟ ویویل: پدې کښې دا یو روسی تخنیکر چې ابراهیموف نومیږي او ټول صنعتي ماشینونه د همده په مرسته چلیږي یو کال مخکښې یې اعتصاب کړی ؤ ټولې هغه صنعتي ځانګې چې ماشینونه پکښې وو ماشینونه یې پخپله ابراهیموف خراب کړي وو هر څومره چې رئیس د بهرنه تخنیکرا ن راوستل چې ماشینونه بیرته فعال کړي، هیڅا ماشینونه فعال نکړی شول، ابراهیموف رئیس ته وویل: تر څو چې زما ماشین فعال نکړې ( خپله ګیډه یې ورته وښودله ) او زما د ګیډې ماشین ته تیل ورنکړې تر هغه وخته پورې به ستا ماشینونه همداسې بیکاره ولاړ وي چالان به نشي.

بله ورځ دوه کارتنه د بوتلونو ډک د ماشینونو د تیلو په نامه خریداري شول او زما په جمع کښې قید شول چې دا به ابراهیموف ته ورکوې، ابراهیموف راغی د ماشینونو د تیلو حواله یې راوړه دوه بوتلونه یې ویوړل په هماغه ورځ ټول صناعتي ماشینونه فعال شول.

زه پوه شوم چې دا تیل مخصوص د ابراهیموف د ګیډې د ماشین د پاره دي، وتکا او ویسکي دي، هره میاشت به دوه درې کارتنه ډک د بوتلونو د ماشینونو د مخصوصو تیلو په نامه راتلل او ما به ابراهیموف ته د حوالې په مقابل کښې ورکول. بیا هغه یو سوړ درد وونکی او سیلی وکړ ویویل: ته ماته لږ غوږ کیده چې زه درته لږ حقایق ووایم هغه وخت چې زه دلته نوی راغلم او تحویلدار شو م کله چې به یو بندي کارکوونکی ناروغ او په کوټه کښې به پاتې شو د ظالم بداخلاقه داباشي او انضباط له خوا به په تیل وهلو او قمچین کاری خپلې کار ګاه ته بیول کیده. کلنی صنعتي بیلانس چې به جوړ شو سل په سلو کښې به

مفاد شوی ؤ خو د دغه خوارانو او بیوزلو کارکوونکو بندیانو د کار محصول به هغوی ته هیڅ مفاد نه رساوه دغه ټول مفاد به د قارون دسکه ورور او د فرعون د جانشین وارث صدراعظم کبیر هاشم خان په شخصي پانگه کښې لویده. د بندیانو کارکوونکو سختو کارونو به د هغوی دبدنونو ویني وچولې.

د هرات اویدخشان نه چې به کله پت (۱) راغی دده‌مزنگ د جیل صنعتي رئیس به د پت نمونه صدارت ته وړله او بیا به دد غه پت د پاره یوه ځانگړې ځانگه جوړیده چې پدغه ځانگه کښې به هغه کارکوونکو کار کاوه چې د جاکټونو، لاس پوښو (دسکشو) جرابو، د غاړې د سمالونو او نور همداسې په لاسونو اوبدلو جوړولو کښې به یې پوره مهارت درلود بیا به دغه ټولې د پت د جوړو شوو شیانو نه یوه یوه د نمونې په ډول خارج ته استول کیدل.

## کره خانه که د ماشومانو زندان؟

د خندا او ډیره د رذالت او انسانیت شرمه خبره خو دا وه چې د عمومي جیل دلاندې پوړ یوه لویه درازخانه وه چې هغه بندیان پکښې اوسیدل چې عمر یې د اوو کالو نه تر دوولسو کلونو پورې ؤ دا درازخانه په (کُره خانه مشهوره وه او ټولو بندیانو د کُره خانې په نوم یادوله) دغو هلکانو په صنعتي کارگاؤ کښې کار کاوه. خو د کُره خانې دغه کوچني خامه خوله هلکان د عمومي جیل د سردار باشیانو، انضباطانو او باشیانو، هلکان و وحتی د سردار باشي د ملا هم چې بندیان به یې هره ورځ شمیرل.

داخبره دلمر پشان ښکاره او ثرگنده وه تردې اندازې پورې چې د جیل انضباطي مدیر هم دد ینه ښه خبر ؤ. د کُره خانې دغه کوچني بندیان د ظاهر شاهي په فاسد بیروکراسي رژیم کښې په غلا، کیسه برۍ، بچه بازۍ، قمار

---

(۱) پت د وزو یا مږو په وژغونو اوو ړیو لاندې دی چې د سړ و منطقو په مالونو حیواناتو کښې وي.

بازي او همداسې نورو جرمونو تيول شوي و او د کُره خانې اکثر هلکان دری دري او ثلور ثلور ځلې په داسې عملونو بنديان شوي وو.

د دغو ماشومانو پلرونه او ميندې مړه شوي وو او دوی بې سرپرسته پاتې وو په ځای د دې چې د ظاهر شاهي په شهرناپرسان سلطنت کښې دويته تعليم ورکړ شوی وی او دهغوی د معصوميت او بيکسۍ د ژوند ټول اړخونه يې د افغاني ټولنې د ټولنيز راتلونکي نسل د اصلاح او نيکمرغه هوسا ژوند د استحکام په بنا منځ ته راوستلي وی هيڅ پاملرنه يې نه ورته کوله. بابا عبدالعزيز څو څو ځلې ماته ديو وصيت په ډول دا خبره کړې وه دغه د طلايي ټبر خو غرقيږي، د خپلو ظلمونو او عملونو په جزا رسيږي خو زه پدې ډاريږم چې دا ملت له ځان سره غرق نه کړي.

# بيا هم سيل ته راغلی ملګري

فضل احمد چې د څرخو په صنعتي ځانګه کښې د خپلو ملګرو محمد سليم، دوا جان، حبيب او عبدالقيوم سره يو ځای کار کاوه تل به يې د خپل څرخي دغنګا سره په نوي تال سندرې او لنډۍ ويلې. فضل احمد چې به د خپل څرخي په لاستي خپله کومه ګوته ( د شهادت ګوته ) ايښودې وه او د څرخي د لاستي سره به يې خپله ګوته داسې تاووله چې د خپلې سندرې نری تال به يې د څرخي داوازونو په غنګا کښې داسې يو ځای کاوه چې خپلو ملګرو به ورته په غير د آفرين او شابسي نه بل څه نه ويل.

حبيب او دوا جان ماما به کله په هغه پورې ټوکې کولې او د هغه څرخي ته به يې دوه سوره ها رمونيه ويله او هغه ته به يې په خپلو ټوکو ټکالو کښې داسې څرګندوله: ملګريه د څرخي سره خودې ډير د شوق په تال سندرې وايې څرخه دې شکر دی تياره دوه سوره هارمونيه ده د زړه د غم زنګ دې پرې وښکه.

عبدالقيوم او سليم به ورته ويل: ملګری ته په خوب کښې هم سندرې وايې خو

دڅرخي دغنګار په ځای ورسره دسپېمو نه ټقې وباسې چې د څرخي دغنګار نه دي سندرې د سپېمو ټقو سره ډېر خوند او مزه کوي. فضل احمد به هغو یته د خندا په ډکه خوله ویلې ارامچکو څه وکړم؟ دهمزنګ چي پدې سندرو تیر نکړم او د څرخي دغنګار سره د سندرو تال برابر نکړم نوڅه وکړم ته چاره راوښایه.

سید محمد ډیر سر زوری او سرټمبه سړی ؤ د خپلو دغو درې نورو ملګرو شاه پسند، محمد غلام او محمد اکبر سره یې دوړ یو د جړیو په څانګه کښې کار کاوه دا څلور تنه روغ او جوړ وو نور دوړ یو د جړی په څانګه کښې شلو تنو لیونیانو کار کاوه دغه کسان مخکښې لیونیان نه وو د دهمزنګ د جیل ډول ډول تنګو سختو او فشارونو لیونیان کړي وو. د وړ یو د جړیو د دغه څانګې سردار باشي په سردار دیوانه مشهور ؤ خپل نوم یې سردار غلام دستګیر ؤ. دلته دا ډیره لازم او ضروري ښکاري چې د دغه سردار د پیژندلو په باره کښې څه رڼا واچوم.

## جعلي سردار

د محمد نادر خان د پاچاهۍ په آخره دوره کښې غلام دستګیر سردار چې پدغه وخت کښې ډیر زیات ښکلی ځوان ؤ چې څو کاله یې په هندوستان کښې تیر کړي وو باجوړ ته راغی او خپل ځان یې د باجوړ خلکو ته د غازي امان الله خان زوی رحمت الله خان معرفي کړ څرنګه چې نوموړی ډیر ښکلی ځوان ؤ او د یو شاهزاده پشان قواره یې لرله د باجوړ خلک د دې خبرې په اوریدلو ډیر زیات خوشاله شول چې باجوړ ته د غازي امان الله خان زوی رحمت الله خان سردار راغلی دی دا خبره په ډیره لنډه موده کښې د خلکو په مینځ کښې خوره شوه حتی چې محمد نادر خان پاچا ته ورسیده. نوموړي پاچا پدې باره کښې د برتانیې د حکومت نه مرسته وغوښته پدې وخت کښې غلام دستګیر سردار د باجوړ کوټکي د خان غازي دلاور خان په ځای کښې دی د کوټکي خان ته د

غازي امان الله خان د زوی دراتګ او ازې په ټوله علاقه خصوصاً په باجوړ کښې په خلکو کښې هیجاني جنبش پیدا کړ. انګریزانو د کوټکي خان ته ځواب راولیږه د امان الله خان زوی سردار رحمت الله خان ته چې تا پخپل کور کښې پناه ورکړیده دا په حقیقت کښې ښکاره داسې معلومیږي چې تا د برتانیې کبیر د حکومت په خلاف ملا جنګ ته تړلې ده تاته د برتانیې دحکومت دا اعلان دی چې بې له کوم قید او شرط نه په غیر د امان الله خان زوی د برتانیې حکومت ته وسپاره او یا یې د خپل کور نه وباسه و یې شړه!

د برتانیې د حکومت دغه اعلان کوټکي خان ته ډیر زور ورکړ د کوټکي خان دلاور خا ن ډیر هوښیار او پوه غښتلی باوجدانه په پښتو مین پښتونۍ دا پدې ډیر ښه پوهیده چې د برتانیې د حکومت د زور ځواب هیڅوک نشي ویلی خو د برتانیې د حکومت دغه اعلان په کوټکي خان ډیره بده اغیزه وکړه او د برتانیې د حکومت په دواړو وخبرو کښې یې یوه خبره هم خوښه نه شوه او د پښتو او پښتونولۍ د قانون سره ورته ښه ښکاره نه شوله دا پدې چې کله د یو پښتون په کور څوک ورننوځي هغه د خپل کور نه، نه شړي او نه یې چاته تسلیموي. د انګریزانو ډیرو جرګو او اعلانونو په کوټکي خان څه تاثیر ونکړ، بلهورغ د انګریزانو یو هوایي جهاز راغی او اعلانونه یې واچول په اعلانونو کښې کوټکي خان ته د برتانیې حکومت اخطار ورکړی ؤ چې سبا سهار په اتو بجو ستا په کور او کلي اته هوایي جهازونه بمباري کوي. سبا په ټاکلي وخت د برتانیې د حکومت له خوا د محمد نادرخان په غوښتنه اتو هوایي جهازونو سخته بمباري وکړه د کوټکي د کلي ټولو خلکو د دلاور خان پورې خپل کورونه شړ کړه او هغوی د غرونو په سمڅو کښې چې کوټکي ته نیژدې وې ځانونه له بمبارۍ نه پټ کړل.

د برتانیې حکومت یوه میاشت او څو ورځې خپلې بمبارۍ په کوټکي او دهغه په خوا و شا کلو باندې وکړې. کوټکي خان ته دا پته ولګیدله چې دا سردار دامان الله خان زوی ندی او غلام دستګیر سردار چې یوه میاشت ګوله باري

ولیده وارخطا غوندې شو چې چېرته وتښتي خو د کوټکي خان دهغه د سر حفاظت د خوړ لاس پشان کاوه او ځارنه یې ورله کوله چې بې ځایه نشي او څه خطر او ضرر ورته ونه رسیږي. غلام دستګیر خان سردار په آخر کښې په خپله تولهکیسه کوټکي خان ته وکړه چې زه اصلاً د جلال آباد د بهسودو دسردارانو نه یم او څو کاله مې په هندوستان کښې تېر کړیدي او دهندوستا ن نه دلته باجوړ ته راغلم او د کوټکي خان ته یې داهم ویلي وو چې د هندوستان خلک د محمد نادر خان سخت مخالف دي او دهغه نه پدې خپه دي چې نادرخان د هندوستان خلکو ته ویلي وو چې زه پاچایی دامان الله خان دپاره نیسم او اوس یې ځان پخپله پاچا کړیدی او دا یې هم ورته ویلي وو چې دهندوستان خلک دامان الله خان سره ډیره زیاته مینه لري نو ما هم پدې وجه خپل ځان د امان الله خان دزوی په نامه معرفي کړ.

پدي وخت کښې مشر (۱) پاچا ګل هم یوه جرګه برابره کړه او د کوټکي خان ځای ته راغی هغه ته یې وویل که چېرته غلام دستګیر سردار زما په ضمانت ماته راکړې زه به یې د افغانستان حکومت ته تسلیم کړم او د پښتو او پښتونولی د قانون سره به یې د سر او مال حفاظت هم وکړم او هیڅ تکلیف او ضرر به ورته ونه رسیږي. د کوټکي خان دا خبره له هغه سره ومنله او غلام دستګیر سردار یې پاچا ګل ته په ضمانت ورکړ، بیا هغه د افغانستان حکومت ته راووست او په کندوز کښې یې ورته د ناقل په صفت سل جریبه مځکه ورکړه یو څه وخت وروسته یې د سیاسي بندي په نوم بندي کړ چې په آخر کښې ددهمزنګ جیل ته راورسید.

غلام دستګیر سردار په جیل کښې په سردار دیوانه شهرت درلود. سردار دیوانه ډیر ظالم ؤ لیونیان به یې ډیر وهل او ټکول. د جریو په صنعتي ځانګه کښې دا معمول ؤ چې د سهار نه تر مازیګره پورې به هر یوه کارکوونکي یو پاو وړې غونډاری کولې او هر کله چې به کار ختم شو نو ټولو به د وړیو خپل غونډاري

---

(۱) د سید فضل منان پاچا پلار

په لاسونو کښې نيولي وو او سردار ديوانه ته به يې ورکول.

هر سهار چې به د جړيو کارکوونکي راغلل سردار ديوانه به ورسره ؤ او د تحويلخانې د جړشويو وړيو نه به يې يو پنډ وړی راواخيستلې په خپل مخ کښې به يې کوټ کړې او تارونه به يې پکښې پيدا کول او بيا به يې غونډاري کول دوړيو دغه غونډاري به بيا رنګريزی ته اماده کيدل او بيا به ترې په ټغرو، قالينو او پايپاکونو کښې استفاده کيدله. هر مازيګر به سردار ديوانه دوړيو غونډاري تلل چې کم دي که پوره که د چا غونډاری به لږ څه کم و سخت به وهل کيدل ددې دپاره چې کارکوونکي د وهلو نه ځانونه خلاص کړي دوړيو د غونډارو په مينځ کښې به يې ختې، کوچنی ټوټې يا کوچنی ډبرې يا نور شيان ايښودل چې د وړيو غونډارو يو پاو وزن پرې پوره شي.

يوه ورځ سردار ديوانه ددُربابا د ملنګ چې لغړ نوميده د وړيو غونډاری وسپړده ټولې يې پکښې د ختو ټوټې تاوې کړې وې سردار ديوانه هغه زښت ډير وواهه نو ددُر بابا ملنګ هغه ته داسې ووېل: تاسې بغير حق په ناروا باندې د دُربابا ملنګان بنديانوئ دوړيو په غونډارو کښې به درته خود د ختو ټوټې منډي او خپل غونډاری به پرې يو پاويز کوي. لغړ پير چاغ شپيته کلن مستانه سړی ؤ اصلا د شينوارو د نازيانو ؤ په لغړد غازي امان الله خان نوم ډير ښه لګيده، ځوک چې به د دُر بابا زيارت ته راغی نو دده اعصاب بالکل خراب شوي وو هغه به ورته غازي اما ن الله خان ويل. لهونی مستبد داؤد چې په ننګرهار کښې ملکي او نظامي نائب الحکومه ؤ لغړ يې تش په همدې نامه بندي کړی ؤ چې هر چاته به يې غازي امان الله خان ويل. د لغړ پشان ډير زيات بيګناه کسان ددهمزنګ په جيل کښې بنديان وو چې هيڅ جرم او ګناه يې نه درلوده ددينه هيڅوک انکار کولی نشي چې د طلايي تېر د افغانستان پر ولس باندې داسې ظلمونه کړيدي چې هيڅ حد او اندازه نلري او مطلق د شهر ناپرسان حکومت ؤ.

# د «ببر» او «بیست» بندیان

مازیگر د قلعه جدید دویالې پغاړه د معمول په ډول بندیان ډلې ډلې گرځیدل را گرځیدل په خپلو منځو کښې یې خبرې کولې یو بندي چې په حاجي نواب مشهور ؤ یعقوب خان غونډ مشر ته یې وویلې: غونډ مشر صاحب ته هغه دوه تنه بندیان پیژنې چې یو په (بیست) کښې بندي دی او بل په (ببر) کښې. ما چې دهغه نه داخبره واوریده ورته ومې ویل: حاجي صاحب که تاسې ماته ددغه دواړو بندیانو د بند کیسه وکړئ ډیر به خوښ شم. حاجي صاحب وویل: دا یو بندي چې په ( ببر ) کښې بندي دی زما نژدې خپلوان دی دا بل بندي ورسره په یوه کوټه کښې انډیوال دی سباشپې ته دواړه زما میلمانه دي تاسې هم ضرور راشئ. سبا شپې ته دحاجي صاحب کوټې ته لاړم کښېناستلم د هغه دواړه میلمانه راغلل ماته یې معرفي کړل چې هغه بندیان دادي. ما هغویته وویل د خپل بند کیسه تاسې ماته پخپله وکړئ!

هغه بندي چې په (ببر ) کښې بندي ؤ معمار باشي ؤ په سیاه سنگ کښې یې هستوگنه درلوده گلاب نومیده ، هغه خپله کیسه داسې شروع کړه: توره باز خان چې د کابل قوماندان ؤ دهغه ټول تعمیرونه به ما جوړول او کله کله به یې نورو کسانو ته هم معرفي کولم. توره باز خان ځواب راولیږه چې ضرور یو ځل کور ته راشه کور ته چې ورغلم روغبړ مو سره وکړ بیا یې راته داسې وویل: د سردار نعیم خان د تعمیر نقشه جوړه شویده دا واخله پدې کار شروع کړه !د سردار صاحب د کور نقشه مې راواخیسته تعمیر مې ولیده بیا یې راته وویل: سبا ته او قوماندانصاحب دواړه راشئ چې قرارداد وکړو او په کور کار شروع کړې.

سبا د سردار صاحب کور ته زه قوماندانصاحب د ځانه سره بوتلم قرارداد موو کړ هغه ځو ځو ځلې دا خبره تکرار کړه ځومره چې ژر امکان لري په کور کار

شروع کړه چې ژر جوړ شي ؛ څرنګه چې تعمیر په پغمان کښې ؤ ما قوماندانصاحب ته وویل که تاسې امر وکړئ چې ستا په موټر کښې د سردار صاحب تعمیر ته لاړ شم چې نن په خیر کار شروع کړم. قوماندان صاحب ضابط ته امر وکړ چې معمار باشي ژر هلته یوسه او ژر بیرته راشه چې قوماندانی ته ځم. قوماندان بیا ټینګار وکړ (که معمار باشی را زود ببرید) ضابط راسره په موټر کښېناست سم یې د دهمزنګ جیل ته راوستلم د جیل انضباطي مدیر ته ضابط همدومره وویل چې قوماندان صاحب وویل (ایرا ببرید!) ما ضابط ته وویل قوماندانصاحب خود سردار نعیم خان تعمیر یاداوه تا خو زه د دهمزنګ جیل ته راوستم !هر څومره چې مې شور او فریاد وکړ ضابط وویل: څو کاله کیږي چې زه له قوماندانصاحب سره ضابط امریم دا دقوماندان صاحب مخصوص الفاظ دي چې زه پرې ښه پوهیږم هغه چې وایي (اینرا ببرید) د دهمزنګ جیل یادوي . ضابط د جیل انضباطي مدیر ته وویل: خدای په امان قوماندانصاحب انتظار باسي، ضابط لاړه او زه همداسې پاتې شوم نو دادي د (ببرید) په نامه مې دا دبندیوولسم کال دی.

ده زیاته کړه: یوه ورځ قوماندان توره باز خان د نورو عسکري منصبدارانو سره د ټغر او سترنجیو د فرمایش ورکولو دپاره راغی ما هم پدغه وخت کښې د ټغرو او سترنجیو په دستګاه کښې کار کاوه ما یې خپل ځان مخې مخې ته کړ هیڅ یې ونه پیژندلم دهغه لاس مې ونیوه ځان مې ورته معرفي کړ چې زه معمار باشي یم. هغه حیران شو ویویل : ته دلته څه کوې؟ ما ورته وویل : تا چې ضابط ته وویل چې: « معمار باشي را ببرید » ستا په یو (ببرید) مې دادبند دوولسم کال دی او س مې د ځان سره ته صاحبه بیرته (ببرید) کړه . همدومره یې وویل عریضه ما ته ولیکه چاله یې ورکړه چې را یې وړي.

د حاجي صاحب د هغه بل میلمه نه مې پوښتنه وکړه : معمار باشي صاحب خپله د (ببرید) د بند کیسه وکړه که تاسې هم خپله د بند کیسه وکړئ چې وار په تاسې ولاړ دی. هغه خپله د بند کیسه داسې شروع کړه: زما نوم غلام دی د

چهار دهي يم درې کاله مخکښې د جمعې په ورځ خپل ورور ته چې بندي ؤ په پايوازۍ راغلم مازيګر شه بيرته کورته تلم له خپل ورور سره ولاړ وم رخصت مې ترې اخيسته چې د بنديانو د شمير سردار باشي راغی په قهر يې وويل: دا څلورم ځل دی چې بنديان شمارم او نه پوره کيږي د سردار باشي په خوله کښې نوزده نوزده ؤ چې ماته راورسيد بيست يې وويل، زه يې په بيست کښې راوستم او ويې ويل دا ځل حساب پوره شو.

ورور مې ورته وويل: سردار باشي صاحب دا څه کوې دا خو زما ورور دی زما پايوازدی بندی ندی خو هغوی زما د ورور په خبره هيڅ غوږ و نه نيوه زه د دهمزنګ دلوېې دروازې نه راوتلم سردار باشي غږ وکړ بندي دی په بيست کښې راغلی دی د حساب نه پټ شوی ؤ هر څومره چې مې شور، غالمغال او داد و فرياد وکړ څه تاثير يې ونکړ په بيست کښې يې راوستم ډيرې عريضې مې د اعليحضرت حضور، صدراعظم او وزير داخله ته وکړې څه فايده يې ونکړه زما ښځه او زوی دواړه دا تيره جمعه په پايوزاۍ راغلي وو راته ويويل: يوه وسيله مو پيدا کړيده چې د اختر په خيراتۍ کښې دې ونيسي چې خلاص شې په خير! زه د زوی او ښځې سره ناست وم چې سردار باشي مې وليده چې بنديان شماري ما مې ښځې او زوی ته وويل: په خدای مې سپارلي ياست ځئ کورته، حساب راغی زه خو په بيست کښې راغلی يم چې تاسې کوم يوپه بيست کښې رانشئ.

غلام ډير خوش طبعه خنده رويه سړی ؤ ماته يې داسې وويل: هغه بله ورځ مې يوسړی وليده د هلمند ؤ په کاکا صديق مشهور دی خبرې او يو تربله مو پوښتنه کوله هغه راته وويل ته په څه شي کښې بندي يې هغه ته مې وويل: په بيست کښې. هغه مخکښې د مخکښې نه ددينه خبرؤ چې يو بندي په بيست کښې هم بندي دی، همدومره يې وويل زه خبر يم بيا يې داسې وويل:

مور او پلار مې راته په کلي کښې کوژده وکړه څه موده وروسته هغوی دواړه مړه شول دواده کولو روپۍ راسره نه وې، هندوستان ته په مزدورۍ پسې لاړم شپږ کاله مې په بمبيي کښې د سمندري جهازونو په اډه کښې ښه په زړه پورې

مزدوري وکړه بېرته وطن ته راتلم دسپین بولدک په بندر کښې يو چاغ منصبدار راته وويل: څوک يې؟ چېرته تللی وې؟ اوس چېرته ځې؟ زه افغان يم په مزدورۍ پسې هندوستان ته تللی وم اوس بېرته کورته ځم. هلمند ته! هغه وويل ماته جاسوس غونډې ښکارې، زه دهغه دې خبرې حيران کړم! نو په قار شه ويويل: سمه خبره وکړه! ما ورته وويل: سمه رښتيا خبره خو مې درته مخکښې وکړه، سترګې يې را باندې راوښکلې زياته يې کړه: ستا سمه رښتيا خبره همدا وه همدومره مې ورته د خولې نه راووتل: (جي هان) چې زمانه يې د جي هان لفظ واوريده عسکر ته يې وويل جاسوس دی لا سونه يې را لـه وتړل تحقيقات يې رانه وکړه او د خپل تحقيقات له يو مکتوب سره يې دلته راوليږلم چې دا مې د بند اتم کال دی هغه چې ماته داخبرې کولې په چېغو چېغو يې وژړل او ويل يې ددې به آخره څه وي؟ او تر څه وخته به داسې بيغورې وي، ما ورته همدومره وويل د ظلم آخر خطا ده او هر ظالم ته دخپل ظلم اعمال رسيږي.

## دغاښ درد يا بهرته د وتلو چانس!

يوه ورځ د ملک امير ساپي په غاښ درد شه. د درد دلاسه ډېر ناکراره ؤ شپه او ورځ به يې د کوټه قلفۍ د کوټې نه چېغې او سورې وهلې.

بابا او چپه شاخ هزاره فرقه مشر عبدالرحمن مبصر ته وويل: څو ورځې کيږي چې ددغه کوټه قلفي غاښ خوږيږي او ډېر ورسره په عذاب دی که ډاکټر ورته راولې چې څه غم يې وخوري. مبصر دغه خبره سلسله په سلسله ددهمزنګ دجيل آمرانو ته ورسوله. څو ورځې وروسته يې ملک امير غازي ساپی ته ډاکټر راووست. ډاکټر وويل: زه دغاښونو ډاکټر نه يم ناروغ دې دغاښونو ډاکټر و ګورې خو دغاښونو دډاکټر راوستل دلته څه فايده نه کوي ترڅو چې په خپله ناروغ هلته روغتون ته لاړ نشي. داپدې چې دغاښونو دبرمې او نور ماشينونه هلته په کوټه کښې دي دلته نه راوړل کيږي. دجيل انضباطي

مدیر امروکړ: ناروغ دې دډاکټر په هدایت دجیل روغتون ته بوتلل شي اوپه لاره او شفاخانه کښې دې ورسره څوک خبروته پرې نښودل شي. مبصر ددوو انضباطانو محافظانو سره ناروغ روغتون ته بوته، کله چې دغاښونو ډاکټر دناروغ حال ولیده ژامه یې پړسېدلې وه نو مبصر ته یې داسې څرګنده کړه: زه اوس ددغه ناروغ سره هېڅ مرسته او کومک نشم کولای په غیر ددېنه چې څه لازمه درمل ورته ورکړم اوبیا یې دوه ورځې وروسته راوله چې معاینه یې کړم اوس دناروغ دغاښ اېستل بالکل امکان نلري دا ځکه چې دده په غاښ ډېر وخت تېر شوېدی دغاښونو لاندې باندې اوریو اوژامې یې مېکروبي پړسوب پېداکړیدی. او زیاته یې کړه: باید داناروغ یې هغه وخت راوستلی وی چې په غاښ یې درد راغلی ؤ په اول وخت کښې که تاسې داناروغ راوستی وی علاج یې ډېر په آسانه سره کېده. مونږه به په خپلو منځو کښې توکې ټکالې کولې چې بیدیادنیا سړی دغاښ په درد لېدلی شي. بلهورځ سکندرخان مبصر ته دغاښ ددرد دلاسه ډېر زیات شکایت وکړ اوپخپله ژامه یې کلک لاس اېښودلی ؤ اوسخت فریادونه یې کول خبرې یې نه کولې په اشارویې مبصر پوه کړ چې غاښ وباسم. دجېل دروغتون دغاښونو ډاکټر خو مبصر ته دغازي ملک امیر ساپي دهغه دغاښ ددرد نه دهغه دژامې دپړسېدلو او میکروب اخستلو ویلي وو چې دغاښ رنځور دې په اول وخت روغتون ته راوستل شي.

مبصر سکندر خان دجېل روغتون ته بوته. دغاښونو ډاکټر سکندرخان په چوکۍ کښېناوه او ورته ویویل: خوله دې خلاصه کړه کوم غاښ دې خوږېږي؟ په حقیقت کښې دسکندر خان غاښ خو هېڅ درد نه کاوه یوائې دایوه بهانه وه چې دکوټه قلفۍ نه بیدیا پراخه آزاده لویه دنیا اوفضا ووینی. هغه دډاکټر پوښتنې ته وارخطا غوندې شه چې څه ورته ووایي چوپ شه. ډاکټر بیادهغه څخه پوښتنه وکړه: غږ ولې نه کوې؟ کوم غاښ دې خوږېږي؟

پداسې حال کښې چې دهغه خوله خلاصه وه د ژامې یوغاښ یې ورته وښوده. ډاکټر دغاښونو په کاشوغه دهغه غاښ وټکاوه ورته ویوېل: آیا

همداغاښ دی درد کوي؟ ځواب یې ورکړ: داغاښ خومې ښخې درد نه کوي دابل غاښ دی. ډاکتر بیا دغاښونو په کاشوغه دهغه، هغه بل غاښ وټکاوه ورته ښکاره یې کړه :داغاښ دې څه درد کوي؟ ناروغ وویل: هو صاحب داغاښ مي هم لږ درد کوي. ډاکتر دوه زړی غوندېشه ناروغ ته یې وویل: چې داغاښ دې هم لږ درد کوي نوبل کوم غاښ دې خوږېږي. هغه ورته یوبل غاښ بیاوښوده ډاکتر خپل سروښوراوه مبصر ته یې دسترګو لاندې وکتل دغاښونو دناروغ نه یې په کرار شان پوښتنه وکړه: وروره! کوم غاښ دې درد کوي؟ پدې وخت کښې مبصر ډاکتر ته وویل: ډاکتر صاحب مخکښې خویې تاته خپل دوه غاښونه وښودل. دمبصر دغه خبره چې سکندر خان واورېده سمدستی یې ډاکتر ته وویل: ډاکتر صاحب! مبصر صاحب ته پوره پته لګېږي چې زما دژامې دوه غاښونه ډېر زیات درد کوي، ټوله شپه دغاښونو ددرد دلاسه ناکراره وم هېڅ خوب مې ددرد دلاسه ندی کړی.

دسکندر خان دې خبرو دډاکتر په زړه کښې پوره شک پېداکړ ویې خندل بیایې په افسوس ؛ افسوس هغه ته داسې وویل: ماته خوستا دخبرو نه داسې معلومېږي چې ستاغاښونه روغ رمټ دي، هېڅ درد نه کوي خوشې چټې تشویش کوې چې غاښونه دې خوږېږي. سکندر خان خبرې ته ځان جوړ کړی ؤ چې ډاکتر ته څه ووايي. عبدالرحمن مبصر دهغه نه مخکښې شه او ډاکتر ته یې دهغه دغاښونو ددرد ډېر شکایت وکړ ودابیخي درسته او ټېک خبره ده اوماته پوره پته لګېږی چې دغاښونو ددرد دلاسه ډېر ډېر په عذاب اوناکراره دی. ډاکتر مبصر ته مخ راواړاوه په موسکایې ورته وویل: ګوره مبصر صاحب عجیبه خبره خو داده چې غاښونه دکوټه قلفي په خوله کښې دي او دهغه دغاښونو ددرد تشریحات ته ورکوې، دازه منم چې ته به ددغه بندي څوکیداریې خو دازه بالکل نشم منلی چې دهغه دغاښونو ددرد او خوږېدلو شهادت او تصدیق ته کوې. ته دې دخپلو غاښونو متعلق هرڅه ویلی شې داځکه چې ستا غاښونه ستا په خوله کښې دي او دهغه غاښونه دهغه په خوله

کښې دي هرسړی دخپل بدن دغړو درد په خپله ښه محسوسولی شي نه داسې چې درد په بوه وي او احساس یې پل کوي. له مبصر سره دډاکتر دې ځو خبرو سکندرخان پوره خپل ځان ته ملتفت کړ او دا ورته په ډاګه څرګنده شوه چې ډاکتر مبصر ته سخت خجالت ورکړ نو دمبصر دځواب په ځای یې ډاکتر ته په جدي ډول څه ویل غوښتل نو مخ یې مبصر ته راواړوه ویې ویل مبصر صاحب؛ مبصر صاحب چې زما غاښونه ته خوږېدلی نو مادلته څه کول؟ خوشې چټې خو زه دلته نه راتلم زه خو دومره وزګار او بېغمه نه یم زما دغاښونو ددرد دلاسه په سر کښې داسې څړیکې خېژي چې بو خدای پوهېږي او بوزه. مبصر غاړه تازه کړه خپل ځان یې تو‌خي ته جوړ کړ او پدې پوه شه چې دغاښ ناروغ زما خبره دروغجنه نکړه نو خپلې اوږې یې ځو ځلې ښکته پورته وارتولې ځو دقیقې وروسته دډاکتر په کوټه کښې دسکوت او خاموشۍ پرده داسې وغوړېده چې هېڅ انګه بنګه نه وه او هېچا داخیال نه کاوه چې پدغه کوټه کښې ځوک شته دي.

ډاکتر دکوټې دسکوت او خاموشۍ پرده دخپل افسوس په کلمه وشلوله. مبصر دډاکتر دې عمل ډېر جدي کړ سکندرخان ته یې دپټکې او دپکې په ډول په قهر جنه لهجه داسې وویل: هله شاباس ماسپښین شه ځو ساته دي دلته په تشو خبرو تېر کړل ډاکتر ته دي خپل غاښونه وښایه چې کوم کوم غاښ دې درد کوي او ته تري په عذاب یې! دغاښ درد مند ډاکتر ته وویل: ډاکتر صاحب! مخکښې مې درته ووېل او اوس یې بیا درته وایم چې مبصر صاحب رښتیا وایي په خبره کښې یې هېڅ تردید او دروغ نشته دي ځو ساته مونږ دواړو په خبرو تېر کړل او یو غاښ دې راته هم و نه ښکه، ته په ما پورې ټوکې مسخرې کوې که ځنګه دي خوښه ده زه درته دروغجن ښکارم. ډاکتر دناروغ ددې خبرې په اورېدلو کټ کټ وخندل او هغه یې پدې پوه کړ چې ته دې په خپلو غاښونو تنګ شوی یې که ځنګه؟ غاښونه خو دبدن هغه فعال غړي دي چې دهمدوی په وسیله ټول خواړه میده کېږی بیا مخصوصاً خپل طبیعي غاښونه خو ډېر لوی نعمت

دی. مبصر په کوټه کښې دوه دری قدمه ددروازې په خوا واخیستل. سکندرخان ته داد مبصر له خوا دتللو علامه وه نو کوټه قلفي ډاکتر ته په ډېره ماته لهجه څرګنده کړه: ډاکتر صاحب غاښونه راته نور ژر ژر وباسه چې چټې وخت را باندې تېر نکړي.

ډاکتر: څو غاښونه دې درد کوي؟

ناروغ: دوه غاښونه

ډاکتر: آیا تاته دې خپل درد مند غاښونه معلوم دي؟

ناروغ: هو ډاکتر صاحب! ماته مې خپل دردمند غاښونه ډېر ښه معلوم دي.

ډاکتر: سر دې دڅوکۍ په بازو کېږده اوخوله دې خلاصه کړه، ماته به درمند غاښونه ښایې.

ناروغ: ډېره ښه شوه صاحب زه تاته خپل دردمند غاښونه ښایم.

ډاکتر: بیا دغاښونو دټکولو کاشوغه راواخېسته اودکوټه قلفي دغاښونو په ټکولو یې شروع وکړه داغاښ دې خوږېږي.

ناروغ: هو! خوږېږي.

ډاکتر: بل دې کوم یو غاښ خوږېږي، خپله ګوته پرې کښېږده.

ناروغ: په بل یو غاښ ګوته کښېښوده.

ډاکتر ډېر بې اختیاره وخندل چې مبصر ورته هک پک پاتې شه اوبیایې یو سوړ اوسېلی وښکه او هغه ته یې دخپلې خبرې لمنه داسې وغوړوله: پدې حسابه خو ستا څلور غاښونه خوږېږي؟ کوم دوه غاښونه دې چې راته مخکښې ښودلي وو هغه دا غاښونه ندي. کوټه قلفي ددې خبرې په اورېدلو سره اله پته غوندې شه مبصر ته یې وکتل او بیایې ژر وویل: شاید څلور غاښونه به مې خوږېږي زه ددرد دلاسه پرې نه پوهېږم. دډاکتر پدې پوره باور راغی چې دکوټه قلفي یو غاښ هم درد نه کوي، چرت واخیست چې هغه ته څه ووایي پدې ترخ کښې مبصر ډاکتر ته وویل: ډاکتر صاحب چرت مه وهه تامخکښې پخپله خوله وویل چې هر سړی دخپل بدن دهرغړي په درد پخپله ښه پوهېږي؛ کوټه قلفي چې وایي

دا دوه نور غاښونه مې هم درد کوي نو څلور غاښونه به د غريب خوړېږي.

هله نور ژر کړه بسم الله کړه دخيره انبور دې راواخله او څلور واړه غاښونه يې ژر ژر وباسه! چې دمبصر دخولې نه کوټه قلفي داخبره واورېده چې څلور واړه غاښونه يې ژر ژر وباسه د کوټه قلفي په زړه توره شپه راغله بله هېڅ چاره يې ونه لېدله ډاکټر ته يې دخپلو څلور واړو غاښونو په وښکلو سخت ټېنګار وکړ. پداسې حال کښې چې ډاکټر هغه ته خندل ويويل: زما خبره ګوندې دروغ ده چې ستا يو غاښ هم درد نه کوي خوشي تشويش کوې.

ناروغ ډاکټر ته وکتل او ويې وويل نه، نه ډاکټر صاحب! ستا په خبره کښې خو هېڅ دروغ نشته دي خو مبصر صاحب هم دروغ نه وايي زما غاښونه رښتيا خوږېږي دا نور ژر وباسه چې مورږ خو مبصر صاحب ډېر کارونه لري. ډاکټر ته دادلمر پشان روښانه شوه چې دغاښونو دوښکلو نه بله هېڅ چاره نشته کوټه قلفي مبصر مجبور کړيدی چې خپل څلور واړه غاښونه وباسي نو کوټه قلفي ته يې وويل: ډيره ښه شوه، کوم غاښ چې دې درد کوي ته په هغه ګوته ږده او زه به يې وباسم، په غاښ دې ګوته کښېږده! هغه په بويل غاښ ګوته کښېښوده ډاکټر دناروغ خوله خلاصه کړه او دهغه دخولې ټول غاښونه يې په دقت سره وکتل چې په ټولو غاښونو کښې يې يو سوری چينجن غاښ پېدا کړ انبور يې راواخېسته هغه يې راوښکه او مبصر ته يې وويل: اوس يې دنورو غاښونو وښکلو ته ضرورت نشته دی زه پدې پوهېږم چې ددې چينجن غاښ دوېستلو سره به يې دنورو غاښونو دردونه بالکل کرار شي.

مبصر چې ډاکټر ته هر څومره اصرار کاوه چې نور درې غاښونه يې پاتې شول هغه هم د خيره و باسه چې کار مو خلاص شي خو هغه ورسره دا خبره ونه منله. په آخر کښې مبصر د سکندر خان په اوږو لاس کښېښود هغه ته يې وويل: نور غاښونه دې وباسي که څنګه؟ د کوټه قلفي ددې صحنې په ليدلو وار پار خطا شوی ؤ مبصر ته يې وويل: دا ستا خوښه ده چې نو ر غاښونه وباسم که څنګه؟

ډاکتر ددې پوښتنې په اوریدلوبې اختیاره وخندل او په آخر کښې هغه دواړو ته په قهر جنه جدي لهجه وویل : ډاکتر زه یم که تاسې نو ځئ د خیره لاړ شئ او هغه چینجن وښکل شوی غاښ یې کوټه قلفي ته ورکړ . کوټه قلفي خپل چینجن غاښ په لاس کښې ونیوه داورته پوره معلومه شوه چې ډاکتر زما هغه غاښ ندی وښکلی په کوم چې ما گوته ایښودې وه او هغه ته مې ښودلی ؤ.

کوټه قلفي خپلې کوټې ته راغی. ملگرویې د هغه څخه پوښتنه وکړه: ښه سیل صفا خو به دې کړې وي . څه شی دې ولیدل؟

هغه خندل او خپله ټوله کیسه یې خپلو ملگرو ته ټکي په ټکي وکړه. د غاښونو دردمن ته یو کوټه قلفي ملگري دا خبره وکړه که ډاکتر ستا په خوله امنا کړې وی باید ضرور هغه ستا څلور واړه غاښونه وښکلي وی خو هغه ډیر ښه پوه ډاکتر ؤ او دا ورته ښه پته لگیدلې وه چې کوټه قلفي د غاښ د درد په بهانه د سیل دپاره دلته راغلی دی. د غاښ رنځور ورته سر وخوځاوه ، هو! همداسې وه او د خپلې خبرې لمنه یې داسې وغوړوله: عبدالرحمن مبصر زما په سرو لاړؤ زما د غاښونو په وښکلو کښې هغه ډاکتر ته ټینگار کاوه نو ما دمبصر د ټینگار په اساس ډاکتر ته د غاښونو دوښکلو اصرار کاوه خو په هر صورت زما په ټول وضعیت ډاکتر ښه پوه شوی ؤ. دهغه کوټه قلفیانو ملگرو ډیر وخندل بو تن په ټوکه ټکاله کښې خپل ملگري ته داسې وویل: که څلور واړه غاښونه دې صرف د جیل دروغتون د سیل په بهانه وښکلي وی تیاره د خندا ډکه رښتیانې ډرامه وه.

## بندي زوی د بندۍ مور په غېږ کښې

یوه شپه کوټه راپسې د نورو شپو پشان قلف وه ټول د لگیر او ځنگیر ناست وو په کاریډور کښې د پښو د اوازونو غربا ر جوړ شه. دغه غربار کرار په کرار زمونږ کوټې ته رانیژدې کیده ،د سر مبصر آواز زمونږ د کوټې ددروازې په

مخکښې وشه، څوکیدار عسکر ته یې غږ کړ: دروازه خلاصه کړه! څو تنه دریشي کړي کسان چې په عسکري یونیفورم ملبس وو کوټې ته د ننه رانتوتل د ځینو کسانو څنګلو ته تمانچې هم پرتې وې او د لاسونو متې یې رانغښتې وې. دا لومړی ځل دی چې دومره عسکري منصبداران زمونږ کوټې ته راځي. سرمبصر مونږ ته وویل: داد کابل امنیه قوماندانصاحب دی. شیخ لالا د کابل له امنیه قوماندان خواجه نعیم خان سره د مخکښې نه پیژند ګلوي درلودله قوماندان زمونږ د کوټې په منځ کښې ودرېده شیخ لالا ته یې داسې وویل: غیر د زولنو دما تولو او کوټه قلفۍ د خلاصیدونه چې بل کوم شکایت او عرض لرئ زه درسره مرسته کوم.

شیخ لالا د کابل قوماندان ته پداسې حالت کښې چې خپلې پنځه سوه تسپې یې ژر ژر په دواړو لاسونو اړولې را اړولې او یوه تسپه یې د بلې نه مخکښې کوله او خپله د زولنو پتې یې خپلې غاړې ته اچولې وه ،څرګنده کړه: که ستاسې مهرباني وي او یو تن زمونږ ددې هلکانو نه زنانه جیل ته لاړشي...

شیخ لالا خپله خبره همدې ځای ته رارسولې وه چې دهغه خبره د کابل امنیه قوماندان خواجه نعیم خان په همدې ځای لنډه پریکړه .سر مبصر محمد امین ته یې امر وکړ: سبا ددوی یو هلک زنانه جیل ته د یو سات د پاره بوځه چې خپلوان وګوري او بیا یې بیرته د ځان سره راوله. سبا لس بجې محمد امین سر مبصر د قار او غضب نه تر ینګلی کوټې ته راغی ،خپلې ګنې بېرېږوروځې یې د سترګو دبنو د پاسه ګورې کړې وې خپله تنده یې تر وه نیولې وه پزه یې د توتي د کجک منبو کې پشان ځوړنده نیولې وه پخپل اوږده مولي مخ یې لاسونه ښکته پورته راښکل او د خپلې پښې د یو بوټ په سر یې مځکه ټکوله ویې ویل: یو هلک ژر را پاځوئ چې زنانه جیل ته یې بوځم.

یار محمد چې یو ښکلی اتلس کلن هلک ؤ خپله د زولنو پتې یې غاړې ته واچوله مونږ هر یو هغه ته د خپلو میندو ، خویندو او ماشومانو ډیرې خبرې وکړې چې د هغوی حال احوال پوره ځان ته معلوم کړه. یار محمد د سرمبصر سره

د کوټې ته یو ځای راروان شو. شیخ لالا هغه کلک د لاسه ونیوه و یو بل یوه خبره زمانه هیره شوې وه اوس را په زړه شوه چې هغه هم درته وکړم.

هغوی دواړه د کوټې څخه راووتل څه وخت چې هغوی دواړه زنانه جیل ته راورسیدل، سر مبصر د زنانه جیل کوږ خولي گوزني آمر خواجه محمد ته څرگنده کړه: دې بندي هلک ته بیگا قوماندانصاحب د یو سات د پاره د خپلو بندیانو د لیدلو د پاره اجازه ورکړیده!

د زنانه جیل کوږ خولي گوزني آمر د کابل امنیه قوماندان ته تلفون وکړ، وروسته بیا د زنانه جیل آمر مخکښې شه او دوی دواړه پسې روان وو، د زنانه جیل د دروازې نه د ننه ننتول. د یار محمد مور او د نورو بندیانو میندې خویندې، وریرې او خپلوانې یې د خپل نوي بندي پایوازي د راتگ نه خبر کړل هغوی ته د خپل نوي پایوازي د راتگ غږ نوی الهام بخښونکی هغه زیری ؤ چې هغو ی هیڅکله د داسې زیري داوریدلو په فکر کښې نه وې.

د هغه ښکلي گلالي کوچني بندي پایوازي په دواړو سترگو کښې اوښکې ښکته پور ته ځغلیدلې د غم ځپلي تور گرد پرده یې د سپین مخ په کاسه غوړیدلې ښکاریده، خپلې کوچنی نرۍ شونډې یې د ډیر و غم لړلو تکلیفونو د لاسه کلکې جوختې لگولې وې. زولنې یې په پښو کښې پرتې وې حیران او الق دلق د زنانه جیل د آمر او د دهمزنگ د جیل د مخصوصو کوټه قلفیانو د سر مبصر په مینځ کښې ولاړ ؤ هغوی ټولې په منډو او ځغاسته سا او تیگاه بې اختیاره راغللې یو ې خوا او بلې خوا ته یې کتل چې خپل کوچنی کوټه قلفي پایوازی یې د زنانه جیل د آمر او د سر مبصر په منځ کښې ولاړ ولیده چې د زولانو پټې یې کلکه خپلې غاړې ته اچولې وه. هغوی په هیجاني شکل د توپاني سخت جاکړ د ټیلې د زور پشان پر ې حمله راوړه هغه دواړه کسان یې له منځه وښکل او په فریادي چیغو یې چې د هیبتي عواطفو لړزیدونکو راپاریدلو احساساتو ترجماني یې کوله خپل ورک شوی کوچنی معصوم کوټه قلفي بندي په غیږ و کښې ونیوه د دې تراژیدي هیجاني ټیل ومار په مینځ کښې یوه جگه

لوړه قوي هیکله ښځه راپیدا شوه او هغه کوچنی کوته قلفي بندي یې د نورو ښځو د غیږو نه راخلاص کړ او په خپل زړه پورې یې کلک ونیوه پداسې حال کښې چې د هغه څیرې ته یې کتل داسې خبرې یې ورسره کولې: آه ته څوک یې! ته چرته وې؟ د کومه ځایه څخه راغلې؟ ما خو ویلې چې ته مړ شوی یې ته چېرته زمانه پټ شوی وې؟ ته زما د زړه نه خبر نه یې؟ ته ماته ځان راوښایه چې ته څوک یې؟ ستا نوم څه دی؟ بیا به هغې داسې فکر کاوه چې زه خوب وینم هیڅ شی نشته دي. خو کله چې به یې خپلې غیږې ته وکتل بیا به یې په خبرو لاس پورې کړ: ته ماته لړ شان وګوره! ولې دې په سترګو کښې اوښکې ډنډ ولاړې دي. ولې له ماسره خبرې نه کوې؟ ته ماته لړ شان وګوره! ولې ژاړې؟ چادر ته قار کړیدی؟ چا وهلی یې؟ ته ولې ماته نه ګورې؟ زما نه خپه یې؟ په څه رانه خپه یې چې له ما سره خبرې نه کوې زمانه مرور شوې یې په څه رانه مرور شوی یې؟ ته، نه زما نه مرور شوی نه یې نه نه ته هیڅکله زما نه نه مرورېږې، زه پدې ښه پوهیږم هو همداسې ده! لږ سات وروسته به یې بیا فکر خطا غوندې شه د حیرانتیا د چرت په ټال کښې به یې ټالی وهلې چې بیا به یې په خپلو خبرو ورته شروع وکړه: ته زما نه چا جدا کړی یې په څه یې جدا کړی یې؟ څه ګناه دې کړې وه؟ نه نه ته ګناهګار نه یې! ته پاکه سپېڅلې معصومه جنتي مرغۍ یې هودا رینښتیا ده! کله چې هغې د کوچني کوته قلفي بندي په پښو کښې زولنې ولیدې نو یوه بې اختیاره چیغه یې د خولې راووتله چې: آخ آخ دا څه شی دي؟ دا کوم ظالم ستا په پښو کښې اچولې دي؟ د څه د پاره؟ چې ته ونه تښتې؟ چې ته د کوچنی ښانسته مرغۍ پشان دهغه د پنجرې نه وانه الوځې؟ زه به اوس ستا د پښو نه دا داوسپنې حلقې په خپلو غاښونو ټوټې ټوټې کړم ماتې به یې کړم زه ستا په پښو کښې نورې دانه پرېږدم! زه یې په غاښونو ریچې ریچې اومیده میده کومه! زما غاښونه ډیر کلک او تیره دي! د زنانه جیل آمر هغه ښځې ته چې کوچنی بندي یې په غیږ کښې نیولی ؤ او د زولنو په حلقه یې خپله خوله لګولې وه داسې وویل: د یو سات نه ډیر وخت تیر شه سمې خبرې ورسره

وکړه لیونۍ څه لیونتوب دې را اخیستی دی! ای لیونۍ سمې خبرې ورسره وکړه! وخت پوره کېږي اوس بېرته دد همزنګ جیل ته ځې! پر هغه ښځه باندې دد همزنګ د جیل نوم دومره بد تاثیر وکړ چې رنګ یې تک ژیړ شه چې دا سړی څه وایې؟ د خپل زوی سترګو ته یې وکتل چې اوښکې پکښې ښکته پورته ځغلېدې په دواړو مخونو یې څو ځلې مچې کړ ورته ویې ویل: نور تا زما نه څوک نشي بېلولی زه تا نور نه پرېږدم ته به له ماسره یو ځای ژوند کوې زه به تا ته خوږې کیسې کومه زه به تا ته خوږې خوږې خبرې کوم ته به ما ته خندا کوې پدېکښې هیڅ د شک ځای نشته دی چې ستا په خندا زما د زړه زړه دنیا بېرته ځوانېږي ستا په موسکا زما د ناسور زخمي زړه زخمونه رغېږي. ته ما ته لېږ شانې وګوره زه ستا مور یم ستا مور چې ډېرې شپې مې تا ته شوګیر کړیدی زما د ژوند ډېره په تار وښا نه ده ما ته لږ شان پورته وګوره زما د ژوند ډېره مه مړه کوه ما دغمونو په تروږمۍ کښې ځانله مه پرېږده زه ستا مور یم ستا مور!

پدې وخت کښې دد همزنګ د جیل د کوټه قلفیانو مخصوص سر مبصر د زنانه جیل آمر ته وویل: د یو سات نه څو دقیقې زیاتې هم تیرې شوې نورې دې خپلې بندیانې ښځې بندیخانې ته ننبا سه چې زه مې خپل بندي بیرته بیایم! هغه د لیوني سپې پشان کوچنی بندي د مور د غېږې نه راښکوده. هغې ورته د ژړا په ډکو سترګو چې د سترګو نه یې داوښکو د باران شیبې د زوی په مخ او سر وریدلې هغویته وویل: ظالمانو پدې څه کوئ؟ دا له ما سره پرېږدئ چې زه یې پخپل زړه کښې ننباسم زما زوی دی زه یې مور یم! خو هلته د هغې دغم لړلي جنون د هنګور نه پرته د هغې خبروته هیچا ځواب ورنکړ، کوچنی بندي یارمحمد د جیل د مخصوصو بندیانو له سرمبصر سره بیرته خپلې کوټې ته راغی.

دهغه په روح دغه ویرجنې غم لړلې صحنې ډېره زیاته بده اغیزه کړې وه خاموش او ناکراره ښکاریده دهغه څخه د خپلې کوټې ملګرو پوښتنه وکړه: نور خو څوک پکښې مړه شوي نه وو؟ څوک څوک دې ولیدل؟ هغه چوپ ؤ هیڅ

خبره يې د خولې نه ؛ نه راوتله. سرمبصر هغوی ته وويل: زما څخه پو ښتنه ولې نه کوئ چې ټول رينېتيانی حال احوال بيان کړم. شيخ لالا ژر د هغه نه پوښتنه وکړه: ښه نو هلته څه حال ؤ ؟

سرمبصر وويل: کله چې مونږ زنانه جيل ته لاړو ستاسې بنديانې ښځې او ماشومان د خپل نوي پايوازي نه خبر شول، داسې شور غالمغال ژړا اګانې او ويرونه يې جوړ کړل چې دا هلک يې وارخطا کړ او يوه خبره يې هلته د خولې نه ونه ويستله. يوه ليونۍ مور يې وه ټولې چټي او فضولې خبرې يې ورته کولې کله به يې دې هلک ته ويل چې هيڅوک تا زما نه نور نشي جدا کولی ، زه ستا مور يم ! ټينګ يې په خپله غيږ کښې نيولی ؤ کله به يې ورته په زولنو خوله لګوله چې تاته دا چا اچولې دي. زه به اوس ستا نه دا پخپلو غاښونو ټوټې ټوټې کړم! د سرمبصر دغه ټولې خبرې په کوټه کښې بابا عبدالعزيز واوريدلې سريې کوټې ته راننو يسته او سرمبصر ته يې په قهر جنه لهجه څرګنده کړه: ته خو هيڅ ګرم نه يې!د قصابانو ګوډاګی نوکر يې! مور هيڅکله خپل زوی ته فضولې چټي خبرې نه کوي بيا داسې مظلومه بيګناه مور چې خپل کوچنی زوی پداسې حالت ويني چې هيڅکله يې پخپل ژوند کښې داسې فکر نه کاوه چې زه به مې زوی پداسې حالت کښې وينم چې زه هم په جيل کښې بندۍ يم او هغه هم. تاسې د خونخوارانو ظالمانو نوکران ياست ستاسې زړونه د ډبرونه جوړ شويدي د انساني عواطفو او ترحم هيڅ بوی پکښې نشته دی. ته د هغه مور د زړه سواندي زخمي ټوټې ټوټې زړه نه چې د خپل کوچني بندي زوی په ليدلو د مورولۍ د څپاندو احساساتو او اوسيليو د اهونو نه د عواطفو په لويه فضا کښې د شور او هيجان د ژړا او انګولا د غم لړلو کړيکونه توفاني سمندرونه جوړوي څه خبر يې ؟ ته پدې کله پوهيږې! چې د هغې زندان ليونۍ کړې مور زړه څه غوښتل ؟ هغه مور ليونۍ نه وه هغه يوه رينېتينې پښتنه مور وه چې له خپل زوی سره يې داسې خبرې کولې د هغې په هره خبره کښې د ظالمانو د ظلمونو د ثبوت ښکاره او په ډاګه تراژيدې ډرامې پرتې وې، د هغې په هره خبره کښې د

پټو رمزونو ويرجنې افسانې پرتې وې چې د ظالمانو د ظلمونو ترجماني يې کوله افسوس او ډېر افسوس ستا په حال ځومره به ښه وی چې ته لږ غوندې پوهيدلی. ته د انساني فضيلت ، کرامت نه هيڅ خبر نه يې، ته دانساني عظمت او لويوالي په قدر و قيمت څه پوهيږې ته چې د څه شي نه خبر يې د خپل ظالم بادار د بې شميره ظلمونو نه، ته چې په څه شي پوهيږې دخپل ظالم قصاب بادار په امر بيګناه خلک وژل! ته ګرم نه يې ته خو... د بابا عبدالعزيز د خبرو په منځ کښې شيخ لالا را چوکه شه د هغه خبره يې پريکړه ورته ويويل: سپين ږيريه نور بس کړه په يوه سادې د لغتونو دفتر شروع کړيدی، څه دې راخيستې زوروره دخدای، د سرمبصر په خوله کښې دې خبره وچه کړه. لږ بې پريږده چې مونږ ته د زنانه جيل د خپلو بنديانو حال احوال ووايي! بابا په ډېره تنده قهرجنه لهجه شيخ لالا ته وويل: ته خو د عقل نه بېخي ډېر و تسپوا ړولو او استخارو ويستلو خلاص کړی يې چې داسې بې منطقه خبرې کوې. د بابا پدې خبره مونږ ټولو وخندل. سرمبصر هم پاڅيده ولاړ. کله چې محمد نادر سګرټ څکول شيخ لالا به ډېر زيات غصه کيده چې د ډېرې غصې نه به يې دوه درې ځلې ولاحول و لاقوت الا بالله ويلې.

## سګرېټ او ښېراوې

شيخ لالا به ټوله ورځ نفلونه او استخارې ويستلې لوی تفسير به يې په مخ کښې خلاص پروت ؤ او کوچنې ډول ډول وظيفاتو نه لکه پنج سورې، يس مغربی، درود تاج؛ ګنج العرش، د سحر او جادو د منترونو دفع المناجات او همداشان نورې ډېرې وظيفې خپله وظيفه ګرځولې وه. د ډېرو وظيفو کولو دلاسه پرې تش دټوخي آواز هم بد لګېده او په قاريده به. يوه ورځ محمد نادر د شيخ لالا د لاسه د کوټې پاس کړکۍ ته وخوت هلته يې خپل سګرت څکاوه هغه د سګرټ په څکولو شروع وکړه. شيخ لالا څادر په سر کوډۍ کړيدی هغه پاس

په تاخچه کښې وتوخيده شيخ لالا د څادر د کوډۍ نه سر راوښکوده پاس په تاخچه کښې يې هغه وليده دواړه لاسونه يې پورته کړه او خداى ته يې په دعا او زارۍ شروع وکړه: اى پاکه پروردګاره د شيطانانو د شراو فساد نه مې په خپل امن کښې وساتې ! اې رحيم و کريم خدايهَ د عبدالعزيز زوړ سپين ږيري سر مغزن په چتياتو او الفاظِ کفر په اوريدلو مې ګناهګار نکړې. څوک چې ستا کلام ته سپک نظر کوي او په سپکه ورته ګوري او ستا د کلام د پاسه په تاخچه کښې سګرټ څکوي ته دغه پخپل قهر او غضب اخته کړې. خدايه! څوک چې ماته سپک نظر کوي ته يې پخپله سپک سپاند کړې.

هغه وويل : څوک يادوې ؟ چاته وايې ؟ ستا دلاسه خو اوس سګرټ پاس په تاخچه کښې څکوم ګناه به دهغه چاوي چې زه سګرټ څکوم او هغه قرآن نه بندوي. دايې وويل او د تاخچې نه يې ښکته کوتې ته راودنګل د زولنو تسمه يې وشليدله زولنو يې دواړه پښې خوږ کړې جوخت پخپل ځاى کښېناست وى وى يې وکړه. شيخ لالا خپله غاړه په زوره تازه کړه او خپلې د تسپو دانې يې د ګوتو په سرونو يوه په بله پسې مخکښې کوله غلي شان يې له خپل ځان سره وويل: خدايه! ته ډير لوى ذات يې په هر څه قادر او توانا يې ته عزيز ذو انتقام يې او بيا په سجده ډير سات پروت ؤ . کله چې هغه له سجدې نه سر راپورته کړ د محمد نادر په خوله کښې بل لګيدلى سګرټ ؤ لوګى يې د شيخ لالا په خوله کښې ننووت بې اختياره وتوخيده او د توخيدو نه وروسته يې سخت په پرنجېدو لاس پورې کړ ، د خپل ځايه په قهر راپاڅيده ،خپل څادر يې څو ځله ښنډ واهه ولا حول ولا قوت يې د څادر د هرواړې ښنډو هلو سره وويله او زياته يې کړه: شيطانه مخ دې تور شه؛ خدايه صبر راکړې او بيا بير ته کښېناست.

## د بابا تقرير او د پاچا خيال

له مونځ سره په دغه کاريدور کښې د خوګيانو ملک قيس او دهغه درى تنه

ورونه شیر محمد خان ، عبدالرسول خان، یار محمد خان او دهغه دوه وریرونه غلام صدیق (علاقه دار ) او محمد صدیق هم وو. د ملک قیس کورنۍ یې زمونږ د کورنۍ نه څلور میاشتې مخکښې نیولې وه او دغه شپږ کسان هم زمونږ پشان کوټه قلفیان وو .

ددوی ښځې او ماشومان په زنانه توقیف کښې زمونږ د ښځو بندیانو اوماشومانو په شان له هغوی سره یو ځای بندیان وو ، د ملک قیس کورنۍ هم صدراعظم کبیر محمد هاشم خان دخپلې شخصي عقدې په خاطر په سیاسي بند محکومه کړې وه. یوه ورځ بابا په کاریدور کښې ودریده داسې یې وویل: دغه د انګلیس جوټه خورې غلام ابن غلام کورنۍ چې د افغانستان د نجیبو مختلفو پرګنو په خلکو بې ساري نه هیریدونکي ظلمونه کړیدي هغه هیڅکله د افغانستان دخلکو نه هیریږي. د افغانستان د خلکو ملي شور او هیجان ملي قهر او غضب خو ددغو جوټه خورو باداران هم څو ځلې په مځکه پر مخې غورځولي دي، ضرور به یوه ورځ دوی هم د خپلو انګلیسي بادارانو په کتار کښې ودروي محوه او نابود به یې کړي اوس چې هر څومره دوی خپل د ظلم څرخ په خپله ګټه چور لوي سبا د تاریخ په شهادت به دافغانستان د خلکو ملي غرور او انقلابي جنبش ددغه جوټه خور و د ظلم څرخ پخپله د هغوی په سرونو وچورلوي ځکه چې ددوی د ظلم کاسه ډکه شویده غر قیږي خو زه پدې داریږم چې د افغانستان خلک له ځان سره غرق نکړي. سید امیر خان پاچا هم پدغه کاریدور کښې له مونږ سره بندي او کوټه قلفي ؤ دمحمد ظاهر شاه د بې واکه سلطنت په لومړنیو ورځو کښې سید امیر خان پاچا په ننګرهار کښې امنیه قوماندان ؤ ، ډیر وطنپال د ملي غرور خاونداو قوي هیکله سړی ؤ کونډه کونډه بریتونه یې درلودل دا دهغه دخولې خپله خبره ده: صدراعظم کبیر وغوښتم چې زما بریتونه یې ولیدل ویویل: لږ دې بریتونه اصلاح کړه !د هغه دې خبرې زه ځان ته ملتفت کړم چې زما نه د ځان پشان ایزک ( هجرا ) جوړوي. سید امیر پاچا خیال درلوده چې ددغه خونخوارې کورنۍ نه تخت و تاج واخلي د شینوارو په

خلکو کښې يې د حکومت په ضد تحريک شروع کړ.
د شينوارو خلکو د حکومت نه منلو اعلان وکړ او د حکومت په ضد راپاڅيدل عسکري چونۍ او حکومتي يې چور کړه. صدراعظم محمد هاشم خان د خپلو انګليسي بادارانو هغه نقشه چې بې اتفاقي واچوه او حکومت وکړه د شينوارو د خلکو په منځ کښې تطبيق کړه او خپله پره جنبه يې پکښې پيدا کړه، سيد امير خان پاچا يې ګرفتار کړ، سخت وهل او ټکول، تيل داغ او ډول ډول عذابونه يې پرې تير کړه ،دغه ټګماره کورنۍ د دينه ډاريدله چې سيد امير خان پاچا د غازي امان الله خان په لمسون يا د بل کوم قوت په مرسته دغه اقدام کړيدی او هغوی ضرور له داسې عمل او اقدام نه ډاريدل. ځکه چې ( د غله په ږيره خس دی) که سړی هر څومره د خلکو د سترګو نه ځان پټ وساتي خو آخر خلکو ته په واقعي بڼه ښکاري.

## د لمر ورځ او دوربځو لړې

زمونږ لمر ته د وتلو ورځ وه ټولو خپل ځانونه دې ته چمتو کړي وو چې اوس به عبدالرحمن مبصر راځي کوټه به مو خلاصوي او مونږه به لمر ته وځو اګر چې پدغه ورځ د لمر سترګه د ګڼو تورو وريځو په پرده کښې ايساره شوې وه او نوراني وړانګو يې د مځکې په مخ خپلې پلوشې نه شوی شيندلی نو د خپل ټاکلي وخت نه مبصر ډير ناوخته راغی. مونږ ته يې وويل : نن لمر نشته دی ټول آسمان ګڼې تورې وريځې نيولی دی.
ستاسې څنګه خوښه ده لمر ته وځئ که په کوټو کښې پاتې کيږئ، شيخ لالا د ټولونه مخکښې هغه ته وويل: زه خو نن نه وځم، ټولې وظيفې مې پاتې دي خپلې وظيفې قضا کولی نشم.
سکندر خان چې د بلې کوټې نه زمونږ کوټې ته راغلی ؤ مبصر ته يې د شيخ لالا نه پټ په رموز او اشاره داسې وويل: مونږ نور ټول لمر ته وځو دی ځانله په

کوټه کښې پرېږده .

مبصر دسکندر خان خبره ښکارې ته راوښکله شیخ لالا ته یې د خپلې خبرې لمنه داسې وغوړوله: سکندر خان ډېر تنګ شویدی وایي چې مونږ په کوټه کښې نه پاتې کیږو لمر ته وځو.

شیخ لالا چې د مبصر نه د سکندر خان نوم واوریده ډېر قهر او غصې نه یې اواز ورپېده ،د ډېر قهر نه سور واوښت چې سرې به خیال کاوه چې په ټول بدن یې سرې لړ مې راختلې دي.

مبصر ته یې وویل: زه دده پلار یم ، دی زما نه پیدادی، زه چې څه وایم هغه ټیک دی، دی چېتیات وایي په خپله کوټه کښې دې کرار کښینې خدای دې یاد کړي،توبې دې وباسي خپل عبادت دې وکړي؛ ځان ته دې د آخرت توشه برابره کړي، سکندر خان مبصر ته وویل: ستابل کار نشته دی ته مونږه پلار او زوی په جنګ اچوې که ځنګه دې خوښه ده ،د پلار د ښیرو او ازار کولو نه خو چکرې دده نه جلا کړم او پدې بله کوټه کښې یې د نورو ملګرو سره واچولم چې برناحقه راته ازار نه کوي. شیخ لالا چې د سکندر خان د خولې نه دا څو خبرې واوریدې عبدالرحمن مبصر ته یې په ګوته کړه : دا ازار ګڼلی په غضب اخته زما د کوټې نه ژر وباسه سترګې مې پرې بدې لګیږي، د پلار حقوق نه پیژني په آخرت کښې به یې مخ تور او په څلورې به ولاړوي. سکندر خان وخندل او بیا یې داسې وویل: د پلار حقوق خو ډېر ښه پیژنم خو په دومره وظیفو باندې شپه او ورځ خپل سر چتې نشم پرسولی چې زما پلار یې کوي. په کوټه کښې شور او غالمغال جوړ شو ، شیخ لالا مبصر کلک نیولی دی او مونږ په تیل وهلو سکندر خان د کوټې نه وښکه. پدې تیل ومار او شور دکاریدور ټول بندیان راغلل او زمونږ د کوټې د دروازې په مخ کښې یې غویمنډ جوړ کړ . بابا د غویمنډ په منځ کښې ځان راوښکه کوټې ته د ننه راننووت پوښتنه یې وکړه : خیریت خو دی ؟څوک خو ناروغ شوی ندی ؟ سکندر خان د غویمنډ د منځ نه په کاریدور کښې غږ وکړ : بابا فضل دخدای دی خیر و خیریت دی هیڅوک را کښې ناروغ شوي ندي خو پلار

مې راته برناحقه او بې موجبه ښکنځا وې کوي، ستا په خبره خو ځو مياشتې مخکښې د پلار د لاسه دغه بلې کوټې ته راواوښتلم خو اوس پديکښې هم د پلار نه، نه خلاصيږم! څه وکړم؟ چاره راوښايه! بابا شيخ لالا دلاسه وتيوه په قار يې ورته وويل: ته څنګه مسلمان يې چې غټ تفسير او يو پنډ وظيفاتو نه خودې مخ ته اېښې خو غيرحق او بې موجبه پدى مصيبت خانه کښې دا هلکان ځوروې! سم سړى شه دادې څه راخيستي دي دېرو وظيفو ليونى کړې يې غواړې چې دا هلکان د ځان پشان کړې. څرنګه چې بابا ټينګ شيخ لالا نيولى ؤ هغه د بابا نه په زوره خپل لاس راښکه تسپې يې د ديوال سره ولګيدې په کوټه کښې دانه وانه شولې هغه ته يې څرګنده کړه: ته خو ښکاره معلوم سړى يې چې فرايض نه کوې او الفاظِ کفر وايې! بابا وويل: ډير پاک سوچه مسلمان يم او په اسلامي علومو ډير ښه پوهيږم خو ستا پشان ضرري، رياکار، ډارن مسلمان نه يم! بابا ته يې بيا داسې وويل: د څه وخت نه چې تا زمونږ هلکانو ته خبرې شروع کړيدي بې لارې شويدي. هغه ورته وخندل: زه غواړم چې دويته سمه لاره وښايم او په اسلام يې پوه کړم.

بابا شيخ لالا ته د خپلې خبرې سرداسې ښکاره کړ: په تا هيڅ خبره تأثير نه کوي زه به تا څنګه پوه کړم چې د قرآن مجيد تلاوت کوې او په معنى يې هيڅ نه پوهيږې. ډيرو وظيفو ليونى کړى يې غواړې چې دا هلکان د ځان پشان کړې. سکندر خان د بابا خبره په منځ کښې پريکړه، غږ يې وکړ: بابا په رحمتونو کښې پټ شې پداسې ريښتيا ريښتيا ويلو، يوه خبره در ته کوم ته ديته لې غوږ کيږده:

زمونږ د بندي خانې دويمه شپه وه چې پلار ته مې چا يوه ټوټه کاغذ ورکړ. چې پدغه کاغذ باندې داسې دعا ليکل شوې وه: يَا خَالِصُ يَا مُخلِصُ يَا خلاص*بحق مهتر خضر يامهتر الياس*خدايه مونږ کړې لدې بنده خلاص. زما پلار ددې دعا ځو ټکي په مونږ ټولو زده کړل چې مازيګر به شه ټول به را پاڅيدو دغه دعا به مو ويلې ددراز خانې د کوټې يو سر او بل سرته به تللو دا دعا به مونږه هر يوه زر زر ځلې ويله او زما پلار ته دا دعا زمونږ ددرازخانې

حاجي داباشي ورکړې وه او هغه ورته ویلي وو چې دا دعا به قضا کوي نه خدای به مو ددې دعا په برکت په یوه میاشت کښې خلاص کړي.

دا دعا به هر مازیګر مونږ په ډیر شوق لوستله یو مازیګر ما دا دعا لوستله پلار مې راته غوږ نیولی ؤ ما دمونږ په ځای ما وویل ناڅاپه مې پلار راته په قهر شه : بدبخته ولې دې دعا غلطه وویله،دا کله بیا تا ثیر کوي او زه یې خوشحاپیږې ووهلم . زما یو کاکا زما پلار ته وویل : لالا سکندر خان دې په څه وواهه؟ هغه ورته وویل: دا ازار ګتلی سمه دعا نه وایي دعا غلطه وایي دا بیا کله تاثیر کوي دمونږه پر ځای ما وایي دی ځانله ځان خلاصوي او مونږه پریږدي! ددې خبرې په اوریدلو مونږ ټولو وخندل. شیخ لالا ځانله په کوټه کښې پاتې شه او مونږ نور ټول لمر ته ووتلو.

سکندر خان وویل: کاشکي زما داسې پلار وی لکه بابا چې دی، ټوله ورځ به مې د هغه خدمت کولی ، دده نه به مې ښې ښې خبرې زده کولی زه به ایله په ژوند پوه شوی وی. یوه ملګرې هغه ته وویل: بابا خو په غیر ددینه زمونږ مربي لارښود او استاد دی د پلار نه یې مونږ ته قدر او منزلت ډیردی، شپه او ورځ راته تاریخي واقعات ،د وطن دوستۍ درس، اسلامي تعلیمات ؛ د ظالمانو په مقابل کښې دمقاومت د مجادلې زده کړه، د وطن دولس د نیکمرغه بختور ژوندون اوسمون لیارې راښیي. د وطن د خلکو د نیکمرغۍ، د اخلاقي جرئت او زړورتیا خوږې خوندورې خبرې راته کوي. د سیاسي مبارزې د اصولو درس د وطن دوستۍ د ملي اصولو په اساس پخپلو ساده خبرو کښې راته وایي او مونږ پرې پوهوي ،په هره موضوع کښې چې له مونږ سره بحث کوي ښه یې راته تحلیلوي تر څو چې د خپلې علمي پخې تجربې په اساس مونږ پرې ښه پوه کړي. د بابا وجود زمونږ دپاره د خدای لوی نعمت دی.

یو بل ملګرې خپل نظر داسې ښکاره کړ: مونږ لومړی په هیڅ نه پوهیدلو که بابا له مونږ سره پدې کاریدور کښې نه وی ، مونږ به وختي د چکرې مبصر تلقین او خبرو وژلي وی ، هر کله چې به چکرې زمونږ کوټې ته راغې داسې به

يې ويل: توبې وباسئ ددې ځاى نه څوک ژوندى نشي وتلى د نن سبا خبره ده ما تر اوسه پدې پنځوس شپېتو کالو کښې داسې سړى ندى ليدلى چې ستا سې پشان بندي وي او هغه ژوندى خلاص شوى وي.

د چکري خبرې ځانله د شيخ لالا ډېرې خوښيدلې دواړو چې به خپل ګپ شپ سور کړى ؤ نو لومړى خبره به يې داوه: ډېر وخت تير شويدى او لږ پاتې دى. خداى مو دې ايمان نه خطا کوي، مرګ حق دى خلاصون ترې نشته دى د نکير او مُنکر سره سوال و ځواب ډېر سخت دى، دا دوه ورځې دنيا ده تيريږي. بې له مرګه مو بل هيڅ شي ته انتظار نه درلود شپه او ورځ مو دا فکر کاوه چې نن سبا به مرګ راځي دا ځکه چې د شيخ لالا او چکري خبرو موږ داسې ځپلي او تر روحي فشار لاندې راوستلي وو چې هيڅ دراتلونکي ژوند فکر مو نه کاوه. خو کله موچې د بابا خبرې واوريدلې او موږ ته يې دسختو او مشکلاتو په مقابل کښې د ظالم د ظلمونو له منځه وړلو دپاره خبرې شروع کړې چې تاسو ته پخپل راتلونکي ژوند کښې د خپل وطن او ولس د خدمت دپاره د ناشکن مقاومت مسؤليت درپه غاړه دى! چې د بابا خبرې مو واوريدې بيا مو خپل ځان ته فکر شه او د ژوند په اصلي معنى پوه شوو چې خلک ژوند د څه دپاره کوي او دظالمانو او د وطن او ولس له دښمنانو سره سرى مبارزه پداسې سختو شرايطو کښې چې کوټه قلفيان وي څنګه وکړي؟ د وطن د ترقى او دولس د نيکمرغه ژوند د اساسي حقوقو اخيستلو دپاره مبارزه چې دواقعي انساني ژوند مفهوم لري، څه ده؟ په کوټه قلفى کښې خو بابا پداسې خبرو داسې مصروف او سرګرم وساتلو چې هيڅ د کوټه قلفى په تنګو سختو خبر نه شوو او نه کوټه قلفي زموږ په نظر کښې داسې راتله چې موږ به روحاً او جسماً ژوبل کړي دا ځکه چې د بابا په خبرو کښې د ژوند انه اصلي غوره هدف پروت ؤ او زموږ په مغزو او مفکورو کښې يې داسې ځاى ونيوه چې خپل ځانونه راته ډېر قوي او توانا ښکاريدل.

يوه ملګري وويل: زموږ د ټولو خبرو د نتايجو پريکړه همدا ده چې د ګران

وطن افغانستان د خلکو د دښمنانو سره زمونږ انقلابي ملي نه پخلا کیدونکې هغه مبارزه ده چې بابا مونږ ته درس راکوې او وایې راته: وطن ستاسې مور ده، وطن مو پلار دی، د خپلې مور پر لمن به تور ناولی داغ نه پریږدئ، د پلار د غیرت جگه شمله به مو نه ښکته کوئ تاسېددې وطن بچیان یاست مال، سر او ناموس به ټول دد ینه قربانوئ. دد ینه وروسته ټول په خندا او ټوکو ټکالو خپلو کوټو ته راغلو .

# زولنې ماتېږي، هیلې غوړېږي

یوه ورځ په کاریډور کښې ځوږ او شور جوړ شه په مونږ پسې کوټې قلف وې د سرمبصر آواز خیژي مبارک مو شه مبارک مو شه! لږ سات وروسته شیخ بهلول زمونږ د کوټې د دروازې په مخکښې ودریده مونږ ته یې غږ کړ: ملک قیس او دهغه ورونه خلاص شول. دری ساته وروسته د هغه ورونه او ملک قیس بیرته راغلل. سر مبصر زمونږ کوټې خلاصې کړې ویویل: مبارک مو شه! شاه محمود خان صدراعظم د کورنیو چارو وزیر غلام فاروق خان راليږلی دی چې ستاسې حال د نیژدې نه ووینې او څو ورځې وروسته تاسې ټول خلاصیږئ. مونږ ټول یې د کوټونه راوښکلو څه وخت چې مونږ د قلعه جدید ددروازې نه راوتلو دوه ؤ بندیانو آهنگرانو خپل میخ سندانونه په مخکه کښې ټکوهلي وو دوسپنې قلمونه او څټکي یې په لاسونو کښې تیار نیولي وو او په مخکښې یې څو جوړې زولنې پرتې وې. آهنگرانو زمونږ دزولنو په ماتولو پیل وکړ چې کله یې زمونږ د څو تنو هلکانو زولنې ماتولې ساړه ساړه او سیلي به یې د افسوس افسوس سره د خپلو خولونه راوښکل او په عین زمان کښې یې مونږ ته د خپلې همدردۍ اظهار هم کاوه. زمونږ د ټولو زولنې یې ماتې کړې، ددهمزنگ د جیل

صنعتي رياست ته يې ننويستلو، څو تنه دريشي کړي خلک په څوکيو ناست دي او زمونږ هغه درې تنه مشران خان محمد خان، شير محمد خان ، عصمت اللّه خان او دوه تنه دهغوی زامن عبدالقادر خان د خان محمد خان زوی، عبدالرحمن خان د شير محمد خان زوی ( دا دواړه ضابطان وو ) پنځه واړه د هغه دريشي کړي خلکو سره ناست دي خبرې کوي مونږ يو کال او ولس مياشتې سره هيڅ نه وو ليدلي د کورنيو چارو وزير غلام فاروق خان خان محمد خان ، شير محمد خان او هغوی ټولو ته وويل : زه شاه محمود خان صدراعظم خاص ستاسې د داړ گيرنې او تسل دپاره راليږلی يم ستاسې ښځې او ماشومان به هم ډير ژر د زنانه جيل نه خلاص شي او حکومت به دهغوی د هستوگنې د پاره يو مناسب ځای ورکړي او په تاسې به هم آسودگي او آرامي راشي او خدای به تاسې هم ډير ژر خلاص کړي. د کورنيو چارو وزير هغوی ته وويل: صدراعظم صاحب چې زه راليږلم ماته يې وويل زما له خوا شير محمد خان ، خان محمد خان دواړو ته ووايه په تاسې د خدای امر شوی ؤ چې دومره تکليفونه او زحمتونه مو وگالل د خدای په نعمتونو به مو ناشکري کړې وي ،گناهونه به مو کړي وي تر اوسه پورې د لوی خدای په تاسې داسې امر شوی ؤ چې نر ، ښځې او ماشومان کوټه قلفيان ياست. اوس لوی خدای په تاسې رحم او مهرباني وکړه چې ټول تکليفونه او زحمتونه يې ستاسې خلاص کړي ټول کارونه خدای کوي. توبې وباسئ چې خدای مو ژر توبه قبوله کړي. هغوی د کورنيو چارو د وزير غلام فاروق خان خبرې په ډير دقت اوريدلې او په آخر کښې ورته هغوی همدومره وويل : مونږ خو هيڅ پخپله گناه پوه شوي نه يو چې څه گناه او خطا مو دلاسه شوې ده خو لوی خدای پخپلو کارونو ډير ښه پوهيږي. د کورنيو چارو وزير هغوی ته په آخر کښې په گوته کړه : ستاسې د ښځو او کوچنيانو د سرپرستۍ دپاره حکومت دوه تنه هلکان ستاسې د ډلې نه خلاص کړي چې د هغوی خدمت او سرپرستي وکړي او ستاسې هغه ټول جايدادونه چې د مخکښې حکومت له خوا ضبط شوي وو د هغوی حاصلات به تاسې ته ستاسې د معيشت دپاره

درکوي، په تاسې دلوی خدای رحم او کرم وشه، پام کوئ چې پدغه رحم و کرم ناشکري ونکړئ؛ کبر او غرور مو په زړونو کښې تیر نشي چې د لوی خدای د دې تکلیفونو نه نور ډیر داسې سخت تکلیفونه شته دي چې بیا به پدې تیر شو و تکلیفونو او زحمتونو شکرونه وباسئ دا یې وویل او مونږه یې بیرته را رخصت کړو، مونږه بیرته خپلو خپلو کوټو ته راغلو.

## دبابا درسونه

دا لومړی ورځ وه چې مونږ د کوټه قلفۍ نه خلاص شوو. زه د بابا کوټې ته لاړم هغه شیخ بهلول ایراني ته هم پخپله کوټه کښې ځای ورکړی ؤ. په کوټه کښې د بابا یو کټ پروت ؤ او یو څو کتابونه د زاړه میز په سر منظم پراته وو او یو غټ ترپال یې د کوټې په منځ کښې پروت ؤ چې نیمایي کټ شوی ؤ او نیمایي په کوټه کښې غوړیدلی ؤ چې دا د شیخ بهلول بستره وه. بابا ماته وویل بچې ورشه کتابچه او قلم دې راوړه څه خبرې چې له تاسره کوم هغه ټکي په ټکي ولیکه چې یو ټکی درڅخه هم پاتې نشي. زه به یې درته په کرار کرار وایم چې ته ټول ولیکې غلطۍ به یې وروسته درته اصلاح کړم.

بابا زما نه پوښتنه وکړه: بچې څوک راغلي وو؟ څه یې درته ویلي؟ ما بابا ته د کورنیو چارو د وزیر ټولې خبرې ټکي په ټکي وکړې ما چې به بابا ته د کورنیو چارو د وزیر خبرې کولې هغه به زما د خبرو په منځ کښې کله موسکی غوندې شه او کله به یې په قهر جنه لهجه داسې وویل: اوس خپل ظلمونه او ناروا وې د خدای پورې تړي! ما چې بابا ته خپلې ټولې خبرې وکړې هغه یو سوړ او سیلی وکیښ او ویې ویل: بچې! لوی خدای په هیڅا ظلم نه کوي انسان ته یې په مځکه کښې د خلیفه لقب ورکړیدی دا دانګلیسانو حلقه بګوش غلامان د خپلو شیطانٔ صفتو بادارانو په شان په لوی خدای تومتونه لګوي، ظلمونه او

نارواوې دوى پخپله وکړي او بيا وروسته وايي دا ټولې د لوى خداى له طرفه دي، دوى هر يو پخپله نعوذ بالله خپل ځان ته د لوى خداى خطاب کوي ځکه داسې خبرې کوي او په خپله په دې ډير ښه پوهيږي تش د لوى خداى په نامه ناپوهه خلک غولوي، ناپوه خلکو ته دوکه او فريب ورکوي ، دوى هر يو د ظلم او استبداد هغه متحرک ژوندي بتان دي چې د لعنتي لوى ابليس د مدرسې د شيطاني کتابونو ټولې پاڼې يې لوستلې دي- دعامو خلکو دغولولو، فريب او دوکه ورکولو په چال چلند کښې ډير زښت مهارت لري. لږ سکوت يې وکړ او بيا يې د خپلې خبرې لمنه په هيجاني لهجه داسې وغوړوله: نادر ټګمار ته چې کله خپل لوى شيطان انګريز بادار نقشه جوړه کړه او له فرانس نه راروان شه! کله چې هندوستان ته راورسيده نو د خپلې جوړې شوې نقشې په عملي کولو يې پيل وکړ او دهندوستان ټولو خلکو ته يې وويل: چې زه راغلى يم د امان الله خان د پاره د کابل تخت و تاج نيسم، زه پخپله هيڅ نه غواړم چې پاچا شم زه امان الله خان پاچا کول غواړم او هغه بيرته راولم نو د هندوستان د خلکو له خوا ورته په مليونو مليونو چنده راټوله شوه او په ټول هند کښې هغه هندوستانيانو نر او ښځو ډير ښه استقبال کړ. دا ځکه چې انګريزانو ته دا پوره پته وه چې دهندوستان ټولو خلکو ته امان الله خان هردل عزيز او محبوب القلوب دى. د امان الله خان سره دهندوستان د خلکو مينه دومره زياته وه چې انګريزان ددينه ډاريدل چې امان الله خان د افغانستان او هندوستان خليفة المسلمين نشي د انګليسانو مستعمرې په ټوله دنيا کښې د بل هر حکومت نه ډيرې وې او دا ورته پوره پته وه که د امان الله خان سلطنت دوام وکړي د انګليسانو نه د هندوستان مستعمره دلاسه وځي او نورو مستعمرو ته يې هم خطر پيدا کيږي نو همدا وجه وه چې انګليسانو د امان الله خان حکومت ته سقوط ورکړ چې خپلې مستعمرې يې تر ډيره وخته پورې په لاس کښې پاتې شي.

نادر ټګمار د خپل انګليس بادار په نقشه پاچا شه خو کله چې هغه پاچا شه نو بيا يې هيڅکله د امان الله خان نوم په خوله ياد نکړ، د سلطنت په پيل کښې

يې ټول هغه ملي وطنپال کسان له منځه ويوړل او بيا يې وروسته خپل سلطنت د انګليسي بادار د نقشې مطابق د عمل چال چلند جارې ساته. د بابا په خبرو کښې لږ تغير راغی ما چې هغه ته وکتل په نوراني پاکه ږيره يې د مخ د کاسې نه اوښکې راروانې وې چې داسې يې وويل: نادر ټګمار چې د لوی فرعون پشان د مرنجان په تپه کښې په مړينې باندې د افتخار او اعزاز اهرام چې زمونږ د وطن د بيوزلو خلکو د هډونو او غوښونه جوړ شويدی او د لوی فرعون داهرام پشان يې ودرولی دی د يحيی د ظالمې ټګمارې کورنۍ د اولادې خيال او فکر به دا وي چې په ژونديني به ددې غريب افغان ولس وينې څښي او بيا چې کله مړه شي نو د مرنجان د تپې پدغه فرعوني اهرام کښې به د شان و شوکت سره خښيږي.

د يحيی د ټګمار اهل بيت خيال او فکر به داوي چې داسې وشي خو دوی د زمانې د بدلون د حوادثو هيڅ اټکل کولای نشي. پداسې حال کښې چې بابا د خپلو سترګو اوښکې پاکولې وېې ويل: بچی ضرور او خامخا به د تيرو شوو انقلابونو د تاريخي حوادثو په اساس داسې ورځ راځي چې د خلکو د غضب او قهري انقلاب سره به مخامخ کيږي محوه او نابوديږي به انشا ءَالله تعالی.

کله چې ظالم شاهي خونخوار خسي هاشم خان صدراعظم اتلس کاله مسلسل د صدارت په چوکۍ د خپل فرعوني قدرت سره کار وکړ او دافغانستان د وطنپالو ملي خلکو په بنديانو لو او ډول ډول عذابونو ورکولو ستړی شو نو بيا يې د صدارت چوکی خپل بل ورور شاه محمود خان ته پريښوده چې د افغانستان خلک پدې وغولوي. د افغانستان شريف خلک د يحيی غلامې کورنۍ بې تعليمه ساتلي چې دوی د پوهې خاوندان نشي خو اصل حقيقت دا ؤ چې ټول افغانان د هاشم خان د ظلمونو نه ډير په تنګ شوي وو او ددغه ظلمونو په مقابل کښې افغان ولس پاڅيده نو د عامو خلکو د ذهنيتونو د بدلون په خاطر يې شاه محمود خان ته د صدارت چوکۍ پريښوده دا خو د يحيی اهل بيت د حکومت داوږدوالي يو جوړ شوی انګليسي ريفورم ؤ چې يو بل ته حکومت پريږدي او خلکو ته دا ښيي چې مونږ په افغانستان کښې تحول راوستل غواړو

خو دغه تحول ځانله د سلطنتي دربار چار چاپير چورلي. بچی دا غولوونکې صحنې ډېرې ژر ښکاره کېدونکې دي بابا خپلې خبرې کولې دهغه د خبرې په مينځ کښې شيخ بهلول وويل:

سبا دې ټولو کوټه قلفيانو له چې د کوټه قلفی نه خلاص شويدي ډوډی کوم. بابا ورته وخندل شاباس ډېر ښه فکر دې کړيدی. بابا زما املا وليدله وېويل: بچی يو ټکی درنه پاتې شوی ؤ هغه تا ليکلی نه ؤ هغه ما وليکه. نور دې ټول ټکي په ټکي ليکلي دي. زه بيرته خپلې کوټې ته لاړم زمونږ کوټې ته عبدالغفار خان سرحددار ، سرور جويا او غلام نبي خان چپه شاخ فرقه مشر ، سيد امير خان پاچا او نور د کاريڼور ټول بنديان راغلي وو . خندل يې خوشحالي يې کوله ټوکی ټکالی يې کولې د چکري مبصر د ملاماتو او زړه غورځوونکو خبرو پورې يې مسخرې او ملنډې کولې.

## د زولنو تأثير

مائيگرؤ مونږ ټول د خپلو کوټو نه راووتلو د قلعهٔ جدېد د ويالي پغاړه گرځيدلو د قلعه جديد بنديانو به له مونږ سره په ډيره مينه روغبړ کاوه او زمونږ په ليدلو هغوی ډېر زيات خوشحاليدل.

دا ديو کال او لسو مياشتو نه وروسته لومړی ورځ ده چې مونږ په خپله خوښه له نورو بنديانو سره آزاد گرځو خپل آزاد گپ شپ ورسره لگوو. مونږ سم گرځيدلی نه شوو دا پدې چې مونږ له زولنو سره آموخته شوي وو ، د قدمونو موازنه مو برابره نه وه يو قدم چې به مو اخيستهٔ بل قدم به مو بی اختياره راته جگيده ، په لاره چې به لږ تونده تللو تيندکونه به مو خوړل نور و بنديانو به راته ويلې د احالت پر مونږ هم تير شويدی دا ټول د زولنو تاثير دی. په مونږ هم څو ورځې داسې چل کيده خو وروسته بيا په عادي تگ کولو عادت شوو .

ددې بنديانو په منځ کښې يو ترکمن بندي ؤ الاقل نوميده هغه ويل

مادوولس کاله پوره زولنې په پښو کښې وګرځولې درې کاله مخکښې بې چې رانه زولنې ماتولې د زولنو د ماتولو د مبخ سندان نه څو قدمه مخکښې لاړم راولویدم پاڅیدم چې یو قدم دوه مې واخیستل بیا راولویدم . آهنګر راته وویل: تا د زولنو سره عادت اخیستی دی اوس بې زولنو ګرځیدل تاته تکلیف درکوي اود قدمونو موازنه دې خرابوي په کرار کرار به ورسره عادت شې . د آهنګر خبره رښتیا وه دوه هفتې پوره زه سم زغرد نشوم ګرځیدلی د پښو د قدمونو موازنه مې هیڅ نه برابریدله. خو بیا وروسته ورسره کرار په کرار بلد شوم. تاسې به ورسره ډیر ژر بلد شئ تاسې زولنې لږې ګرځولې دي.

## دمولوی یار محمد یاري

د ویالې پغاړه همداسې ګرځیدلو چې د دهمزنګ د عمومي جیل نه، یو جګ غبر ګ غنم رنګه قوي هیکله سړی چې شنه مشهدی لونګی بې پر سر وه ، «دنب بودنه» (۱) ړیره یې درلودله چې د یوه مجرب پوخ سیاست مدار ترجماني یې کوله زمونږ د کوټه قلفۍ له خلاصیدونه خبر شو ی او راغلی ؤ ددې سړی نوم مولوي یارمحمد ؤ او اصلي ځا ی یې په مقر کښې و دغه منور مولوي؛ وطنپال ملي لوی شخصیت د کلک ایمان، ارادې او عزم خاوند ؤ. دا به په ځای او معقوله وي چې لږ د مولوي یارمحمد په اصلي بنه رڼا واچوو او ویې پیژنو څکه داسې د تاریخ نه ورک خلک زمانه پخپله خلکو ته وروپیژني .

د غازي امان الله خان د سلطنت په دوره کښې انګریزانو ملي خائن عبدالکریم ته (چې د یعقوب خان وطنفروش لمسی ؤ) پناه ورکړې وه او په افغانستان کښې یې د ګډوډۍ دپاره د ې ته ساتلی ؤ چې د امان الله خان په ضد

---

(۱) د نب بود نه یا فرانسوي ږیره

د انګریزانو په تحریک د جنوبي خلک راپاڅوي او ذهنیتونه یې خراب کړي. د انګریزانو پالیسي داوه چې د اسلام نه بې خبره نیمچه تنګه سري بې علمه ملایان به یې د امان الله خان په ضد ولسول چې ناپوهو خلکو ته د اسلام په نوم تبلیغ وکړي چې د افغانستان پاچا امان الله خان کافر شویدی بیا به یې د دې اسلام دښمنه بې علمه ملایانو شا ته ملي خائن عبدالکریم ته په ملیونونو؛ ملیونونو روپۍ (کالدارې) ورکړې او د پاچایي اعلان به یې پرې وکړ.

د منګلو په بغاوت کښې چې د انګریزانو له خوا د غازي امان الله خان په ضد د ملای لنګ او عبدالرشید او نورو انګریز مشربو ملي خائنانو د دسیسو جوړولو په وسیله راپورته شوی ؤ چې عبدالکریم ملي خائن هم پدې بغاوت کښې د افغانستان د پاچایي اعلان کړی ؤ خو د منګلو دغه بغاوت چې د انګریزانو د پالیسۍ ښکاره یوه نمونه وه، د کونړ (۱) د غازي، ملي وطنپال شخصیت میر زمان خان ترمشرۍ لاندې د کونړ د جنګي او مضبوط اولسی رضاکار لښکر په مرسته غلی او خاموش شه او یاغیان یې کوټ و باټ او تار په تار کړه. ملای لنګ او نور ملګري یې ګرفتار کړه او غازي امان الله خان د منګلو د بغاوت د خاموشه کیدلو په نسبت د کونړ میر زمان خان ته د صداقت نشان او د لوی خان اعزازي لقب ورکړ.

دلته د هغه قلمي نسخي نه چې په سیف الامان مسمی ده او د منګلو د بغاوت ذکر پکښې شویدی او د پښتو په نظم مولانا عبدالخالق اخلاص لیکلې ده چې په خپله په دغه ولسي داوطلبانو کښې و او ټول د منګلو د جنګ واقعات یې پخپلو سترګو پخپله عملاً لیدلي دي یو څو بیته دلته رانقلوم:

یو کاغذ عبدالکریم دلته تحریر کړ — په نامه یې د لوی خان هسي تزویر کړ
پادشاهي ده اوس زما په حال خبر شه — که طالع دې وي راځه زما نوکر شه
ټول تابع مې د فرمان سمت جنوب دی — که ته وکړې سرکشي نصیب دې ډوب دی
زما جنګ ته ټینګیدی شي کله ته — د مردانو کوې لافې ځلـه ته

---

(۱) دا بغاوت چې د کونړ د غازي شهید جنرال لوی خان میر زمانخان د دولس سوه اولسي لښکر او دولسي جرګو په اساس غلي او خاموشه شو، د سیف الامان په کتاب کښې یې پوره تشریح شته.

چې دا خط میر زمان خان ملاحظه کړ
له غضبه یې في الحال تیکه، تیکه کړ

دا جواب یې ورته ښکل کړ له غضبه
چې واقف شه د یعقوب زویه ثعلبه

زه راغلی له کونړه ستا د پاره
ارماني یم ستا له جنګ لویه مکاره

دادې چېرته اوریدلي اې ناپاکه
چې شیران نوکري کله د رویاه که

ستا سر شوی اول نه ؤ په مردانو
ته ګیلړ شوې سر کرده د بیزوګانو

سبا ورځ به معلومي زما او ستا شي
یا به ستا یا به زما لافه ریښتیا شي

دهمدغه قلمي نسخې له یوې بلې برخې څخه:

فراري عبدالکریم چې کړی خیال ؤ
غټ یې خیال د پادشاهی کړی محال ؤ

ښه مهین یې کل کړل بریت او ږیره دواړه
تور لباس یې د زنانو کړ پغاړه

نیمه شپه روان په غلا شه له شمله
ګریزان شه په تیرا له چله وله

هندوستان ته شه ورکوز زما صاحبه
او س خبر شه له احواله عجائبه

هندوستان کښې چې انګریز پدې خبر شه
د کابل دلوی دولته یې خطر شه

له دې خوفه یې رابند عبدالکریم کړ
په «پونه» کښې یې رابی هغه لئیم کړ

مولوي یارمحمد په خپله خوله دا خبره کوله: یوه ورځ وطن پرست انقلابي ملي مبارز مولوي یارمحمد د غازي امان الله خان سره ملاقات وکړ او هغه ته یې وویل: زه هندوستان ته ځم او ملي خائن عبدالکریم وژنم چې انګریزان پدې پوه شي چې د افغانستان د خلکو دښمنان د انګریزانو د لمنې لاندې هم نشي خلاصیدلی.

غازي امان الله خان د ملي مبارز انقلابي وطنپال مولوي یار محمد سره داخبره ومنله، خدای پاماني یې له هغه سره وکړه او ورته ویې ویل دعا راته کوه.
مولوي یارمحمد د ملي خائن عبدالکریم د وژلو پسې هندو ستان ته ولاړ د بمبئی ښار ته نیژدې په (پونه) نومي کوچني ښار کښې ملي خائن عبدالکریم هستوګنه درلوده هر مازیګر به د څلورو ارابو په بګی کښې سیل ته راواته د

نوموړي ملي خائن ځای بې پیدا کړ، انګریزانویې تینګه ځارنه اوساتنه کوله چې ځوکیې مړ نکړي. دوه ځوکیدار به ورسره په وسله سمبال په بګۍ کښې ناست و و یوه ورځ مولوي هغه په بګۍ کښې ولیده د سلام او احترام مراسم یې هغه ته په ځای کړه ځو ورځې مسلسل مولوي د دې ترک او چل نه کار واخیسته چې په هغه ملي خائن یې ځان وپیژانده او هغه یې ځان ته ملتفت کړ چې زه ستا وفادار یم په پونه او خواشا کښې ملي خائن عبدالکریم په شاهزاده معروف او مشهور شوی ؤ ملي انقلابي مولوي د عبدالکریم د وژلو په پروګرام کښې پوره بدلون راوستی ؤ دد دې خاص وجه دا وه چې زیرک او تجربه کار مولوي د شرایطو د ښه تحلیل له مخې داکار کړی ؤ هر مازیګر چې به عبدالکریم هغه تاکلي ځای ته د سیل دپاره په بګۍ کښې د خپلو ځوکیدارانو سره تلو؛ وطن پرست مولوي به مخکښې د مخکښې نه خپل ځان هغه ځای ته رسولی ؤ.

ځو ورځې وروسته عبدالکریم له مولوي سره ښه پوره وپیژندل او دغه پیژندګلوي دری میاشتې وروسته په کلکه دوستی بدله شوه. د مولوي جذابو خبرو هغه دیته مجبوره کړ چې خپل هستوګنځي ته یې راولي خو هغه ورسره دا نه منله.

مولوي هغه ته د تل دپاره داسې سیاسي خبرې کولې چې د افغانستان ټول خلک دامان الله خان نه نفرت کوي او دداسې خبرو په ترڅ کښې به یې خپل ځان هم د امان الله خان د سرسختو نه پخلا کیدونکو دښمنانو په ډله کښې معرفي کاوه. خائن شاهزاده او مولوي به کله کله د شطرنج لوبه کوله. هغه به مولوي کله دی ته مجبور کړ چې ماځیګر په بګۍ کښې د هغه سره یو ځای سیل صفا ته ولاړ شي. پر عبدالکریم باندې د مولوي خبرو دومره اغیزه وکړه چې په زور یې هغه خپل هستوګنځي ته راوسته او د ټینګې دوستی او ملګرتیا لاس یې ورکړ.

یوه ورځ عبدالکریم د مولوي نه داسې پوښتنه وکړه: ما ځو ځله دا فغانستان دپاچایي د نیولو تکل وکړ خو هیڅ پرې بریالی نه شومه؟ ته ماته دا

ووایه چې زما د نه بریالي کیدو سبب ستا په نظر څه شی دی؟ مولوي داسې ځواب د هغه پوښتنې ته ورکړ: زما په نظر ستا د نه بریالی کیدو سبب دادی چې د افغانستان خلک د انګریزانو سره سخت مخالفت لري او په ډیره بده سترګه ورته ګوري او د خپل وطن دښمنان یې ګڼي هغوی داسې فکر کوي چې تا انګریزان افغانستان ته رالیږي او که دا خبره نه وي او ته پخپله افغانستان ته ولاړ شې او د پاچایي اعلان وکړې، ته سل په سلو کښې د افغانستان د تخت و تاج خاوند یې او خلک تا خپل پاچا کوي، دا ځکه چې دا فغانستان خلک د امان الله خان سره سخت مخالف دي او دښمني ورسره لري. وطنپرست هوښیار فصیح زبان مولوي عبدالکریم داسې د خپلو خبرو تر تاثیر لاندې راوستی ؤ چې هغه خپلې خبرې نه وې خلاصې کړې چې عبدالکریم هغه ته وویل: ته خو اوس زما وفادار او اعتمادي ملګری یې او شکر الحمد لله په سپاست هم ډیر ښه پوهیږې زما دپاره د افغانستان د تخت و تاج د نیولو یو ښه منظم پروګرام جوړ کړه او دایې ورته هم زیاته کړه کله چې زه پخپل مرام بریالی شوم؛ ته به زما وزیر اعظم یې.

مولوي په ډیر متانت او زیرکتیا هغه ته څرګنده کړه: اوس خو سمدستي ددې کار سرته رسول زما په عقیده امکان نلري که د شاهزاده خوښه او رضا وي زه به د یو څو ورځو دپاره افغانستان ته پټ لاړ شم د هغه ځای د حالاتو نه به پوره ځان خبر کړم نو بیا به دواړه په سلا او مشوره باندې د افغانستان د تخت و تاج د نیولو پروګرام جوړ کړو.

د مولوي دا خبرې د شاهزاده ډیرې خوښې شوې هغه بالکل داسې فکر کاوه چې د خپل ملګري په نظر داخل زه د کابل پاچا کیدلی شم په ډیره وا رخطایی او الهیته تو ګه یې هغه ته وویل: نور دلته ستا پاتې کیدل ښه کار ندی، ته به سمدستي افغانستان ته ځې او دهغه ځای په ټولو حالاتو به ځان پوره پوهوې او بیرته به ځان ډیر ژر ماته رارسوې چې زمونږ پلان وروسته پاتې نشي. کله چې

وطن پرسته مولوي د عبدالکريم په ډير اصرار او ټينګار د هغه نه رخصت شه چې افغانستان ته لاړ شي په ډيره مينه دواړو خدای سپارلي وکړه.

مولوي په خپل زړه کښې ډير زښت خوشحاله ؤ چې په خپل طرحه شوي پلان به څو ورځې وروسته بريالی شم. مولوي يوه مياشت وروسته بيرته (پونې) ته ولاړ عبدالکريم هره ورځ د هغه راتلو ته سخت انتظار او دوه سترګې په لاره وو کله چې عبدالکريم؛ مولوي يار محمد خپل وفادار ملګری وليده نو په خيال او فکر کښې يې داسې راغله چې زه پس له دې د کابل پاچا يم د هغه نه يې پوښتنه وکړه :څومره ډير وخت دې تير کړ؟ څه تکليف خو دې ونه ليده؟ هغه ورته په سياسي موسکا د متانت په لهجه داسې ځواب ورکړ: ډير وخت خو مې تير نکړ او تکليف مې هم ونه ليده خو څوک چې د څه شي په باره کښې پلټنه او جستجو کوي بايد ډير په ژور نظر او کامله دقت د هغې په چاپيريال کښې کره کتنه وکړي.

اوس ما په افغانستان کښې خپل ټول معلومات ډير ښه تکميل کړيدي او د شاهزاده د پاره مې د پاچايی د نيولو پلان په بريالی توګه د ځان سره راوړی دی. عبدالکريم چې د خپل ملګري نه داخبرې واوريدې د هغه نه يې په ډيره بې صبری د افغانستان د پاچايي نيولو د پروګرام غوښتنه وکړه.

مولوي په ډيره روښانه او ساده لهجه شهزاده ته د خپل ټول پلان د تنظيم دسرته رسولو په باره کښې په ډيره هوښيارتيا او احتياط داسې څرګنده کړه: په افغانستان کښې د امان الله خان دښمنان ورځ په ورځ ډيريږي ټول خلک د هغه نه ډيره کرکه کوي او په بده سترګه ورته ګوري. د افغانستان ټول خلک اوس فقط ديته انتظار باسي چې کوم شاهزاده افغانستان ته راشي او د پاچايي اعلان وکړي. زه پدې پوره ډاډه يم او ډيره ښه پته راته لګيدلې ده که شاهزاده د انګريزانو نه په پټه جنوبي وزيرستان او يا کندهار ته ولاړ شي او د افغانستان د پاچايي اعلان وکړي ټول خلک يې ملاتړ کوي او بيعت ورته کوي.

عبدالکریم هغه ته دیو سوړ او سیلي په وښکلو څرګنده کړه : د انګریزانو څخه به څرنګه زه پټ دافغانستان سرحدي کرښو ته ولاړ شم. مولوي په ډیر مهارت او کامله جرأت د خپلې خبرې لنه داسي وغوړوله :که د شاهزاده سلا او رضا وي دا خو ډیر ساده او آسانه کار دی. دا بالکل ممکنه او کیدونکې خبره ده چې شاهزاده روغ رمټ ، صحیح او سلامت دافغانستان سرحدي کرښو ته ننوځي او په خپل مقصد بریالی شي. هغه وویل د کابل د پاچایي د نیولو د پاره چې تاسې هر پلان زما د پاره جوړوئ زه یې په عملي کولو کښې اقدام کوم.

هوښیار پوه سیاست مدار قهرمان مولوي، عبدالکریم خان ته داسې په ګوته کړه: تاسې به لومړی پدې مضمون یو لیک ولیکئ : زه دافغانستان د تاج و تخت حقیقي وارث وم څو ځله چې مادې کار ته عملي اقدام وکړ ، زه پخپل اقدام موفق نه شوم نو زه نور دداسې یې ننګه ژوند نه خپل مرګ بهتر ګنم او خپل ځان مې په خپله مړ کړ . کله چې شاهزاده خپل لیک لاس لیک کړ بیا به دواړه د دریاب غاړې ته ولاړ شو جامې به وباسې د خپل کمیس په جیب کښې به دا لیک کیږدې زه به تاته د ښځو جامې او بقره راوړم ته به هغه د ښځو جامې واغوندې او بقره به په ځان واچوې او د ښار په بله برخه کښې به یو کور کرایه ونیسو ته به هلته لاړ شې زه به بیا وروسته چیغې او ناري جوړې کړم چې شاهزاده خپل ځان دریاب ته وغورځاوه کله چې پولیسان راشي او ستا د کمیس د جیب نه ستا خپل لیک را وباسي د هغوی ټولو به دا یقین راشي چې شاهزاده پخپله ځان دریاب ته غورځولی دی. په اخبارونو کښې به ستا د مرګ واقعه هم اعلان شي او د ټولو خلکو به هم داخبره زړه ته ولوېږي چې شاهزاده ځان دریاب ته غورځولی دی او مونږ به روغ رمټ د افغانستان خاورې ته په خیر ننوځو او د خپل پلان په عملي کولو کښې به بریالي شو.

د مولوي دا خبرې د شاهزاده په زړه پټې ولګیدې سمدستي یې قلم او کاغذ را واخیسته دلیک په لیکلو یې پیل وکړ: په خپل لیک کښې یې کټ مټ هماغه

څه ولیکل چې ورته په ظاهر وفادار ملګري او په باطن سرسخت دښمن ویلي وو څه وخت چې هغه خپل لیک بشپړ کړ او خپل لاس لیک یې پرې وکړ. هوښیار پوه تجربه کار سیاسي مولوي خو مخکښې د خائن شاهزاده د وژلو پلان جوړ کړی ؤ. لیک د عبدالکریم په مخکښې پروت ؤ چې مولوي هغه په تمانچه په سر وویشته مړ یې کړ او تمانچه یې دهغه په خوا کښې کښېښوده، د کوټې نه بیدیا را وواته شور او غالمغال یې جوړ کړ چې شاهزاده خپل ځان په تمانچه وویشته، پولیسان د شاهزاده کوټې ته راغلل چې ګوري شاهزاده مړ پروت دی تمانچه یې په خوا کښې پرته ده او هغه لیک یې د میز په سر باندې پروت دی چې هغه په خپل لاس د خپل مرګ دپاره په خپله لیکلی ؤ: پولیسانو چې دهغه خپل لیک ولیده داورته ثابته شوه چې شاهزاده خپل ځان په خپله وژلی دی.

وطنپال ملي انقلابي مولوي یار محمد څو ورځې وروسته بېرته خپل ګران وطن افغانستان ته راغی له غازي امان الله خان سره یې ملاقات وکړ او د ملي خائن عبدالکریم د وژلو جریان یې هغه ته ووایه. غازي امان الله خان د هغه په وطن دوستۍ او میړانه ډیر خوشال شه او هغه ته یې د افغانستان د سرلوړي زوی په سترګه کتل. د نادر فرعون تېګماري کورنۍ هغه مولوي یارمحمد ډیر ښه پېژانده چې غازي امان الله ورته دوه سوه جریبه مځکه او یو د صداقت نښان د عبدالکریم ملي خائن په وژلو کښې ورکړی ؤ.

دغه وطن پرست ملي شخصیت د نادر د کورنۍ دلاسه ډیر زیات تکلیفونه او زندانونه لیدلي وو چې اوس هم په سیاسي پلمه سیاسي بندي ؤ او څوارلس کاله بندیخانه یې تیره کړې وه په ارګ، شیر پور سرای موتي او دهمزنګ کښې.

# خورد تعمیراو د خلیفه دردوونکې کیسه

مونږ یې د قلعۀ جدید د سیاسي مخصوص د کاریدور نه د دهمزنګ د جیل یوې بلې برخې ته چې په خورد د تعمیریې شهرت درلوده راوستلو، دا هغه ځای ؤ چې زمونږ مشران خان محمد خان، شیر محمد خان او عصمت الله خان او دهغوی دوه زامن عبدالقادر خا ن او عبدالرحمن خان او د ملک قیس د کورنۍ څلور تنه کشران غلام صدیق، محمد صدیق، شیر علم او محمد علم زمونږ د مشرانو سره په تعمیر کښې یو ځای کوټه قلفیان وو. دا څلور تنه یې د خپلو مشرانو سره د قلعه جدید د سیاسي مخصوصو په کاریدور کښې هلته یو ځای کړه دا امر د کورنیو چارو وزیر غلام فاروق کړی ؤ چې د دغو دواړو کورنیو کشران دې دخپلو مشرانو سره یو ځای شي مونږ چې د خپلو مشرانو سره یو ځای شوو د خپلې کوټه قلفۍ د تنګو سختو کیسې به مو کولې. هغوی د کوټه قلفۍ د یوه بندي کیسه داسې کوله: له مونږ سره یو ښایسته غښتلی ځوان کوټه قلفي ؤ چې په خلیفه مشهور ؤ دا اوزبک ځوان دروس د جاسوسۍ په تور نیول شوی ؤ د شکنجو او د عذابونو د ظلمونو په ژرنده یې د بدن ټول عضلات میده، میده او اوړه اوړه شوي وو په یو نیم متر کو ټه کښې کوټه قلفي ؤ د دې ازبک ځوان روحیات ډیر لوړ او احساسات یې ډیر ژوندي وو کله چې به د هغه کوټه مبصر خلاصه کړه زمونږ د ټولو کوټه قلفیانو پوښتنه به یې کوله، خندل به یې ټوکې به یې کولې د ملانصرالدین د خندا تکلونه به یې مونږ ته کول د مایوسۍ څیره یې نه پیژندله، تل به یې د خندا نه خوله ډکه وه، همیشه به یې مونږ ته ویل: د ژوند په هره مرحله کښې انسان باید خپل ځان توانا او غښتلی وګڼي، همت او اخلاقي فضیلت د لاسه ورنکړي، په هر ډول تکلیفونو او تنګسو کښې د انساني کرامت په لحاظ خپل ځان شکسته؛ عاجزه او ځپلی نه کړي! دهغه مفکوره عزم او اراده

ډېره ټينګه او پخه وه.

د خليفه مفکوره د خوشحال خټک د دې فرد په اساس د عزم او ارادې په ښه ولاړه وه:

که فلک دې د زمري په خوله کښې ور کړي
د زمري په خوله کښې مه پرېږده همت

په شپه او ورځ کښې به يې خليفه ته يوه وچه ډوډۍ ور کوله ، بستره يې ورته نه پرېښودله په نم جنه يو نيم متره کوټه کښې به شپه او ورځ پروت ؤ. ژمي خپل دواورو سپين څادر د دهمزنګ د جيل د بامونو د پاسه او لاندې وغوړاوه ، د سړو او يخو بادونو څپاندو څپو او اوازونو بې پوشاکه لوڅو لغړو بنديانو ته د هلاکت خبر ورکاوه ،د يو نيم متر کوټې د کوټه قلفې دروغتيا حالت ورځ په ورځ خرابيده ، په ټول بدن پورې يې داسې د سپږو چکونه نښتي وو چې د مخ کاسه غوړونه، پزه يې هيڅ د سپږو دلاسه نه معلوميدل، په لاسونو او پښو شل شوې شه د هغه د کوټې په مخه کښې چې به تيريدلو په دې حال کښې به هم هغه د پخوا په شان مونږ ته نکلونه کول؛ خندولو به يې داسې به يې ويل: د انساني کرامت خارق العاده قوت نه ماتيدونکی قوت دی، په ژوند کښې هر ډول مشکلات د دې قوې په برکت او زور له منځه ځي، ژوند او مرګ دوه هغه توري او کلمې دي چې دواړه په خپل وخت پورې تړلي دي ، ژوند د حرکت او زور نوم دی ،مرګ د سکون او ناتوانۍ نوم دی، تر څو پورې چې په انسان کښې سا ښکته او پورته ځغلي خپل ځان دې دسکون او ناتوانۍ مرحلې ته نه سپاري د بدن په رګونو کښې چې وينه ګرمه وي او سره شوې نه وي خپل ځان دې توانا او زوردار وګڼي د سکون او ناتوانۍ مرحلې ته دې ځان نه سپاري او په خپل زړه کښې دې د ژوند نوم په مرګ بدل نه کړي.

د خليفه دروغتيا د حالت د خرابيدو له امه مبصر راغی دهغه کوټې ته ننووت بير ته ژر راووت مونږ ته يې وويل: د خليفه په کوټه کښې داسې سپږې

او خزنده شوي چې ما په خپل عمر کښې داسې سپږې او خزنده ندي ليدلي او هغه ډېر زيات ناروغ دی، د مرګ سره لوڅې پوڅې کوي.

مبصر اجازه واخيسته چې هغه د جيل روغتون ته چې تش په نوم روغتون دی يوسي، دوه تنه جاروکشان بنديان يې راوستل هغوی خپل د خاورو زمبيل د خليفه د کوټې په مخکښې کېښوده جاروکښانو هغه په ډېر تکليف د کوټې نه راوښکه په زنبيل کښې يې واچاوه څه وخت چې جاروکښانو خليفه زمونږ د کوټې په مخه کښې تيراوه غږيې وکړ: کوټه قلفيانو ملګرو په خدای سپارلي؛ زه اوس ژوندي يم زور او حرکت لرم په يوه لغته دد همزنګ جيل تول رنګولی او غورځولی شم خو پدې ډاريږم چې تاسې د بامونو لاندې نه شئ! مبصر ته مو غږ کړ: کوټه مو خلاصه کړه چې له خليفه سره خدای سپارلي وکړو! مبصر زمونږ کوټه خلاصه کړه جاروکښانو زمبيل د حويلی په منځ کښې د سپينو واورو د ډېرې د پاسه کښېښوده مونږ چې خليفه وليده شل شوې د سپږو د سو تکړي پشان په ډېره بې رحمی چې هلته انساني کرامت په وحشت بدل شوی ؤ په زمبيل کښې پروت وو. د هغه مخ، سترګې غوږونه، پزه او لاسونه د سپږو دلاسه پټ شوي وو نه ښکاره کېدل. نری خيرې د نمجنې کوټې تم وهلې خو سابد بويه جامې يې د سپږو دلاسه نه معلومېدې تنکی غرمه وه د خليفه د زمبيل نه سپږې ښکته رواني شوې د سپږو نه سو تکوري چونګړي د سپږو بهير وخوځاوه.

داد خليفه وروستی خبرې وې: کوټه قلفيانو ملګرو! زه ژوندی يم که په خپله حرکت کولی نشم وګورئ د سپږو لښکرې مې خوځوي او حرکت راکوي ژوندی يم، هر څه کولی شم، د ملانصرالدين نقل درته وکړم که خپل.

مونږ پدې خبره ډېر وخندل او د خليفه د ثبات، عزم او توانايي او دهغه د انساني کرامت د عظمت مقام راته څرګند شو. جاروکښانو خپل د خاورو زمبيل چې اوس د خليفه زمبيل دی د خورد تعمير د حويلی نه وښکه. مبصر شانه غږ وکړ: د خليفه دبدن د پوستکي نه نورې سپږې راوو تلې دهغه زور او حرکت پای

ته ورسيده ، د سکون او ناتوانی د خاورو په زمبيل کښې بې حرکته پر يووت،
داد يحيى د ظالمې انسانيت دښمنې کورنی د ظلمونو يوه نخښه ده چې
دافغانستان دراتلونکي نسل د عادلانه قضاوت له مخې به څېړل کيږي او
دافغانستان د واقعي تاريخ په هنداره کښې به ددې ظالمې، افغان دښمنې، ملت
دښمنې د انگريز نوکرې کورنی ظلمونه او فجائع ښکاره کيږي.

د يحيى کورنی د افغانستان د ملت ټول مقدرات د خپل بادارا نگريز په
لاس کښې ورکړل چې د يحيى د کورنی د سلطنت دوره اوږده او ټينگه وساتي
او د افغانستان په ولس داسې ظلمونه وکړي چې هيڅ کړي نه وي او د
افغانستان په ملت داسې استعماري او استثماري د ظلمونو رلی واوروي
څومره چې کولی شي خو دافغانستان ملت هيڅکله د استعماري او استثماري
ظلمونو د زورونو رلی په ځان نه اوروي د خپل وطن د ښمنو کسانو په سرونو يې
تل رلی اورولې او او روي به يې.

## د کاکو کيسه

مونږ به هره ورځ د خورد تعمير نه د قلعۀ جديد د مخصوصو سياسي بنديانو
کاريدور ته راتلو.

دبابا ، شيخ بهلول او سرور جويا نه به مو خپل درسونه لوستل، خورد تعمير
اووه کوټې درلودې او دکوټو ښی خوا يعني د کړکی شاته يې د جيل د صنعتي
مديريت يوه لويه عمومي تحويلخانه وه چې هره ورځ به بنديانو دغه تحويلخانې
ته صنعتي جوړ شوي مالونه راوړل او پدغې کښې به ځای په ځای کيدل.

دلته زمونږ اوقات ډير تريخ وو دا ځکه چې دخورد تعمير دديوال د حويلی د
ديوال سره مخامخ دلوی تعمير د کوټو ديوال جوخت نښتی ؤ او شاته صنعتي
تحويلخانه پر ته وه د ورځې له خوا به په تحويلخانه کښې د بنديانو شور او

غالمغالۀ اود شپې له خوا به په لوی تعمیر کښې د بندیانو جنګونه او خراوې وې.

هر مازیګر چې به شه دد همزنګ د جیل عمومي سر داریاشي چې ملا به یې په ځادر کلکه تړلې وه ټول بندیان شمیرل دری ځلور داباشیان او ځلور پنځه عسکر به ورسره ملګري ووا و کله چې به دبندیانو شمیر پوره وخوت نو داباشي به د قرنتین د برج سرته جګ شه او په جګ آواز به یې د بندیانو د خیریت غږ وکړ او که شمیر به پوره ونه خوت نو بیا به یې په ډیر قهر او منت بندیانو ته ویل:

کراړې پخپلو کوټو کښې کښینئ او ځئ او راوځئ ځله! دا لومړی ځلۀ چې مونږ د میږو او وزو پشان شمیرل کیږو . دلته په لوی تعمیر کښې یې ټول هغه قماربازان، کیسه بران، قاتلان، غله او همداسې د نورو بدو عملونو او فعلونو مجرمان بندیان اچولي وو چې څو څو ځله زندان ته راغلي او بیرته خلاص شوي وو. د لوی تعمیر په بندیانو کښې یو کندهاری بندي ۀ چې عثمان نومیده او د دهمزنګ د جیل د ټولو بندیانو په منځ کښې یې په (کاکو) شهرت لاره کاکو خپله د بند کیسه داسې پیل کوي:

زه د لسو کلونو وم چې مور او پلار مې دواړه وفات شول، کاکا مې خپل کور ته راوستم هغه هم مړ شو، د کاکا په کور کښې مې د هغه یوه ښځه او یوه لور وه د کاکا ښځه مې د خپلو ورونو کورته ولاړه، زه په تش او خالي میدان پاتې شوم له سموار چي سره نوکر شوم او بیا یو څه موده وروسته د سموار چي نه راووتلم د یو موټروان سره کلینر شوم کلینری خوند رانکړ، کندهار ښار ته راغلم په مزدوری پسې ګرځېدلم چې څو ورځې وروسته مې مزدوري پیدا کړه، د قصاب سره نوکر شوم، د کور کار به مې ورته کاوه او حلال کړي پسونه مې ورته هم څیرول هغه ماته د میاشتې دیرش روپۍ، ډوډۍ او جامې راکولې په هغه وخت کښې دیرش روپۍ ډیره ښه مزدوري وه دوه کاله مې پوره له قصاب سره نوکري وکړه.

يوه ورځ مې د قصاب پسونه د ښارنه بيديا څرولو ته بېولي وو چې د پسونو له بلې يوې لويې رمې سره مې پسونه ګډ شول پدې وخت کښې له ماسره د يو بل قصاب مزدور هم وو چې هغه هم خپل پسونه څرول خپل پسونه مې له رمې جدا کړه چې د هغه بلې غټې رمې څخه لس چاغ غټ پسونه زما د پسونو سره يو ځای راغلل د هغه بل قصاب مزدور راته وويل: که ستا خوښه او رضا وي راځه چې دا لس پسونه دواړه په يو قصاب خرڅ کړو خورا ډيرې ښې روپۍ کيږي روپۍ به دد دواړو شريکې وي. ماورته وويل: پدې کار زه هيڅ نه پوهيږم ما په خپل ژوند کښې کله داسې کار ندی کړی که ته يې خرڅولی شې ډيره ښه شوه زما درسره بالکل خوښه ده، هغه د پسونو د خرڅولو کار په خپله ذمه واخيست او ويويل ما مخکښې دا کارو نه ډير کړيدي، دا ډير آسان کار دی، زه ددې کار دپاره خلک لرم چې پسو نه پرې خرڅ کړم. هغه لس پسونه خرڅ کړه او روپۍ دواړو مونږ پخپلو منځو کښې وويشلې څو ورځې وروسته مو بيا د هغه لويې رمې څخه چې د څو ورځو را پدې خوا دلته څريدله او د کوم بل ځای نه نوې راغلې وه څوارلس پسونه غلا کړل. زما ملګري د مخکې ځل پشان دا پسونه هم په خپل بيپار قصاب خرڅ کړل نيمايي روپۍ يې ترې واخيستې او نيمايي نورې ورته پاتې شوې وې.

سبا دواړو ملګرو خپل پسونه څرول ، دواړو خبرې کولې چې ګورو دوه تنه عسکر او يو قصاب زمونږ په لور راروان دي زما دملګري چې په قصاب او دوو تنو عسکرو سترګې ولګيدلې او قصاب يې وپيژانده دوه پښې يې خپلې وې او دوه يې نورې کړې د سترګو په رپ کښې زمونږ د سترګو نه فنا شه وتښتيده خو کله چې قصاب عسکروته وويل: بل ملګری يې دادی، دا ټينګ ونيسئ چې داد ر څخه ونه تښتي! ما هغوی ته وويل: څه خبره ده؟ او ولې زما ملګری وتښتيده زه قصاب يوه سخته څپېړه په مخ ووهلم و يويل حراميانو د غلامالونه په ما خرڅوئ او بيا وايې چې څه خبره ده اوس به په خبره پوه شې.

لاسونه يې راته شاته کلک وتړل دخپلو ځانو سره يې قوماندانۍ ته راوستم قوماندان ډېر زيات ووهلم د وهلو په زور يې راباندې اقرار وکړ دومره زيات يې ووهلم چې د بدن په وينو مې کميس او پرتوګ کلک ښتي وو قوماندان راته په آخره کښې دومره وويل: ته پاچا يې غل يې بايد ته ضرور مړ شې! زه پدې خبرو هيڅ پوه نه شوم، څو ورځې وروسته يې ولچک او زولانه محکمې ته بوتلم قاضي زما نه اقرار وانخيست، زما نه يې هيڅ پوښتنه ونکړه. دومره يې راته وويل: ستا هغه اقرار مې شرعي کړ چې تا په تحقيقاتو کښې په خپله غلا اعتراف کړی ؤ.

ما قاضي صاحب ته وويل: د سوټو په وهلو په قمچين کاری يې راباندې په زور اقرار کړيدی هغه زما په خبرو پورې وخندل راته وېويل: په حبس ابد محکوم شوې! زه د قاضي پدې ټکو پوه نه شوم پوښتنه مې ور څخه وکړه: تا ماته څه وويل؟ پوه نه شوم؟ هغه ځواب راکړ: ما داسې فيصله وکړه هغه قصاب چې تاسې پرې مالونه خرڅ کړيدي يو په څلور دې د مالونو تاوان ورکړي ته او ستا هغه بل ملګری چې اوس تښتيدلی دی په عمري بند محکوم شوئ ما چې د قاضي نه د عمر ي قيد کلمه واوريده ورته څرګنده مې کړه: تا کله څوک د څو پسونو په غلا عمري قيد کړيدي. هغه راته وخندل وېويل: ته پوهېږې چې دا پسونه د چا دي؟ ورته مې وويل: دومره مې د قوماندا ن نه واوريدل چې ماته يې ويل: پاچايي غل يې، ماخو د پاچا کنډر ندی وهلی غلا مې نده کړې.

هغه وويل: قوماندان درته رښتيا ويلي دي دا پسونه چې تاسې غلا کړيدي، دا د صدراعظم صاحب کبير محمد هاشم خان پسونه دي. قوماندان د پسونو د غلا ر پوټ وختي صدارت ته ورکړيدی: هغو دوو تنو مشهورو غلو چې پنځه شپيته پسونه غلا کړي وو يو تن ګرفتار شوی او بل ملګری يې وتښتيده چې ژر به هغه هم ګرفتار شي او په کوم قصاب چې يې پسونه خرڅ کړي وو قصاب هم خپل غله حکومت ته معرفي کړي او دواړو غلو په غلا اقرار کړيدی، د صدارت

نه بیر ته ددغه ریوټ ځواب راغلی دی او قوماندان ته یې امر کړیدی چې دغو غلو ته داسې سنګینه او درنده جزا ورکړئ چې بیا بل غل د صدارت د مقام صدراعظم کبیر محمد هاشم خان په پسونو غرض ونکړي.

قاضي په آخر کښې ماته دا وویل: اوس د صدارت دغه امر ستا په دوسیه کښې ستا د تحقیق سره چې ستا اقرار هم پکښې شته یو ځای دی، زه څه کولای شم ستاسې جزا مې د صدارت د امر په اساس ستاسې دپاره وټاکله. دغه پسونه د قارون وارث د فرعون سکه ورور صدراعظم کبیر محمد هاشم خان د کندهار او ارغسان د مالدارو څخه د خپلو بریڅو حاکمانو په زور ظلم اخیستلي وو چې د هرات په لاره یې ایران ته بوځي او هلته یې خرڅ کړي. پدې وخت کښې د نړۍ دویمه عمومي جګړه نښتې وه او خارجي یرغلګرو ایران نیولی ؤ په ایران کښې د خوراکي شیانو مخصوصا د غوښې ډیر زیات قلت ؤ صدراعظم کبیر د غریبو مالدارو نه دغه د پسو نو رمې د حاکمانو په زور ظلم اخیستې وې او د قاچاق په توګه یې د خپلو بریڅو قاچاقبرو په واسطه ایران ته بیولې چې هلته یې په ډیره او لوړه بیه خرڅ کړي. دغه ملي لوټمار او خونکار صدراعظم کبیر د افغانستان د خلکو ملي شتمني په زور، ظلم، چل او فریب لوټ او تالا کړې. عثمان کاکو به هر چاته دا ویل: ما چې د صدراعظم کبیر څو پسونه غلا کړه په عمري بند یې محکوم کړم او هغه ظالم چې د حاکمانو په زور ظلم د غریبو مالدارونه په زرو نو پسونه سوچه په ظلم زور اخلي هغه ته هیچا څه ونه ویل زما د غلا نه خو دهغه د غلا جرم دومره زیات دی چې هیڅوک یې حساب کولی نشي که اوس ورته څوک څه ویلی نشي خو هیڅوک بې حسابه پاتې کیدی نشي یوه ورځ به له ده سره هم حساب وشي.

# زمونږ د ښځو او ماشومانو خلاصون

زمونږ خويندې ، ميندې او ماشومان چې په زنانه توقيف کښې بنديان وو هغوی يې د زنانه جيل نه را خلاص کړل او په څلورمه کار ته کښې يې د دهمزنګ جيل ته نيژدې د وزير عبدالرحيم خان په کلا کښې واچول.

د دينه يوه ورځ وروسته د جيل انضباطي او صنعتي لوی مدير عبدالخالق خان زمونږ حويلۍ ته راغی او ويې ويل: ستاسې د زنانه توقيف ټولې ښځې او ماشومان بنديان خلاص شويدي د هغوی د سرپرستۍ د پاره خپل دوه تنه هلکان وټاکئ چې صدراعظم شاه محمود خان امر کړيدی چې دوه دوه تنه هلکان دې د مير زمان خان او ملک قيس د کور نيونه د هغوی د ښځو او ماشومانو بنديانو د سرپرستۍ د پاره خلاص شي او زياته يې کړه :اوس سمدستي دوه تنه هلکان وټاکئ چې د کورنيو چارو وزارت ته يې بيايم چې د کورنيو چارو وزير غلام فاروق خان يې د شاه محمود خان صدراعظم په حضور مشرفوي. د جيل لوی مدير زمونږ له خوا نه دوه تنه محمد نادر خان او خوشحال خان او د ملک قيس د کورنۍ نه محمد علم خان او شير علي خان د خپل ځان سره د کورنيو چارو وزارت ته بوتلل.

د کورنيو چارو وزير هغو څلور واړو ته داسې وويل: کله چې ما تاسې د صدراعظم صاحب په حضور مشرف کړئ ډيرې خبرې به نه کوئ خاموش، لاس په نامه په ادب به ودريږئ. نور خپل عرض و داد به نه کوئ، که ستاسې نه صدراعظم صاحب د خپلو بنديانو پوښتنه کوله تاسې به ورته وايئ: هغوی ټولو ډيرې دعاوې در ته کولې. ستا د سر خير يې غوښته ستاد عمر او بږدوالی يې د لوی خدای نه غوښته.

د دې خبرو د کولو نه وروسته يې صدارت ته بوتلل او د صدراعظم صاحب په

حضور یې مشرف کړل. صدراعظم شاه محمود خان هغوی ته وویل: هوش کوئ چې د حکومت په خلاف هیڅ حرکت ونکړئ، د حکومت په ضد څه اقدام مو دلاسه ونشي، که کله حکومت ددې نه خبر شه چې تاسې د حکومت خلاف څه کار کړی دا ځل به داسې شکنجه او عذاب ووینئ چې هیڅ کله مو په ژوند کښې لیدلی نه وي. دحکومت د قهر او غضب په څپیړه که دا ځل ووهل شوئ بیا به له مځکې راپورته نه شئ او د ژوند سا راکښل به دریاندې حرام وي د خپلو خبرو په آخر کښې یې هغوی دیته ملتفت کړه: اوس تاسې د زندان نه ما خلاص کړئ خو زما خبرې چې هیرې نکړئ.

په ځای ددې چې دغه د عیش و نوش د بیرو کراسی مربي او د سلطنتي دربار د مقام لوی خبرلوڅ تږ کمار فراش باشي دغه څلور تنه هلکان په ښوونځیو کښې شامل کړي وی او دهغوی دراتلونکي نیکمرغه ژوند ډیوه یې روښانه کړې وی هغوی یې دیوه زندان نه وښکل او په بل زندان کښې یې واچول، په خپلو کورونو کښې یې نظربند او یرغمل وساتل، په ظاهر کښې خویې ددوی کورنۍ پدې خوشحاله کړې چې دوه دوه تنه هلکان مو درته د زندان نه خلاص کړل خو په باطن کښې یې په ژوندینې فلج او بیکاره کړل. د علم او معرفت د زده کړې نه یې محروم او بې نصیبه کړل او د ژوند د طلایي چانس ځوانۍ نه یې د تعلیم استفاده ونکړه. داستعماري دیکتاتورۍ عمده خواص دادي چې ملي وطن پرستان تر هغه وخته پورې د شکنجو او عذابونو لاندې وساتي چې د وطن پرستۍ ملي ژوندي احساسات د هغوی د بدن په رګونو کښې مړه کاندې او بیا په خپله ګټه ترې کار واخلي او که هغوی ته دا څرګنده شي چې د وطن پرستۍ ملي احساسات یې د مغزونه، نه وځي نوبیا یې د مرګ تر ورځې پورې دډول ډول شکنجو لاندې ساتي دا ثابته شوې او روڼ حقیقت دی.

ربښتیا نې با وجدانه ملي انقلابي وطن پرستان هیڅکله له خپل ولس او وطن سره خیانت نه کوي او دهر ډول مشکلاتو په مقابل کښې تحمل او زغم

کولی شي.

بابا چې به کله په قار شه نو داسې به یې ویل: د یحیی د ظالمې بیروکراتې کورنۍ نه سیاست معلوم دی او نه یې د وطن د پرمختیا طرحه او پلان. دغه ظالمه ،فاسده، انګریز مشر به کورنۍ دا خیال او فکر کوي چې د خپل بادار په مرسته او کومک به مونږ ه د تل دپاره د کابل پر تخت ناست یو ، په وژلو بندیانولو به افغانان محوه او نابود کړو او مونږ به د خپل انګریز کاکاجي په حمایت تل خپل عیش و نوش کوو او د خلکو په سترګو به پټۍ لګوو او هر څه چې مونږ له افغان ولس سره کوو خلک دغه نه ویني.

خو داسې نده اې د استعمار بریڅو د افغانستان خلک او ملت په خپل وطن کښې د خپل ملي ازاد سیاست نه پرته بل سیاست نه پرېږدي او په کلکه یې غندي تاسي تاریخ وګورئ.

## زمونږ دوړیو ماشومانو راتلل

د سهار اته بجې وې چې زمونږ د خور د تعمیر په کوچنۍ حویلۍ کښې شور او غالمغال جوړ شه، دغه شورا و غالمغال د بندیانو نه ؤ ، مونږ د خپلو کوټو نه راووتلو لس دوولس خپل هغه ماشومان مو ولیدل چې دوه ورځې مخکښې د زنانه توقیف نه خلاص شوي وو ،ددهمزنګ د جیل د یوې دروازې سردار باشي او یو موظف ضابط راوستل، مونږ ته یې غږ وکړ: دا ټول نام خدای ستاسې ماشومان دي چې ستاسې د لیدلو دپاره راغلي دي څومره ډېر ماشومان مو دي. مونږ ټولو ته د خپلو هغو معصومو کوچنیانو ځیرې په سترګو کښې منعکس شوې چې د لوږې او سپږو د لاسه د یحیی د کورنۍ د سور اور په نمرودي کنده یعنې په زنانه توقیف کښې تنکي ځوانیمرګ شوي وو ، ددې ماشومانو له څو تنو سره د خوږل شوو خربوزو د ترازو پوټکي وو چې د بهرنه یې له ځانونو سره

راوړي وو، مونږ ماشومان خپلو کوټو ته راننویستل هر یو د ډوډیو پوښتنه کوله: ډوډۍ نشته دي لږه ډوډۍ راکړئ دا ماشومان دومره د لوږې تاړاک وهلي وو چې په خولو کښې یې په غیر د ډوډۍ د نوم نه بل څه نه وو؟

رنګونه یې داسې سپیره شوي وو چې سړي به فکر کاوه چې دایرو په ډیران کښې چا منډلي دي، د ډوډیو په لیدلو ټولو خپله زښته خوشحالي ښکاره کوله ددینه دا په ډاګه سړي ته معلومیده چې په زنانه توقیف کښې پرې ډیره لوږه تیره شویده له هر یو کوچني سره چې به مو خبرې کولې په کورونو کښې خیریت ؤ؟ څوک خو پکښې اوس ناروغ نه وو؟ هغوی هر یوه به داسې ځواب راکولو: بیګا مو ډیرې ډوډۍ وخوړلې اوس دلته له تاسې سره نورې ډوډۍ نشته دي؟ که دلته له تاسې سره څه ډوډۍ وي مونږ ته یې راکړئ کورونو ته یې وړو.

د دهمزنګ د عمومي جیل په نانوایي کښې دوه ډوله ډوډۍ پخیدلې: ډبل ډوډۍ او خاصه نرۍ ډوډۍ. د ډوډیو تبنګی چې به د جیل صنعتي کارکوونکو ته خپلې ډوډۍ راوړلې تبنګي به ځینې ډوډۍ د کارکوونکو دپاره خرڅولې دیوې یو پاو یزې ډوډۍ بیه دری (شش پولی) وه پدې وخت کښې ز مونږ ماشومان له مونږ سره په کوټو کښې ناست دي د ډوډیو تبنګي د حویلۍ په منځ کښې غږ وکړ: دخرڅلاو ډوډۍ راسره شته دي څوک ډوډۍ اخلي؟ زمونږ دماشومانو چې د ډوډیو په ډک تبنګ سترګې ولګیدې ټولو د ډوډۍ په تبنګ پسې رامنډې کړې د تبنګي نه را چاپیر شول او د ډیرې خوشحالۍ نه یې نیغ نیغ دا انګونه وهل.

د هغوی دا فکر شه چې دا ټولې ډوډۍ یې مونږ ته راوړې دي نو له ډیرې بې صبرۍ نه یې په ټولو ډوډیو حمله وکړه. تبنګي چې د ماشومانو دا حال ولید وارخطا غوندې شه، د ډوډیو په تبنګ یې خپل ځان وغوړاوه ویویل: دا څه کوئ؟ اوس پنځلس خاصه ډوډۍ او اتلس ډبلې ډوډۍ د خرڅلاو دپاره لرم صبر وکړئ صبر وکړئ اې دقحطي ملخانو په ډوډیو چور مه جوړوئ، روپۍ راکړئ

چې ډوډۍ در کړم.

ماشومانو په چیغو چیغو ژړل او ډیر اصرار یې کاوه: مونږ ته ډوډۍ واخلئ کورونو ته یې وړو! د تبنګي نه مو شل ډوډۍ واخیستلې او ټاکلې بیه مو ورکړه. د دینه وروسته هر ماشوم خپلې ډوډۍ کلکې د تخرګ لاندې ونیولې هر یو ډیر زیات خوشحال ؤ خندل یې د دې صحنې په لیدلو مونږه ټولو ته پته ولګیدله چې ډیره لوږه پرې تیره شویده ،ماشومانو له مونږ سره چای وڅښه ډوډۍ مو ورله په دسمالونو کښې وتړلې بیر ته خپلو کورونو ته ولاړل.

## د حکومت له خوا زمونږ د حاصلاتو د روپیو راکول

څو ورځې وروسته د کورنیو چارو د وزارت له خوا یو هیأت راغی ویویل: ستاسې هغه جایداد او حاصلات چې مخکښې ضبط شوي وو اوس تاسې ته بیرته د هغه د حاصلاتو روپۍ د حکومت له خوا درکولې کیږي. مونږ غواړو چې ستاسې د نارینه ؤ او د ښځو ټول لستونه واخلو چې د یو ې ورځې د مصرف د پاره ستاسې د هغه لسو تنو خپلوانو سرې سر درې، درې افغانۍ، د ښځو دپاره څلور افغانۍ، د نارینه ؤ پنځه افغانۍ دحکومت له خوا تعین شویدي. بو څه روپۍ یې هم د ځان سره راوړې وې هغه یې مونږ ته واکړې. زمونږ ټول لستونه یې واخیستل بیرته لاړل.

دا لومړۍ ورځ ده چې د حکومت له خوا یې مونږ ته د خپل جایداد د حاصلاتو نه روپۍ راکړې. خوشحال خان او محمد نادر خان چې زمونږ د ماشومانو او ښځو د سرپرستۍ د پاره خلاص شوي وو هغوی ته مو روپۍ ورکړې چې زمونږ په کورونو کښې روپۍ ورکړي، مونږ به هره ورځ قلعهٔ جدید ته تللو د بابا عبدالعزیز کندهاري ، سرور جویا او شیخ بهلول نه مو خپل درسونه لوستل. پدې ورځ درس ته لږ ناوخته راغلو بابا زمونږ درس ته د ناوخته راتلو د

علت پوښتنه وکړه هغه ته مو د کورنیو چارو د وزارت د هیئت په باره کښې مفصل تشریحات ورکړل. بابا چرت یوړ لږ سات وروسته یې څرګنده کړه: بچو! تاسې به پدې زندان کښې د یحیی د کورنۍ د ظلمونو داسې ډول ډول جادوګرۍ او مداریتوب او چشم بتدۍ صحنې وویني چې سپین به درته په سترګو کښې توربښایي او تور به درته په سترګو کښې سپین؛ دا ددوی فطري او ذاتي ارتجاعي خواص دي. له دوی سره یوائې او یوائې د خپل ځان غم دی چې په څه چل فریب او مداریتوب د افغانستان خلک وغولوي چې دوی خپل سلطنت قایم، مضبوط او دوام دار وساتي. دوی پدې ډیر ښه پوهیږي چې دافغانستان ملي آزادي غوښتونکي وطنپال خلک زمونږ وینو څښلو ته تیار په دوه پښو ناست دي دا ځکه چې هغوی داد بنګالې ټګه کورنۍ د انګریزانو د شخصي نوکرانو په صفت ډیره ښه پیژني او ددې انګریز مشر بې کورنۍ په ټولو خواصو ډیر ښه پوهیږي چې دا څوک دي؟ افغانستان ته چا راوستلي دي.

دافغانستان ملي وطنپال زامن د یحیی کورنۍ د انګریزانو د شخصي نوکرانو په صفت پیژني هر څه چې هغوی ورته وایي هماغه شان کوي، کوم پلان چې ورته انګریزانو په لندن کښې جوړ کړی دوی په افغانستان کښې هغه عملي کوي.

دادلمر پشان ملي وطنپالو افغانانو ته ښکاره ده او ډیره ښه ورته ثابته شویده چې د یحیی کورنۍ تش په نامه زمامداره ده خو په حقیقت کښې د افغانستان د زمامدارۍ ټولې چارې ددوی دانګریز بادار کاکا په مشوره او سلا ددوی په وسیله په افغانستان کښې اجرا او عملي کیږي، د افغانستان خلکو د تاریخ په اوږدو کښې پخپل هیواد افغانستان کښې زور ظلم او تجاوز منلی او زغملی ندی او هغوی په هر وخت او زمان کښې د بیګانهٔ قدرتونو استعماري چال چلند په شا تمبولی او استعماري سیاست یې تل غندلی دی. د افغانستان د خپلواکو او زړور و وطنپالو خلکو روحیه د طبیعت نه خپلواکه ملي روحیه ده د

بیگانه پرستو استعمارچیانو او دهغوی د گوډاگیانو دروحیې زغم پخپل وطن کښې نشي کولی او دا کار ورته دخپل ملي فرهنگ له مخې چې ددوی آزادۍ ته ضرر او صدمه رسوي او د استعمار په انحصاري جال کښې خپل ځانونه غښتلي گڼي کلک انزجار او نفرت ترې کوي. بابا ژړل او ښکې بې پاکې کړې ویویل: بچو! زما داخبرې د خپلو زړونو په صندوقچو کښې محفوظې او خوندي وساتئ زمونږ په وطن کښې ډیر و استعماري یرغلگرو ډېر زیات بې رحمانه چپاوونه وکړل او افغانان یې مړه کړل کورونه یې ورته تالا او وسوځول ډېرې خرابۍ یې وکړې خو په پای کښې د دغو ټولو استعماري یرغلگرو او دهغوی د مزدورانو د بې رحمانه یرغلونو نتیجه د افغانانو دملي روحیې په طاقت او زور له داسې ماتې، شکست او مرگ ژوبلې سره مخامخ شوه چې تاریخ پرې شاهدي ورکوي.

## پوهېږنس وړې صنعتي کارگران او د ډوډیو غلا

یوه ورځ د هغه لسو تنو خپلوانو بندیانو د لیدلو دپاره د دهمزنگ عمومي جیل ته ولاړم د جیل د پاس او لاندې پوړ او منزل په کوټو او برنډو کښې د بندیانو بسترې ورانې وېجاړې پرتې وې ددغه عمومي جیل دواړه پوړونه ډیر ناولي او چټل وو چې د بدبوۍ دلاسه پکښې تا بلده سړي هیڅ طاقت کولی نشه.

دغه خواران بندیان جبراً مجبوره وو چې دورځې له خوا په وړې نس په صنعتي کارگاؤ کښې کار وکړي او د شپې له خوا ستړي ستومانه پدغه بوی ناکو بدبویه نم جنو کوټو او برنډو کښې ویده شي. د جبر دقانون له مخې هغوی له دغه ناولي بدبویه د خزند و ډک محیط سره عادت شوي وو. پدیکښې د هغه مظلومو بندیانو چې انسانان دي او دانساني کرامت له مخې ورته هیڅ نه گوري

د هغوی لاسونه او پښې د ظلمونو په زنځیرونو کلک تړل شوي وو او د دهمزنګ د جیل په څلورو جګو دیوالونو کښې ایسار شوي او بند کړي وو ، د خپل ژوند د سمښت چارې یې نه شوی برابرولی ، د انسانانو په نظر ورته چا پام نه کاوه پدوی کښې ډیرو کسانو جرم او ګناه هم نه درلوده د بې غوره او خودسره ظالمې بیروکراسۍ د زمامدارانو دلاسه په یو نامه او بل نامه د نمرودي سره اور پدغه کنده کښې غورځیدلي وو چې ټول په ژوندینې سوزیدل.

د ظالمې او جابرې یحیی خیلې نمرودي کورنۍ هیڅ دا په خیال او فکر کښې نه راتله چې دغه بیوزلي خواران بندیان افغانان دي چې پدې وطن کښې دوی حق لري دوی ددې وطن اصیل بچیان دي دا وطن ددوی خپل وطن دی. نه، نه له هغوی سره هیڅکله دا خیال او فکر نه ؤ له هغوی سره د خپل عیش و نوش، عیاشۍ او ډانسونو د سلطنت د بقا فکر ؤ. انسان ته د شرف؛ کرامت او بزرګوارۍ د مقام قائلیدل د هغوی د اشرافیت په قاموس کښې نه موندل کیده. په غیر د خپلې کورنۍ د ځانونو نه په وطن کښې بل چاته د انساني کرامت او احترام په نامه قایل نه وو د غرور او جاه طلبۍ په دنګو او هسکو مانیو کښې د کبر جنې خود پرستۍ په تال زنګیدل.

ددوی د ډبرونه په سختو زړونو کښې هیڅکله د خواخوږۍ دلسوزۍ او بشري عواطفو احساس بالکل نشته دی چې د دردمند بېوزلو بندیانو د حال نه خبر شوي وی. دا زما لومړی ځل دی چې د دهمزنګ د عمومي بندیانو د ژوند حالت پخپلو سترګو د نیژدې نه وینم ما چې ددغو مظلومانو بندیانو حالت ولید د بابا عبدالعزیز ټولې خبرې مې په زړه کښې نیغې ودریدې او زما یې دی ته پوره پام راوګرځاوه چې د دهمزنګ د جیل ټولې برخې د زړه په سترګو ووینم او په ژور نظر ورته وګورم چې هلته د بندیانو څه حال احوال دی او څرنګه ژوندون کوي.

په لاره راروان وم د نوې مستې ځوانۍ د جوش و خروش احساسات مې د

بشري عواطفو د انساني كرامت د خواخوږۍ او دلسوزۍ د وطن دوستۍ د مينې سرشاره غرور مې په زړه کښې په جوش و خروش را پاريدلي وو او په زړه کښې مې د شور نه ډکو هيجاني احساساتو انعکاساتو ځای نيولی ؤ د ملي غرور انقلابي شعارونه مې د زړه په ګرمو ولولو کښې ښکته پورته کيدل. زما وينه ډيره ګرمه وه د زور او قوت نه مې بل څه نه پيژندل، د وطن پرستۍ په مينه د ځوانۍ د زور په قوت مضبوط جوګه ولاړ وم.

نا څاپه مې سترګې په يو څو تنو بنديانو ولګيدلې چې حلقه يې جوړه کړيده ولاړ دي خپل لاسونه يې شاته اړولي دي يو بل ته په مرموز ډول اشاره کوي، د هغوی دغه حالت ته مې په زړه کښې غټه غوټه پيدا شوه، تکل مې وکړ چې د هغو بنديانو په مرموزو اشارو خپل ځان پوه کړم. چې دغو بنديانو خوارانو ته نيژدې شوم داسې صحنه مې وليده : په يو بندي مې سترګې ولګيدې پړمخې يې څملولی دی دوه تنه يې په پښو ناست دي او يو تن يې په سر او دوه کسان ورته ولاړ دي په قمچينو يې وهي او څو تنه يې خواوشا ګرد چاپير ولاړ دي سيل يې کوي ما چې دا غم لړلې صحنه وليده فکر مې وکړ څه لويه ګناه به يې کړې وي چې داسې د قمچينو لاندې يې اچولی دی. د خواوشا ولاړو خلکو نه مې پوښتنه وکړه :څه ګناه يې کړيده ؟ يو بندي راته وويل: ګناه ګناه نشته دی. وړی دی ګناه يې داده چې دوه ډوډۍ يې غلا کړيدي ځکه يې اوس وهي. ما بيا خپل ځان بلې پوښتنې ته جوړ کړی ؤ چې هغه څملولی بندي د جيل دانضباطي مامور په امر را پا څيده داسې پوښتنه يې ور څخه وکړه :رينښتيا رينښتيا به راته وايې په دروغو خلاصيدی نشې ډوډۍ دې څه کړې ؟ هغه بندي په ډيرې بې پروايۍ خپلې ګيډې ته د لاس په يوه ګوته اشاره وکړه: ډوډۍ پديکښې دي صاحبه که ته يې ددينه راوښکلی شې ورشه چاړه راوړه ګيډه مې څيرې کړه ډوډۍ ترې را وباسه.

ددې خبرې په اوريدو سره مې په زړه کښې د احساساتو د سور اور تنور لمبه

شو. د جیل انضباطي مامور ته ورنیژدې شوم هغه ته مې وویل: په دوو ډوډیو دومره وهل او ټکول بیخي د سړي توب کار ندی.

د جیل مامور ما ته پدې خبره لې زیږ او برگ غوندې شه چې خپلې سترگې بې راته په څټ غوندې کړې، ټنډه یې راته تروه او تروشه کړه د قار په لهجه یې راته وویل: ته څوک یې؟ دلته چا راوستلی یې؟ که دومره زړه دې پرې درد کوي د ډوډیو تاوان ورکړه، چټي خبرو او تقریر ته حاجت نشته دی. ما د جیل د مامور نه د خبرې سر ونیوه هغه ته مې وویل: ددوو ډوډیو بیه خو اوس شپږ شش پولۍ ده زه به د دوو ډوډیو په تاوان کښې یوه افغانۍ درکړم دا یوه افغانۍ دغه بندي ته ورکړه چې دغه ډوډۍ یې خوړلې دي. کله چې ما یوه افغانۍ د خوړل شویو ډوډیو بندي ته ورکړه وهل شوي بندي روپۍ د هغه بل بندي دلاسه په زوره واخیسله او هغه ته یې په جدي لهجه دحساب له مخې داسې وویل: اوس په ډوډیو دو چنده تجارت کوې پدې یوه روپۍ کښې ددوو ډوډیو بیه ستا حق دی او څلور شش پولۍ پکښې زما حق دی. څلور واړه گوتې په خوله مه منډه شپږ شش پولۍ دې حق دي، په خپل حق صبر وکړه د بل په حق گیډه مه اچوه.

ددهمزنگ انضباطي مامور یو پیر د پوخ عمر سړی ؤ چاغ شین سری، مې وریجې ویښتان یې درلودل ږیرې پیرې شونډې یې یوه په بله پرته وه، پاس شونډه یې د پزې د سر لاندې کنډوه شوې او ځیرې شوې وه غټې، غټې بتارې بتارې شنې سترگې ار ته کېږه کږ شو په بې غاښونو خوله د ویښتانو نه ډک بیر بیر څپر غوړونه چې په یو غوږ کښې یې لویه د سپینو زرو منډرۍ ددغې منډرۍ په لاندې برخه کښې یو کوچنی غمی هم وو د مهمیزو سر ې موزې یې په پښو وې چې دبندیانو وهل او ټکول دغه مامور ته یوه عادي خبره وه.

د شپې له خوا چې په بستره کښې وغځیدلم د هغه وهل شوي بندي د سوچ په ټالیو کښې لاړم ددواړو پښو غټې گوتې مې د برستنې څنډې ته ولگولې خوب نه راته په یوه ډډه او بله ډډه اوښتم را اوښتم، ډیره شپه تیره شوه له ځان سره مې

فکر وکړ او دا تصمیم مې ونیو چې سبا بیا د دهمزنګ عمومي جیل ته ځم او دهغه بندي د حال احوال پوره پوښتنه کوم چې په څه شي کښې بندي دی؟ د سهار نهه بجې دي د دهمزنګ د عمومي جیل د انضباطي ماموریت په مخکښې ودریدم د یو بندي نه مې پوښتنه وکړه: ته دلته په ماموریت کښې څه کار کوې که څنګه؟ هغه د سر په خوځولو ځواب راکړ: هو! زه دلته په ماموریت کښې کارکوم دما مور صاحب آشپز یم! ماهغه ته د ګپ شپ په منځ کښې داورپه ګوته کړه: پرون هغه بندي چې دوه ډوډۍ غلا کړې وې او مامور صاحب واهه ته هغه پیژنې. څوک دی؟ څه نومیږي؟

-هو! زه هغه غل چکه چور حرامي ډیر ښه پیژنم، امان پناه ترې په کار ده جنت خان نومي اوپه لوی تعمیر کښې دوړیو په ځانګه کښې کار کوي اوس لږ سات ستا نه مخکښې د وړیو د ځانګې انضباط ورپسې ؤ کار ته یې بوته هلته به یې بیا د جړیو د ځانګې سرداریاشي سردار دیوانه وهي.

ـولی؟ په څه؟ بیا یې څه ګناه کړیده؟ هغه موسکی شه . ګناه یې معلومه نده خو وهل یې معلوم دي چې هره ورځ وهل کیږي، دومره وهل چې دا خوارکی خوري که بل څوک یې وخوري د سا بښه به پکښې پاتې نشي، بیا پرې ژوند حرام دی، ډیر کلک پوټکی یې دی، د پیشو سا یې ده.

- نو اوس یې آخر په څه وهي څه ګناه خو به ورپورې ترې چه تا دا ګناه کړیده!

-اوس خو به یې پدې ګناه وهي چې کارته لږ ناوخته راغلی دی.

زه بیرته د نیمایي لارې نه راوګرځیدم لوی تعمیر ته راغلم دوړیو د جړی ځانګه مي پیدا کړه ،د ننه ورننوتم جنت خان یې بیا راڅملولی د قمچینو باران پرې جوړ دی.

سردار دیوانه هغه ته په قار قار لګیا دی او له ډیر قار نه یې داسې ترېسمار او شور جوړ کړیدی چې سړي به خیال کاوه چې مځکه په سوکونو څیروي : ته لږ

صبر وکړه چي زه دې اوس سم روکه کړم، زه به دې اوس د بوسونه پوستکی ډک کړم. ته نه سمیږې چې زه دې اوس سم کړم.

جنت خان ورته د قمچینو باران لاندې نه غږ وکړ: سردار صاحب زه سم رو ک سړی یم خو که تا په وهلو کوږ نکړم، تیره شپه ډیر زیات ناروغ وم، سهار بیخي راپاڅیدلی نه شوم د عمومي جیل انضباطانو د کوټې نه په وهلو او ټکولو راوویستلم او بیا یې د جړیو انضباط ته په مخکښې کړم. سردار صاحب! ته خو مې لږ لاس ونیسه په تندي مې لاس کیږده چې څومره سره تبه راباندې ده. سردار دیوانه هغه ټیل واهه پداسې حال کښې چې خپلې ژامې يې کیلې کړې وې د قهر او غضب نه ورته خوټکیده هغه ته یې داسې وویل: د ماځیگره پورې به یو پاو وړی غونداری کوې که یوه چیتاکی دې په غونداري کښې کمه وه بیا به دي خپل حال ووینې.

## سرحد دار یې ملگری مړ، مال غلا او دی بندي کړ

جنت خان غریب سرې تبې نیولی ؤ د جاړوشویو وړیو په غونداري کولو یې پیل وکړ. زه دهغه په خوا کښې کښیناستم چې ماته یې وکتل ویې پیژندم زما په لیدلو ډیر خوشحاله شو، ما ورته په کراره غلي شان وویل: گوره جنت خانه! یوه پوښتنه درنه کوم خپه کیږې خو نه. هغه ماته وویل: نه! ولې به خپه کیږم؟ هره پوښتنه چې زما نه کوې ویې کړه. هغه د خپلو جاړو شویو وړیو هغه ډیری او ډیری په غیږ کښې واخیسته چې دده په مخکښې پرته وه په یوه گوښه او ځانله ځای کښې کښیناست. ورته ومې ویل جنت خانه! په څه جرم بندي شوی یې؟ سترگې یې له اوښکو ډکې وې خپله د بند کیسه یې داسې شروع کړه: زه د هرات یم په گلران کښې مې کور دی په قام نورزی یم، زه د گلران نه د خپل ماما د زوی سلام الدین سره ایران ته د خوارۍ مزدورۍ د پاره ولاړم، مونږ دواړو په

ایران کښې دری کاله ښه په زړه پورې مزدوري وکړه، ډېرې روپۍ مو وګټلې، دواړو فیصله وکړه چې بو ځل خپل وطن ته د خپلوانو د لیدلو دپاره ځو. څه وخت چې د اسلام کلا بندر ته راورسیدلو د سرحداری عسکرو دواړه ونیولو سرحدار ته یې بو تلو د ماځیګر وخت ؤ سرحدار چکر ته وتلی ؤ د شپې له خوایې مونږ دواړه د خپلو هغو مالونو سره چې په بکسونو کښې راسره وو او د خپلو کورونو او دوستانو د پاره مو راوړي وو سرحدار ته پیش کړو. سرحدار بې له دې نه چې زمونږ نه څه پوښتنه وکړي ځان یې داسې په قار کړ، د مرچو په څېر یې ځان سوور کړ، خپلې د چالاکۍ پټکې یې داسې شروع کړې: تاسې دواړه پاخه قاچاقبران یاست ،تاسې زما نه خلاصیدلی نشئ تاسې هم قاچاقبري کوئ او هم خلک وژنئ. څو ورځې مخکښې ستاسې بو رپوټ ما ته راورسیده: چې دوه قاچاقبرانو یو شپون وژلی دی او د پسونو رمه یې ترې بیولې ده ، ما تاسې ته ټول د سرحداری څوکیدار پیره دار ودرولي وو چې تاسې ګرفتار کړي. اوس په ګیر راغلئ، جزاد عمل حق ده پخپله جزا به اوس دواړه ښه ورسیږئ. زما د ماما زوی سرحدار ته همدومره وویل: مونږه نه قاچاقبران یو او نه مو څوک وژلي دي؟ د خپلو لاسونو په تناکو مو په ایران کښې په مزدورۍ پیسې ګټلې دي، برناحقه او چتې مو ولې ځوروې؟

سرحدار خپلې شونډې په غاښونو کښې کلکې ونیولې عسکرو ته یې د هغه د وهلو داسې امر وکړ : دا قاچاقبر او قاتل خونکار داسې ووهئ چې دغه وهل یې په یاد وي! عسکرو خپل کمربندونه د ملاګانو نه خلاص کړي او په لاسونو کښې یې دوهلو د پاره تیار نیولي وو هغه یې څو کمربنده وواهه چې یو کمربند د سلام الدین په سر ولګیده په مځکه رانسکور راپربوا ته زه بې هم یو څو کمربنده ووهلم. سرحدار وروسته عسکرو ته امر وکړ بکسونه یې زما په کوټه کښې کښیږدئ او دا دواړه خونکار قاچاقبران سخت بندیان کړئ.

سلام الدین همداسې د پخوا پشان په مځکه پروت ؤ عسکرو چې هر څو مره

هغه ته وویل : پاځه هغه هیڅ غږ نه کاوه .

عسکرو هغه د دواړو لاسونو نه ونیوه د مځکې نه یې راجګ کړ ، د هغه خوله د سرو وینونه ډکه شوې وه ، د سا بنبه پکښې پاتې شوې نه وه ،تش لاش ؤ چې د مځکې د پاسه پروت ؤ . سرحدار چې دا حال ولیده وارخطا شه په خوله کښې یې لاړې وچې شوې . ماورته وویل برناحقه دې دا ځوان ولې په وهلو مړ کړ . د سرحدار عسکرو د هغه په امر زه د کوټې نه په وهلو او ټکولو ټیل وهلو راوښکلم. نیمه شپه دوه عسکر او یو میرزا راغی یو څه لیکل شوي کاغذونه یې راوړل ما ته یې وویل: پدې دې ګوته ولګوه !ما ورته وویل: تاسې یې راته ولولئ چې څه شی مو لیکلي دي ؟ هغوی بلې خبرې کولو ته پرې نه ښودم په وچ زور هغه دری تنو عسکرو زما د لاس غټه ګوته په ځو کاغذونو باندې ولګوله او بیا یې زما دواړه لاسونه شاته کلک وتړل زه او زما د ماماد زوی سلام الدین لاش یې د پنځو تنو عسکرو سره په موټر کښې واچولو .

دهرات د قوماندانی په مخکښې زمونږ موټر ودریده ، یو عسکر له موټر څخه راښکته شه یو ضابط یې د ځان سره راووست ، زه یې هغه ته تسلیم کړم ، هر څومره مې چې چیغې سورې او نارې ووهلې : سرحدار زما دماما دزوی قاتل دی ، برناحقه یې په خپل مال په عسکرو مړ کړ ، زمونږ دوه بکسونه مال او پنځه زره افغانۍ هم سرحدار واخیستی ، ډاکمار دی ، قاتل دی په رڼا ورځ خلک وژني پوښتنه ترې وکړئ! هلته زما دې چیغو او نارو هیڅ فایده ونکړه ضابط یو څو څپېړې د پاسه پرې ګرم کړم ،ولچک او زولانه یې کړم ، د هرات جیل ته یې حواله کړم ، یو کال مې د هرات په جېل کښې تېر کړ ، څو تنه بندیان یې د هرات نه کابل ته راوستل ، زه یې هم د هغوی سره کابل ته راوستلم دامې لسم کال دی چې د دهمزنګ په جیل کښې وړی بې پوښتنې پروت یم.

ماته یې ښکته پورته وکتل په تبجنه لهجه یې را ته وویل: زما تش نوم جنت دی ټول عمر مې په دوزخ کښې تیر کړ ، لږ ساعت چوپ شه بیا یې خپل دوړیو د

غونډارې په تاوولو لاس پورې کړ چې تر مازيګره پورې خپل يو پاويز غونډارى د چړشويو وړيو نه جوړ کاندې. هيڅوک د دينه منکريدلى نشي چې ددې وطن په اصيلو زامنو د يحيى ظالمې کورنۍ شهرناپرسان پاچايي او دهغې نوکرانو داسې لوبې کړيدي چې قاتلان ، خونکاران ډاکه ماران او لوټماران دوی پخپله وي او بيا د غريبو او مزدورانو خلکو د لوټولو د پاره داسې د ټګمارۍ چل، فريب دامونه پټ په مخکه وغوړوي چې خپلې ټولې فجائع ، ناروا او ظلمونه پر بل وتپي د بل پغاړه يې واچوي که چيرته د شهر ناپرسان د پاچايۍ د مدور ميز ټولو غړو سم کارونه کولى نو نوکرانويې هم خپل ځانونه اصلاح کول سعدي څه ښه وايي:

اګر ز باغ رعيت ملک خورد سيبى برآورند غلامان او درخت از بيخ

او يا د پښتو دا مشهور متل دی او به چې د پاسه خړې وي ښکته هم خړې راځي.

## ابراهيموف داور په لنبو کښې

په خورد تعمير کښې چې زمونږ مشران کوټه قلفيان وو دهغوی سره يو روسی بندي وو دغه روسي د امان الله خان د سلطنت په دوره کښې افغانستان ته سياسي پناه راوړې وه دهغه نوم نيکلا تورګينوف ؤ د غازي امان الله خان او حبيب الله کلکاني په وخت کښې نيکلا تورګينوف په ضرابخانه کښې کار کاوه نيکلا تورګينف په خپله ويل: زه يې د نادرخا ن د وژلو په ورځ ونيولم. هاشم خان صدراعظم دا په جيل کښې صرف ددې د پاره ساتلى ؤ چې د دهمزنګ د جيل ټولې تخنيکي ځانګې او ماشينونه، لکه د آهنګرۍ ماشينونه، د توکمو د جوړولو ماشينونه: د خرادۍ ماشينونه د ندافۍ ماشينونه او داوړو برقي ژرندې وځاري او ويې چلوي. تورګينوف په يوه سترګه شيرا شوی ؤ چاغ سور او سپين

غټ خمنډي سرې ؤ کلکې دانبور پشان د لاسونو گوتې، اوږده نرۍ پزه، گونجې گونجې مخ، غټ پاک خریلی او تراش کړی سر تل به یې توري عینکې په سترگو کولې او د کار په وخت کښې به یې سپینې نمره داري عینکې استعمالولې. د دهمزنگ د جیل د بندیانو په منځ کښې نیکلا په ابراهیموف شهرت لاره.

ابراهیموف ډیر زیات شراب څښل، د جیل د صنعتي لوی مدیر له خوا به ورته د صنعتي مدیریت د ماشینونو د تیلو د مصرف په نامه په هفته کښې شپږ بوتله شراب ورکول کیده. کله چې به یې هغه ته شراب ورنکړه کار ته به نه ته او یا به یې ماشینونه خرابول. ابراهیموف به د دهمزنگ د جیل صنعتي لوی مدیر ته تل داسې ویل: تر څو چې زما فابریکه چالان نکړې ستا صنعتي فابریکه نشي چالانیدلی. ابراهیموف ته یې څو ورځې شراب ورنکړه، هغه هم کار ته لانه ړه د ډوډیو ځېره یې پرې هم بنده کړه، هغه تنگ شه، د خیاط خانې نه یې یو پنډ بیاتې او قیچې کړې ټوټې راوړې، د خپلې کوټې په کونج کښې یې واچولې، واورې وریدلې ډیر زیات ساړه وو ابراهیموف خپله یوه عرض پاڼه د جیل مدیر ته د سردار باشي په لاس واستوله په عرض پاڼه کښې یې داسې لیکلي وو: دا زما دیارلسم کال دی چې زه بندي یم که د سبا پورې خلاص نه شوم زه مجبور یم چې خپل ځان مړ کړم.

هغه پخپله تاکلې نیټه خلاص نه شو، هغه په ځان پسې د کوټې دروازه کلکه وتړله مېخونه یې پرې ووهل. د ټوټو د ډیریو د پاسه یې د خاورو تیل وشیندل اور لگیدېې ورته وواهه، اور یې ور واچاوه. ابراهیموف خپل ځان پخپله بستره کښې تاو راتاو کړ خپل سر یې پکښې کلک پټ کړ، دهغه د کوټې یوه کوچنۍ کړکۍ چې داوسپنې سیخونه او جالونه یې ورته اچولي وو صنعتي عمومي تحویلخانې ته وتلې وه دخورد تعمیر د حویلۍ فضا او عمومي تحویلخانه دلوگو نه ډکه شوه انضباطان او څوکیدار عسکر د دینه خبر شول په

ټول جيل کښې آوازه خوره شوه چې تحويل خانې اور اخيستې دی انضباطانو او عسکرو ډېرې وارخطايي، دلاسه د تحويل خانې دروازه ماته کړه. تحويل خانې ته چا د لوګي دلاسه سر د ننه کولی نه شو. په ډېر تکليف هغوی د تحويلخانې ټولې برخې وليدلې چې اُور پکښې نشته او ورته معلومه شوه چې لوګی د تحويلخانې د شا له خوا په کړکۍ راځي.

پدې وخت کښې د جيل لوی مدير عبدالخالق هم راغی هغه ته دا پوره پته ولګيدله چې د ابراهيموف د کوټې د کړکۍ نه لوګی راځي. کله چې هغوی ټول د ابراهيمو ف کوټې ته راغلل دروازه يې کلکه تړل شوې وه هر څومره زوروننه يې چې په دروازه وکړه خلاصه نه شوه ، د جيل لوی مدير امر وکړ : دروازه ماته کړئ! بله دروازه به ورته په نجاری کښې نن جوړه کړو! د کوټې دروازه يې ماته کړه کړکۍ يې ورته ښه خلاصه کړه چې ګوري د ابراهيموف د بړستنې يوې څنډې هم اور اخيستی ، ابراهيموف يې د کوټې نه د حويلۍ مينځ ته راوويسته د لوګي دلاسه د ځان نه بې ځانه شوی وو هيڅ حرکت يې کولی نه شو ژېړ زبېښلی تبتيدلی ؤ ډاکتر راغی هغه يې معاينه کړ ويويل ژوندی دی مړ ندی.

د جيل لوی مدير چې د ډاکتر د خولې نه د ژوندي کلمه واوريده. د غشي پشان تيز ولاړه او بيرته د يو انضباط سره راغی ،ابراهيموف ته يې غږ وکړ: پاځه چې ستا فابريکه چالانوم! ابراهيموف ښه شه ، د جيل مدير له هغه سره وعده وکړه تر څو چې ما ستا فابريکه چالان کړې نه وې ته زما فابريکه مه چالانوه.

وروسته د دينه د جيل مدير د جيل نه بيديا په خپلو برقي ژرندو کښې کوټه ورکړه ،د شپې له خوا به هلته د عسکرو د ثارنې لاندې ؤ او دورځې له طرفه به يې د جيل د صنعتي فابريکو په ماشينونو کښې کار کاوه، بيايې ابراهيموف ډير د لاسه ساته که هغه نه وي يا فرضا مړ شي د جيل صنعتي ماشينونه ټول پر چاو بېږي.

يو نيکلاتور ګينوف وو چې د څو تخنيکي ماشينونو د چالانولو دپاره يې پرې لس کاله بند تير کړی ؤ ، د قارون وارث هاشم خان صدراعظم د خپلې شخصي ګټې او منفعت دپاره ديو انسان آزاد ژوند ته قائل نه ؤ او نه يې د خپلې کورنۍ د غړو نه په غير بل چا ته د انسان په سترګه کتل .

## د زندان نه د بابا عبدالعزيز خلاصون

په کوټه کښې ناست يم کتاب لولم چې ناڅاپه بابا عبدالعزيز کوټې ته راننواته ويې ويل: بچی زمونږ د کاريدور ټول زاړه سياسي بنديان چې هر يو پنځلس شپاړس کاله با مشقته سياسي بند تير کړيدی خلاص شويدي، زه هم د خپلو ملګرو په ډله کښې ددهمزنګ د جيل نه وځم نو ځکه دلته راغلم چې تاووينم او خپلې وروستنۍ خبرې در ته وکړم . بابا تر اوسه پورې زمونږ له مشرانو سره ليدل کتل نه وو کړي، هغوی يې نه پيژندل د هغوی سره يې خپله پيژند ګلوي وکړه. بيا يې ماته ګوته ونيوله هغوی ته يې داسې معرفي کړم: دا هلک خو ستاسې زوی دی خو زما زوی هم دی زه په تاسې ټولو دده ټينګه کوم چې له ده سره به ډير ښه سلوک کوئ،دا به ډير ښه روزئ چې د خپل وطن او خلکو د پاره خدمت وکړي. بيا هم ټينګار درياندې کومه چې ډير ښه به يې روزئ . د بې ځايه تعصبي فشارونو دلاندې به يې نه نېسئ خپل ازاد ژوند او آزاد فکر ته به يې پريږدئ زه پدې پوره ايمان لرم چې زما خبرې به نه هيروي په هغو به عمل کوي.

بچی ما در ته مخکښې هم څو ځلې ويلي او اوس يې بيا در ته وايم چې دا مفسده د شهر ناپرسان د سلطنتي دربار د مدورميز ظالم خاندان خدای غرقوي خو زه پدې ډيرډاريږم چې زمونږ دا غريب بې وزله ملت له ځان سره غرق نه کړي.

بابا زمونږ د مشرانو،سره خدای سپارلي وکړه له ماسره په کوټه کښې

کښیناست. ویې ویل: بچې په یاد دې دي که نه چې ما تاته ویلي وو هر څه چې ته په خپلو سترګو وینې او یا در ته واقعیت ښکاره شي هغه به ټول ټکي په ټکي لیکې او د وطن راتلونکي نسل ته به یې د یو رښتیاني امانت په توګه سپارې اګر چې د غه فجائع او ظلمونه چې د شهر ناپرسان د سلطنت کورنۍ زمونږ په غریبو خلکو کړیدي د وطن راتلونکي نسل ته به یوه خیالي افسانه ښکاري دا ځکه چې هغه زمانه به د اوسنۍ زمانې سره ډیر فرق لري خو حقیقت دادی چې دا خیالي افسانه نده دا یو رښتینی واقعیت دی چې مونږه یې په سترګو ګورو.

بچی ته خو خپل ټول د سترګو لیدلی حال او هغه واقعیتونه چې تاته رښتیا معلومیږي دراتلونکي نسل د پاره ولیکه خپل فرائض دې ادا کړه بیا دا د هغوی خپله خوښه ده چې خیالي افسانه ورته ښکاري که واقعیت؟ بچی زه چې تاته خپلې داوروستۍ خبرې د خپلو مخکښې خبرو پشان کومه؛ دامه هیروه زه په دې خوشحاله نه یم چې دزندان نه وځم ماته اوس زندان او بیدیا څه فرق نلري. نن د یحیی د ظالمې کورنۍ د لاسه د افغانستان ټول کلي او ښارونه او بانډې د افغانانو د پاره زندان جوړ شویدی. د هغوی په خولو بې د سکوت مهر لګولی دی. دهغوی په ټولو جسمي او روحي قوتونو یې سخت فشارونه او شکنجې حواله کړیدي چې ملي نمو او وده ونکړي، ددوی دانګریز مشر بې خائنانه پالیسۍ په ضد څه اقدام او عمل سرته ونه رسوي روحاني او ملي قوتونه یې دواړه ژوبل کړیدي. بچی اوس د افغانستان ټولو روشنفکرانو، منورینو او ملي وطنپالو خلکو ته دادلمر پشان ښکاره شویده هغوی ټول دا ملي ضد کورنۍ د انګریزانو د لاس ګوډاګیان ګڼي دوی خپل د سلطنتي دربار د رنځو ملې جادوګرو تورو رانځو طلایي سلایي هغه چاته په سترګو پورې کوي چې د وطن سر د مینه او علاقه نلري، د وطن د خلکو د نیک مرغه ژوند د پاره ورسره هیڅ فکر په مغزو کښې نه وي. دوی هیڅکله د وطن د بیوزلو خلکو د نیکمرغه ژوند د پرمختیا د پاره هڅه نه کوي او حال دادی چې زمونږ د ملي ټولنیز ژوند د

پرمختیا دانډول سمبالښت زمونږ د ټولنې د غریبو خلکو په اقتصادي بنسټ باندې ولاړ دی چې دهمدې اصل په اساس کیدای شي زمونږه افغاني ټولنه د پرمختیا او ترقۍ پړاو ته ورسیږي. خو د یحیی د کورنۍ د زمامدارۍ په دوره کښې دا کار بیخي ممکن ندی، ترڅو پورې چې دغې مفسدې کورنۍ خپلې استعماري او استثماري زیلۍ زمونږه په وطن کښې ښخې کړې وي؛ زمونږه افغاني ټولنه به څپلې او خوار و زاره وي خو دا درته وایم که دوی هر څومره خپلې د ظلم او استبداد خلک وژونکې زیلۍ په وطن کښې ښخې کړي، د ټګمارۍ ، عوام فریبۍ او جادوګرۍ پردې د خلکو پر سترګو وغوړوي خو ولس به د علمي اصولو د عدالت په اساس چې روبنایې داسلام په غوریزه طریقه په وروروليٰ مینه او محبت ایښودل شویده او زیربنایې دولسونو د پاره په عمل کښې د څپلي ژوند اړخ په نیکمرغه ژوند بدلوي؛ د ولسو نو په منځ کښې د ملي اړیکو په سمولو سره دهغوی د نېکمرغه ژوند د پاره جنبشونه پیدا کوي.

بچی څه شی چې زه په تا ډیره ټینګه کوم او تا ته یې د خپل وصیت په حیث وایم هغه دادی: د وطن د دښمنانو د ګولیو په مقابل کښې به خپله سینه سپر کوې په وطن کښې به خارجي استعماري او استثماري قوتونه نه پریږدې، د خپلو ملي مقدساتو او نوامیسو به ډیر زیات احترام کوې، د خپل اصیل افغاني کلچر او فرهنګ په ساتنه او روزنه کښې به د افغاني انساني اخلاقي فضیلت له مخې زیار او زحمت ګالې. د وطن د مبارز بچي پشان به په خپل وطن کښې ژوند کوې. د وطن د مبارزو بچو د بریالیتوب نتیجه د هغوی تورزن عمل دی چې خپلې قربانۍ او سربښندنې ته حاضریږي او د زرکاله د بې شرافتۍ د ژوند نه یوه ورځ د شرافت نه ډک ژوند ته ترجیح ورکوي.

بچی د یحیی د کورنۍ د زړه تیاکه ددې وطن په ملي وطنپرستانو لانده ماته شوې. نور ډیر وطنپرستان به د سیاسي ناحقه جرمونو په تور او ګناه زندان ته راننباسي ستا دا فرض وظیفه ده چې د هغو وطنپرستو ملي بندیانو سره به پوره

مرسته کوي. څرنګه چې مونږ له تاسې سره خپله ایماني او وجداني وظیفه دملي اخلاقو په چوکاټ کښې سرته ورسوله تاسې به یې دوچنده دهغو په مقابل کښې سرته رسوئ هغه مظلومان بیګناه بندیان چې مرستې او کومک ته ضرورت لري له هغوی سره به مرسته او کومک کوئ.

وطن دې مورده بچی! په لمنه به یې تور داغ نه پرېږدې، ولس دې پلار دی د آزادی، غیرت او ملي افتخار جګه شمله به یې نه ټیټوې. بابا خپلې خبرې کولې چې د جیل سرداریاشي هغه ته وویل: ستا ټول ملګري تاته په دروازه کښې انتظار باسي. بابا؛ پاڅید او ویې ویل: زما ټولې خبرې به دې د زړه په کتابچه کښې لیکې او عمل به پرې کوې او زما امانتونه به خپلو خلکو ته رسوې. ما تاته د نهه او یا کالو د خپل ژوند د تجربې خبرې وکړې! ما د بابا لاسونه مچې کړه خدای سپارلي یې راسره وکړه بیا یې راته همدومره وویل چې زه به دې خبر اخلم او کتابونه به درته هم رالېږم.

## قلعۀ جدید ته تلل

دقلعۀ جدید د سیاسي مخصوص نه لس تنه خلاص شوي وو چې دغه لس تنه زاړه سیاسي بندیان وو چې څوارلس او پنځلس کاله یې تیر کړي وو د هغوی کوټې خالي پرتې وې.

مونږ د جیل انضباطي مدیر ته د خورد تعمیر د مخصوصو د حویلۍ د تنګوالي له امله ډیر شکایت وکړ او هغه ته مو دا څرګنده کړه چې زمونږ د روغتیا حالت ورځ په ورځ خرابیږي او د بلې خوا شپه او ورځ د تحویلخانې او دلوی تعمیر د بندیانو شور او غالمغال مونږ آرام ته نه پرېږدي نو ښه به داوي چې مونږ د دې ځای نه بیرته خپل پخواني ځای ته لاړ شو ځکه چې اوس هلته کوټې هم خالي پرتې دي. د جیل مدیر زمونږ شکایت په ځای او معقول وګاڼه

مونږه ته یې اجازه راکړه چې د خورد تعمیر نه بیرته د قلعۀ جدید مخصوص ته راشو مونږه خپلې بسترې او سامانونه د خورد تعمیر نه د قلعه جدید مخصوص ته راوړل. په کوټو کښې مو بسترې اوارې کړې سامانونه مو په خپلو خپلو ځایونو کښې کښیښودل ددې ځای او دهغه ځای په نظافت کښې ډیر زیات فرق ؤ د هغه زړو سیاسي بندیانو نه دلته دری تنه پاتې شوي وو : شیخ بهلول، غونډ مشر محمد یعقوب خان او سید امیر خان پاچا او د ملک قیس د کورنۍ نهه تنه کسان .

زمونږ مشرانو چې د قلعۀ جدید د مخصوصو بندیانو کاریدور ولیده ډیر پې خوښ شه، پاک تشناب ،بخارۍ پکښې ولاړه وه ډیر ښه نظافت یې درلود دغه نظافت د هغه زړو سیاسي بندیانو د هلوځلو نتیجه وه چې څو ورځې مخکښې ددې ځای نه خلاص شوي وو هغوی سر مبصر نظافت او پاکۍ ته ملتفتا وه چې هرڅه پاک وساتي.

ددهمزنګ د جیل په ټولو برخو کښې د قلعۀ جدید برخه آزاده وه پاکه او ښه نظافت یې درلود ددې اصلي علت داؤ چې دلته مهذب خلک اوسیدل. دلته به سیاسي بندیانو خپل ډول، ډول بحثونه کول. په خپلو منطقي، علمي او سیاسي بحثونو کښې به دوی د افغانستان د حکومت په زمامدارانو دا الزام لګاوه چې خارجي او داخلي سیاست یې د انګریز د لارښوونې په اثر اجرا کیږي او که داسې نه وي نو ولې د غازي امان الله خان د هغه نظامنامو د قانون مواد نه عملي کیږي چې په وطن کښې د هر ډول فسادلکه رشوت ، ظلم، بې عدالتۍ او داسې نورو مخه نیسی، د جهل په مقابل کښې د علم او معرفت په اساس کار نه کوي، دجهالت په ظلمت کدو کښې د معرفت مشعل نه روښانه کوي، افغانان نارینه او ښځې بې تعلیمه او جاهل ساتي او د تعلیم او پوهې نه یې محروموي او پدې ټکي به یې ډیر زیات اصرار او ټینګار کاوه چې دا څنګه حکومت دی چې دافغانستان خلک ډیر لږ په لیک لوست پوهیږي اکثرایې بې تعلیمه او ناخوانه

عامیان دي دهغوی غم نه خوري لکه دغازي امان الله خان د حکومت پـه وخت کښې چې د ټولو افغانانو د پاره د مکتبونو نه په غیر د پوهنې تعلیمي او دزده کړې کورسونه هم په ټول افغانستان کښې جوړ شوي وو حتی چې په کابل کښې به لویانو ته امان الله خان پخپله تدریس کاوه او ملکې بـه هم ښځو ته تدریس کاوه. ځکه هغوی غوښتل چې افغانستان ددنیا د مترقي هیوادونو په کتار کښې ودروي او افغانان د پوهې او معرفت خاوندان شي. خود شهر ناپرسان حکومت هر څه د ځان د پاره غواړي او ځو تنه حاکمان چې د دوی شخصي مزدوران دي په عیش عشرت کښې ژوند کوي او د افغانستان نور ټول ملت ددغه ظالم حکومت د نمرودي سره اور پـه کنده کښې سوزي او هیڅوک یې پوښتنه نه کوي.

# د زجرونو سیاسي لېونیان

په دهمزنګ کښې ځینې هغه سیاسي بندیان وو چې د ډیرو تکلیفونو ، عذابونو او لوږې د لاسه یې خپل اعصاب د لاسه ورکړي وو او ټول یې په یوه لویه دراز خانه کښې اچولي وو. دلته دغه دراز خانه اوس د لیونیانو په دراز خانه مشهوره وه. په قلعهٔ جدید کښې دوه ډوله سیاسي بندیان وو یوه هغه ډله وه چې دروغتیا حالت یې د شکنجو او ډیرو سختو عذابونو له لارې د لاسه ورکړی ؤ دغو بندیانو هیڅ جرم نه درلوده صرف د یو سیاسي بندي په نوم یې یو جرم پرې تړلی ؤ ددغه لېونیانو په دراز خانه کښې ځینې کسان وو چې ځانونو ته به یې (ربع مسکون) (شاهنشاه دوجهان) نعوذ بالله د خدایی ، پیغمبری او مهدي آخر زمان دعوه کوله.

یوه ورځ یې یو بل بندي د جنوبي له خوا راووست دهغه نوم جهان ګل ؤ. خپل ډیر عمر یې په هندوستان کښې تیر کړی ؤ دسروښتان؛ ږیره او بریتونه یې

اوږده شوي وو ګڼ او ببر وو چې سرې يې د شکل، شباهت او قوارې نه سخت ډاريده . جهان ګل د پيريانو په مسخرو لو کښې خپلې قصيدې پخې کړې وې او د پيريانو د قصيدو په پخولو کښې سر کاوته او سر مغزن ليونى شوى وو چې په آخر کښې يې د ( مهدي آخر زمان ) دعوه کړې وه ، جهان ګل يې هم د ليونيانو په دراز خانه کښې واچاوه له هغه سره يو سپين بيرغ هم ؤ چې د بيرغ په منځ کښې داسي ليکل شوي وو : «جهان ګل مهدي آخر زمان پيدا شويدى».

کله چې هغه د خپلې پيغمبرۍ بيرغ د ليونيانو په دراز خانه کښې د خپل سرد پاسه وځړاوه هغه بل ليوني چې مخکښې د جهان ګل نه د پيغمبرۍ دعوه کړې وه هغه اصلا د بخارا ؤ افغانستان ته يې هجرت کړى ؤ په مزار شريف کښې ميشته شوى ؤ د روس د جاسوس په نامه يې دهمزنګ ته راوستلى ؤ ددغه بخارايي مهاجر نوم فضل خدا ؤ .

د قلعۀ جديد ټول سياسي بنديان ددې نه خبر شول چې نوى بل سياسي بندي راغلى دى چې خپل ځان ته مهدي آخر زمان وايي . فضل خدا چې د جهان ګل نه خبر شه او دهغه بيرغ يې وليده ، بيرغ يې ورته وشلاوه ، سرېې ورته مات کړ سرې وينې يې پرېډ اروانې کړې. ددراز خانې ليونيان نيمايي د يو ملګري شول او نيمايي نورو د بل په طرفدارۍ خپل چمتووالى څرګند کړ، ټولو ليونيانو يو تربله سره ښه وهل او ټکول وکړه او دواړو ډلو پدې ټينګار کاوه چې د خپل پيغمبر پيغمبري ثابته کړي او د بل پيغمبري منسوخه وګڼي.

د ليونيانو په شور او غالمغال مبصر او انضباطان راغلل د جنګ پوښتنه يې وکړه پدې وخت کښې د ليونيانو دراز خانه د نورو سياسي بنديانو نه ډکه شوې وه هر څوک چې به د ليونيانو د جنګ نه خبريدل سخت به يې خندل.

مبصر د فضل خدا نه پوښتنه وکړه: تا ولې د جهان ګل سر ما ت کړ ؟ او بيرغ دې ورته وشلاوه ؟ هغه ورته وويل: هيڅکله په يوه کوټه کښې دوه پيغمبران ندي پيدا شوي او زياته يې کړه: څوکاله کيږي چې زه برحق پيغمبر يم، زه به

ژوندی گرځم او بل څوک به د پېغمبرۍ دعوه کوي.

بیا مبصر د جهان ګل نه پوښتنه وکړه: تا د فضل خدا خبرې په خپله واورېدې ته څه وایې؟ هغه پداسې حال کښې چې سرې وښې یې دسرنه په مخ راروانې وې او په زېره یې رابهیدلې یو بل لېونې ته چې منډه ګل نومیده او هغه په خپله د غوثیت دعوه کړې وه خپل مخ راواړوه داسې یې ورته څرګنده کړه: ته دا قضاوت وکړه چې زه برحق پېغمبر یم که دی؟ منډه ګل چې دا خبره د هغه نه واورېده په کوټه کښې لوټ په لوټ د خندا نه راواوښته. وروسته یې بیا د خندا په ډکه خوله وویل: که مونږ ټول پدې کوټه کښې دمخې نه پېغمبران شو نو امتیان به څوک وي؟ بیا یې وویل: مبصر صاحب مونږ ته ډوډۍ! ټولو بندیانو چې دا واورېدل ډېر یې وخندل مبصر او انضباطان بیرته ولاړل.

ما چې د دغو بیوزلو سیاسي بندیانو چې دلوړې، شکنجو او تنګو سختو په سبب یې خپل اعصاب له لاسه ورکړي دي او سوچه لېوني شوېدي ددې تراژیدي صحنې په لیدلو د شهرناپرسان د انسانیت دښمني بې غوره پاچاهۍ پوره پته راته ولګیدله چې دلته هغه سیاسي بندیان چې څو ک نلري دلوږې، شکنجو او وهلو ټکولو دلاسه یې اعصاب خرابیږي او بیا په تدریجي ډول د لیونتوب په حال کښې مري او خپلې سترګې ددنیا نه پټوي.

ما دیوه زاړه بندي نه چې پنځلس کاله بند یې تیر کړی ؤ پوښتنه وکړه: ولې ددرازخانې لیو نیانو ته ډوډۍ نه ورکوي؟ دوی خو ټول د سیاسي بندیانو په نامه بندیان دي. دلته چې څو ک کوم جرم او دوسیه ونلري په هغه دسیاسي بندي د جرم تور لګوي.

دوی ټولو ته یې مخکښې دوه دوه ډوډۍ ورکولې په هغه وخت کښې ټولو په صنعتي ځانګو کښې کار کاوه خو اوس ورته ځکه ډوډۍ نه ورکوي چې کار کولی نشي لیونیان شوېدي، اوس یې بالکل څوک پوښتنه نه کوي.

د جیل د صنعتي مدیریت له خوا سرجي بستري د عسکرو د هغه زړو

دریشي گانو ته جوړیدلې چې د عسکري قشلو ته موټرپست د باب سوخت په نامه راتللي.

ددغو برستنو او توشکونو په منځونو کښې به یې جاړې شوې وړې، تارونه، د خیاط خانې کوچنۍ کوچنۍ بیکاره ټوټې اچولې او بیا به یې هغه بندیانو ته ورکولې چې خپلې بسترې یې نه درلودلې. دلېونیانو په دراز خانه کښې ټولې دغه سرجي بسترې پرتې وې پدغه دراز خانه کښې ډیرې سپږې او خزنده شوي وو ما د قلعهٔ جدید داباشیان او انضباطان مجبوره کړل چې په لیونیانو ټولې بسترې لمر ته وباسي او خپله دراز خانه پرې پاکه جارو کړي. د جمعې سهار ؤ دداباشیانو او انضباطانو سره د لیونیانو دراز خانې ته ولاړم په هغوی مو خپلې بسترې ټولې لمر ته وښکلې او دراز خانه مو پرې پاکه صفا کړه.

بندیانو ته خپل پایوازان راتلل داباشیانو به بندیانو ته په زوره غږ کاوه او خپلو خپلو پایوازانو ته به وتل. مائیگر شه بیا د قلعهٔ جدید بندیانو د معمول سره سم په گرځیدلو او چکروهلو پېل وکړ. جهان گل د ویالې په غاړه په خپل چرت کښې ډوب ناست دی، د پیریانو د مسخرولو او راد لولي او بیا وروسته خپل ځان ته گوته ونیسي: بیشکه چې زه مهدي آخر زمان یم زما نه وروسته بل پیغمبر نشي راتلای او نه د پیغمبرۍ دعوه څوک کولی شي.

پدې وخت کښې ناڅاپه منډه گل او فضل خدا دواړه راغلل. هلته چې یو سپاسي بندي گرځیده ویې ویل: جهان گل اوس همداسې هر چا ته وایي چې ځانله زه برحق پېغمبر مهدي آخرزمان یم. فضل خدا چې دا خبره واوریده فکر یې ډیر سخت خراب شه ویویل: اوس جهان گل چېرته دی؟ چې زه ورسره اوس خپله پېغمبري ثابته کړم. جهان گل او فضل خدا یې دواړه سره مخامخ کړه. هغوی دواړو ته یې وویل: په خپلو منځو کښې سره پیغمبران جنگ جدل نه کوي د خپلې پېغمبرۍ د ثبوت دپاره د لیلونه راوړي او معجزې ښکاره کوي.

وروسته چې د هر چا دلیل معقول او منطقي ؤ هغه به پېغمبر وي. هغه بندي

لا خپله خبره سرته نه وه رسولې چې منډه ګل ژر وویل: زه هم تېره شپه د غوثیت د مقام نه راساً د پېغمبرۍ مقام ته رسیدلی یم او د خپلې پېغمبرۍ معجزه هم ښکاره کولی شم. جهان ګل او فضل خدا چې د دریم نوي پېغمبر خبرې واورېدې دواړه یو تر بله په ډېره حیرانتیا سره وکتل، بیا چوپ شول. وروسته جهان ګل موسکی شه څرګنده یې کړه: په دې کښې هېڅ د شک او شبهې ځای نشته دی چې دغه دواړه به د پېغمبرانو زامن وي خو په خپله پېغمبران ندي او زه خو ښکاره په میدان ولاړ مهدي آخر زمان یم؛ په دجال پسې راغلی یم هغه وژنم. یو بندي د هغه نه پوښتنه وکړه: ته به د جال او د هغه خر په کوم ځای کښې پیدا کړې. هغه ورته دخندا شین شه وروسته یې ورته وویل: ما دواړه پېدا کړیدي خو غم دلته دی چې یو امتي مې نشته دی چې ملامې وتړي. هلته چې دویالې په غاړه بندیان ولاړ و هغوی ورته وویل:

ته په یو امتي پسې ګرځې مونږ ټول ستا امتیان یو هر څه چې ته مونږ ته وایې هغه کوو. ده وویل: امتیانو! فضل خدا دجال دی او منډه ګل د هغه خر! رامنډې یې کړې فضل خدا یې په غېږ کښې کلک ونیوه په ویاله کښې یې څو ځلې په اوبو کښې ومانډه او ومانډه ... اوبه یې تیر ې شوې وې او سون او فکر یې ډیر خراب ؤ سلګی یې وهلې بندیانو ته یې داسې وویل: که مهدي آخرزمان خلک په اوبو کښې داسې منډې رامنډې زه یې هم امتي یم! شپږ کاله وروسته د جهان ګل ورونو هغه ددهمزنګ په جیل کښې پیداکړ چې سوچه سروپ لیونی شوی ؤ او دمهدي آخر زمان دعوه یې کړې وه.

جهان ګل شپږ کاله د سیاسي بندي په نوم په دهمزنګ کښې بندي ؤ چې آخر په نتیجه کښې دا ثابته شوه چې شپږ کاله مخکښې داعصابو د خرابۍ له امله د کوره راوتلی دی، دورونو د عرض وداد په وسیله هغه خلاص شه، جهان ګل چې د خپلو ورونو سره دجیل ددروازې نه راووا ته ډېرو بندیانو له هغه سره خدای سپارلي وکړه. فضل خدا ورته وویل: اوس ستا بیرغ زه د خپلې بسترې د پاسه

وځروم ! زه به مهدي آخر زمان يم. هغه ورته وخندل: مهدي آخر زمان خو به هيڅکله نشي چې امتيان دې نشته دي او په پېغمبرۍ کښې دې هم شک دی.

پدې وخت کښې منډه گل ؛ جهان گل ته غېږ وکړه او بيا يې دهغه دواړه لاسونه مچي کړه په ژړغوني آوازيې هغه ته څرگنده کړه :ته چې ځې خپل امتي چاته پرېږدې ؟ زه خو د هر پېغمبر امتي کيدی نه شم.

زه مهدي برحق آخرزمان پېغمبر يم او ته ځانله زما صالح او نيکوکاره امتي يې چې دلته بل پېغمبر پرې نږدې. دجهان گل مشر ورور چې داخبرې د خپل ورور د خولې نه واورېدلې په توبو او ښکنځلو يې شروع وکړه: خوار شې کافر شوې څه وايې ؟ چپ شه نور چټيات او پرتې او هزليات مه وايه. خوار شې چپ شه په زنځيرونو به دې کلک وتړم. هغه ورته لک بوڅ شه او ښکته پورته يې ورته وکتل. مهدي آخرزمان ته زنځيرونه ټينگيدلی نه شي.

## د لېونيانو دنيا

د شپې د ليونيانو دراز خانې ته ولاړم ټولو ډېر ډېرې په خپلو زړو سرجي بسترو کښې خپل ځانونه نغښلي کونجلک پراته دي، هيڅ انگه بنگه نه وه. ناڅاپه د دراز خانې په بر کونج کښې د سرجي سورۍ ، سورۍ زړې برستنې دلاندې يوه لېوني په تق تق وخندل. بيا يو بل ليوني چې د هغه پخوا کښې ويده ؤ په لغته وواهه هغه يې راويښ کړ او داسې يې ورته وويل: گوره ملگری! دلته په مونږه څه کوي ؟ چې په دغه درازخانه کښي يې اچولي يو :

هغه د شونډو په سرداسې ځواب ورکړ : دلته په مونږ لوړه تيروي او په سپېړومو خوري. که مونږه خلاص کړي بيا به دلته لوړه څوک تيروي او سپېږي به څوک خوري! هغه بل ملگري بندي يې مځکې ته کتل ويې وخندل: مونږه خو يې هسې خوشې چټي بنديان کړي يو دا خو دومره ضروري کار ندی. پدې

وخت کښې منډه ګل د خپل ځایه څخه راپاڅیده خپل لیتاړې لیتاړې کمیس یې په تن کښې ؤ او خپلې سترګې یې موښلې ، فضل خدا ته یې غږ وکړ هغه هیڅ ځواب ورنکړ ، فضل خدای یې د پښې نه راښکود هغه په هیبت د خوب نه راپاڅیده: څوک یې؟ څه کوې؟ منډه ګل ورته په سره سینه داسې وویل: پاڅه! سم نیغ زما پشان کښېنه خوب مې ولیده چې درته ویې وایم ،هغه چې ورته هر څومره اصرار او ټینګار کاوه سبا به یې راته ووایې اوس مې پریږده خوب راځي. فضل خدای مجبور کړ په وچ زور یې نیغ کښېناوه هغه ورته خپل خوب داسې شروع کړ: په سپین برګ چاغ پښو سرچپه سوور شوی یم او ته حرامي راپسې شوی یې د پیشو دلکۍ دلاندې اغزي ږدې ځغلوې مې زه ستانه یو خوا او بلې خواته خپل پیشو ځغلوم او ته راپسې همداسې ځغلې چې اخر دې د پیشو نه راوغورځولم، ته مې په پیشو سوور شوې. اوس راته دا ووایه چې زما پښو دې څه کړه؟ کله دې پدې خیال پر یږدم او څوک به داسې پیدا شي چې تا زما نه اوس خلاص کړي. که په خوب کښې راباندې ته زورور او قوي یې په ویښه درباندې زه دومره زورور ، قوي او غښتلی یم چې پټس راته نشې وهلی او هیڅ د ټینګې مې نه یې زما په مقابل کښې خوشې بګیلي مرزیې. د فضل خدا سترګې د خوب نه مرغۍ ، مرغۍ کیدلې او د منډه ګل خبرې ورته ناسلا غوندې ښکاریدلې چې د خپله ځایه څخه پاڅید هغه ته یې وویل: زه ستا په پیشو سوور شوی نه یم او نه مې ستا پیشو په سترګو لیدلې ده. یو وخت د یوې لنګې پیشو بچی زما په څټ سوور شوی ؤ او د څټ نه مې بیا اوړې ته راښکته شو د خپلې اوږې نه مې غورځاوه د پښو بچي زما په څټ نو کارې ولګولې!

هغه خپله خبره نه وه خلاصه کړې چې یوې پیشو د لیونیانو د دراز خانې د دروازې په مخکښې د میو ، میو آواز وکړ یو ځلې کوټې ته راننوتله او بیا د کوټې نه ووتله. فضل خدا په منډه ګل پورې ډیر وخندل او هغه ته یې وویل: دروغجنه! پښو دې په کوڅه کښې ګرځي او ته ما ته وایې چې زما په پښو

سپور شوي يې.

په دې لويه دنيا کښې ډول ډول انسانان ژوند کوي څوک د خپل عيش و نوش د لذتونو په نښو داسې مست وي چې د ډير غرور او کبر د لاسه يې هيڅ ته فکر نه وي. له هغه سره ځانله دا فکر دی چې دنيا ټوله زما ده او بل څوک پکښې حق نلري داسې انسان د واقعي او رښتياني انسان صفتونه، نه لري، صرف فزيکي ساختمان يې انسان ته ورته وي د انساني معنی د خصوصياتو ماده يې چې داجتماعي ژوند سره نه شليدونکې اړيکې لري او خپل ځان د ټولنې د فردي موجوديت په چوکاټ کښې ټولنې ته د ښو خدمتونو کولو په اثر گټور او مفيد ثابت کړي له لاسه ورکړې وي او ځينې زمونږ په افغاني ټولنه کښې ډير زيات هغه کسان دي چې د شهرناپرسان د سلطنت د درباري مدور ميز داراکينو د ظلمونو او استبدادونو په تنور بيگناه او بې له کوم جرم نه سيزل کيږي چې هيڅ د نوم او نشان پته يې چاته نه لگيږي چې دا ولې؟ او په څه؟ داسې د ظلمونو د سره اور په تنور کښې سوځي.

## دلېونيانو خواړه: وابنه او ميده کړي هډوکي

د دهمزنگ د جيل په ټولو برخو کښې د افغانستان د هرې سيمې خلک بنديان وو. پدغو بنديانو کښې ځينې داسې خلک هم وو چې دافغانستان د ژوندي تاريخ پر ي اطلاق کيدلی شي او زمونږ د افغاني ټولنې تحليل يې د مختلفو پرگنو او قومونو د ژوند د مناسباتو د تطابق په صورت د ملي وحدت د مساوي او برابرو حقوقو په درکولو سره پداسې ساده او خوږو الفاظو په مينه او محبت سره د خلکو په زړونو کښې ننويستل چې دملي خپلواکۍ د وطن د شريک يو کور ترجماني يې کوله دغه ټول وطنپال ملي کسان د شهر ناپرسان د سلطنتي ميز مستبد و اراکينو په اقسامو دسيسو او فريبونو د دهمزنگ په جيل

کنبې اچولي وو چې د تنګو سختو شکنجو دلاسه يې خپل اعصاب دلاسه ورکړي او يا مطلق ليونيان شوي وو . ددهمزنګ د جيل په ټولو برخو کنبې د بنديانو دحالاتو دخبريدلو نه له ما سره په زړه کنبې خاصه دلچسپي او ډير په زړه پورې تشويقي عمل پيدا شه. دهغوی خبرې به مې ډيرې خوښېدلې. خو کله چې مې هغوی ته کتل او دهغوی د ژوند دردوونکو حالاتو ته به مې فکر شه ډير زيات به درد يدلم؛ ځوريدلم او په زړه کنبې ژړيدلم.

د هغوی لوږې او بربندتيا به مې دانساني عواطفو خواخوږۍ او دلسوزۍ غريزه داسې په هيجان راوسته چې خپله ډوډۍ به مې ورسره نيمايي کوله خو زما پدې مرسته د هغوی هيڅ چاره نه کيدله او زما دپاره د يو څه وجداني تسکين نه پرته بل هيڅ نه وو. دغو ليونيانو به دهغو کچالو ګانو پوستکي او دنورو سبزيجاتو پاڼې چې نورو مالدارو بنديانو به د کاريډور په يوه برخه کنبې اچولي وو په اوبو مينځل خوړل به يې او يا که به يې هډوکي پېدا کړه په ډبرو به يې ميده ميده کول هغه به يې هم خوړل او که نور به هيڅ د خوړلو شيان پيدا نه شول نو بيا به يې د قلعۀ جديد د ويالې په غاړه وابنه خوړل او يا به يې د هغو ونو پاڼې خوړلې چې د قلعۀ جدېد په باغچه کنبې ولاړې وې.

## د لېونيانو دلوږې د مخنيوي پروګرام

ددغو ليونيانو دغه تراژيدي د غمونو دردونو نه ډک حالت ماته سخت روحي ټکان راکړ او زه يې ديته چمتو او وادار کړم چې د خپل فعاليت قوه په کار واچوم. هغه شتمن مالدار سياسي بنديان چې دلته په قلعۀ جديد کنبې بنديان وو او دليونيانو ددراز خانې د سياسي بنديانو د لوږې حال ورته ډير ښه معلوم ؤ او هر څه يې پخپلو سترګو ډير ښه ليدل د هغوی نه مې د اعانې د ټولولو او مرستې هيله وکړه چې ددرازخانې دغو پنځه څلويښت وږو لوڅو بربنډو سياسي

ليونيانو بنديانو ته پرې خوراكي مواد برابر كړم.

زما داعانې د مرستې دغه هيله دغو تولو شريفو نجيبو خواخوږو، دردمندو بشردوستو بنديانو په ډېره مينه سره ومنله او زما دغه اقدام يې تمجيد كړ د خپل مالي توان په اندازه هر يو د مياشتې خپل كومک معين معلوم كړ چې هره مياشت ټوله مرسته يوولس سوه افغانۍ كيده. دغه روپۍ به له ماسره وې او دهغوى د هر يو تن دپاره به مې دورځې دوه دوه ډبلې ډوډۍ او دغرمې له خوا د څلورو شش پوليو يو خوراک ښوروا يا نور څه كتغ او دسهار له طرفه به مې ورته ددرى درى شش پوليو چاى وركاوه.

دا لومړى ځل دى چې د ډوډيو د تبنگى سره مې د ليونيانو دپاره د ډوډيو قرارداد وكړ او په ليونيانو مې ډوډۍ ويشلې هر ليوني چې به خپلې ډوډۍ واخيستلې خوشحالي به يې كوله كوټې ته به يې ځان رساوه، ډيرو ليونيانو به خپلې دواړه ډوډۍ د تبنگ په سر خوړلې وې كوټې ته به يې نه رسولې كوم ليوني چې به خپلې ډوډۍ كوټې ته وړې وې نو پخپله بستره كښې به يې پټې ايښودلې وې، بل هر ليونى چې به مخكښې كوټې ته راغى او ډوډۍ به يې د هغه په بستره كښې وليدلې دخپل كميس دلاندې به يې پټې منډلې. او په خاک انداز يا بل كوم داسې ځاى كښې به يې خوړلې چې څوک يې ونه ويني كله چې به د ډوډيو خاوند ليونى كوټې ته راغى چې دخپلې بسترې نه ډوډۍ راواخلي ډوډۍ به يې په بستره كښې نه وې چا به پټې كړې وې. شور او غالمغال به يې كاوه، ژړل به يې په ما پسې به كوټې ته راته او زما نه به يې نورې ډوډۍ غوښتلې. له هوټلي او سماوارچي سره مې هم د ليونيانو د پاره قرارداد وكړ او څه پېشه كي روپۍ مې وركړې هوټلي مې په دې پوه كړ چې هره غرمه به هر يوه ليونى ته د څلورو شش پوليو ښوروا يا نور څه كتغ وركوې.

په غرمه كښې چې به هوټلي پخپلو دوو زمبېلونو كښې خپل د ښوروا او نورو خوراكي شيانو ديگونه راوړل او د قلعهٔ جديد دسيمې دروازې په مخكښې به

يې كښېښېنودل او د ديګونو د حلقو كړ نګار به ليونيانو واوريده هر يو ليوني به خپلې كوټې ته منډې وهلې په لاره كښې به يې دځان سره خندل خوشحالي به يې كوله؛ خپله ماته زړه كاسه يا د ټيم قوطی به يې په لاس كښې نيولې وه؛ هوټلي ته به يې ويل: دا راته ژر ډكه كړه. د ځينو ليونيانو كاسې او ټيمي قوطي به سورې وو ښوروا چې به يې كوټې ته وړله ټوله به په لاره كښې تويې شوې وه؛ په كاسه او قوطی كښې به يې يو شومی ښوروا هم پاتې شوې نه وه. نو دغو ليونيانو به بيا خپلې كاسې او قوطي په هوټلي پسې دويم ځل راروانې كړې وې چې نوره ښوروا پكښې راته واچوه. هوټلي خو به پكښې نوره ښوروا نه اچوله نو ليونيانو به بيا له هغه سره كړكيچ، شور او غالمغال كاوه او د ښوروا په ديګونو كښې به يې خپلې تېمې قوطي او كاسې غوپه كړې.

د سموار چې څو چاينكې ليونيانو ماتې كړې بيا به يې په غټ د المونيمي چاى جوش كښې هغوی ته چاى وركاوه؛ يوه يوه شنه بلغمي پياله مې هر يو ليوني ته د سموار چې نه په روپيو واخيسته. د سموار چې سره خو د ليونيانو كاروبار دومره جنګ جدل ته نه رسېده خو هره ورځ به د ليونيانو د ډوډيو د تبنګي او هوټلي سره اخ و ډب وو. د ډوډۍ د تبنګي سره به يې داسې خبرې كولې: تا خو مخكښې هره ورځ د ګرمو او سپينو ډوډيو ډك تبنګونه دلته راوړل؛ كله مونږه ستا د تبنګ په خوا درغلي يو؛ د كميس څنډه مو ستا د تبنګ سره نه ده لګېدلې ، اوس خو شپږ شپږ شش پولۍ دركوو. په سوال خو درنه ډوډۍ نه غواړو؛ په سوال يې خپل ځان ته وركړه؛ زمونږ خپل حق درسره دی. خپل حق درنه غواړو. تبنګي به هغوی ته ويل: ستاسې خبره رښتيا ده زه به تاسې ته دوه دوه ډوډۍ دركوم خو تاسې په ډوډيو تالان او چور مه جوړوی. زه نه پوهېږم چې تاسې كوم يو خپله ډوډۍ واخيسته او دكوم يو پاتې شوه. د ډوډۍ تبنګ چې زما پر سر وي تاسې د تبنګ نه ټولې ډوډۍ اخيستې وي تاسې خو لږ صبر وكړئ چې زه تبنګ په مځكه كېږدم؛ بيا تاسې هر يو راځئ زه به خپلې

خپلې ډوډۍ درکوم. لیونیانو به هغه ته خندل او ویل به یې: مونږ چې ستا په سر د تودو پستو ډوډیو تبنګ ووینو او بوی یې رابانديږ راشي؛ مونږ ډیر زیات وږي شو د لوږې دلاسه مو په ډوډیو پسې سترګې لویږي نوځکه ستا په سر د ډوډیو د تبنګ نه خپلې ډوډۍ اخلو.

هوټلي چې به د ښوروا د دیګونو د حلقونه کړنګ وښکه، په کوټه کښې به د لیونیانو بګیرځان او منډې رامنډې جوړې شوې. هر یو به دبل نه خپل ځان مخکښې د سهمې دروازې خواته رساوه په کوم ځای کښې چې به هوټلي مخکښې خپل دیګونه ایښودلي وو او ډیرې وارخطایۍ دلاسه به هر یو لیوني خپله کاسه یا ټیمي قوطی د ښوروا په سره دیګ کښې غوپه کوله او په یو تراټ به یې بیا خپلې کوټې ته رسوله؛ هوټلي هم د لیونیانو د لاسه دو وسپږموته ورسیده ډیر زیات په تنګ شو. د ډوډیو تبنګي او هوټلي دواړو د لیونیانو سره شپږ ورځې په همدې شان چال چلند درلود، بله ورځ دواړه زما کوټې ته راغلل ویویل: خپلې باقي پاتې روپۍ دې واخله مونږه نورې ډوډۍ او ښوروا لیونیانو ته نه ورکوو. ما هغوی دواړو ته په ټوکه ټکاله داسې څرګنده کړه چې تاسې ډوډۍ او ښوروا نه ورکوئ نو هغوی خو ټول دلوږې مري. تاسې هغوی ته په څه علت ډوډۍ او ښوروا نه ورکوئ؟

هغوی وویل: کومې ډوډۍ چې مونږه په لیونیانو خرڅوو د اخو ټولې د صنعتي کارکوونکو ډوډۍ دي هغوی مونږ ته اجازه کوي چې نن زما یوه یا دواړه ډوډۍ خرڅې کړه نو بیا د هغوی ډوډۍ مونږه خرڅوو او د یوې ډوډۍ په سر مونږ ته پنځې پیسې راکوي نورې پیسې د ډوډیو خاوندانو ته ورکوو؛ خو کله چې مونږه د ډوډیو تبنګ د قلعۀ جدید د بیرون دروازې نه د ننه راننباسوا ود ویالې غاړې ته یې راورسوو په لیونیانو د ډوډیو بوی ورغلی وي مونږه خپل تبنګ د قلعه جدید سیمې دروازې ته لار سولی نه وي چې ټول لیونیان زما او زما د شاګرد نه راچار پېر شي؛ تبنګ زما په سر وي او هغوی د تبنګ نه د

ډوډۍ په اخيستلو شروع وکړي ما خو هغوی ته څو ځلې دا وويل تاسې لږ صبر وکړئ چې زه تبنګ په مځکه کيږدم چې تاسې ته خپلې ډوډۍ درکړم خو په هغوی زما خبرې هيڅ تاثير نه کوي؛ هر څه چې ورته وايم لکه ديوال ته چې لګيا يم. په دې هم پوهيږم چې د هغوی نه څه ګيله او شکايت پکار نه دی. ځکه چې هغوی معذوره دي ليونيان دي. اصلي خبره داده چې هره ورځ زه د خپله جيبه دوه او دری افغانۍ تاوان ورکوم داپه دې چې ما ته هيڅ پته نه لګيږي چې نن ماليونيانو ته څو ډوډۍ ورکړې؛ ليونيان په خپله زما د تبنګ نه ډوډۍ اخلي. ما چې هر څومره له تبنګي سره پدې باره کښې خبرې وکړې چې خير دی هره ورځ به درته دوه دوه افغانۍ د ليونيانو د ډوډيو په تاوان کښې درکومه ، هغه راسره هيڅ ونه منله. حساب يې راسره وکړ ، باقي پاتې روپۍ يې بير ته راکړې. تبنګی چې خپل حساب خلاص کړ هوټلي د خپلو غوړونو پوڅکی منبودې او مځکې ته يې لاندې کتل؛ هغه هم خپل سر راپورته کړ او و يو يل: له ماسره خپل حساب خلاص کړه زه هم نوره ښوروا ليونيانو ته نشم ورکولی. د هوټلي خبرو ماته ډيره خندا راوسته هغه ته مې داسې ښکاره کړ: تا او تبنګي خو دواړو يو ځای سلا او مصلحت ندی کړی چې دواړه دومره ليونيانو ته په غصه او په قار ياست.

که رښتيا درته ووايم مونږه دواړو دا سلا او مصلحت شريک کړيدی چې ډوډۍ او ښوروا به نور په ليونيانو نه خرڅوو. هوټلي ته مې په خندا او ټوکه وويل: ګوره! که د ډوډيو تبنګي د ليونيانو دلاسه په تنګ شوی وي د هغه شکايت راته په ځای او معقول ښکاري چې دهغه د ډوډيو تبنګ په سر وي او ليونيانو يې په ډوډيو چور او تالان جوړ کړی وي نو ته د ليونيانو نه څه شکايت کوې د ښوروا په ديګ کښې دې څو ډولچې اوبه ډيرې اچوه ستا پکښې څه تاوان او ضرر دی. هوټلي چې زما داخبرې واوريدلې سوړ او سيلی يې د خولې راوواته بيا ماته رانيژدې شه غلي شانته يې راته وويل:

زه په دې ډاريږم چې سبا به کوم ليوني د مچ پشان د ښوروا په سره ديګ

کښې خپل سر غوبه کړی وي بیا به د جیل د انضباطي مدیر د وهلو ټکولو او تحقیقاتونو نه؛ نه خلاصیږم. نو خپل ځان په سور اور کښې نشم اچولی. هوتلي ته مې وویل: ته خوشي چتمي ډارېږې داخبره نشته ده خو ته او تبنګي دواړه وطنداران یاست خپل دوطنداری لوز او مصلحت سر ته رسوئ.

هوتلي راته په خندا وویل: اوس هم د ډیرو لیونیانو لاسونه په ښوروا سوي دي غوړونه او مخونه یې هم سوي دي چې سپېنې تناکې پرې ولاړې دي. ما هغه ته څرګنده کړه: تابه پرې د قار دلاسه سره ښوروا اړولې وي. هغه وخندل: کاشکي هغوی دومره صبر وکړي چې زه د ښوروا ډولچه دېګ ته ښکته کړم. مالا د دیګ نه سر پورته کړی نه وي چې لیونیان زما نه چاپیر شوي وي او زه یې په خپل منځ کښې اېسار کړې یم. کله د ښوروا د دیګ نه ماسر پورته کړی وي او کله هغوی پورته کړی وي. نو چې په ښوروایې سترګې ولګیږي خپلې کاسې او تیمي ډولچې یې د وارخطایۍ دلاسه د ښوروا په سره دیګ کښې داسې په بیره او تلوار غوبه کړې وي چې دوارخطایۍ او ډیر تلوار دلاسه یې د دیګ په منځ کښې سره ښوروا دیو بل په لاس چپه کړې وي او دابه درته هم ووایم چې د لیونیانو کاسې او تیمي قطي اکثراً سوري وي. هغوی چې د ښوروا د دیګ نه راچاپیر شي داسي تیل و مار یې جوړ کړی وي چې صنعتي کارکوونکو ته هېڅ نوبت نه ورکوي. هغوی له ماسره جنګ کوي او زما دلاسه خپلو باشیانو ته شکایت کوي. د هوتلي خبرې چې مې واوریدې دا مې هم حق په جانب وګاڼه او خبره یې په ځای وه.

## د ارباب د اسونو غلا

هوتلي او تبنګي دواړه ازبکان وو او دواړه ډیر قوي او غښتلي سړي وو. د نیکو او ښو اخلاقو خاوندان وو دا دواړه د مزار شریف وو او دمزار شریف په ښار

کنبي يې هستوګنه کوله . د هوټلي نوم خدای رضا ؤ او د تبنګي نوم خدای بيردي. دا دواړه د مزار شريف د ښار د يوارياب د بزکشۍ د اس په غلا کنبې بنديان شوي وو او هر يو په دوولس دوولس کاله بند محکوم شوي وو.

دې دواړو خپله د بند کيسه داسې کوله: مونږ پخپلو د کانونو کنبې په کار لګيا وو خپله غريبي مو کوله دوه عسکر راغلل قوماندانۍ ته يې بوتللو. ارباب د قوماندان خواته په چوکۍ مغروره ناست ؤ. قوماندان ارباب ته مخ راواړاوه: ستا د بزکشۍ د آس غله دا دواړه دي. هغه ورته ووېل: هو دغو دواړو زما آس په شريکه غلا کړيدی. قوماندان ارباب ته ډاډ ورکړ : ته دد ينه نور خلاص يې ما ته يې پرېږدی چي د پوستکو نه يې آس وباسم.

زمونږ نه هېڅ پوښتنه ونکړه زندان ته يې واچولو زولنې او ولچک يې راته په پښو او لاسونو کنبې بند کړل. تحقيقات يې را شخه شروع کړل، ډير زيات يې ووهلو قوماندان غوښتل چې په وهلو او ټکولو زمونږ نه اقرار واخلي خو مونږه غلا کړې نه وه او نه د غلا نه خبروو د ارباب د برناحقه ناروا دعوی لاندې راغلي وو. اقرار مو ونکړ قوماندان د ارباب په لحاظ زمونږ تحقيقات د هغه په خوښه ترتيب کړي وو ځکه چې د هغه نه يې مخکنبې رشوت اخستی ؤ، پنځه مياشتې وروسته مونږه محکمې ته وغوښتل شوو د قاضي صاحب پياده زمونږ خواته راغی له مونږه سره يې لومړی ځان معرفي کړچې زه د ورځې د قاضي صاحب په دفتر کنبې کار کوم او د شپې له خوا د قاضي صاحب په کور کنبې، پدې خبره يې ډير زور واچاوه چې زه د قاضي صاحب اعتمادي نفر يم هر څه چې زه قاضي صاحب ته وايم هماغه شان کوي. زما خوله د قاضي ده او د قاضي خوله زما ده. هغه د خپلو خبرو اترو په منځ کنبې دا دلمر پشان ښکاره کړه : که تاسې هر يو پنځه، پنځه زره افغانۍ قاضي صاحب فضيلت مآب ته خپله شيريني ورکوئ تاسې به چورلټ خلاص شئ ځکه چې قوماندانصاحب په تحقيقاتو کنبې تاسې دواړه مجرمان معرفي کړي ياست او خپله نظريه يې درباندې هم ورکړيده. مونږ

هغه ته وویل: مور د وږي د حال نه څه خبر دی؟ مونږه دومره څه نه لرو چې یې وخورو، له هوټلي او نانوایي سره مزدواران یو، د ورځې چې به مو مزدوري وکړه د شپې به مو پرې خپل بال بچ ساته پدې پنځه میاشتو کښې مو بال بچ د ګدایۍ او سوال د پاره دروضې په مخکښې ناست دی چې څوک ورته څه ورکړي خپله شپه پرې تیره کړي او که د ورځې ورته څوک خیرات صدقه ورنکړي نو شپه یې په لوږه او ناره نهوره وي. که قاضي صاحب د حق او عدالت له مخې قضاوت وکړي خو مونږه هیڅ جرم او ګناه نلرو او که د قوماندان پشان د ارباب نه قالینه اخلي نو بیا ښکاره مجرمان یو. نو پدې کښې اوس د قاضي صاحب خوښه ده. د قاضي پیاده دهغه کوټې ته ننووت لږ سات وروسته بیر ته راوواته، مونږه قاضي وغوښتلو هغه مونږ ته وویل: ځئ نن ناوخته دی، بیا به بله ورځ راشئ، یوه میاشت وروسته یې بیا محکمې ته وغوښتلو قاضي د ارباب سره خپله خبره کړې وه مونږه دواړه یې په دوولس؛ دوولس کاله بند محکوم کړو د کابل دهمزنګ ته یې راواستولو.

## د ډوډۍ او ښوروا د قرارداد فسخ کېدل

د ډوډیو تبنګي او هوټلي دواړه په ریښتیا سره د لیونیانو نه په عذاب شوي وو ځکه یې له ماسره خپل قراردادونه مات او فسخه کړه.

له ماسره د لیونیانو د ډوډۍ د پیدا کولو غم ؤ چې په کومه بله وسیله د دوی د پاره ډوډۍ پیدا کړم نو داراته ښه ښکاره شوه چې پدې مسئله کښې پخپله د لیونیانو سر ه مشوره او سلا وکړم؛ چې هغوی راته څه وایي؟ د شپې له خوا وختي د خپلې کوټې نه راووتم او دهغوی ددراز خانې په طرف راروان شوم، په کوڅه کښې روان یم او د ځان سره دا سوچ وهم چې لیونیانو ته به څنګه دا خبره یادوم او هغوی به پدې څنګه پوهوم چې هوټلي او تبنګي دواړه تاسي ته نور

ډوډۍ او ښوروا نه درکوي.

په دې چرت کښې ډوب وم چې د ليونيانو درازخانې ته ورسيدم، چې د درازخانې په دروازه د ننه ننوتلم د درازخانې د دروازې په منځ کښې يو ليونى ولاړ دى دواړه لاسونه يې خپاره کړيدي د دروازې د چوکاټ يا زوګان يې پرې کلک نيولي دي شايې کوځې ته ده اومخ يې ليونيانو ته اړولى دى ما چې داصحنه وليده شاته يې ودريدم چې ځان پوه کړم چې څه وايي؟ دغه لېونى چې سلطان نوميده نورو ليونيانو ته وايي: زه به تاسې ته د سبا پورې په دروازه کښې ولاړ يم چې نه څوک در ننوځي او نه څوک د کوټې نه راووځي. په دې وخت کښې ورته منډه ګل غږ وکړ: ته ما په دروازه کښې څوکيدار مقرر کړى يې د سبا پورې څه کوې؟ هوش کوه تر څو چې ژوندى يې او سا در پکښې ښکته پورته ځغلي په دروازه کښې به سم دم نيغ ولاړ يې په غير د مهدي آخر زمان نه به بل هيڅوک نه راپرېږدې.

سلطان چې د منډه ګل دغه خبره واوريده په تق تق يې وخندل او هغه ته يې ښکاره کړه: مهدي آخر زمان بيا د دهمزنګ جيل ته نه راځي. خو تا ته وايم اې د مهدي آخر زمان جهان ګل صالح او نيکوکاره امتي! ته ما پيژنې چې زه څوک يم چې ته په ما د خپل پيغمبر تينګه او سپارښتنه کوې. زما نوم سلطان دى او سلطان نوم د خداى دى. نو ته پدې کښې نور څه وايې چې پدې وخت کښې دهغه د نخر ګ دلاندې مې خپل ځان تير کړ کوټې ته ورننوتم. دهغه د تخرک دلاندې چې تيريدلم د منډه ګل او نورو لېونيانو سترګې پر ما ولګيدلې. سلطان ته يې غږ وکړ: پام کوه چې نور پيغمبران د تخر ګ دلاندې راونه باسې چې کوټه به راباندې تنګه کړې دا يو بس دى.

د ليونيانو په درازخانه کښې د برق رڼا لږه ربغنه غوندې وه ښه نه وه کله چې د درازخانې په منځ کښې ودريدم ليونيانو وپيژندلم ټول له خپلو ځايو سرچې بسترونه راپاڅيدل، چار چاپير رانه ودريدل، زما په لېدلو ډير خوشاله شول. يو

لېوني ماته وويل: لږ سات مخکښې مې سترګه ورپېدله پزه او يو غوږ مې د
سترګو درپېدلو سره وخوځېدل. زه پوه شوم چې ته راځې! بل هو لېوني سلطان ته
غږ وکړ: دومره دروغ او لافې څله وهې. چې زه د خپل تخرګ نه پېغمبران
راوباسم ته دې د خپل ځان او جهان نه هيڅ خبر نه يې تاخو مخکښې وويل زه
هېڅوک نه پرېږدم چې کوتې ته راننوځي يا بهر ووځي. اوس دې پدې درنګ
کښې وليده چې د تخرګ دلاندې دې زمونږ يو لېونی ملګری را تير شو! سلطان
چې راغی دهغه نورو لېونيانو ملګرو په ډله کښې ودرېده هغوی ټولو ته مې
وويل: تاسې پوهېږئ چې زه نن څنګه وختي ستاسې کوتې ته راغلی يم. منډه
ګل وويل: پدې ځانله زه پو هېږم چې ته نن څنګه زمونږ کوتې ته وختي راغلې
بل هيڅوک پدې نه پوهېږي. ما هغه ته په خندا څرګنده کړه: ښه نو چې ته
پوهېږې ووايه چې خبره څه شی ده. هغه خپلې اوږې پورې زه ودرولم په خندا يې
راته وويل: ما ته دې زما د پېغمبر مهدي اخر زمان پيغام راوړی دی.

فضل خدا خپله ناراستي وښکله وېويل: منډه ګل سوچ پوچ داسې دروغ
وويل چې شپې ته يې ورځ وويله او ورځې ته يې شپه. زه پوهېږم چې دسلطان نه
خبر شو ی يې چې زمونږ د ټولو نه غټه ادعا کوي چې زه دروی زمين سلطان يم او
زه هر څه کولی شم؟ بل لېونی د درازخانې په کونج کښې په خپله بستره کښې
پروت وؤ د خپلې زړې سرجي بسترې نه يې سر راوښکه وېويل: ته راغلی يې چې
مونږه ټول مړه کړې. ما ورته وويل: ته دا خبره څنګه کوې؟ هغه سرراواوچت کړ
لاس يې ماته ونيوه زه يې ددی نه وايم چې ته نن زمونږ کوتې ته د خپل ټاکلي
وخت نه وختي راغلی يې!ددې لېوني دې خبرې په ما ډيره بده اغيزه وکړه
غوښتل مې چې بيرته ولاړ شم او لېونيانو ته هېڅ ونه وايم،لږ سات چپ ودريدم
او ليونيانو ته مې ښکته پورته وکتل او دهغوی دغم ځپلې وېرجن ژوند تابلو
مې د زړه د پاسه ځوړنده کړه. بيا مې هغوی ټولو ته مخ راواړوه هغوی ته مې
وويل: تاسې ټول په کوته کښې پوره ياست نېمګړي خو نه ياست؟ نا ځاپه د

هغوی له منځه سلطان غږ وکړ: شکر دی نیمګړي نه یو یو را پکښې زیات شویدی.

ما فکر وکړ چي کوټې ته یې بل نوی لیونی بندي راغلی دی. هغه ته مې دخپلې خبرې سر نیمکله ښکاره کړ: بل کوم یو درپکښې زیات شویدی چې زه یې وپېژنم. هغه داسې وویل: ستا پېژند ګلوی ته ضرورت نشته دی ته په خپله یې ته راپکښې زیات شوی یې! د ماښام راهیسې یو هم د کوټې نه وتلی نه دی ټول مې روغ رمټ په کوټه کښې ساتلي دي خوداراته ووایه! چې ته زما د تخر ګ دلاندي څنګه تیر شوې چې خدای دربانديږ زه ړوند او کوڼ کړم، د چشم بندۍ دم دې راباندې ووایه که څنګه ریښتیا، رښتیا به راته وایې. ما هغه ته وخندل داسې مې ورته په ګوته کړه: ته په خپله ښه پوهېږې ماته څه حاجت نشته دی چې زه څه ووایم. زما ددې خبرې په اورېدلو سره هغه خپل دواړه لاسونه پورته کړه څرګنده یې کړه: هو زه پدې ډیر ښه پوهېږم چې ته هم د مهدي آخر زمان له امتي سره مینه لرې. او ډیر زیات درباندې ګران دی. ددې خبرو نه وروسته ما ټولو لیونیانو ته وویل: زه چې نن دومره وختي راغلم غواړم چې له تاسې ټولو سره یوه سلا مشوره وکړم، ما خپله خبره نه وه خلاصه کړې چې فضل خدا زما دخبرې په خیته جوختې خپلې غبر ګې پښې ټېنګې کېښودلې او خپله خبره یې زما دخبرې د خېټې په منځ کښې داسې اواره سوره کړه: پدې کوټه کښې خو زما نه په غیر چې پیغمبر یم او به هر څه ښه پوهیږم هوښیار، داناء انا بینا یم، نور ټول سریداله لیونیان دي لومړی به د ټولو نه له ماسره سلا مشوره کوې! د فضل خدا داخبرې چې منده ګل واورېدې هغه یې د لیونیانو په منځ کښې په غږ کښې ونیو، پورته یې جګ کړ او دمځکې نه یې وویشته. لیونیانو شور او غالمغال جوړ کړ ما ددراز خانې دروازه بنده کړه منده ګل ته په قار شوم چې تا دا ښه کار ونکړ، غیر حق دې له فضل خدا سره جګړه وکړه. هغه راته په برندو سترګو داسې وځلوله بیا یې راته وویل: ته ولې ماته داسې خبره کوې. غیر حق مې ورسره

جګړه نده کړې په حق مې ورسره کړې ده. په خپله فضل خدا ته دا خبره ښه معلومه ده، څه وخت چې جهان ګل مهدي آخر زمان د جیل نه خلاصیده ما دهغه لاسونه مچې کړه او هغه ته مې وویل: خپل صالح نېکوکاره امتي دې دلته چاته پرېږدې. هغه راته په رموز څرګنده کړه: تا دلته د دې د پاره پرېږدم چې په جیل کښې به بل پېغمبر نه پرېږدې. بیا یې فضل خدا ته مخ راوګرځاوه او هغه ته یې د مسکا په لهجه داسې خپله خبره وکړه چې له هغه سره یې مخکښې هیڅ جګړه کړې نه وي: زه ګوندې پدې خبره کښې دروغ وایم ته زما پدې خبره شهادت نه کوې. ستا په مخ کښې یې راته دا خبره کړې نده. فضل خدا په داسې حال کښې چې دهغه خبرو ته متوجه وو وویل: زه د منده ګل پدې خبره د خدای د پاره شاهدي ورکوم زما په مخکښې یې ورته وویل: په جېل کښې به بل پیغمبر نه پرېږدې. سلطان د ډېر قهر او شدت په لهجه د خپلې خولې لاړې شیندلې فضل خدا ته یې ښکاره کړه: اخر اوس ماته را تیر شوې که په خپله په دې شاهدي ورکوې. ډېره ښه شوه نو زما نوم څله یادوې؟ ته فکر کوې د هغه چا نوم چې ته دلته یادوې هغه به دلته نه وي، زه له تاسره یو ځای ناست یم. د لیونیانو دې خبرو به کله ژړولم او کله به یې خندولم. هغوی ټولو ته مې وویل ترڅو چې ما خپله خبره خلاصه کړې نه وي زما په خبره کښې هیڅوک را چوکه کیدلی نشي او که هر څوک پکښې را چوکه شول هغه به د کوټې نه په شرېکه وباسو.

هغوی راسره دا خبره ومنله. نا څاپه یو لیوني وویل: خدای دې خیر کړي چې د آسمان نه به راباندې څه تندر رالوېږي. سمدستي سلطان ماته وکتل خپل سر یې وښانده ویې ویل: ته ورته ښه وګوره ستا نه هم نه شرمېږي. بیا یې زما نوم واخېست دا خو د ې د کوټې نه وښکل شي. نورو لیونیانو هغه دواړه چوپ کړل ماته یې وویل: ته دې خپله خبره مونږ ته وکړه! ما هغوی ته څرګنده کړ: تبنګي او هوټلي دواړو ماته وویل: مونږ نوره ډوډۍ او ښوروا لیونیانو ته نه ورکوو هغوی ستا سې د لاسه ډېر شکایت کاوه نو په همدې لحاظ هغوی دواړو خپل د

ډوډۍ او ښوروا قرارداد ونه مات او فسخ کړل حسابونه يې له ما سره خلاص کړل زه د همدې خبرې د پاره ستاسې کوټې ته راغلم چې له تاسې سره پدې کښې يو ځای سلا او مشوره وکړم چې څه چاره په کار ده؟ زما دا څو خبرې چې ليونيانو واوريدې ځينو خندلې او ځينو نورو ژړلې او ځينو ښکنځا وې کولې.

په دې کښې لږ سات تير شو د ژړا، ښکنځاؤ او پوچ ورد ويلو نه مې بل هيڅ وانه وريدل، نو په زړه کښې مې دا غوټه او خند پيدا شو چې ته خو راشه د ليونيانو نه دا پوښتنه وکړه: هغو ليونيانو چې خندل له هغوی نه مې دا پوښتنه وکړه چې تاسې ته ما دا خبره وکړه تاسې ولې د ومره خندل؟ هغوی را ته په ځواب کښې وويل: ته خوشې چټي مونږ ته دا خبرې کوې مونږ ستا پر دې خبرو پورې خاندو چې ته مونږه ته وا يې چې سبا مو ډوډۍ او ښوروا نشته دې. که مونږه سبا د ډوډيو تبنګ د تبنګي په سر وليده ته به يې وګورې او تا ته به ډيره ښه معلومه شي چې څومره ډوډۍ ترې اخلو. لومړی خو مو دوه ډوډۍ د هغه د تبنګ نه اخيستلې اوس چې دارا ته تا وويل: چې تبنګي نورې ډوډۍ نه درکوي څومره ډوډۍ چې مو د هغه نه اخستلی شولې هغومره ډوډۍ به ترې اخلو او د هوټلي نه به د ښوروا ټول ديګ کوټې ته راوړو. ما هغوی ته په کراره وويل: ډوډۍ او ښوروا خو د نورو صنعتي کارکوونکو د پاره راوړي دا کار چې ونه کړئ دا ښه کار ندی. هغوی را ته ټولو په يو ه آواز وويل: هوښياره دا نصيحت دې ځان ته وکړه مونږ ته يې مه کوه. مونږ په ډوډۍ او ښوروا آموخته شوي يو؛ چې د ډوډيو تبنګ او د ښوروا ديګ وينو مونږه ور ته بېخي ډېر تېنګېدلی نه شو؛ په ځانونو هيڅ نه پوهېږو که په زنځېرونو مو څوک وتړي هم شلوو يې د ليونيانو دې خبرو بې اختياره وخندولم.

بيا مې د هغه نورو ليونيانو نه پوښتنه وکړه کومو چې همداسې په يو تال خپل رينګټې واهه ژړل يې: تاسې د څه د پاره ژاړئ؟ هغوی په داسې حال کښې چې ټول د ژړا سلګيو نيولي وو داسې يې څرګنده کړه: مونږه به ولې نه ژاړو چې

اوس به ټوله شپه د سبا پورې پدیکښې فکر کوو چې مونږ ته ډوډۍ او ښوروانه راکوي. سبا سهار به دې راته داخبره کړې وی چې ټوله شپه خو مو تر سهاره فکر نه کولی مونږه چي ټوله شپه تر سهاره پورې داسوچونه او فکرونه کوو سبا به ټول سروپ لیوني شوي یو بیا به مو څوک ټینګولی نشي. تا خو اوس پخپله په روغ لاس مونږ لیوني کړو.

هغوی دغه څو خبرې وکړې او خپلې ژړا ته یې د پخوانه پسې ډیر زور ورکړ. ما هغوی ته صرف دا څرګنده کړه چې بې وخته ژړا مو څه فائده نه کوی. په هغوی کښې یوه لیوني وویل: د ژړا وخت چا معلوم کړیدی هر وخت چې د سړي په زړه د غم غوبل راشي بیا ژاړي ته چي نه ژاړې ستا زړه روغ دی ما د هغوی په حال په زړه کښې ډیر ژړل او په عین حال کښې مې ډیر خندل.

بیا مې د هغه نورو لیو نیانو نه پوښتنه وکړه چې تاسې ولې ښکنځا وې کولې. تاسې ته چا څه ویلي دي چې ټول د یو مخې ښکنځا وې کوئ نورې مه کوئ بس دي دوی ټول په ډیر قهر او غضب ما ته لک بوږڅ شول او ما داسې حس کړه چې اوس ټول راباندې حمله کوي. بیا یې راته وویل: مونږ به تا ته سبا ستا د پوښتنې ځواب درکړو. ددوی په ډله کښې یوه لیوني خپلو نورو ملګرو ته ښکاره کړه: په خپلو زړونو کښې ځواب ساتل د سبا پورې ښه کار ندی څله خوشي پشي خپل زړونه تق چوو، همدا اوس ورته ځواب ورکوو. هغوی ټولو داسې ځواب راکړ: مونږ ټول لیونیان نه یو د جیل د ټولو بندیانو نه په هر څه ښه پوهیږو لاسونه لرو ډیر ښه کار پرې کولی شو. دغه ظالم مستبد د شهر ناپرسان حکومت برناحقه د سیاسي بندیانو په نامه تومتیان کړي یو. هیڅ جرم مو ندی کړی په زندان کښې بې اچولي یو. ډوډۍ او جامې خو مو پرې حق دې چي ډوډۍ او جامې راکړي مونږ ټول کار کولی شو. مدیریت ته څو چي په صنعتي کارګاوو کښې مو شامل کړي او ډوډۍ راکړي او که هغه راسره بیا داونه منله نو بیا به د ځانونو بله چاره کوو، دومره ظلم او ناروا خو د دنیا په یو وطن کښې

نشته دي چې څوک برناحقه د سیاسي بندي په نوم بندي کړه او ډوډی هم مه ورکوه. دلیونیانو سره یې په کوټه کښې واچوه چې مونږ هم څو ورځې وروسته د دوی په شان لیونیان شو.

ما دلیونیانو نه دا دری ډوله خبرې واوریدلې چې دهغوی د خبروپه اوریدو مې د وحشت د زمانې تاریخ په سترګو کښې مجسم شه او داراته پوره پته ولګیدله چې د شهر ناپرسان د سلطنت دمدور میز د اراکینو بقا او ژوندون پرائحې، پرائحې په ظلم زور؛ وحشت او اختناق ولاړ دی. د لیونیانو د کوټې نه بهر رااوتم چرت مې ډیر زیات ویجاړ ؤ خپلې کوټې ته راغلم تر ډیره وخته پورې ویښ ناست وم خوب نه راته د چرت په تال کښې به مې ښکته پورته زنګل چې چرګ بانګ شه آخر سترګې راباندې پټې شوې ویده شوم.

## وړی لیونیان او د ډوډیو تالان

په خواړه خوب ویده وم چې زمونږ په کاریډور کښې شور او ځوږ جوړ شه؛ د خوب نه راویښ شوم راپاڅیدم د کوټې نه رااوتم لړ راختلی دی، دسهار اته بجې دي د قلعه جدید د کاریډور د سیمې دروازې نه بهر د لیونیانو شور او غالمغال مې واوریده، پوه شوم چې دډوډیو تینګې؛ تینګ راوړی دی د بندیانو په تیل و مار کښې مې خپل ځان د لیونیانو منځ ته ورساوه. چې ګورم د ډوډیو تینګي پهلوان بیردي او یو لیونی مټ په تیکی شویدي(۱). د ډوډیو د لرګي تبنګ یې مات او ټوټې ټوټې پروت دی. ډوډۍ هیڅ نشته دي، لیونیانو خپلې غیږې د ډوډیو نه ډکې کړې دي یوې خوا اویلې خوا ته ځغلي منډې وهي او هم په منډو کښې ډوډۍ خوري. عسکر او مبصران پسې ځغلي ددې صحنې په لیدلو دومره

---

(۱) یعني لاسونه او پښې یې د یو بل را چاپیر کړیدي ولاړ دي زورو نه کوي چې یو بل راوپرځوي

هیجاني شوم چې ما هم د لیونیانو په طرفدارۍ د لیونیانو او عسکرو او مبصر سره په شور او غالمغال پـه اخ و ډب لاس پورې کړ چې له څو عسکرو او مبصر سره مې د غرګې جنګ شروع کړ. له لیونیانو نه مې لږ عسکر منعه او ساړه کړه چې پدغه وخت کښې راتـه یو لیوني غږ وکړ: شابسې ملګری! لږ شان نور یې هم ایسار کړه چې خپل ځانونه خو په ډوډیو ماړه کړو! دا نو داسې وخت دی چې له هر لیوني سره لس او شل ډوډۍ دي، غـږې یې د ډوډیو نه ډکې دي او د قلعه جدید د دیوال د تعمیر نه یې چار پېر عسکر ځغلوي او هغوی په منډه کښې د ډوډیو نه داسې شورې وهي چې یوه ډوډۍ یې په څو شورو کښې خلاصه کړې وي. عسکر او انضباطان راټول شول مونږ ه ټول یې ونیولو د چا سر مات شویدی د چا پزه او د چا کمیس دوه برانډې شویدی یو لستونی یې په یو ځای کښې پروت دی او بل لستونی یې په بل ځای کښې. پدې وخت کښې د جیل انضباطي مدیر د نورو عسکرو سره راغی مونږه ټول یې د قلعه جدید د ویالې په غاړه کتار ودرولو هر یو لیوني دوه او دری تنو عسکرو نیولی دی. زه هم دوو تنو عسکرو د لاسونو نه نیولی یم د جیل مدیر میر عباس ته یې وړاندې کړو. پهلوان بیردي د خپل مات شوي د لرګي د تبنګ څو ټوټې او د شوکي پو کي څو ډوډیو څو قطرې په غېږ کښې نیولې دي دا هم راغی چې کمیس یې دوه برانډې شوی ؤ د ډوډیو د تبنګ منجیله یې په وینو لت پت شوې وه د جیل د انضباطي مدیر میر عباس په مخ کښې ودریده چې خپل عرض ورته وکړي. کله چې د جیل د انضباطي مدیر سترګې په پهلوان بیردي ولګیدلې سمدستي یې په خپله په څپړو پرې رامیزې کړې دومره زیات یې په خپله په څپړو وواهه چې په خپله د جیل مدیر سا او تیګا شـه په پرشبدو یې لاس پورې کړ په خپل ځای ودریده چې خپل عرض و داد ورته وکړي. هغه ورته هیڅ اعتنا ونکړه او یو څو سختې سختې څپړې یې نور هم وواهه هر څومره چې پهلوان بیردي هغه ته چیغې او سورې وکړې چې: اې صاحبه! زه لیونی نه یم زه د ډوډیو تبنګي یم د لیونیانو

دډلې په مخکښې چې ولاړ يم خپل عرض و داد تاته کومه چې ليونيانو زما د
ډوډيو تبنګ مات کړيدی له ليونيانو نه دې مخکښې په ما راميزې کړې! خو
د پهلوان دغه چيغې او نارې بې وختهوې تر څو چې مدير دهغه په خبرو پوهيده د
پهلوان بهردې نه يې د بوسو خوسی جوړ کړی ؤ ،د جېل مدير خپله دمه لږه جوړه
کړه، مونږ ليونيانو ته يې مخ راواړاوه ، دهغه تور پلن دربړ مخ کښې پيرې
شونډې د هغه د زنې لاندې پرتې وې. د شوتلو د پرسېدلي غوا يې پشان سرې
بتيارې او ښکلې تکې سرې نا غه دارې چاودلې ستر ګې يې د ډيره قهره ريولې
او پداسې حال کښې چې خپلې پلنې ژامې يې کلکې د يوې بلې د پاسه تير و بير
کړې وې خپلې لاندې باندې دربړی پېړې شونډې يې يو تر بله کلکې د يوې بلې
د پاسه سور ې کړې وې په قار وويل: تاسې ليونيان حراميان ما پيژنئ چې زه
څوک يم؟ زه مير عباس بې خدا يم. زه به تاسې اوس ټول ځينګې په ځينګې
کړم. پدې وخت کښې سلطان ليونی چې په لومړي کتار کښې ولاړ ؤ سر يې دوه
ځايه مات شوی ؤ، ټولې جامې يې په وينو سرې ککړې شوې وې په جګ آواز
يې مير عباس ته وويل: که ته مير عباس بې خدا يې؛ زما نوم سلطان دی او
سلطان نوم د خدای دی. نو زه ستا (نعوذ بالله) خدای يم، زه دې کله بې خدای
پرېږدم. نور هغه سيل بين بنديان چې زمونږ خوا و شاو لاړ وو هغوی چې د
سلطان دا خبرې واورېدلې ټولو وخندل. مير عباس عسکرو ته امر وکړ څو
ليونيان يې ووهل.

ليونيانو هم په عسکرو د څپېړو وارونه وکړل پدې وخت کښې د جيل د
انضباطي مدير ستر ګې په ما ولګيدلې. ماته يې وويل: ته د دې ليونيانو په
کتار کښې څه کوې؟ هغه انضباطانو او عسکرو چې ما مخکښې د غرګې
جنګ ورسره کړی وو او د يو انضباط سر هم مات شوی وو مدير ته وويل: د
ډوډيو تبنګ پرې ده چور کړيدی. دا د ليونيانو تهنګ او کلک ملاتړی ملګری
دی. انضباطي مدير ماته په ګوته کړه: ولې داسې کوې؟ ما هغه ته په ډاګه کړه:

داليونيان ندي دا سياسي بنديان دی، لوړې ليونيان کړی دی ،دوی زما او ستا پشان انسانان دي د ډوډيو او جامو حق په تاسې لري. ما چې هغه ته دا وويل هغه په خپلو شونډو د مصنوعي خندا نقش جوړ کړ بيا يې وروسته د خپلې خبرې سرداسې ښکاره کړ: ته پوهيږې چې زه پوليس يم زه په مخ کښې دوه سترګې لرم او په څټ کښې څلور سترګې ، د خبرې سر چې څوک راواخلي بيا تر آخره پورې زه په هغې پوره رسېدلی يم. ددې مسئلې اصلي او واقعي محرک ته يې ،ستا ددې دوو خبرو نه ما ته پوره پته ولګيدله چې ليونيان د ډوډيو چوړ او تالان ته تا تشويق کړي دي، ته غواړې چې زمونږ د انضباطي د سپلين چوکاټ مات کړې او دلته په جيل کښې د بې نظمۍ هنګامه برپا کړې خو ته پدې ښه پوه شه چې زه مخکښې او شا ته يو شان سړی وينم. زه تا ته دا خبره بيا راغبرګومه او تا ته وايم چې په ليونيانو د ډوډيو تبنګ تا چور کړی دی! مير عباس د خپلې خولې د خبرو کوزړۍ لاتشه کړې نه وه چې يو ليوني ځان د عسکرو نه راخلاص کړ او دهغه په مخکښې نيغ ودريده او هغه ته يې د حيرانتيا په ژبه وويل:ستا داخبره بالکل ريښتيا ده او هيڅوک دې ته دروغ نشي ويلی چې دا هلک زمونږ کلک ملګری او پوخ انډيوال دی بيګا زمونږ کوټې ته راغلی ؤ ،له مونږ سره يې هم پدې باره کښې خپله سلا ، مشوره وکړه خو د ډوډيو په چور کښې راسره يوځای نه ؤ خو ډېر ښه يوسم کار يې کړيدی مونږ چې د ډوډيو تبنګ چور کړ او د ډوډيو په تښتولو مو پيل وکړ لږ سات وروسته نور عسکر او انضباطان زمونږ د نيولو دپاره راغلل چې مونږ ونيسي او زمونږ نه بيرته ډوډۍ واخلي، دې هلک د هغوی مخه کلکه ونيوله غرګي جنګ يې ورسره شروع کړ، زمونږ نه يې منعه کړل مونږ ځانونه په خوند او مزه باندې په ډوډيو ماړه کړل او دا يې هم زياته کړه :که چېرته په دغه وخت کښې دا هلک نه وی نو مدير صاحب مونږ بالکل غرق شوي وو تولې ډوډۍ يې را څخه بيرته اخيستلې بيا يې وخندل که دا کار شوی وی په شرمونو به شرميدلي وی. مير عباس خپل ځان ته ګوته

ونیوله ځرګنده یې کړه: زه پولیس یم زه چې مجرم ونه پېژنم بل څوک به یې څنګه وپيژني بیا یې ماته مخ راواړاوه: اوس خو دریاندې دغه لېوني هم شهادت وکړ چې بیګا د لیونیانو کوټې ته تللی وې او له دوی سره دې سلا مشوره کړیده اوس به ستاسې د ټولو نه یو تحقیقات وشي چې تاسې ولې دډوډیو تبنګ چور کړیدی او ولې مو ټولې ډوډۍ خوړلي دي. یوه لیوني چې د میر عباس خواته نیژدې عسکرو د لاسونو نه نیولی ؤ هغه ته وویل: خپل کاتبان چټي مه په عذابوه زه به تا ته اوس لنډ تحقیقات درکړم مونږ چې د ډوډیو تبنګ چور کړیدی ورږ ي وو او تر اوسه پورې مو د کچالانو پوستکي او واښه خوړل دغه هلک چې زمونږ کلک ملګری دی مونږ ه یې په ډوډۍ او ښوروا عادت کړو، نورې به همداسې ډوډۍ خورو ځکه چې ډوډۍ خو د خوړلو دپاره دي او سړی یې باید په مزه په مړه ګیډه وخوري زمونږ د ټولو دا یوه خبره ده او دا مو تحقیقات دي. ټولو لیونیانو په یو آواز وویل: هو! زمونږ د ټولو دایوه خبره ده او دا مو تحقیقات دي. د جیل انضباطي مدیر دلیونیانو دغو آوازونو ډیر په قار کړ سر یې راټه وخوځاوه ویویل: خلاصیدی نشي. پدې وخت کښې مخکښې لیوني ماته په سر اشاره وکړه او مدیر ته یې بیا وویل: مدیر صاحب! مونږ په ډوډۍ او ښوروا دې هلک آموخته او عادت کړي یو نو اوس آموخته بلا په بسم الله نه اوړي ځکه چې پدې باره کښې یو متل هم شویدی چې وایي ( آموخته خور ښه دی که میراث خور ) . د جیل انضباطي مدیر چې دلېونیانو دا خبرې واوریدلې فکر واخیست چې څه ووایي. بیا یې سر ښکته پورته وخوځاوه څرګنده یې کړه:

خلک خپلې ډوډۍ خوري نه پردۍ ډوډۍ! پدې وخت کښې دوه نورو لیونیانو غبر ګ غږ وکړ: مدیر صاحب! دلته زمونږ د مور تنور چیرته دی چې مونږه ته خپلې ډوډۍ پخې کړي. مونږ چې نور هر چیرته ډوډۍ په سترګو ولیده هغه زمونږه خپله ډوډۍ ده، په ډوډۍ کښې مې خپله او پردۍ ډوډۍ لیدلې نده خو هر چاچې په خوله کړه هغه یې خوړلی شي. ټول خلک ډوډۍ په پاس خوله

خوري او په لاندې خوله يې غورځوي. ته دې اوس د ډوډۍ د تبنګ غم خورې که د ښوروا او د ديګ بوی په مونږ راغی ته به يې بيا وګورې چې مونږ څه کوو.

ټولو ليونيانو چيغې کړې رښتيا وايي . د جېل سردارباشي او يو ضابط په منډه راغلل مدير ته يې وويل: قوماندانصاحب راغی. مدير چې د قوماندان نوم واوريده هله پته شه سمدستي يې په منډه وهلو شروع وکړه د عسکرو حوالدار هغه ته وويل: په ليونيانو څه وکړو ؟ هغه ورته په کراره وويل: اوس يې پرېږدئ وروسته به ورسره بيا ګورم. ما د جيل انضباطي مدير ته په ډاګه ښکاره کړه که قوماندان دلته راغی ته به يې بيا وګورې چې مونږ ورته بيا څه وايو او څه ورسره کوو. ټولو ليونيانو په شور او غالمغال چيغې کړې رښتيا وايي.

## د ښوروا ديګونه

مدير چې د قلعۀ جديد د بهر دروازې نه واته هوټلي ورته په مخه خپل د هوټل ديګونه په زمبيل کښې راوړل. په غير د دينه چې هغه ته څه ووايي يو څو څپېړې يې ژر ژر وواهه او هغه ته يې ښکاره کړه :دا وخت د هوټل دراوړلو دی چې تا پدې وخت خپل هوټل راروان کړيدی. هوټلي مدير ته وويل: زه د ډوډيو د تبنګي د چور او تالان نه خبر شوم چې تاسې هم دلته ياست ما چې نن هوټل د خپل وخت نه وختي راوړی دی ستاسې په ډاډ مې راوړ چې تاسې په خپله حاضر ياست. د جيل انضباطي مدير خدای رضا هوټلي ته په ډاګه وويل: مخ دې ورک شه؛ زه د هوې لانجې نه خلاص نه يم ته راته نورې د لانجو جاخې جوړوې. که په ليونيانو دښوروا په سره ديګ کښې د مچ پشان ځان غوپه کوې څه ورشه؛ دايې وويل او هغه لاړ.

بيا هوټلي په ما پسې ځواب راوليږه :زه خو بير ته هوټل وړلی نشم ته ليونيان خپلې درازخانې ته ننه باسه زه به هغوی ته د مخکښې پشان ښوروا

ورکړم. ما ټول لیونیان خپلې درازخانې ته ننویستل، هوټلي خپل د یګونه د زمبیل نه راښکته کړه لیونیانو د هوټل د دیګونو د حلقو کړنګار واوریده او د ښوروا بوی پرې ورغی. په دراز خانه کښې یوه لیوني وویل: هوټل بې راووړ د ښوروا خوږ بوی دی، ددې خبرې په اوریدلو سره یو دم ټولو لېونیانو د قلعه جدېد سیمې دروازې ته رامنډه کړه چې هوټل بې ولید وارخطا غوندې شول چه څه وکړي؟ هوټلي چې د لېونیانو حالت ته وکتل پوه شه چې اوس کار خرابېږي خدای رضا ډیر ټوکمار سړی ؤ لیونیانو ته یې په خندا وویل: ښوروا په څه شي کښې وړئ؟ ورشئ خپلې کاسې او ټیمې قطۍ مو راوړئ چې ښوروا درته پکښې واچوم. نن مې تاسې ته داسې غوړه ښوروا راوړې ده چې هیڅکله تا سو داسې غوړه ښوروا نده خوړلې. ما خو له تاسې سره د ډوډیو د تېنګې پشان قرارداد مات کړی ندی. هوټلي چې لیونیانو ته دا څو خبرې وکړې هغوی بیرته خپلې درازخانې ته په منډه راغلل خپلې کاسې او ټیمي قطۍ بې راواخیستلې یو د بل نه په لاره کښې مخکښې کیدل، هوټلي ته راورسیدل.

زه پدې چرت کښې ولاړم چې اوس به لیونیانو له هوټلي سره څه کړي وي چې راغلم هوټلي د مخکښې پشا ن د ښوروا په غټه مسینه څمڅۍ هر یو لیوني ته ښوروا په کاسه او قطۍ کښې اچوي او ځینې لیونیان خپلې کاسې او قطۍ د ښوروا په سره دیګ کښې منډي . ما هغوی ته وویل: تاسې لږ صبر وکړئ تاسې ته هم ښوروا دراچوي. هغوی راته ښکاره کړه: مونږ خپل عادت په صبر نه شو خرابولی! پدې وخت کښې خدای رضا راته سترګه ووهله: پرېږده! نور ټول لیونیان خلاص شویدي ځانله همدا څو تنه پاتې دي. خدای رضا هوټلي چې ټولو لیونیانو ته ښوروا ورکړه پهلوان بیردي هم د لیونیانو په سر ولاړ ؤد لیونیانو او هوټلي تماشا کوي.

ما د خدای رضا نه پوښتنه وکړه : تا لیونیان څنګه دلاسه کړل ،مخکښې خو له دوی سره کاسې نه وې . هغه راته وخندل او ویویل: کله چې ما لېونیان ولیدل

چې د ښوروا په سره د يگ اوار راخيژي ژر مې له هغوی سره په ټوکو ټکالو لاس پورې کړ ورته څرگنده مې کړه: ورشئ ژر خپلې کاسې راوړئ نن مې ډيره ښه ښوروا تاسې ته راوړې ده. داسې مزه داره غوړه ښوروا ده چې زه به در ته څه وايم. د لبنانيانو د چور چپاول مخه ما پدې خبرو ونيوله؛ زه د هغوی نه خدای په امن کښې وساتلم او که دا خبره نه وی د جهل د انضباطي مدهر خبره اوس به د ليونيانو د لاسه د ښوروا په سره د يگ کښې د مچ پشان کونجلکه جوغدې پروت وی.

بيا يې خپل وطندار پهلوان بيردي ته په ټوکه ټکاله کښې وويل: ستا د ډوډيو تبنگ يې څنگه چور کړ؟ هغه ورته وويل: زما د ډوډيو تبنگ په سر ؤ چې ليونيان راورسيدل يوه ليوني د تبنگ د سر نه دوه ډوډۍ واخيستلې ما هغه ته په قهر وويل: ما خپل د ډوډيو قرارداد مات کړيدی زه نن تاسې ته ډوډۍ نشم درکولای. ليونيانو چې دا خبره زما دخولې نه واوريدله. نو بيا مې نه خپل ځان ليدلې او نه د ډوډيو تبنگ؛ کله چې عسکر راورسيدل ټولو ليونيانو ډوډۍ چور کړې وې او تبنگ يې راته ټوټې ټوټې کړی ؤ اوس ددی نه ډارېږم چې د ډوډيو تاوان رابانديې رانشي؛ د ليونيانو نه مې د پاسه پرې وهل هم وخوړل. ما پهلوان بيردي ته وويل: که د ډوډيو تاوان يې در باندې حواله کړ نيما يې تاوان به يې زه درکړم.

# د قرارداد نويېدل او د تېپي لېونيانو تداوي

ددې لانجې د غوڅېدلو وروسته مې هغوی ته وويل: تردې وروسته به له لېونيانو سره څه کوو؟

هغوی دواړو راته وويل: د هغې بلا نه چې نه خلاصيږې ورته خانده! زمونږ او ستا هم هغه زوړ قرارداد دی، له هغوی سره مې دا لوز هم وکړ: زه به له

لیونیانو سره یو څو ورځې چې تاسې د ډوډۍ تبنګ او ډېوروا دیګو نه راوړل یو ځای راځم تر څو چې هغوی عادت واخلي ما له هغوی سره پدې خبره فیصله وکړه. زه د لیونیانو دراز خانې ته راغلم چې څوک ویده شوېدي او څوک ناست دي له خپل ځان سره خبرې کوي او څوک یو تر بله سره خاندي. چې په ما یې سترګې ولګیدلې ټولو وخندل بیا یې راته وویل: بیا څنګه راغلې؟ څه بلا راباندې راغورځوې؟ ما هغوی ته وویل: زه یوه پوښتنه له تاسې نه کوم او هغه دا ده چې تاسې د ډوډۍ تبنګ څنګه چور کړ او مخکښې دا کار چا وکړ؟ منډه ګل وویل: مخکښې خو دوه ډوډۍ د تبنګ د سرنه ما واخستلې. سلطان وخندل: که رښتیا را باندې وایې د ډوډیو تبنګي ما او فضل خدا دواړو داسې په زور ټیل واهه چې د ډوډیو تبنګ یې یو ځای وغورځیده او تبنګي بل ځای. بیا نو وروسته په ډوډیو چور او تالان جوړ شه. د لوی اختر ورځ راباندې راغلې وه. پدې وخت کښې یو لیونی ماته راوړاندې شو او غلې شانته یې راته په غوږ کښې وویل: ما ستا په کوټه کښې ستا د کټ لاندې یوه غټه ډوډۍ اچولې دي. ددې لیوني نوم اسمعیل وو دا دهغه لیونیانو په ډله کښې ؤ چې بیګایې ډیر ژړل او ماته یې ویلي وو چې زه به اوس د سبا پورې ویښ ناست یم فکر به کوم. ما چې د اسمعیل دغه خبره واوریده ډیر بې اختیاره مې وخندل هغه راته په خوله لاس اېښوده، داسې یې راته ویل پام کوه چې زما خبره یه هیچاته نه کوې زما خبره هسې خوشې چټي خبره نده. لیونیانو چې د اسمعیل نه دا خبره واوریده ټولو راته وویل: د رینبتیا ؤ میدان دی په دروغو راته خلاصیدی نشي اسمعیل تاته په غوږ کښې پټ څه وویل؟ ژر کوه اوس یې مونږ ته ووایه! ما هغوی ته وویل: اسمعیل ما ته په غوږ کښې دا خبره وکړه: زمونږ سرونه مات شویدي ورشه ټینچر چرته پیدا کړه! زه د لیونیانو د دراز خانې نه راووتم چې ګورم په ما پسې سم اسمعیل د درازخانې نه راووت منډه ګل هغه کلک ونیوه، ورته ویې ویل چرته ځې له مونږه سره یو ځای په کوټه کښې کښینه، او س ته غواړې چې ټول

تېنچر تـه په خپل سر او خپل ځان ووهې؛ دا دومره هوښیار او سیانه تـه یې مونږه تاتـه دومره کم عـقله او لیونیـان ښکاره شوو سم دم جوخت په کوټه کښې راسره کښینـه چې د خپله ځایـه شور و نـه خورې. اسمعیـل یې پـه وچ زور بیر تـه دراز خانې تـه ننویستـه وروستـه یې پـه ما پسې سور ې نارې جوړې کړې ددې لیونی بلا نه مې خلاص کړه. اسمعیلّ چې پدې ښه پوه شه چې زه د خپلې کوټې په طرف روان یم غږ یې راتـه وکړ: پام کوه چې زما پته خبره چاتـه ونکړې، بېرتـه ژر راشه. زه خپلې کوټې تـه ننوتم او تر خپل کټ لاندې مې وکتـل یو پنډ ډوډۍ پرتې دي او پـه یوه ډوډۍ بـاندې پیشو لګیا ده خوري یې. پیشو مې د کوټې نـه وښکه کوټه مې قلف کړه. پدې وخت کښې مې ملک قیس کاکا تـه وویل له تاسې سره تېنچر نشتـه دي؟ هغه راتـه وویل لږ تېنچر راسره شتـه دي دا خبره زما مشر ورور شیر محمد خان واوریده هغه ماتـه غږ وکړ: دلتـه راشـه لـه ماسره پـه کوټه کښې یو غټ بوتل د تېنچرو شتـه دی کوم ځای چې دې زخمي شوی وي تېنچر پرې ووهه.

ما هغـه تـه وویل: ما ستا د کوټې پـه تاخچه کښې د تېنچرو یو غټ بوتل لیدلی ؤ ما فکر کاوه چې اوس بـه خلاص شوی وي. هغـه څرګنده کړه: همداسې امانت پروت دی. ما هغـه تـه وویـل: زه تېنچر د لیونیـانو دراز خانې تـه وړم د هغوی سرونه او بدنونـه ډیر زیات زخمي شویدي. هغه راتـه د تېنچرو بوتل، پاک سپین مالوچ او څه سپینې رنځکې او د ترلو دپاره سپینې د ګاز ټوټې راکړې زما د مشر ورور شیر محمد خان او تره خان محمد خان سره ډیر زیات درمل وو دوی تـه دغـه ټول درمل ډاکتـر عبدالرحمن محمودي ورکړي وو څه وخت چې مونږ د خور د تعمیر نـه د قلعـه جدید سیاسي مخصوص تـه بیر تـه راغلو یوه هفتـه وروستـه یو ناپیژندګلو ډاکتر مونږ تـه پـه پایوازۍ راغلی ؤ چې مونږ ټولو تـه یې یوه یـوه پیچکاري وکړه او څه درمـل یې هم راکړه او زمونږه دوو مشرانو تـه یې ډیر زیات درمل ورکړل نومړي ډاکتر ډیرې میوې هم د ځان سره مونږ تـه راوړې وې او دډاکتـر عبدالرحمـن محمودي کور زمونږ د کور لـه خوا سره نیژدې ؤ

زمونږ د کورنۍ د ټول حال احوال نه ډیر ښه خبر ؤ زمونږ د کورنۍ غړو ته به یې هم درمل ورکول او د هغوی معاینه به یې کوله د خپلې معاینې روپۍ به یې ترې نه اخیستلې. په هفته کښې به یې یو ځل زمونږ د کورنۍ د غړو خبر اخیسته چې څوک خو پکښې ناروغ نه دي له خوشحال خان او محمد نادر خان دواړو سره ښه بلد شوی ؤ او پوره شناخت یې ورسره لاره. هغه دواړه به یې خپل کورته هم راوستل او خپله د خواخوږۍ او بشري عواطفو له مخې به یې له هغوی سره هر ډول مرسته هم کوله، د زنانه جیل ډیرو تنګو سختو زما یوه پیغله وریره ( زما د مشر ورور لور ) چې سلطنت نومیده او ډیره زیاته ښکلې با حیا پښتنه پیغله وه په نري رنځ (سیل) اخته کړې وه، دغه با عاطفه دلسوز او همدرد واقعي ډاکتر د خپلې مور او وریندارې سره خپل کورته راوستله هغه یې په یوه جلا کوټه کښې بستر کړه. خپله میرمن یې د هغې پر ستاره کړه دری میاشتې یې ورته ښه علاج وکړ او دعلي آباد د سناتوریم ډاکتران یې هم ورته راوستل پدې دری میاشتو کښې د هغه ډاکتر خوارۍ علاج او زحمت هیڅ ځای ونه نیوه دا ځکه چې د هغې رنځیدلې پیغلې حالت ورځ په ورځ خرابیده د هغې ځیګر هم خراب شوی ؤ او درنځ په آخرینه مرحله کښې وه، ډاکتر محمودي د سلطنت په مرګ ډیر زیات خپه شو او خپله د همدردۍ او غمرازۍ سلسله یې زمونږ له کورنۍ سره ټینګه وساتله کله چې به محمودي زمونږ کورونو ته د کوم ناروغ د پاره تللو په ځای ددې چې ناروغ ته څه دوا او درمل یوسي د دارو او درمل سره به یې یو ځای څه میوه او څو روپۍ هم ورکولې او د خپل مسلک د احترام په خاطر به یې د ټولو بېوزلو او نادارو خلکو سره مرسته کوله او مخصوصاً له هغه خلکو سره یې چې د شهر ناپرسان سلطنت به بندیان کړي وو خاصه مینه درلودله او خاصه او سپېڅلې همدردي به یې له هغوی سره ښکاره کوله او د شهر ناپرسان د پاچا یې د مدور میز د کورنۍ د غړو ظلمونه او فجایع به یې هغوی ته په خوږه فصیحه روانه لهجه ویل چې اوریدونکي به یې ځان ته جلبول. هغه نومړی

ډاکټر که په ظاهر کښې د طب ډاکټر ؤ خو هغه په خپله په ډېر شجاعت هر چاته دا ویل چې په افغانستان کښې په افغان ولس د یحیی د کورنۍ د ظلمونو او چور چپاولونو د لاسه زمونږ په افغاني جامعه کښې هيڅ شيمه او طاقت پاتې شوی ندی. په ځای ددې چې زه ځان ته د طب ډاکټر ووايم او د يو رنځور علاج وکړم. ددې په ځای ماته دا ښه ښکاري چې د افغاني ټولنې د رنځونو او دردونو علاج وکړم.

د ټېنچرو بوتل او دارو مې د ليونيانو درازخانې ته راوړل چې گورم ليونيانو د اسمعيل لاس او پښې دواړه تړلي دي او په خپل ځای کښې پروت دی. چې د هغه سترگې په ما ولگيدلې سمدستي يې راته وويل: گوره چې زما پته خبره دوی ته و نه کړې زما پښې او لاسونه يې دواړه راته تړلي دي خو زما خولې ته يې هيڅ فکر نه شه ما ورته هيڅ ويلي ندي چې ته ورته هم هيڅ و نه وايې! ما چې اسمعيل تړلی وليده منډه گل ته مې وويل: لاسونه او پښې يې ژرور خلاص کړئ. اسمعيل منډه گل ته وويل: خدای ځنگه ژر راته وشرمولې چې لږ سات مخکښې دې زما دواړه لاسونه او پښې وتړل او اوس يې بيرته په خپله راته راخلاصوې او په لاس هم هيڅ در نه غلل. منډه گل هغه وسکونډه خپلې ژامې يې ورته تيرو بير کړې. اسمعيل چيغه وکړه: په ځای ددې چې لاسونه او پښې راته خلاص کړې په سکونډلو يې رانه غوښې بيلې او جدا کړې. هغه راته وويل: دروغ وايي غټ دروغجن دی اوس دا حرامي غواړي چې ما په تا ووهي. ما د ټينچرو د بوتل نه سر خلاص کړ، پدې وخت کښې بيا اسمعيل يوه چيغه وکړه: سکونډل خو داسې نه وي دا خو مې بيخي په انبور غوښې شکوي ما اسمعيل ته وويل: دومره چيغې ځله وهې وژلی خو يې نه يې! هغه راته پداسې حال کښې چې ويش ويش او وئ وئ کول خپله خبره بربنډه کړه: ته خو يو ځل زما خيټه وگوره چې زه خو يې مړ کړم زه خو مې مور کلک تړلي يم دومره بيغيرته خو نه يم. منډه گل مې د هغه نه تيل واهه چې د هغه د کميس لمن مې د هغه د خيټې نه

پورته کړه د اسمعیل خیته یې داسې سکوندلې وه چې سرې وینې یې د خیتې نه راوتلې وې او د خیتې په پوستکي یې دوه ځایه دوینې سرې کترې ولاړې وې.

ما منده گل یوه څپېړه وواهه، د اسمعیل لاسونه او پښې مې دواړه خلاص کړل. لومړی مې ټینچر دهغه په سکوندل شوو ځایونو ووهل. اسمعیل بیا چېغې کړې د منده گل نه خو تا ډېر وسکوندلم. ما ورته وویل: ماسکوندلی نه یې ما دې د خیتې په سکوندل شوو ځایونو ټینچر ووهل، اوس به کرار کرار سوزیدل په کراریږي. پدې وخت کښې ناڅاپه منده گل غږ وکړ: زه دې بر ناحقه په څپېړو ووهلم، ما تا ته مخکښې ونه ویل چې دا ډېر غټ دروغجن دی، دروغ وایي په تا یې اوس هم دعوه وکړه چې تا هم ووهلم ودې سکوندلم. د ټولو لیونیانو سرونه چې مات شوي وو ټینچر مې پرې ووهل بیا مې منده گل او بل یو لیوني ته وویل: دا دوه چای جوشونه واخلئ د سموار نه پکښې چای راوړئ او یوه روپۍ مې ورکړه چې پدغه به گوړه له چای سره راوړئ. هغه چای او گوړه راوړل سموار چي هم دهغوی سره یو ځای راغی سموار چې د کابل یو شریف او باعاطفه دلسوز انسانؤ په صوفي جلال یې شهرت درلود هغه د ځان سره وچ توتان او مویز هم راړي وو.

څه وخت چې صوفي جلال د لیونیانو درازخانې ته راننووت زه یې ولیدم چې د ټینچرو بوتل او نورې دواگانې مې په مخکښې پرتې دي، ډېر یې وخندل خوشحاله شه ماته یې ډېرې زیاتې دعاگانې وکړې او دایې هم راته وویل: ستا خبرې مې د میر عباس بې خدا سره واوریدلې چې تا هغه ته په ډېر جرئت وویل: دا لیونیان ندي لوړې او تنگو سختو لیونیان کړیدي داسیاسي بندیان زما او ستا پشان انسانان دي. هغه راته ښکاره کړه زه هلته ډېر ډاریدلم چې میر عباس بې خدا تا په عسکرو قمچین کاری نکړي، پرون یې په عمومي جیل کښې څو بندیان د ټولو بندیانو په مخکښې داسې قمچین کاري کړل چې د هغوی نه دوه تنه اوس د مرگ په حالت کښې د جیل په روغتون کښې پراته دي.

ما دهغه نه پوښتنه وکړه : گوره صوفي صاحب! هغه بنديان يې په څه خبره دومره قمچين کاري کړل. هغه راته په گوته کړه: هغوی ناروغان وو صنعتي کارگاؤ ته د کار دپاره نه شو تللی. په کوټو کښې پاتې شوي وو انضباطانو دهغوی نه مدير خبر کړ په هغوی پسې راغی او ډير زيات يې ووهل. ما صوفي ته څرگنده کړه : زه هم څو کمربنده عسکرو په تيل ومار کښې وهلی يم خو اصلي خبره داده دا ليونيان چې مير عباس بي خدا ووهل لکه عيناً زه چې يې وهلی يم خو سلطان انضباطي مدير ته ډيره ښه په زړه پورې خبره وکړه، څه وخت چې د جيل انضباطي مدير د ډير قهرنه خپلې ژامې تير و بير کړې مونږه ته يې وويل: تاسې ما نه پيژنئ چې ما ته مير عباس بې خدا وايي. ددې خبرې په اوريدو سره سم دستي سلطان هغه ته وويل: ما ښه وپيژنه چې زما نوم سلطان دی او سلطان د خدای نوم دی زه تا کله بي خدای پريږدم. د ويالې پغاړه چې سياسي بنديان ولاړ وو هغوی چې داخبره واوريدله په دې خبرې پورې يې ډير وخندل، مير عباس يې ډير خجالته کړ هغه راته وويل: ما خپل سموار خپل شاگرد ته پرينښودلی ؤ زه هم دخلکو سره يو ځای ولاړ وم د سلطان خبرې مير عباس الق دلق کړ چې څه ورته ووايي، ډيره ښه په ځای خبره يې ورته وکړه.

صوفي جلال دراتلونکي وخت دپاره د خپلې همدردۍ او مرستې اظهار وکړ هغه ولاړاو زه د ليونيانو سره په دراز خانه کښې پاتې شوم ليونيانو په خپلو پيالو کښې چای اچولی ؤ د گوړې پوټې او وچ توتان ورسره خوري. ما څه ددم راستې گولۍ او پوړۍ په هغوی وويشلې او يوه گولۍ او پوډري دوا مې په هر يو وخوړله.

## يوه پنډه ډوډۍ او د سکونډله سزا

ما منډه گل ته په خندا وويل: گوره! ته خو د خپل پيغمبر صالح او نيکو کاره امتي يې ته خو هيڅ دروغ نه وايې او ټگي برگي دې هم هيڅ نه ده زده نو

اوس به ماته ريښتيا ريښتيا وايې چې تا ولې اسمعيل دومره سخت وسکونډه.

-تا ماته رښتيا خبره وکړه چې دروغ او منافقت خو زما د پيغمبر مهدي آخر زمان جهان گل په شان کښې هيڅ نشته دي نو زه چې دلته ځانله د هغه نيکوکاره راستکاره امتي يم زه به هيڅکله دروغ ونه وايم، ما اسمعيل ځکه وسکونډه کله چې تـه مخکښې زمونږ ددرازخانې نـه خپلې کوټې ته لاړې اسمعيل په تاپسې وروسته روان ؤ تاته به يې څه پټه خبره کړې وه، ما ورته ووېل چې دا پټه خبره ماتـه وکړه ، هغـه راتـه ځان تېنگ کړ چې دا پټه خبره تاتـه نه کوم. مونږ ټولو په شريکه باندې د اسمعيل لاس او پښې وتړلې او دا مو فيصله وکړه څه وخت چې ته راغلې ستا نه به ددې پټې خبرې معلومات وکړو خو کله چې ته بير ته راغلې ته لا د کوټې په دروازه کښې وې چې اسمعيل تاته زمونږ نه مخکښې غږ وکړ چې زما پټه خبره به چاته نه کوې نو زما نه يې خوله هيره شوې وه چې خوله مې ورله هم تېنگه تړلې وی نو ځکه مې د ډيره قهره او غصې نه داسې سخت ، سخت وسکونډه. منډه گل خپلې خبرې کولې، اسمعيل ورتـه غلی او خامو شه کرار ناست ؤ چې هغه خپلې خبرې خلاصې کړې. اسمعيل ماتـه ووېل تـه چې خپلې کوټې ته تللې زه هم له تاسره يو ځای ځم خو پام کوه چې د مخکښې ځل پشان مې دلتـه بيا پرې نه ږدې! ما هغه ته څرگنده کړه تـه زما په کوټه کښې څه کوې؟ هلتـه څه کار لرې؟ هغـه راتـه وخندل بيـا يې راتـه پـه اشاره ووېل: تـه دې غوږ راوړاندې کړه په غوږ کښې درته څه پټې خبرې کوم. ما چې هغـه تـه غوږ وړاندې کړ هغـه ماتـه ووېل: دا مې ډېر لوی ارمان دی چې خپلې يو پنډ ډوډی پـه خپلو ستر گو ووينم ،د ليونيـانو ددرازخانې د جاخې نه مې يو ځای د ځان سره وباسه، همداسې مې خپلې يو پنډ ډوډی په ستر گو کښې ښکته پورتـه ځغلې. هغـه چې ماتـه په غوږ کښې دا پټې خبرې کولې، ټول ليونـيان ورتـه لک بوخ شوي وو او اسمعيل ته يې بد بد کتل. ليونيانو تـه مې ووېل: اوس نور ټول پـه خپلو بسترو کښې دم خودشئ زما له اسمعيل سره څه کار دی دا به له ماسره لاړ شي اوس به

بیرته ژر راشي. هغوی ته زما دا خبره ډیره سخته تمامیدله خو څه یې ماته ویلی نه شو.

کله چې زه د هغوی د دراز خانې نه راوتلم ، منده گل اسمعیل ته غلي شان وویل: غوږ دې راوړاندې کړه یوه پټه خبره درته کوم. هغه ورته په جگ اواز وویل: ما ته مې مور او پلار داسې ندي ویلي؛ چې ته به هر چاته خپل غوږ وړاندې کوې چې پټه خبره درته وکړي هر څه چې راته وایې ښکاره په میدان یې راته وایه. هغه اسمعیل ته وویل: ته د میدان د تینگې سړی نه یې! ما هغه ته څرگنده کړه: خیر دی که مور او پلار دې درته نه دي ویلي زه درته اوس وایم غوږ دې ورته وړاندې کړه څه پټه خبره به درته کوي. اسمعیل هغه ته لږ غوږ ورنیژدې کړ یو څه یې ورته په غوږ کښې پټ وویل: اسمعیل چیغې سورې ناري جوړې کړې. ما دهغه نه پوښتنه وکړه: څه یې درته وویل؟ چې دومره سورې نارې دې جوړې کړې! هغه وویل هیڅ یې درته ویلی نشم او نه درسره تللی شم خو پام کوه چې زما پټه خبره چاته ونه کړې! ما هغه ته ښکاره کړه: نو څه کوې؟ هغه هک حیران شه فکر واخیست، لږ سات وروسته یې منده گل ته په گوته کړه: اوس څنگه وکړم، دلته پاتې شم که له ده سره لاړ شم، هغه ورته هیڅ غږ ونکړ خپلې شونډې یې ښکته څوړندې نیولې وې په تندي یې د گونجو موږې جوړې کړې، خپلې سترگې یې بتې بتې راوښکلې د خپلو هډوکو په تاوولو یې پیل وکړ ما چې منده گل ته وکتل بیخي په بله غونه شوی ؤ د قهر په لهجه مې اسمعیل ته وویل: څه مخکښې شه چې څو هیڅ درته ویلی نه شي ما نه پیژني.

اسمعیل او زه دواړه د درازخانې نه راووتلو چې زما کوټې ته رانیژدې شوو هغه زه شاته د کمیس دلمنې نه ونیولم: ته شاته لږ وگوره منده گل ماته د دراز خانې په مخکښې ولاړ دی او خپله گوته راته همداسې خوځوي. ما چې شاته مخ واړاوه خپله گوته مې منده گل ته وخوځوله او هغه مې پدې پوه کړه چې درغلم درپسې. دواړه کوټې ته راننوتلو هغه خپل یو پنډ دوډۍ تولې د کټ دلاندې نه

راوښکلې د کوټې په منځ کښې يې د تغر د پاسه يوه پر بله سوره کړه دوه درې کتاره او چيله يې د ډوډيو نه جوړ کړل، بيا به يې ورته ښکته پورته وکتل خپل لاسونه به يې پرې ووهل؛ و به يې خندل، ما اسمعيل ته وويل: اوس خو به دې د زړه ټول ارمان وتلى وي. د سر په اشاره يې راته ښکاره کړه: هو! هو! ټول د زړه ارمان مې وتلى دى. بيا ما د هغه نه دا پوښتنه وکړه: تا ته منډه گل په غوږ کښې پټ څه وويل؟ هغه زما د پوښتنې داسې ځواب راکړ: اوس خو د کوټې نه په دوو پښو وځې خو کله چې بيرته راغلې زه به دې په کوټه کښې په څلورو پښو وگرځوم. اسمعيل د خپلو ډوډيو نه غيږ ډکه کړه دواړه درازخانې ته راغلو.

منډه گل ته يې وويل: زما پټه خبره زما د ډوډيو د غه پنډ دى چې اوس مې خپله پټه خبره په ميدان په ډاگه کړه. پر ليونيانو باندې مې په اسمعيل ډوډۍ وويشلې ليونيانو ته مې وويل: په خپلو منځو کښې به نور جنگونه نه کوئ.

## د شهر ناپرسان د پاچا کيسه

زه د ليونيانو په درازخانه کښې وم چې يو انضباط راپسې راغى راته ويويل: د جيل انضباطي مدير ستاسې کاريډور ته راغلى دى تا غواړي. زه د ليونيانو له درازخانې نه راووتلم چې بل انضباط راپسې راغى. مدير زما د تره خان محمد خان په کوټه کښې ناست دى. زما مشر ورور شير محمد خان هم له هغوى سره يو ځاى په کوټه کښې دى، زه چې څنگه کوټې ته ورننوتلم مير عباس بې خدا د خپله ځايه څخه پاڅيده په لوړ قهرجن اواز يې داسې وويل: هر څوک چې دلته د جيل انضباطي قوانين ماتوي چور چپاول کوي جزايې اعدام دى. ما هغه ته په کراره په سړه سينه خپلې خبرې داسې وکړې: ورشه ډيره ښه شوه هغه سياسي بنديان چې د لوړې د لاسه ليونيان شويدي ټول اعدام کړه. هغه وويل: د هغوى څه گناه ده؛ گناه ټوله ستا ده چې هغوى ته د چور چپاول او بى نظمى

تولې لارې چارې ورښايي. ما هغه ته زياته کړه: هغوی زمونږ پښان سياسي بنديان دي زمونږ او ستاسې ته يې مخکښې علم او پوهه ډيره درلودله خو اوس چې د جيل د تنګو سختو او لوړې د لاسه ليونيان شويدي هغوی دې حالت ته تاسې په خپله رارسولي دي، زما ګناه څه ده! او که د شهر ناپرسان د پاچا کيسه دلته بيا تکراروئ نو هغه ستا خپله خوښه ده. هغه د شهر ناپرسان د پاچا په نوم پورې ډيرو خندل ويويل ما دا کيسه تر اوسه نده اوريدلې څه ويې کړه! ما هغه ته د شهر ناپرسان د پاچا کيسه داسې پيل کړه: په يو لوی ښار کښې يو پاچا اوسيده په دغه ښار کښې ټول خوراکه باب لکه اوړه؛ وريجې، غوړي، بوره، غوښه او همداسې نور د خوړلو شيان يو چارک په دوه ټنګې وو ځينې دکانداران د ښو رو پيو خاوندان شول او ځيني نور پکښې دريه در خاورې په سر مفلسان شول، د شهر ناپرسان پاچا به هر سهار او ماښام خپله د عدالت نغاره وهله او داسې اعلان به يې کاوه: په هر چا چې ظلم او ناروا شوې وي د عدالت او مساوات له مخې يې پوره پوښتنه کيږي.

بله ورځ په دغه ښار کښې د يو سړي د کور ديوال راوغورځيده او يو سړی د ديوال نه لاندې شو مړ شه. د هغه سړي ورور پاچا ته عرض وکړ: زما ورور داحمد د کور د ديوال د لاندې شه ديوال پرې وغورځيده مړ شه! پاچا احمد راوغوښته هغه ته يې وويل: تا سړی وژلی دی ته قاتل يې! هغه ورته وويل: سړی ما وژلی نه دی زما د ديوال نه لاندې شويدی. مړ شويدی، زما په دې کښې ګناه نشته او نه د ديوال د چپه کيدو نه خبر وم چې ما خلکو ته ويلي وی چې د کور ديوال را لويږي پدې لاره مه ځئ!

پاچا هغه ته وويل په دې پو چو خبرو خلاصيدی نشې ته بايد د احمد د مرګ په بدل کښې په دار وخيژې. احمد چې هر څومره خپل د بې ګناهۍ دليلونه راوړل په اخر کښې يې پاچا ته وويل: سهار او ماښام خو د عدل او مساوات نغاره وهل کيږي د کور د غه ديوال چې چپه شويدی دا خو ما په خپله ندی کړی

دا خو پخسه گر کړی دی پاچا چې د کور د خاوند غلام نامي نه دا واوریده چې دیوال پخسگر کړیدی سمدستي یې غلام خلاص کړ او پخسگر یې خپل دربار ته راوغوښته پخسگر ته پاچا وویل د غلام د کور دیوال تا جوړ کړیدی؟ پخسگر خو د هیڅ نه خبر نه ؤ هغه ورته وویل: هو د غلام د کور دیوال ما جوړ کړیدی. پاچا چې د پخسگر نه دا واوریده د سولۍ د ځړیدلو امریې پرې وکړ، پخسگر هغه ته چې هر څومره داد و فریاد او عرضونه وکړه پاچا ته معقول ښکاره نه شول. څه وخت یې چې پخسگر سولۍ ته روانولو او هیڅ عرض وداد یې منظور نه شه نو په زړه کښې یې وویل: برناحقه دې په دار خیژوي راشه ته ورته ختیه وښایه! ختیه یې راوسته د سولۍ حکم په هغه وشه هغه هم دخپل جرم او گناه پوښتنه وکړه ،پاچا هغه ته ټوله کیسه تیره کړه ؛ ختیه پوه شه چې هر څه سرچپه دي د عدل او مساوات نغاره یو څه وایي او کوي بل څه؟

ختیه پاچا ته وویل: ما چې داحمد د کور د دیوال ختیه ښه پخ کړې نده زما قصور دا نه ؤ دهغه خور به هر سات د کوټې نه راوتله ما به هغې ته کتلې زما فکر به یې ځان ته جلباوه دا داحمد د خور گناه وه چې ختیه مې ښه نه شوه پخه کولی. پاچا ختیه پریښوده احمد یې راووست هغه یې چې د سولۍ نه لاندې ودراوه د دار درسۍ حلقه یې په خپله غاړه کښې واچوله پاچا ته یې خپل آخرین عرض وکړ: ای د مساوات او د عدل د نغارې خاونده ددار د رسۍ دغه حلقه زما په څټ کښې ډیره زیاته آزاده ده دا زما د څټ دپاره نه ده جوړه شوې دغه د دار درسۍ حلقه چې د چا په څټ کښې جوخته قالب راځي هغه زمونږ د جومات ملادی چې اوره ، غوړي او بوره یې ټول چارک په دوه ټنگې اخیستي دي پریمانه حلواگانې یې خوړلې دي، ښه چاغ شوی دی ، پیږ څټ یې کړیدی، پاچا ملا راووست هغه ته یې وویل: دا زما حکم دی چې د دار د رسۍ حلقه ستا په څټ کښې جوړیږي باید ته ضرور په سولۍ شي!

ما چې میر عباس ته د شهر ناپرسان د پاچا کیسه وکړه خپل ځان یې د مرچو

په ډېره سوور کړ زما مشر ورور او ترة ته يې لاس ونيوه ما ته يې داسې وښودله که د دې مشرانو لحاظ نه وي او س به دې داسې قمچين کاري کړم چې چيغې به دې اسمان ته جگې کړم. پدې وخت کښې زما ترة مداخله وکړه هغه ته يې وويل: خير دى بيا به داسې نه کوي.

ما دخپل ترة خبره په منځ کښې پرېکړه، مدير ته مې ښکاره کړه ستا د لاسه چې هر څه کيږي هغه وکړه ، گناه او جرم پخپله تاسې کوئ خلک په زندان کښې د سياسي بنديانو په نوم واچوئ بيا يې د ډوډۍ غم هيڅ نه خورئ بيا لا د پاسه چتي گواښونه او د بابو نه هم کوئ.

په دې وخت کښې مير عباس په شوتلو د پړسېدلي غوايي پشان درانده درانده ستمي کول انضباطانو ته يې امر وکړ: ورشئ کوټه قلفي يې کړئ! زه يې کوټې ته راوستم کوټه يې راپسې زنځير کړه ما د شاله خوا کوټه په ځان پسې لټ او بنده کړه . د فرانسې د انقلاب کتاب مې د خپلو کتابونو له منځه راواخيسته په کټ کښې پريوتم د کتاب په لوستلو مې پيل وکړ يو څو پاڼې به مې لوستلې وې چې د دروازې نه مې چا زنځير وارتاوه شرنگ ناري يې کړې. زما دروازه يې ټيل وهله وروسته يې غږ وکړ: دروازه خلاصه کړه تالا شاته په ځان پسې دروازه لټ کړی ده. زه مير عباس بې خدا يم. هغه څو وارې دروازه ټيله کړه کتاب مې بيرته د کتابونو په منځ کښې کښېښوده، دروازه مې خلاصه کړه. هغه زما کوټې ته دننه راننووت ښکته پورته يې زما د کوټې د يوالونو ته وکتل. ما د کوټې د دروازې په مخامخ ديوال په غټو حرفونو دادوه شعارونه ليکلي وو:

-ژوندي دې وي د افغانستان وطن پرسته ملي خلک!

-مړه دې وي زموږ د وطن دښمنان او ملي خائنان!

د انضباطي مدير سترگې چې پدغو دوو شعارونو ولگېدلې ما ته يې وويل: ته خو تر دغو ليونيانو نه ډېر ليونی يې ستا سمه اساسي چاره په کار ده. دا خبره يې د خولې نه راوښکله او بيرته يې په جړق دروازه په ځان پسې راښکله

هغه چې د کوټې نه ووت ما بیرته په ځان پسې کوټه لټ کړه او د جیل د مدیر په خبره کښې مې فکر ډوب شه.

لیونیان خبر شوي وو چې زه میر عباس کوټه قلفي کړی یم ټول د مخې زمونږ کاریډور ته رانښوتل، زما د کوټې مخامخ د ملک قیس کوټه وه هغه راغی زما د کوټې دروازه یې ټیله کړه بیا یې راته غږ وکړ: دروازه دې خلاصه کړه په زوره دې خپل ځان په خپله کوټه قلفي کړیدی! ما چې هغه ته دروازه خلاصه کړه راته ویې ویل د لیونیانو لښکر دې ګورې چې ټول زمونږ کاریډور ته رانښوتلي دي. اوس دې خپل لښکر بیرته درازخانې ته ورسوه. د هغوی سترګې چې په ما ولګیدلې رامنډې یې کړې هر یو غاړه راکوي؛ څه وخت چې فضل خدا غاړه راکړه په غیږ کښې یې ټینګ ونیولم داسې یې راته په خندا وویل: په یاری کښې همداسې بنګړي ماتیږي. هغوی ټولو ته مې وویل ځئ اوس ټول په خیر خپلې کوټې ته لاړ شئ.

منډه ګل او سلطان دواړه ماته راوړاندې شول غلي شانته یې راته وویل: سبا به بیا د خیره بل د ډوډیو تبنګ چور کوو.

دهغوی دې خبرې ډیر زیات وخندولم بیا مې هغوی پدې پوه کړل چې تاسې ټول خپل ملګري خبر کړئ چې د ډوډیو له تبنګي سره مې ستاسې د پاره نوی بل قرارداد کړی دی، سبا زه په خپله تاسې ته ډوډۍ درکوم.

## د ظالم سره جګړه لوی جهاد دی

د دهمزنګ د جیل ټول بندیان دلیونیانو د کیسې نه خبر شول، د شپې له خوا زمونږ د کاریډور ټول بندیان زما کوټې ته راغلل، ددغو بندیانو په ډله کښې سید امیرخان پاچا هم ؤ هغه په خپلو دوو ګوتو خپل بریتونه تاو کړه ما ته یې وویل: آغا جانه! دا ډیر ظالم ناروا بې کرکې حکومت دی ، ددې حکومت ټول

نوکران د خپلو خونخوارو بادارانو په شان له خلکو سره چال چلند کوي، شپې کاله د مخه ما د جیل انضباطي مدیر سید کمال ته همدومره وویل: مونږ هم انسانان یو له یو سم سلوک راسره کوئ، هغه ظالم تش پدې خبره داسې قمچین کاري کړم چې بی حاله شوم یوه ورځ وروسته په هوش راغلم، بیا راته وروسته انضباطانو وویل: سید کمال مدیر ته په سوونو قمچینې ووهلې زما جامې کمیس او پرتوگ دواړه د قمچین کارۍ سره الوتي وو بیا ماته وروسته دخپلې تجربې په لحاظ دا معلومه شوه که دلته د جیل انضباطي مدیر یو بندي مړ کړي دهغه څخه هیڅوک پوښتنه نه کوي، بلکه د خپلو غټو آمرانو له خوا ورته تقدیر نامې او تحسین نامې هم راځي چې تا خپله وظیفه په ډېره ایمانداری او صداقت اجرا کړیده، اوس د هغه بندیانو نه یو تن مړ شو چې پرون میر عباس قمچین کاري کړی ؤ او د جیل په زوغتون کښې بستر پروت ؤ بیا یې خپل بریتونه تاو راتاو کړه ویې خندل او خپله خبره یې داسې وغځوله: آغا جانه! دومره ډار وهم او بزدلي هم په کار نده چې هر څه رابانديې دا ظالمان کوي مونږه به ورته پښې جنډې نیولې وي.

ما سید امیر خان پاچا ته دهغه د خبرونه وروسته دا وړیه گوته کړه: اوس د افغانستان د ټولو خلکو د پاره چې د وطن په هر ځای کښې وي ددې ظالمانو په ضد سخته مبارزه پکار ده . هغه زما د خبرې په خیته خپله خبره سوره کړه او څرگنده یې کړه: هو! آغا جانه همداسې ده دا یو منل شوی حقیقت دی چې کږه خوله په سوک سمیږي تر څو به د بوسو د لاندې پټې او به تیروو (د ظالم سره جگړه لوی جهاد دی) . ما هغه ته روښانه کړه : ددینه هیڅوک ستر گې پټولی نه شي چې د دریدون ددال او چپاټیو سردارانو د افغانستان د خلکو په مریو د خپسې په شان خپلې د ظلم منگولې خښې کړې او ددې وطن خلکو ته د ساه اخستلو فرصت هم نه ورکوي چې لږه په کراره او آرامه خپله سا جوړه کړي.

دوی خپلو نوکرانو ته ویلي دي څومره چې ددې وطن په خلکو ظلمونه کولی

شئ او هغوی وژلی شئ تاسې بیا زمونږ د صادقو خدمتګارانو په ډله کښې حسابیږئ، نو زمونږ د وطن د ټولو خلکو دپاره دا ضروري خبره ده چې ددریدون ددال او چپاټیو د سردارانو او دهغوی د نوکرانو په ضد مبارزه وکړي ترڅو چې په افغانستان کښې د دوی ټغر غونډ کړي. د خلکو ژور قوت ته هیڅوک ټینګیدلی نه شي. آغا جانه دا خبره به مې نه هیروې چې آخر دغه د دریدون سرداران زمونږ د وطن د خلکو دلاسه محوه او تباه دي. دوی مونږ د وطن د خلکو په منځ کښې د خپل سلطنت او سرداری د ټینګولو د بقا د پاره داسې د بې اتفاقی او ناپوهی تخمونه شیندلي دي او شیندي یې چې د وطن خلک یو موټی نشي او د پوهې خاوندان نه شي خو جبري تحول د خلکو په زور په دې وطن کښې راځي.

سید امیر خان پاچا وویل: د خلکو زور ته دوی نشي ټینګیدلی دا ډیر بې غیرته، بې ایمانه او ډارن دي.

## لېونیانو ته ډوډی او د کندهار تازه مېوه

سبا چې د ډوډیو تبنګي خپل د ډوډیو تبنګ زاوږ زه د ویالې په غاړه ګرځېدم هغه راته وویل: دا ډیر ښه کار وشه چې ته مې مخکښې ولیدلې، ځه! چې لاړ شو چې ستا په مخکښې لیونیانو ته ډوډی ورکړم چې ته په خپله د هغوی غوټې او حملې په ډوډی ووینې. ما هغه ته په ګوته کړه ته ځه زه ورو سته په تا پسې درځم. تبنګي لا دخپلو ډوډیو تبنګ په مځکه نه ؤ ایښودلی چې لېونیان ورته ورورسیدل. پهلوان بیر دي هغوی ته زما نوم واخیست او ویې ویل: لږ صبر وکړئ چې تاسې ته د هغه په مخکښې خپلې دوه دوه ډوډۍ درکړم.

یو لېونی پهلوان بیر دي ته وویل: ته ډیر کم عقله سړی یې څوک ډوډیو ته

صبر کوي، ډوډيو ته هغه خلک صبر کوي چې په ګېډو لې ماړه وي، وږي خلک ډوډيو ته صبر نشي کولی، نه مې ته په کارېې او نه مې هغه په کار دی څه شی چې زما په کار دي هغه دغه ډوډۍ دي، زه چاته چتې صبر نه شم کولی، زه خپلې ډوډۍ اخلم. پدې وخت کښې زه هم وروړسيدم. تبنګې ډير خوشحاله شو، ليونيان مې کتار ودرول، هغوی ته مې د کار د سره ورونبوده چې تاسې به هره ورځ همداسې کتار ودرېږئ هر يو به راځئ او خپلې دوه دوه ډوډۍ به اخلئ! د ډوډيو په تبنګ او په هوټلي به تيل و مار نه جوړوئ. ليونيانو خپلې، خپلې ډوډۍ واخيستلې. اسمعيل پهلوان بير دي ته غږ وکړ پرون دې په ياد وو چې د ډوډيو نه مې غيږه ډکه کړه ،څنګه مې هضم کړې، يوه شش پولۍ دې هم راځخه وانه خيسته. پهلوان بير دي هغه ته وخندل: که ته اوس زما نه د پرونيو ډوډيو کومه شش پولۍ تاوان اخلې چې در يې کړم زړې تيرې خبرې څله منځ ته را اچوې. پدې وخت کښې د جيل د دروازې عمومي سردارباشي راغی ماته يې وويل:

يو پايوازي دي دوه کريته ميوه د کندهار نه راوړې ده! ماته چې هغه د کندهار نوم واخيست سمدستي مې په سترګو کښې د بابا عبدالعزيز کندهاري نوراني ملي لنقلابي بشره وځليده. د سردار باشي سره روان شوم يو کندهاری موټروان دی چې دوه کريته ميوه ورسره ده چې په يوه کريټ کښې انګور دي او په بل کريټ کښې زردالان دي. د بابا عبدالعزيز يو ليک يې هم ماته راکړ زه دلته د بابا عبدالعزيز کندهاري ليک رانقلوم:

ګرانه زويه! هاشم جان (زماني)! عمر دې ډير شه. زه ښه يم ستا صحت او برياليتوب غواړم! زه چې کندهار ته راغلم د کندهار د ښار خلکو زما ډير تود هرکلی وکړ او زه يې له خپلې خوا د کندهار د ښار درئيس په حيث وټاکلم ما چې هر څومره خپل معاذير هغوی ته وړاندې کړل د کندهار د خلکو له خوا د ډيرو ګرمو او تودو احساساتو له امله ورته د نه منلو ځواب ورکړ شو.

د کندهار د ښار خلکو ماته په ځرګند ډول وویل: مونږ د کندهار د ښار خلک د کندهار د ښار ریاست تاته د جیل نه د خلاصیدو په مبارکۍ کښې درکوو. دکندهار نائب الحکومه د کندهار د ښار ریاست ته بل یو سړی په نظر کښې نیولی وُ خو کله چې هغه په ځرګند ډول د خلکو مینه او پیرزوینه له ما سره ولیده هک حیران شه او دخپل نظر نه دخلکو ګرمو او تودو احساساتو وګرځاوه.

زویه! زه هماغه سړی یم چې د قلعهٔ جدید دسیاسي بندیانو مخصوص په کاریډور کښې به ولاړ وم او تاسې ته به مې خبرې کولې. زه د افغانستان د ټولو خلکو خدمتګار یم زه د افغانستان د خلکو دد ښمنانو سرسخت دښمن یم.

ګرانه زویه! زه په تا پوره باور او ټینګ ایمان لرم چې د یو ریښتیاني بادرده زلمي په څیر به د خپل وطن د خلکو خدمت کوې. د سیاسي او اجتماعي نوو کتابونو ډیره مطالعه کوه، کومې خبرې چې مې تاته د نصیحت په ډول کړیدي هغه به تر مرګه پورې نه هیروې.

زما سلامونه شیخ بهلول او د خپلې کورنۍ ټولو کسانو ته او نورو بندیانو دوستانو ته ورسوه! هر څه ته چې د ې ضرورت پیدا کیده ماته پدې لاندې پته لیک را استوه. دکریټونو رسید موټروان ته ورکړه. دکندهار دښار دخلکو رئیس عبدالعزیز.

ما د میوې دواړه کریټونه د قلعهٔ جدید د دروازې نه رانتویستل، منډه ګل ولیدم په منډه راغی، یو کریټ هغه واخیسته او بل ما کوټې ته مو راوړل. دواړه کریټونه مې نیمایي کړه نیم مې په خپله کوټه کښې پریښودل او نیمایي نور مې د لېونیانو درازخانې ته یوړل. منډه ګل د انګورو او زردالانو نه ټول لیونیان خبر کړل ټول کوټې ته په منډو منډو راغلل. چار چاپیر د انګورو او زردالانو نه کښیناستل یو لیوني وویل: لس کاله کیږي چې ما میوه نده خوړلې! بل وویل یوولس کاله کیږي چې ما هم نده خوړلې. اسمعیل غږ وکړ: مونږ چې ټول بندیان شوي یو یوېې هم میوه نده خوړلې. یو کال ما او فضل خدا د منو په پوستکو

سخت جنګ وکړ. منډه ګل وویل: چا چې لس کاله او یوو لس کاله میوه نده خوړلې اوس دې هم نه خوري. چې د میوې خوراک به ترې هېر شوی وي.

میوه مې په ټولو لیونیانو تقسیم کړه، هغوی د میوې په خوړلو پیل وکړ او زه دهغوی سیل ته کښیناستم. لیونیانو زر دالان د مندکو سره تیرول او ځینو نورو یې مندکې خپلې مخې ته ایښودلې هر یو چې به میوه خوړله خوله به یې د خندا نه ډکه وه. میوه چې ټولو وخوړله ما هغوی ته وویل څه خوند یې وکړ که یه؟ یوه غږ وکړ: خوند څه کوې خوندونه یې وکړه، زړونه مو پرې خوا ږه شول. د ډوډیو نه میوه ډیره ښه ده زه نوره ډوډۍ نه خورم ماته به نوره همداسې میوه راکوې.

بل لیوني چې خپلې ګوتې څټلې غږ وکړ: څه دروغ جنه دروغ څله وایې میوه خوند نه کوي خوند خو ډوډۍ کوي میوه خو مزه کوي تاته چې یې خوند درکړیدی تاته به نور میوه نه درکوي، ډوډۍ به خورې او ماته یې چې مزه راکړې میوه به راکوي! ددې دوه کسانو لیونیانو خبرې چې نورو لیونیانو واوریدلې ټول راپاڅیدل، مونږ ه ټولو ته به نوره میوه راکوې مونږه ډوډۍ نه خورو. د لیونیانو دا هیجاني حالت چې ما ولیده د شهر ناپرسان د سلطنتي دربار د مدور میز د اراکینو او دهغوی د نوکرانو ظلمونه مې په سترګو کښې مجسم شول چې هغوی په څه عیش و نوش کښې ډوب دي زړونه یې څه غواړي او دا بېوزله په رنځونو او کړاوونو اخته مظلومان د هغوی د ظلمونو په ډنډ کښې غوپې وهي، چې د سیاسي بندیانو په نوم یې بندیان کړي دلوړې په ډنډ کښې غوپې وهي د انسانانو په سترګه ورته نه ګوري تر څو چې د قبر خوله ورته خلاصه شي او دوی پکښې پټ شي، د افغانستان وطنپال ملي خلک چې ښه شعور لري ددغو ظالمانو د ظلمونو په ژرنده اوړه اوړه شویدي د دغو مظلومانو انتقام به ددغو ظالمانو نه یوه ورځ ضرور واخیستل شي، د شهر ناپرسان د سلطنتي دربار د ظلمونو دمدور میز اراکین د افغانستان ټولو خلکو ډیر ښه پیژندلي چې دوی د

افغانستان د خلکو د پاره خدمت نه کوي دوی هر څه د خپلو ځانونو د پاره کوي ټول خلک یې ناپوه او جاهل ساتلي دي ټول د فقر او غربت سره لوبې کوي.

# کُره خانه: د ماشومانو زندان

د روژې میاشت راغله د جیل انضباطي مدیر میرعباس یو ملا چې عبدالغفور نومیده او د لوګر په ملا مشهور ؤ د قلعهٔ جدید د بندیانو د محتسب په نامه وټاکه چې امر بالمعروف به کوي. د لوګر ملا ته دا وظیفه هم ورکړ شوې وه چې د غرمې له خوا هیڅوک دیګ په کوټه کښې پخولی نشي، د لوګر ملا عبدالغفور پیر چاغ سړی ؤ مې وریجې غټه ګڼه اوږده ږیره یې وه، سپین د ململ غټ پټکی به یې تړلی ؤ، زرداني غټې تسپې به یې په غاړه کښې د زنار پشان اچولې وې، تکې سپینې جامې به یې اغوستې وې، کله کله به یې سترګې په رنجو هم تورولې، په ظاهر کښې دغه ملا روحاني ښکاره کیده خو د باطن نه یې هیچا ته پته نه لګیدله او په لس کاله بند محکوم شوی ؤ او د عمومي جیل په (کُره خانه) کښې د اباشي ټاکل شوی ؤ. د کُره خانې ذکر مې مخکښې کړی ؤ خو دلته بیا لازمه ده چې څه رڼا پرې واچوم چې منلي لوستونکي پرې ښه پوه شي چې (کُره خانه) د دهمزنګ په عمومي جېل کښې ځنګه ځای دی او څرنګه بندیان پدغې کښې هستوګنه کوي. هغه معصوم ماشومان چې عمر یې د لسو کالو پورې وي او هغوی چې به څه جرم وکړ بندیان به شول د دهمزنګ د عمومي جیل په لاندې منزل کښې په یوه لویه جلا کوټه کښې داسې ماشومان اوسیدل او دغه کوټې ته به یې (کُره خانه) ویله. د لوګر د ملا اخلاق ډیر فاسد وو، دد غو ماشومانو اخلاق به یې هم فاسدول خو صرف د ملا په نامه او په ږیره باندې یې خلک غولیدل. څو ځله د کُره خانې ماشومانو بندیانو په ملا عبدالغفور عرض وداد وکړ چې دا زمونږ د اباشي توب نه وياسئ دا ښه سړی ندی، اخلاق یې ښه

ندي ددې په ځای بل سم پاک سړی مقرر کړئ. د جیل انضباطي مدیر به هغوی ته ویل: په ټول جیل کښې ددې نه پاک او ښه سړی بل نشته دی، د کُره خانې دا ماشومان اکثراً یتیمان او یسیران وو یعني مور او پلار یې دواړه د لاسه ورکړي وو بې سرپرسته به په کوڅو او بازار کښې ګرځیدل، کیسه بري او غلاوې به یې د یوې دوډۍ، مړۍ د پاره کولې او په همدې جرمونو هر یو دوه او درې ځلې بندیان شوي وو . په ځای ددې چې د ښهر ناپرسان د سلطنتي دربار د مدور میز غړو دغه بې موره او بې پلاره معصوم ماشومان په داسې ځای کښې لکه مرستون یا بل ځای کښې اچولي وی چې تعلیم یې ورکړی وی او کسب و کاریې ورته زده کړی وی چې د خپل راتلونکي ژوند مشعل یې رڼا کړی وی همداسې د جهالت په ظلمت کده کښې پریښودل.

## د روژې محتسب د لیونیانو په اخ و ډب کښې

د لوګر له ملا سره یو غټ پیړدانګی ؤ هره غرمه چې به دغه ملا راغی او د چاد کوټې دروازه به بنده وه نو په ډانګي به یې په زوره نیغه ووهله چې دروازه خلاصه کړه روژه خوره. یوه ورځ د لوګر ملا د لیونیانو درازخانې ته ننواته چې ګوري لیونیان او به څښي او له چا سره د ډوډیو وچې ټوټې دي هغه خوري. ملا چې دا حالت ولیده سمدستي یې له لیونیانو سره په اخ و ډب لاس پورې کړ څو لیونیان یې ډیر سخت ووهل لیونیانو ته یې وویل: تاسې ټول روغ رمټ په سد خلک یاست: مځکه او آسمان ښه پیژنئ او روژې خورئ، زما دا وظیفه ده هر څوک چې په رڼا ورځ روژې خوري داسې به وهل کیږي. منډه ګل ملا ته وویل: ته چې د ډوډیو په خوړلو وږي خلک داسې وهې ستا نه غټ او لوی بې تمیزه او کم عقله سړی نشته دی. خلک وږي کسان په ګیډو مړوي او تاسې وږي خلک لاپسې وږي کوئ چې ژر ایسته مړه شي او دنیا تاسې ته پاتې شي چې بیا

پکښې خپلې ميلې چرچې کوئ خو موږ خلک خپل ځانونه پخپله مړوچې ژوندي پاتې شو او ستاسې پشان د کم عقله او بې تميزه خلکو نه دنيا پاکوو چې د نيا ځانله مونږه ته انعام پاتې شي. روژه خو هغه خلک نيسي چې چرگ بانگ په مړه گېډه ډوډۍ وخوري او بيا په روژه ماتي کښې ورته ښه طعامونه پراته وي. زمونږ د پاره روژه څه فايده کوي مونږ دلته دومره وږي يو چې هيڅ ډوډۍ نه لرو د ډوډيو د تبنگي نه خبر نه شوې چې څنگه مو ورته د ډوډيو تبنگ چور کړ مونږ داسې روژه نشو نيولی څه خپله لار دې وهه چې بيا دلته زمونږ کوټې ته رانشې. د لوگر ملا چې د منډه گل دغه ستغې سپورې خبرې واو ريدې سمدستي يې په هغه پسې خپل غټ پيړانگ را اوچت کړ، منډه گل ژر دهغه نه غيړه وڅرخوله، مټ په اتيکه شو ورسره، پدې وخت کښې سلطان ليوني غږ وکړ: چې خلاص درنه نشي تيار کوټې ته پخپله راغلی دی. ملا عبدالغفور سخت وډاريده چې اوس راباندې لېونيان را ټولېږي او وژني مې نو د خپلو پښو په خلاصولو يې شروع کړه خو د تښتېدلو لاره يې بېخي نه وه، د ليونيانو د ټيل په چاخه کښې کلک ايسار شوی ؤ نو بله چاره يې په غير دد ی نه پيدا نکړه چيغې او رمباړې يې جوړې کړې، بنديانو چې دغه ناڅاپي چېغې او رمباړې واوريدلې ټول په رامنډو د ليونيانو درازخانې ته راغلل، زه په کوټه کښې په خواږه خوب ويده وم چې د لوگر د ملا په چيغو او رمباړو راويښ شوم دخپلې کوټې نه راووتم عسکر او انضباطان د ليونيانو د دراز خانې په طرف منډې وهي زما داسې خيال راغی چې ليونيانو په خپلو منځو کښې سخت جنگ جدل کړيدی او کوم يو يې وژلی دی زه چې د ليونيانو ددرازخانې خولې ته ورسيدم عسکرو او انضباطانو منډه گل او سلطان نيولي دي او په ځانونو پسې يې راکاږي او نورو ليونيانو داسې شور او چاغچو جوړ کړيدی چې سړی يې هيڅ په خبره نه پوهيږي خو ټول لوگر ملا ته سختې ښکنځا وې کوي زه پوه شوم چې ملا د ليونيانو کوټې ته راغلی دی او ليونيان يې د روژه خورو په کتار کښې

راوستي دي.

ما خپل ځان په تېل و مار کښې د لوګر ملا ته راورساوه او هغه ته مې په کراره وویل: ملا صاحب! ته چې په داسې لېونیانو روژې نیسې او له دوی سره دې په روژه دومره اخ و ډب جوړ کړیدی ته د اسلام نه هیڅ خبر نه یې، داسې معلومیږي چې عالم نه یې، تش د ملا په نامه خوشحالیږې. هغه چې زما داخبرې واورېدلې په غیر ددی نه چې سمه خبره یې د خولې نه راوځي ماته یې په چتیاتو شروع وکړه او زیاته یې کړه : دا خو ټول ستا د لاسه داسې مست شویدي، خدای هیڅ نه پیژني، روژې په ربا ورغ خوري، په دین پوري مسخرې کوي. ملا خپلې خبرې خلاصې کړې نه وې چې سلطان ملا ته غږ وکړ: ته خدای پیژنې چې خدای څوک دی او چېرته دی. ملا هغه ته څرګنده کړه: زه به اوس خدای تا ته دروښایم! هغه ورته وویل: زه د خپل ځان نه بل خدای نه منم ته خبر نه یې چې زما نوم سلطان دی (نعوذ بالله) زه ستا خدای یم.

ملا یو ځلې لیونیانو ته وویل: دا لیوني زندیق شویدي دا سنګسار کړئ،دا رجم کړئ!دا رد اسلام دی، خدای یو دی، پیغمبر یې برحق دی. فضل خدا چې د پیغمبر نوم واورېده په ملا پسې تاو راتاو شه په ګواښونو یې ورته لاس پورې کړ هغه همداسې چیغې وهې چې تاسې مې ورته پرېږدئ چې نیژدې راشي .

فضل خدا چې هغه ته نیژدې راغی پدې وخت کښې د لوګر ملا وویل: ته څه وایې ؟ هغه شوږ او سیلی وښکه بیا یې وویل: ما ویل چې ته به زما نه خبر یې چې زه پیغمبر یم ته چې زما نه خبر نه یې او یوازې د روژونه خبر یې نو ته ماته ډیر بې خبره سړی ښکاره شولې نو زه اوس مجبور یم چې تا خبر کړم او تا په دې ښه پوه کړم چې زه پیغمبر یم ما سم وپیژنه.

منه ګل چې د فضل خدا د خولې نه د پیغمبر نوم واورېده د خپل پیغمبر مهدي آخرزمان جهان ګل خبره یې په زړه کښې نیغه ودریده چې هغه ته یې ویلي وو ته به په زندان کښې بل پیغمبر نه پرېږدې. هغه د انضباطانو نه ځان راخلاص

کړ او ځو د ځېږو وارونه یې په فضل خدا باندې وکړل، د لوګر ملا چې دا صحنه ولیده خوشحاله شه چې زما تنګه او طرفداري یې وکړه نو منده ګل ته یې غږ وکړ: آفرین خیر یوسې نور بې هم یو ځو ځېږې ووهه! منده ګل هغه ته خپله خبره داسې ښکاره کړه: دا زما او دده په منځ کښې ځانله خپله خبره ده پدې کښې نور هیڅوک نه ځاییږي؟ ستا پدې خبرو کښې څه کار او غرض نشته دی ته دې خپلې روژې تینګې وساته چې څوک یې در څخه و نه خوري.

د لوګر ملا دهغه په خبرو هیڅ پوه نه شه هغه ته یې په ډاګه وویل: ته خو ما په دې پوه کړه چې ستاسې په منځ کښې څه خبره ده؟ هغه ورته وویل: غوږ دې زما خبرو ته ښه ونیسه چې زه دې پوه کړم، زه چې د کوم پیغمبر صالح او نیکوکاره امتي یم هغه اوس دلته نشته دی. ملا د منده ګل خبره پدې ځای پریکړه هغه ته یې وویل: ستا پیغمبر څوک دی؟ هغه ورته ښکاره کړه: زما پیغمبر مهدي آخرزمان جهان ګل دی چې څه موده مخکښې د جېل ته خلاص شو او خپل کورته ولاړ، د لوګر ملا چې د لېونیانو دغه ګډې وډې خبرې واوریدلې نو لاره ترې خطا شوه چې څه وکړي؟ او څه ووایي؟ نو ماته یې مخ راواړوه او په داسې حال کښې چې ویره یې د چپ لاس په ګوتو رومنځوله په قهر جنه لهجه یې داسې څرګنده کړه: زه ښه خبر یم چې ته د عبدالعزیز شاګرد یې هغه هم روژې نه نیولې او خلک یې دسمې لارې نه بې لارې کول، ټوله ورځ به یې پاچا او دهغه کورنۍ او وزیرانو ته ښکنځا وې کولې او تا اوس د خپل استاد وظیفه نیولې ده. بل کار دې نشته، د روژه خورو طرفداري کوی، دا لیونیان تا لمسولي چې کله د ډوډۍ تبنګ چور کوي او کله یې له خلکو سره په جنګ اچوې. د جېل انضباطي مدیر ته ډېر ښه پیژندلی یې چې په قلعهٔ جدید کښې د ټولو فساتي کارونو اصلي محرک ته یې. ما د لوګر د ملا عبدالغفور د خبرې په منځ کښې د خپلې خبرې سر داسې پیوند کړ: زه نه پوهیږم چې ستا ددې چټي خبرو کولو نه څه مقصد دی زمونږ په وطن کښې یو مشهور کلیوالي متل دی (باران

په تالاش وشه او خره يې د راموري ويوړه ) ستاخبره او کار د ليونيانو سره دی او نښلې په ما پورې، ته وارخطا شوی يې چې څه وکړې؟ تا ته چې د جيل انضباطي مدير همدومره ووايي: ملاصيب! ته د جيل د ټولو بنديانو محتسب يې نو بيا ته نه خپل ځان وينې او نه جهان ښځي د رنه خپل ځان ورک شي، که ته په رښتينې عالم وی نو تا به د ليونيانو سره په روژه دومره کړس او جنجال نه کولو خو دوی هم داسې خوندورې خبرې در ته وکړې چې په خپل ژوند کښې به در ته چا نه وي کړې، ته لږ خجالت وباسه وشرميږه که زه هم د ليونيانو په شان ځواب درکړم نو بيا به دې په مخ څه پاتې شي؟ خو زه در ته همدومره وايم هر چا چې د غه ليونيان دې حالت ته رارسولي دي مخ يې دې تور شي زمونږ د وطن د خلکو د ښمن دی، ظالم دی ، ستمگار دی، غدار دی... ملا خبرې ته ځان جوړ کړی ؤ چې ما ته څه ووايي، منډه گل خپلې اوږې پورته وارتولې په دمه زړه يې غږ وکړ: جنگ ټول زما نه ښتی دی او خبرې ټولې بل څوک کوي ، تاسې له ما سره ملا مخامخ کړئ چې زه له هغه سره څو خبرې وکړم، اخ زړه مې دخبرو نه ډک پاتې شه تش مې نکړو، ملا چې د منډه گل خبرې واوريدلې ويې ويل: زه بالکل له تا سره يوه خبره نه کوم ته خوشې چتې ليونی يې ! هغه ورته وويل: د روژو پوښتنه خو زما نه کولی شی او ښا له ما سره يوې خبرې ته هم تيار نه يې، که ته راسره خبرې نه کوې زه دی اوس نه پريږدم ،زه درسره خبرې کوم. ته يو ځل ما ته وگوره! تا چې ما ته وويل: ته ولې روژې خورې؟ پدغه وخت کښې خو زمونږ په کوټه کښې دومره خلک نه وو ما تا ته وويل: چې ته ډير بې تميزه او کم عقله ملا يې چې وږي خلک د ډوډۍ نه منعه کوې ، خلک وږي خلک په گيډو مړوي. ما چې تا ته دا خبره وکړه تا سمدستې په ما پسې خپل ډانگی په دواړو لاسونو راجگ کړ چې ما پرې ووهې ما ستا نه غيږ چاپيره کړه، تا چيغې او

سوري ناري رمباړې ووهلې خو زما نه بیا ډېره غته او لویه خطایي وشوه یو ځل خو مې د اسمعیل لاس او پښې وتړلې خو له یې زما نه هیره شوه چې خوله مې ورله هم تړلې وی او اوس رانه ستا خوله هیره شوه چې ستا خوله مې ستا په پټکي کلکه تړلې وی اوس به دومره خلکو او انهوخر زمونږ په کوټه کښې څه کول ؟ که ما دې خوله تړلې وی تا به دې بیا خپل ځان لیدلی وی چې د بوسو خوسی مې درنه جوړاوه که نه؟ خو ستا طالع ویښه او زما ویده وه چې خوله مې درله ونه تړله. بیا یې ملا ته په لاس اشاره وکړه هغه ته یې وویل : که زه پدې کښې په تا دروغ وایم ته راته دروغجن وو ایه! همداسې نه وه چې لومړی حمله راباندې تاو کړه او دومره خلک هم تا پخپلو چیغو او رمباړو خبر کړل نو په دې کښې زمونږ قصور او گناه څه ده؟ قصور او گناه د تا خپله ده چې زمونږ نه د روژو د خوړلو پوښتنه کوې! مونږ خو ستا نه څه پوښتنه نده کړې او نه ستا کوټې ته درغلي یو. بیا یې ما ته لاس ونیوه ملا ته یې څرګنده کړه: جنگ دې د روژو په خوړلو زمونږ په کوټه کښې له مونږه سره شروع کړی دی او له مونږه سره به یې ختموې.

په دې وخت کښې چې منډه ګل خپلې خبرې کولې اسمعیل لیونی ملا ته غږ وکړ: سپین د ململ پټکی دې په سر نشته دی کونډل لوڅ سر بې پټکي ولاړ یې بیا به راته وایې چې د ډوډۍ په ځای مو په روژه کښې زما د ململ سپین پټکی خوړلی دی. ملا په خپل سر لاس تیر کړ خولۍ یې په سر وه او پټکی یې نه ؤنو ژر ژر یې خوا و شا وکتل خپل پټکي یې ونه لید، هله پټه غوندې شه، دلېونیانو بسترو ته یې منډه کړه. دبسترو په لټولو یې پیل وکړ، راغونډ شوو خلکو چې د ملا دغه دوارخطایي وضعیت ولیده ټولو وخندل او خپل سرونه یې ځوړند واچول چې ملا دهغوی په خندا پوه نه شي خو ملا په کوټه کښې داسې ترور او وارخطا شوی ؤ چې د کوټې یو سر او بل سر ته به ته او ډېرې وارخطایي

دلاسه په سا تیګا ښکارېده . دملاته تیاره یوه مسخره جوړه شوې وه، خبره دجنګ نه تېوکې ټکالې ته ووتله. ملاهمدا وایې ټوکې راسره نورې مه کوئ روژه مې په خوله ده ولې بې ناحقه چټې تکلیف راکوئ په روژه کښې مې په عذابوئ ستاسې خوپه زړونو کښې زوره ډېر دی چې ټول بوزه یاست، پټکی مې ژر راکړئ لمونځ راځخه قضا کېږي تاسې خونه روژې نیسئ اونه لمونځ کوئ . هغه چې به لېونیانو ته داشان خبرې وکړې بیا به یې دلېونیانو دبسترو په لټولو شروع وکړه، راغونډ شوو خلکو چې هرڅومره خپله خندا پټوله خو هغوی چې به کله دملا دوارخطايي عادت ولیده نو دومره ډېر به یې وخندل چې دسترګونه به یې اوښکې روانې شوې. ملا چې هرڅومره دلېونیانو بسترې لټې په لټ کړې هېڅ شی یې پکښې پیدانکړه. بیایې انضباطانو ته وویل: چې هېڅوک ددروازې نه بهرون پرې نه ږدئ چې زه دغه ټول خلک لټوم. منډه ګل دلوګرملاته ښکته پورته نظر واچاوه هغه ته یې وویل: ته دې دپټکي خبره پرېږده دجنګ خبره وکړه زه ملامته وم که ته؛ رښتیا، رښتیا به وایې اوس خو هسې هم ګیر شوی یې. په رښتیا، رښتیا به خلاصېږې. ددروغو لمن لنډه ده دسړي ترې ټول ځان ښکاري ته خو په روژه خورو پسې راغلی وې خو خبرنه وې چې دلته پټکی خواره شته دي چې سپین دململ پټکي هم خوري بیایې وخندل هغه ته یې په ګوته کړه دامتل واوره:

په داسې بلا واوړې چې پرتوګ په غاړه راوړې

خو د ملا خوارکي سره دخپل ورک شوي د ململ پټکي سودا وه. دمنډه ګل خبرو ته یې هېڅ غوږ نه ؤ چې څه وایي؟ او دچا سره خبرې کوي؟ ملاټول راغونډ شوي دکوټې خلک هم لټې په لټ کړه خو خپل ورک شوی پټکی یې دهېچا سره پیدانکړ نو بیا یې دکوټې پاس چت ته وکتل. اسمعیل ملا ته وښودله دکوټې پاس چت ته څله ګورې هلته ستا پټکی نشته دی څه نور زمونږ دکوټې نه وځه په خیر چې کمیس درنه ورک نشي بیا به پر بل غم واوړې.

داسمعیل په دې خبرې پورې تولو وخندل. دلوګر ملا هغه ته وویل نورې توکې راسره مه کوه کهزما پتکی دې لیدلی وي راپې کړه څه شیریني به درکړم. هغه ورته وویل:

زما څخه دخپل پتکي پوښتنه څله کوې؟ دخپل سرنه دې ولي پوښتنه نه کوې چې پتکی يې دې څه کړ؟ نه مې ستا پتکی لیدلی او نه مې ستا شیریني په کار ده. که بیا دې بل جنګ ته خوښه کړې وي خوسم يې راته ووايه! چې جنګ ته دې بدې ووهم او ځان ورته چمتو کړم. زه اوس هم ستاجنګ ته په میدان تیار ولاړ یم متې مې رانغښتلې دي. یوه انضباط دخپل سرنه پتکی راښکته کړ ملاته يې ورکړ، ملاهغه ته خپله خبره داسې څرګنده کړه:

زما اووه متره نوی دململ پتکی ؤ، نن سهار چې دلته راتلم په سرمې کړ. زه خپل پتکی غواړم، زه دبل چا پتکی نه په سر کوم اونه داسې حرام خوریم چې دخلکو مال ته مې سترګې پټې کړیدي اونه مې په ژوند کښې کله حرام خوړلي دی، یوه لېونـي ملاته په خندا وویل: دلته زمونږ په کوټه کښې درختونو دکان نشته دی چې بل نوی دململ پتکی درپه سر کړو داپه سرپتکی دې بس دی! پدې شکروکاږه زمونږ دکوټې نه وځه خپله مخه وکړه.

ملاته مې وویل: ځه ته اوس لاړ شه؛ صوفي جلال دکاندار تـه څوروپۍ شیریني ورکړه پتکی به دې پیداشي. زه بیا له صوفي جلال سره خپلې خبرې کوم. داسمعیل دخبرو نه ماته پوره پته ولګېدله چې دملا پتکی هغه اخیستی دی. ملادکوټې نه بهر وواته څوتوخي يې وکړه. صوفي جلال ته یې دپتکي پنځوس روپۍ شیریني ورکړه اوبیا ولاړ. ماته صوفي جلال په خندا وویل: ملا دپتکي پنځوس روپۍ شیریني راکړې دا واخله اوپتکی راکړه چې هغه ته یې ورکړم، هغه ته مې وویل:

دملاپتکی له ماسره نشته دی خوپه یوه لیونـي مې څه شک راغلی دی، زه به دهغه نه پوښتنه وکړم بیابه له تاسره پدې باره کښې وروسته خبرې وکړم.

دشپې دلېونيانو کوټې ته روان وم چې اسمعيل په مخه راغی، ورته ومې ويل: يوه پوښتنه درته کوم که رښتيا دې راته ونه ويل بيا درسره بالکل خبرې نه کوم.

-تاخو ماته هېڅکله داسې خبره کله نه وه کړې ته خو بې يوځل ماته ووايه! چې څه خبره ده. ما هغه ته په ګوته کړه: څه ته اوس خپلې کوټې ته لاړ شه سبا به يې درته وکړم چې څه خبره ده؟ هغه په ټق ټق وخندل ويې ويل: زه چې ستاخبرې ته تر سبا پورې فکر کوم چې دا به څه خبره وي زه خو به سروپ لېونی شم بيا به بيخي دخبرو کولو نه يم، زړه دې غټ کړه توکل په خدای همدا اوس يې راته وکړه دهغه پر اوړه مې لاس واچاوه ورته ومې ويل: ګوره اسمعيله! ملا صوفي جلال ته دخپل پټکي پنځوس روپۍ شيريني ورکړېده که تادهغه پټکی ليدلی وي ماته يې راکړه. ماته يې بيا وويل: ستا خبره همداوه نور خو څه نه وايې؟

-نه،نه ، نور څه نه وايم ! په مسکايې راته په ګوته کړه: دملا پټکی له ماسره دی. ماهغه ته ښکاره کړه: ته خو ماته دا ټوله کيسه وکړه چې تاڅنګه دهغه پټکی واخيست اوته هغه ونه ليدلې.

ډېره ښه شوه غوږ راته ونيسه کيسه داسې ده: دکوټې په منځ کښې زه دملا شاته ولاړ وم هغه زما له يو ملګري سره خبرې کولې ما په دواړو غيږ ګو لاسونو هغه په زور ټېل وهلو هغوی دواړه ولوېدل. دملا دسرنه پټکی ولوېده، ما ژر دستر ګو په رپ کښې راواخيسته دکميس لاندې مې پټ ونيوه خاک اندازته لاړم دملانه مې قت په قت مضبوط کلک وتاړه دملاجنګ ته مې ځان ښه جوړ کړ کوټې ته راغلم نه ملا اونه مې را باندې دکوټې ملګري پوه شول چې دملا پټکی مې اخيستی دی.

ته اوس ورشه صوفي جلال راوله چې پټکی ورکړم اوشيريني ترې واخلم. هغه صوفي جلال راوسته روپۍ يې راکړې، اسمعيل دخپلې ملانه پټکی راخلاص کړ صوفي جلال ته مې ورکړاو دايې دقهر په لهجه ورته وويل: زما

شیریني شیریني پکار نده، ملابه بیا هیڅ په روژه کښې زمونږ کوټې ته نه راځي او که بیا راغی هرڅه چې مې ورسره وکړه بیا به زما ملامتیا نه وي. ماصوفي جلال ته وویل: دادې لو لیونیانو شرط دی چې ملا به په روژه کښې دلیونیانو په کوټه بند وي. هغه وویل: زه د ملا له خوا ددې ضمانت کوم چې په روژه کې به ملا دلیونیانو په کوټه بیخې بند وي نه به راځي.

## ډاکتر محمودي، یو نوی بندي

ناروغ وم د دهمزنګ د عمومي جبل روغتون ته لاړم ډاکتر لازم درمل راکړه. یو پرستار وویل: ښېګاه یې د کابل دولایت د توقیف نه یو ناروغ بندي راوستلی چې ډاکتر عبدالرحمن محمودي نومېږي. د محمودي د نوم په اورېدو مې سمدستي تصمیم ونیوه چې یو ځل هغه ضرور وګورم او د حال او احوال نه یې خبر واخلم.

غلام عمر شاکر چې د جېل په روغتون کښې کار کاوه د هغه نه مې د ډاکتر محمودي پوښتنه وکړه، هغه راته څرګنده کړه: نوموړی ډاکتر ناروغ دی هغه یې د لته د علاج د پاره راوستلی یو ورور یې امان الله محمودي هم ور سره دی او دوه تنه عسکري صاحب منصبان یې محافظت کوي او خپل کتونه یې د هغه د کوټې د دروازې خوا ته اچولي دي. د روغتون د دویم منزل په چپ لاس اخره کوټه کښې دی.

ماد غلام عمر شاکر نه ځورولی واخیستلې د روغتون دویم منزل ته راوختم چپ لاس ته راوګرځېدم ګورم یو سړی ولاړ دی عینکې یې په ستر ګو دي، چې زه یې ولیدم کوټې ته ننووت، زه هم ورپسې روان شوم د دروازې په خوا کښې د دوو عسکري منصبدارو خولې په کتونو کښې پرتې دي او هغوی نشته دي. کوټې ته ورننو تلم ډاکتر محمودي د خپل ورور امان الله محمودي په تندي لاس

ابښودی دی او هغه ته په کراره وايي تبه دې دومره نشته ده ښه یې! زه یې شاته ودرېدم. کله چې زه هغه ولیدم هغه څو روپۍ مې دهغه دورور دبالښت دلاندې کېښودلې اوډاکتر محمودي ته مې وویل: دازما وظیفه ده چې ستاسې خلکو پښان دحال احوال نه ځان خبر کړم اوڅه مرسته در سره وکړم. هغه ماته ښکته پورته وکتل وې ویل ته څوک یې اوڅنګه دلته راغلی یې؟ ما هغه خپله پخوانۍ خبره تکرار کړه: هرڅه ته چه موضرورت وي ماته یې ووایئ زه به در سره مرسته وکړم! هغه وویل: هېڅ شي ته ضرورت نلرم! په پای کښې مې ډاکتر محمودي ته روښانه کړه: زه اوس ځم بیا راځم ستاسې خبر اخلم. خدای سپارلې مې ور سره وکړه ،دکوټې نه راووتم دواړه منصبدار محافظان په کتونو کښې ناست دي چې زه یې ولیدم دواړه سپک دخپلو کتونو نه راپاڅېدل اوزه یې دلاسونو نه ونیولم، ماته یې په عصبانیت وویل: ته څوک یې او څنګه راغلی یې؟ ماهغوی ته وویل: تاسې خوبه دډاکتر محمودي نوم اورېدلی وي چې ډېر همدرد با عاطفه ملي وطنپال شخصیت دی. زه راغلم دلته تاسې نه وئ چې له تاسې نه دیو څو دقیقو دپاره اجازه واخلم چې هغه ووینم او پوښتنه یې وکړم. دواړو راته وخندل بیایي راته وویل:

څه نوم دې دی اوته څوک یې اودلته څه کوې؟ ماورته وویل: زه بندي یم دامې نوم دی دقلعۀ جدید په سیاسي مخصوص کښې هستوګنه کوم اوهغوی ته مې زیاته کړه: یوه خبره درته کوم که اجازه راکوئ.

دواړو په موسکا وویل: اجازه ده ویې کړه. لنډه مې ورته روښانه کړه: که تاسې ماته په هفته کښې دوه یا درې یا څلور ځلې دڅلورو پنځو دقیقو دپاره اجازه راکړئ چې دنوموړي ډاکتر دحال احوال پوښتنه کوم دابه ستاسې ډېره مهربانيي وي اوکه تاسې ښګا ته فرصت درلود، زما کوټې ته راشئ هلته به نورې خبرې وکړو. هغوی دواړو زما په دې خبره ډېروخندل دغه یو محافظ تورن جیلاني نومېده دلوګر ؤ اوهغه بل ضابط دستګیر نومېده دکندهار ؤ. هغوی

دواړو وویل: څه وخت چې مو فرصت پیداکړ دریه شو که خدای کول. په پای کښې مې ورته همدومره وویل: تاسې اومونږ ټول دیو وطن یو. دډاکتر محمودي پشان پوه ،باعاطفه، دلسوز ډاکتر او ملي شخصیت په افغانستان کښې هیڅ نشته دی او کوم شخصي جرم یې هم ندی کړی دافغانانو دحقوقو غوښتلو په خاطر یې بندی کړېدی، دهغه پوښتنه اومرسته کول دهر یو با ایمانه افغان وظیفه ده.

هغوی دواړو راسره پدې موافقه وکړه. چې په هفته کښې به درې ځلې دپنځو دقیقو دپاره تاته اجازه درکړو چې دډاکتر محمودي دحال احوال او ضرورتونو پوښتنه وکړې خو شرط ذادی چې په داسې وخت کښې به راځې چې څوک نه وي اوبل هیڅوک ددې نه خبرنه شي ځکه مونږ ته ویل شویدي چې هیڅوک به ور سره خبرو ته نه پرېږدئ. ماور سره ومنله او ډېره ډېره مننه مې ترې وکړه. خدای سپارلی مې له هغوی سره وکړه او لاس مې دواړو ته ورکړ. هغوی راته وخندل دهغوی خندا ما په نېک فال ونیوله.

په کوټه کښې ناست یم دماخوستن ډوډۍ مې خوړلې چای څښم چامې دروازه وټکوله چې دروازه مې خلاصه کړه دډاکتر محمودي دواړه محافظان راغلل،

روغبړ مې ور سره وکړ، کښېناستل وې ویل: ډوډۍ مو خوړلې ده چای به وڅښو. چای مې ورته په پیالو کښې واچولو چای موڅښه او خبرې مو کولې دخبرو په منځ کښې راته هغوی وویل: ته چې زمونږ نه رخصت شوې ډاکتر محمودي دخپلې کوټې نه راووا ته ویېل: وطندارانو زه له تاسې سره چای څښلی شم؟مونږ ورته وویل: په ډېره خوشحالۍ کښېنه مهرباني وکړه! هغه کوټې ته په پیاله پسې ننووت خپله پیاله یې راوړه چای مو ورله پکښې واچاوه یو څو دقیقې خبرې چې مو ور سره وکړې مونږه یې داسې تر خپل تاثیر لاندې راوستلو چې فکر مو کاوه دڅو کلونو راهیسې هغه مونږ پېژنو، ستاخیره بالکل

رښتيا وه چې داسې سړی بالکل په افغانستان کښې نشته دی. تر ډېره وخته موخپل ګپ شپ ولګاوه په پای کښې بيا هغوی په دې ټېنګار کاوه چې بايد هېڅوک د دې نه خبرنشي چې ته له ډاکتر محمودي سره خبرې کوې. بيا مې د هغوی نه په تکرار سره مننه اوشکريه وکړه او يو يو وړين جاکټ مې هغوی ته دتحفې په ډول ورکړ خدای سپارلې مې ور سره وکړه.

## بندي فريادي لېونی

دشپې يوولس بجې دي اسمعيل راغی ويويل: زمونږ کوټې ته يې يو نوی لېونی راوستلی دی داسې چيغې سورې نارې وهي چې زمونږ د کاريګور ټول بنديان زمونږ کوټې ته راغلي دي چې د دغه لېوني چيغې سورې او نارې نورې بندي کړئ اومونږ هم ور سره سخت په عذاب يو، ته يو ځل راشه ته يې په خپله وګوره! ماورته وويل چې زه درشم زه به څه وکړم؟هغه مې په دې پوه کړ: څه ته اوس لاړ شه سبا به يې څه غم کوو. هرڅومره چې مې اسمعيل ته وويل چې ته ولاړ شه هغه نه ته او همداسې يې راته ويل: يوځل زمونږه کوټې ته راشه دغه نوی لېونی ووينه چې څومره ډېر خلک دهغه په شور او غالمغال زمونږ کوټې ته راغلي دي.

داسمعيل سره روان شوم کوټې ته ور ننوتم چې دهغوی د کوټو خواوشا ټول بنديان راغلي دي او نوی لېونی همداسې شور او غالمغال کوي. ماچې هغه وليده يو تکړه قوي ځوان دی په کندهاری لهجه خبرې کوي يوه خبره سمه کوي او دوه ورانې. تر ډېره وخته پورې مو دنوي لېوني په باره کښې خبرې کولې چه څه وکړو؟ اخر ټولو پدې فيصله وکړه چې همدا اوس به يې شفاخانې ته يوسو او زه يې هم مجبور کړم چې ور سره شفاخانې ته لاړ شم چې دانا روغ لېونی بستر کړو. ځکه چې اصلي ناروغ خو دادی چې ټول خلک ور سره په عذاب دي.

لهونی مو یو تن ته دبستري کولو دپاره په شاکړ او دوه تنو پسې دهغه پښې نیولې دي، دکوټې نه مو راوښکه، دقلعۀ جدید سیمې دروازې ته چې راغلو قلف ده، دروازه مو په یوه ډیره ډېر سات وټکوله دقلعۀ جدید دشپې دگزمې څوکیدار دروازې ته راغی وې ویل: خیریت خودی څه کوئ ؟ یوتن ورته وویل: خیریت چرته دی دا ناروغ ته په خپله وینې چې په څه بد حال دی. دگزمې څوکیدار عسکر په خبره پوهېده ښکاره یې کړه : زه ستاسو تکلیف وینم، زه ضرور انضباط عسکر چې کیلی ور سره ده دلته راولم چې تاسې ور سره په خپله خبرې وکړئ خو یو څه وخت تاسې صبر وکړئ چې زه تاسې ته بېرته ځواب راوړم نوره دروازه دومره په زوره- زوره مه ټکوئ ! هغه ته مو څر گنده کړه: ناروغ به بېرته کوټې ته یوسو او یو تن به دلته دروازې ته پاتې شي کله چې تا انضباط عسکر راووست په مونږه پسې به راشې چې له هغه سره خبرې وکړو.

یو تن مو په دروازه کښې پرېښود او نور ټول بېرته دلهونیانو کوټې ته لاړو.

تر یوې بجې پورې دلهونیانو په کوټه کښې څوک ناست دي او څوک ولاړ دي، هغه لهونی راغی ویویل: انضباط عسکر راغلی دی وایې چې ناروغ مه راوړئ تاسې دوه درې تنه راشئ چې خبره در سره کوم. مالهونیانو ته وویل: دوه درې تنه به مونږه لاړ شو چې له انضباط عسکر سره خبرې وکړو تاسې بیا ناروغ په شاکړئ دروازې ته یې راوړئ. مونږ چې سیمې دروازې ته راغلو انضباط راته په گوته کړه: اوس دشپې څه کم دوه بجې دي دټولو دروازو کلی گانې دجېل له انضباطي مدیر سره دي هغه اوس ویده دی او که کلي گانې ترې هم راوړم په شفاخانه کښې به داوخت هیڅوک نه وي تاسې به صبر وکړئ چې دسهار په اول وخت مو ناروغ شفاخانې ته یوسئ، پدې وخت کښې ناروغ لهونیانو سیمې دروازې ته راورسولو. لهونیان مې په دې پوه کړل چې سات په سات به تاسې یو تن سیمې دروازې ته راځئ کله چې انضباط راغی زما کوټه به ټک ټک کړئ چې ناروغ شفاخانې ته یو سو. زه هم راغلم کرار په کوټه کښې

ویده شوم. دسهار څه کم اووه بجې وې چې کوته مې چا وټکوله، دوه لېونیان دي وايي: انضباط دروازې ته ولاړ دی. زه چې دروازې ته راغلم، انضباط راته وویل: په خپله وعده ټینګ راغلم. لېونی موږ یا یو لېوني ته په شاکړ، همداسې چيغې، شور او غالمغال کوي. انضباط دروازه خلاصه کړه، دهغه نه مو خواهش وکړ چې تر روغتون پورې راسره ته ولاړ شه هغه یو دلسوز اخلاقي ځوان ؤ دایې راسره ومنله؛ انضباط چې هرې دروازې ته رارسېږي وایي: دروازه خلاصه کړئ ناروغ په ډېر بدحالت کښې دی، دروازه راته خلاصوئ. ناروغ مو روغتون ته راورسولو همداسې چېغې او سورې نارې وهې چې دشفاخانې ټول پرستاران اونوکریوال ډاکتر وارخطا په هیبت راغلل چې څه خبره ده؟ نوکریوال ډاکتر ته مې وویل مریض مو درتسلیم کړو مونږ بېرته ځو. هغه وویل: دا ناروغ ندی، دالېونی دی او دا شفاخانه دلېونیانو نده. ماورته وویل: ډاکټر صاحب ددغه لېونی دلاسه دوه شپې بندیانو هېڅ خوب ندی کړی، دارښتیا ده چې دادلېونیانو شفاخانه نه ده دبندیانو شفاخانه ده او دا لېونی بندي دی داستاسې خوښه ده چې دلته یې بستر کوئ اویایې دلېونیانو په شفاخانه کښې؟ ناروغ مو درتسلیم کړو مونږه بېرته ځو! نوکریوال ډکتر دلېوني نه پوښتنه وکړه: څه نوم دې دی اودکوم ځای یې؟ هغه ورته وویل: زمانوم بادام دی دکندهار یم اوپه قام اڅکزی یم، بیابه یې په نورو ګډو وډو خبرو لاس پورې کړ. نوکریوال ډاکتر وویل: ته لږ صبر وکړه دسر طبیب دراتلو وخت دی ته له هغه سره په خپله خبرې وکړه تاسې مه ځئ چې یوه اساسي چاره یې وکړو. دډاکتر محمودي محافظ دستګیر هم دلېوني په شور او غالمغال راغلی ؤ ولاړ ؤ هغه زما خواته راغی ویویل: که دپنځو دقیقو دپاره ډاکتر محمودي ګورې هېڅوک نشته ښه وخت دی. دستګیر ولاړ، مانوکریوال ډاکتر ته وویل: ډېره ښه شوه مونږ به سرطبیب ته صبر وکړو چې هغه راشي. زه دډاکتر محمودي کوټې ته پاس په ډېره چټکتیا راغلم وروسته دروغبړ نه هغه راته وویل: نن زما دلیدلو دپاره ډاکتر علي احمد

خان دعلي آباد دعقلي او عصبي شفاخانې سرطبيب چې زما شاګرد هم دی اوربښتياني دوست هم دی راځي زه به هغه ته ووايم چې دالېونی په شفاخانه کښې بستر کړي اودبستر خط ورته همدلته وليکي چې سرپرستار ته يې ورکړي او نورکار يې بيا هغه خلاص کړي، ناروغ مو بېرته مه وړئ هم دلته يې پرېږدئ . شکريه مې ترې وکړه.

## يو ډارن بندي

ډاکټر محمودي راته وويل: دکابل دولايت دتوقيف نه يې يويل نوی بندي راوستلی دی، په پنځمه کوټه کښې دی بيرک نوم يې دی يوځل يې ووينه ! ښه مې ورته وکړه. جيلاني اودستګير دواړو راته په خوشحالۍ وويل: ربښتيا ته ډېر همدرد سړی يې ته له هر چا سره مرسته کوې. بېرته باداملېوني ته راغلم چې دپخوا په شان چيغې شور او غالمغال کوي دسرطبيب دکوټې په مخکښې په درازچوکۍ موکښېناوه دووتنو ديو لاس نه نيولی دی او دوه کسانو دبل لاس نه او يو تن يې شاته ولاړ دی، سرطبيب راغی باداميې ولېده، هغه پوه شه چې لېونی دی چيغې اوسورې وهي.

سرطبيب نور سر پرستار ته وويل: هغه په ځانله کوټه کښې واچوه. يوه نسخه يې وليکله هغه ته يې وويل: دا دوا ددواخانې نه واخله دوه يا درې ګولۍ به ورکوې چې لږ آرام وي. بيايې ماته وويل: ته څنګه راغلی يې ؟ما وويل: دالېونی مارا وستلی دی، دوه شپې مو دده دلاسه هېڅ خوب نه دی کړی. په خندا شه راته وی ويل: څه ددې نه خومې خلاص کړې، دلته مې بستر کړ. نور سرپرستار اصلاً دپاردريا دازبکستان وُچې په دويم عمومي جهاني جنګ کښې يې دروسانو دلاسه دنورو پاردريايانو په شان افغانستان ته پناه راوړې وه نور اصلاً ډاکترؤ او ددهمزنګ دجيل په روغتون کښې دځوکالو راهيسې

دسرپرستار وظیفه اجراکوي.

دراوتلو په وخت کښې مې نور سر پرستار ولیداو دبادام لیوني په باره کښې مې ورته دډاکتر محمودي تولې خبرې وکړې. هغه وویل: بس ته ددې نه نور خلاص یې دانور زما کار دی چې ټول کارونه یې خلاص کړم او دعلي آباد عقلي او عصبي روغتون ته یې سبا واستوم. ماورته وویل: سبا زه بیا راځم. سبا دوولسو بجو ته مې ځان روغتون ته ورساوه ،هېڅوک نه وو دروغتون دویم منزل ته وختم، دبېرک کارمل کوټه مې وټکوله، ویویل: راځه! چې زه کوټې ته ورننوتم هغه هک حیران شه. ماپه آرام زړه په کراره هغه ته ستړی مه شې وویل او بیامې ورته وویل: زه دلته راغلم چې ستادحال احوال پوښتنه وکړم اوڅه شي ته چې دې ضرورت وي ماته یې ویلی شې چې زه درسره مرسته وکړم. زما دې خبرو دهغه دخبرو لهجه بیخي بدله کړه او وې ویل: ته څوک یې اودلته څنګه راغلی یې؟ ماورته ووېل: زه بندي یم ستا نه خبر شوم دلته راغلم چې ستاپوښتنه وکړم او څه شي ته چې دې ضرورت وي ماته یې ویلی شې چې زه درسره پکښې مرسته وکړم او زیاته مې کړه: دازما وظیفه ده هغه بندیانو ته چې مرستې ته ضرورت لري زه ور سره مرسته وکړم. یوه قطی سګرټ او دانګرېزي لایف مجله چې ما دځان سره راوړې وو دهغه دبسترې په بالښت مې کېښېښودل اوپه تکرار مې ورته روښانه کړه :هرڅه ته چې مو ضرورت وي ماته یې ویلی شئ. هغه په ډېره ماته خوله ماته په ګوته کړه :ماته ویل شوي دي چې ته له هېچا سره خبرې کولی نشې او نه له چاسره لیدل کتل کولی شې. ماورته څرګنده کړه : زه دټولو هغو کسانو سره چې نوي راغلي وي غواړم مرسته وکړم. هغه وویل: بیادلته مه راځه، ستاراتګ ماته تکلیف راکوي، زه هېڅ شي ته ضرورت نه لرم. هغه څو ځلې همدا یوه خپله پخوانۍ خبره تکراروله چې ماته ویل شویدي ته له چا سره خبرې کولی نه شې او نه له چا سره لېدل کتل کولی شې. دراوتلو په وخت کښې یې داهم راته وویل: چې ماته ویل شویدي چې نه له

چا سره دخبرو حق لرې اونه خبرې کولی شي. دکوټې نه چې بې راووتم د زينې سرته چې راغلم دډاکتر محمودي محافظانو جيلاني اودستګير وليدم له هغوی سره مې دلاس په اشاره خدای سپارلی وکړه هغوی پوه شول چې زه نه ورځم. نور سر پرستار وليدلم چې دزينې نه راکوز شوم زما خواته راغی وې ويل: ډاکتر علي احمد خان دعلي آباد دعقلي اوعصبي شفاخانې سرطبيب بادام ليونې ته دعاجل بستري خط ورکړ ډاکتر محمودي ته يې سپارلی ؤ. ډاکتر محمودي دبادام لېوني دبستري خط ماته راکړ ماهغه بستري خط دشفاخانې دمکتوب سره دسرطبيب په امضا دجيل انضباطي مديريت ته يوړ دجېل دانضباطي مديريت نه مې هم ټول کار خلاص کړ او ددو و محافظانو عسکرو سره يې دعلي آباد په عقلي او عصبي شفاخانه کښې بادام لېونی داخل بستر کړ او دسرطبابت دفتر ته يې هم دبادام لېوني دبستر کولو اطمينان ورکړ. ما د نور سرپرستار نه تشکر وکړ.

## د نور علم خان شاهی تاج او چپنه

د روژې څوارلسمه د پنجشنبې مازيګر ؤ او په کوټه کښې ناست يم، کتاب لولم، اسمعيل راغی ويې ويل: دا څو ورځې کېږي چې هيڅ زمونږ کوټې ته نه راځې، مونږ دلته څو ک لرو ديو خدای او ستا نه نو ته چې زمونږ خبر نه اخلې په تابه هم تېره شي او په مونږه به هم. دهغه دې خبرو زما دسينې په صندوق کښې دانساني خواخوږی او عواطفو داسې جوش خروش په هېجان او طغيان راووست چې کتاب مې بند کړ راپاڅېدم هغه ته مې وويل: راځه چې ځو. هغه وويل: زه ولاړم ته راځه راپسې. زه چې دلېونيانو ددرازخانې دروازې ته ورسېدم هرڅومره چې مې دروازه وټکوله اوټېل وهله دکوټې نه دننه راته دوه غبر ګ آوازونه وشول: دروازه اسمعيل په دواړو لاسونو ټينګه نيولې ده

خلاصبږو ته يې نه پرېږدي.

ماهغه ته ووې : دروازه خلاصه کړه، که ما ته دروازه نه خلاصوې بيا زه هم نه راځم.

-پدې شرط درته دروازه خلاصوم چې بيا بـه داسې نه کوې، زمونږ کوټې ته به راځې اوزمونږ خبر بـه اخلې! هغه ته مې وويل: بالکل به همداسې کوم زما له تاسره دا لوز او وعده ده، دروازه يې راتـه خلاصه کړه ،کوټې ته ورننوتم يو يو راځي غاړې راکوي اوهريو همداراتـه وايي تـه ولې زمونږ کوټې تـه نه راځې؟ ماهغوی ته وويل: پدې شپه راته څه وايئ؟ اسمعيل راته غږ وکړ: ماراوستی يې او ددوی ټولو خبره به درته زه وکړم چې ما ته يې ويلي دي.

هغه وويل: چې کوچني اختر تـه داځو ورځې پاتې دي چې دنور علم خان شاهي تاج او شاهي چپن نده جوړه شوې. دهغه شاهي تاج او شاهي چپن جوړول ډېر زيات ضروري کار دی.

ماورته خپله خبره داسې څرگنده کړه : دا بـالکل سمه خبره ده. خوزه څه وکړم؟

په دې وخت کښې اسمعيل نور علم خان ته ښکاره کړه: گونگ خو نه يې خوار شې خبرې وکړه.

نور علم خان دخپلې بسترې سرته يوه بوجۍ څرګنده کړې وه دکالو نه ډکه ښکاريده. بوجۍ يې چې خلاصه کړه ،خپل نېمکله شاهي تاج او خپله نېمکله شاهي چپن يې ترې راواخيستل ماتـه يې راکړه وې ويل: زما داشان ښکلې کوچنۍ کوچنۍ اصلي ټوټې ډېرې ضرور په کار دی او زياته يې کړه :څلور دانې گوتمۍ (انگشتانه) مې هم ضرور پکار دي، چې گوتمۍ نه وي گنډل نشم کولی، رنگارنگ تارونه، دگنډلو کوچنۍ او غټې فولادي ستنې.

ماورته وويل: داکوچنۍ اصيلې ټوټې تاته چا راوړې دي. وې ويل صوفي جلال دکاندار.

ماورته پـه ګوته کړه: زه به خپـل کوښښ وکړم چې دا ټول ستا دضرورت وړ شیان درته پیداکړم خو داستا دومره خواری پدې نه ارځي. هغه په زوره زوره په برق برق وخندل زه حیران شوم چې ولې یې ناڅاپه دومره پـه زوره پـه ټق ټق وخندل.

هغه تـه مې خپلـه خبره داسې ښکاره کړه: رښتیا راته ووایه چې تا ولې دومره په زوره - زوره وخندل؟

هغه په مسکا ښکاره کړه : په دروغو کنبې مې څه فایده ده رښتیا درته وایم. ما ستـا پـه دې خبرې پورې وخندل چې ستـا دومره خواري په دې نـه ارځي خدای مې دې مورته جنتونه ورکړي کله چې به مې پلار هغې ته وېلې چې داکار وکړه نو هغې به مې پلار ته داسې ویل:

دامړی په دومره ژړا نه ارځي. نو ستا داخبره زما دمور دخبرې پشان ده او زیاته یې کړه :داشاهي تاج او شاهي چپن دخواجه غریب نواز دزیارت دملنګی نخښه ده .

- څنګه ستادملنګۍ نخښه ده؟ ته راته دا ټوله کیسه وکړه. هغه موسکی غوندې شه داسې یې راته وویل: سم دم غوږ دې راتـه ونیسه چې زه درته خپله ټوله کیسه په زور زېر وکړم.

زما بې اختیاره دخولې نـه هغـه ته دا راوختـل: ګوره نورعلم خانه څنګـه ستادملنګۍ نخښه ده.

هغه راته په ځیر ؛ ځیر ښکته پورته وکتـل بیا یې دخپلې خبرې سرداسې راته ښکاره کړ:

زوروره زما دخبرې په ښته مه راخېژه او خبره مې په مرۍ کنبې مه زندۍ کوه.

ما خو درته وویل چې خپله ټوله کیسه درته کوم خوبیا به مې دخبرې په منځ کنبې لغتې نه وهې.

– ډېره ښه شوه، دخبرې په منځ کښې دې لغتې نه وهم!
– ښه نو واوره کیسه داسې ده:

دپلار نوم مې گل علم اخوندؤ او دمور نوم مې گل بي بي وه په غزني کښې اوسېدم پلار مې دیوکلي ملا امام ؤ او مور مې په کور کښې په لاس گنډل کول. خلکو ته به یې برستنې او جامې گنډلې. برستنې به یې دکوچنۍ کوچنۍ اصیلو ټوټو نه چې رنگارنگ مختلف رنگونه به یې لرل جوړولې چې مابه ور سره هم د برستنو دجوړولو په گنډلو کښې مرسته کوله، مور به مې راته همېشه شاباس او آفرین وایه دائکه چې درنگارنگ کوچنیو ټوټو درنگونو په یو ځای کولو کښې مې پوره مهارت درلود او زما کار به زما دمور ډېر خوښېده.

پلار مې دمزدورۍ دپاره هندوستان ته ولېږلم هغه راته وویل: چې هلته دې مزدوري وکړه او څه روپۍ دې په مزدورۍ وگټلې نو کورته به راځې! پلار مې دغزني دهغه مزدورانو سره ملگرى کړم چې هر کال به هندوستان ته دمزدورۍ دپاره تلل اودا ټینگه یې په هغوی وکړه چې دځان سره به یې یو شان ساتئ او یو ځای به مزدوري کوئ او له ځان سره به یې بېرته راولئ.

دمزدورانو د ډلې سره بمبیي ته راغلم دسمندري جهازونو په اډه کښې مو ښه کار پیداکړ چې په سمندري جهازونو دسامانونو د کېښودلو اوښکته کولو کښې مو یو کال ښه په زړه پورې مزدوري وکړه. زما ټولو ملگرو فیصله وکړه چې دوه میاشتې وروسته دخواجه غریب نواز مېله ده، یوه میاشت مخکښې به هلته لاړ شو ځای به ونیسو ددنیا دهرملک نه دخواجه غریب نواز مېلې ته خلک راځي ډېرې ښې مېلې او ښه، ښه سیلونه او تماشاگانې پکښې دي او دبلې خوا یوه میاشت ډېره ښه مزدوري هم هلته پیدا کېږي. کله چې مونږ دخواجه غریب نواز ښار ته ورسېدلو اوځای مو ونیوه. یوه ورځ دیوه ملگري سره دخواجه غریب نواز په لنگرخانه کښې گرځېدم؛ سترگې مې په یوه ملنگ ولگېدلې چې په کوټه

کښېني ناست دی د کوچنيو رنګارنګ ټوټو نه څه شی جوړوي. سترګو ته مې خپله مور نېغه ودرېده او داسې فکر مې وکړ چې له مور سره مې ناست يم؛ برستن ور سره ګنډم؛ ملنګ چې ډول ډول رنګونه له يو بل سره يو ځای کول د کوچنيو ټوټو مناسب رنګونه نه وو يعنی مناسب رنګونه يې نه يو ځای کول نو بلا ارادې مې ورته دخولې نه راو ختله:

ملنګ بابا ماته اجازه راکوې چې يو څو کوچنۍ ټوټې درسره زه ونښلوم! هغه دسر په اشاره پوه کړم چې راځه. ماچې لومړی څو رنګه مختلفې کوچنۍ ټوټې جدا کړې او بيا مې بياتې راواخېسته بياتې مې کړې. چې يو دوه درې کوچنۍ ټوټې مې وګنډلې ملنګ راته څرګنده کړه: ته خياط يې؟ هغه ته مې وويل: نه زه خياط نه يم، مزدوری له راغلی يم مزدوري کومه. ملنګ چې زما کار وليده ماته يې په زغرده وويل: بچی ته دې خپل کار کوه زه دشيدوچای راوړم. پدې وخت کښې مې راباندې دملګري نظر شه په قار يې راته وويل: ما درپسې ټوله لنګرخانه ولټوله ته دلته ناست يې کرار خپل ګنډل کوې. پاڅه، ځه چې ځو! په دې وخت کښې ملنګ يو چاينک او دوه پيالې راوړې. هغه چې زما کار وليده ډېر خوشاله شه زما ملګري ته يې داسې وويل: داهلک ستاڅه دی؟ ورته و مې ويل دا زما ملګری دی.

ملنګ ماته دميني په لهجه څرګنده کړه: بچی دورځې څومره مزدوري کوې؟ ما ورته وويل: کله دورځې پنځه او کله اته روپۍ مزدوري کوم.

ملنګ ماته وويل: که له ما سره همدا کار کوې زه به دورځې اته کلدارې، ډوډۍ او دهستوګنې ځای درکړم، ماچه دملنګ نه دا او رېدل سمدستي مې له هغه سره دمنلو هوکې وکړه.

ملنګ زما ملګري ته وويل: پنځلس کاله کېږي چې زه دخواجه غريب نواز ددربار ملنګ يم او دټولو ملنګانو مشر يم زمانوم انوارالحق دی دامې کوټه ده داملګری دې څو ورځې له ما سره پرېږده! ملګري مې انوارالحق ته وويل: دادده

خپله خوښه ده. ملګري ته مې څرګنده کړه: زه ښوونځي دلته کار کوم. هغه راته وویل: کله کله به زه دلته ستا پوښتنې ته راځم. بیه مې ورته وکړه، هغه رخصت شه او زه دشپې له ملنګ سره پاتې شوم. دشپې ډوډۍ چې مې وخوړه ملنګ ته مې وویل: تاسې ماته خپلې کوچنۍ توتې او بیاتي راکړئ چې دسبا دپاره پرې څه کار وکړم. هغه دخپلو کوچنیو رنګارنګ توتو توله ذخیره زما په مخکښې کښېښوده. ماچه دلاتېن په رڼا کښې خپل کار شروع کړ رنګارنګ کوچنۍ توتې مې دسبا دکار دپاره تیارې کړې ملنګ پاڅېد ویې ویل: اودس کوم بېرته راځم او ته خپل کار کوه.

ما بیاتي کړې رنګارنګ کوچنۍ توتې دکوتې په منځ کښې په منظم ډول کښېښودلې چې یورنګ له بل رنګ سره ښه معلومېده. ملنګ راغی زما کار یې ولېده ویویل بچې داڅه کوې؟ هغه ته مې وویل داتاسې ته دشپې درښایم چې سبا مې بیا کار آسان وي. هغه څرګنده کړه هرڅنګه چې ستاخوښه وې اوته پوهېږې هماغه شان کوه. ماهغه ته وویل: ځنې توتې چې تا ګنډلې دي زما خوښې ندي زه هغه بدلوم.

څنګه یې بدلوې؟ ما وویل: مثلاً دشنې توتې په ځای زه بل مناسب رنګ اچوم او ورته زیاته مې کړه: که زما داکار ستا خوښ شوی وي زه خپل ټول کار په همدې شان کوم.

ملنګ راته په خندا وویل: هرڅنګه چې ته خپل کار کولی شې اومناسب درته ښکاري هماغه شان یې کوه، په دې کښې ستا کامل اختیار دی.

دشپې مې دملنګ چپن راواخیسته هغه ځایونه چې رنګونه یې سره ښه نه جوړېدل بېرته مې وسپړل اونورې کوچنۍ توتې مې چې مناسب رنګونه یې لرل دهغوی په ځای بېرته وګنډلې.

دلاتېن په رڼا مې ترناوخته پورې خپل کار وکړ، ملنګ چې زماکار ولیده دډېرې خوشحالۍ نه یې راته وویل: ته به په څو ورځو کښې زما دپاره دغه

شاهي تاج او شاهي چپن تيار کړې ؟ ماورته وويل: انشاء الله تعالی په شلوورځو کښې به يې جوړ کړم. هغه راته وويل: ښه نوچې په شلو ورځو کښې يې جوړوې نوزه به دورځې لس کلدارې مزدوري درکوم! ښه مې ورته وکړه، شپه مې په ډېره آرامی سره تېره کړه ،چای مو وڅښه سهار يې راته وويل: خپل ټول سامان دې برابر کړه دځان سره يې راواخله چې لنګر خانې ته ځو. لنګرخانې ته راغلو خپل سامان مې منظم کښېښوده، ماپه خپل کار پېل وکړ اوملنګ راته خپلې دوه سترګې څلور کړېدې چې زما کار ته ګورې دخوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائېږي. څو ورځې اوشپې مې خپل کار په ډېره مينه او شوق سره وکړ اوديوې ورځې نه مې بلې ورځې ته کار ښه رونق پېداکاوه ،کله چې به مې کار وکړ اوستړی به شوم نودمه به مې کوله چپن به مې په کوټ بند کښې واچوله ځوړنده به مې کړه هرڅوک چې به دلنګر خانې دليدلو دپاره راتلواوزمونږ دکوټې په مخه کښې به تېرېده چپن به يې په کوټ بند کښې ځوړنده ليدله، دچپن سيل ته به ودرېده اوزما نه به يې پوښتنه کوله: دامو په کوم ځای کښې اخېستلې ده، قېمت يې څو دی؟ مابه ورته ويل: دازما نه ده دا دانوارالحق صاحب ده. چپن خلاصه شوه په کوټه کښې ځوړنده ده يوځوان او يوه پېغله راغلل زما نه يې پوښتنه وکړه: داپه څو خرڅوې؟ ماځواب ورکړ: دادخرڅ نده، دا دانوارالحق صاحب ده. هغه ځوان او پېغله دواړه کوټې ته راننوتل انوار الحق ته يې وويل: مونږ دواړه دډيلي دفلمونو دجوړولو په ستډيو کښې کار کوو، که اجازه راکوې يوځل داچپن زه اغوندم عکس پکښې اخلم او بيا يې زما داملګرې اغوندي عکس پکښې اخلي. انوارالحق ورته وويل: په ډېره خوشحالۍ اجازه ده. لومړی هغه ځوان چپن خپلې پېغلې ملګرې ته ور پغاړه کړه هنداره يې دېکس نه راواخېسته ځان يې پکښې ولېده عکس يې پکښې واخيست. بيا هغه ځوان پغاړه کړه هنداره يې راواخيسته ځان يې پکښې ولېده ،عکس يې پکښې واخېست.

انوارالحق ته دواړو وويل: داچېن چې مو په هرځای کښې اخيستلی وي مونږ ته يې پته راکړه چې مونږ داسې دوه چپنې اخلو. هغه ورته وويل: داماته زما دې ملګري جوړه کړېده. هغوی دواړو په ډېر ټينګار سره وويل: ستاملګری چې هرڅومره روپۍ اخلي مونږه يې ورکوو چې مونږه ته داسې يوه چپن او داسې يو تاج جوړ کړي. ما هغوی ته وويل: که ماته انوارالحق صاحب اجازه راکوي ستاسې دپاره به هم دوه شاهي چپنې اودوه شاهي تاجونه جوړ کړم. خوډېرې روپۍ به راکوئ! هغوی وويل: که په شلو ورځو کښې دوه شاهي چپنې او شاهي تاجونه جوړولی شې ستا په خوښه روپۍ درکوو ځکه چې شل ورځې وروسته موږه دواړه په يو فلم باندې کار کوو. ما انوارلحق ته وويل: په شلو ورځو کښې به ورته انشاء الله تعالی دواړه جوړه تيارې کړم، شل ورځې پوره وروسته دې راشي خپل مال دې واخلي خوديوې يوې جوړې دې دوه نيم دوه نيم زره روپۍ تاته درکړي. انوار الحق صاحب چې له هغوی سره خبرې وکړې پنځه زره روپۍ يې هغه ته ورکړې. ماهغوی دواړو ته وويل: سبا تاسې دواړه يوځلې سهار وختي راشئ چې بازار ته لاړ شو. ستاسې په خوښه سودا وکړو او بيا ستاسې دواړو قدانـدام واخلم. هغوی دواړه لاړل مونږ بېرته دلنګرخانې دانوارالحق صاحب دخوب ځای ته راغلو، ډوډۍ مو وخوړه انوارالحق راته وويل: دخواجه غريب نواز کرامت دې وليده چې دکوم ځای نه يې دوه فلمي ايکټران ستادپاره راوستل.

ماورته وويل: کرامت داولياؤ حق دی. خبرې مو کولې هغه را ته وويل: ستاپه ځان باور دی چې په شلو ورځو کښې به دا دواړه جوړه تيارې شي. ماورته وويل: که دخدای رضا وه بې له واقعې دشلو ورځو نه به يې مخکښې تيارې کړم. زما په دې خبره هغه ډېر خوشحال شه ويې ويل: هغه خلک چې په فلمونو کښې کار کوي ډېرې زياتې روپۍ په خپلو کارونو مصرفوي. سهار وختي دواړه دلنګرخانې کوټې ته لاړو مونږ خپل چای څښلو چې هغه دواړه فلمي

لویغاړي راغلل انوارالحق ته یې څرګنده کړه: مونږ دپروني وعدې سره سم دوخته راغلو چې بازار ته لاړ شو دچپنو اوتاجونو دپاره ټول دضرورت وړ شیان واخلو. ما انوار الحق ته وویل: اته سوه روپۍ ماته راکړه چې ددوی سره بازار ته لاړ شم دضرورت سامان واخلو. هغوی روپۍ راکړې ماهغوی ته ورکړې په بازار کښې مو داته سوه شلو روپو سودا وکړه بېرته دبازار نه راغلو. دهغوی دواړو قد اندام مې واخیسته ورته ومې ویل: دوه ورځې وروسته بو ځلې بیا دواړه راشئ ما مخکښې دمخکښې نه ښه ژور فکر دخپل کار په باره کښې کړی ؤ اوپه ډېر ښه اساسي ډول مې په خپلو مغزو کښې دشاهي چپنو اوشاهي تاجونو نقشه جوړه کړې وه. دوه ورځې وروسته هغوی راغلل ماخپل کار په ډېر ښه اساسي ډول شروع کړی ؤ هغوی چې زما کار ولیده انوارالحق ته یې وویل: داهلک پخپل کار کښې ډېر ښه استعداد او لیاقت لری.

-هو! داربښتیا ده همداسې ده دامزدور دی مزدوري کوي بېرته خپل وطن ته ځي. هغوی ورته وویل: هرکله چې یې زمونږه کار خلاص کړ او دده کار زمونږ خوښ شو نوبیا به مونږ دده سره نورې خبرې کوو.

-ډېره ښه شوه دا ستاسو خپله خبره ده. هغوی اته ورځې وروسته بیا دخپل کار دلیدلو دپاره راغلل. په دواړو چپنو مې ډېر زیات ښکلی کار کړی ؤ کله چې هغوی ولېده دواړه هک حېران شول ورته ځکه چې داسې کار دهرچا خوښېده. په نولسو ورځو او شپو کښې مې هغه دواړه شاهي چپنې اوتاجونه داسې جوړ کړي وو چې سړی یې په لیدلو نه مړېده کله چې هغوی دواړه راغلل او دواړو واغوستل اوبوبل ته یې وکتل نو یوبل ته یې مبارکي وویله اوهغه اته سوه روپۍ یې بېرته بخشش راکړې چې دچپنو دپاره مصرف شوې وې.

هغوی انوارالحق ته وویل: که داهلک له مونږه سره ډیلي ته ځي او هلته همداسې دګنډلو مزدوري کوي مونږه دمیاشتې پنځه زره روپۍ، ډوډۍ او دهستوګنې ځای ورکوو. انوارالحق ماته دهغوی خبره وکړه ماور ته وویل: زه

اوس ځو ورځې وروسته وطن ته ځم بیا چې وروسته راغلم بیا به خبرې وکړو.

دفلمونو ایکټرانو چې دهغه داخبره واورېده ښه یې ورته وکړه هغوی رخصت شول.

انوار الحق او زه دواړه دشپې هستوګنځي ته راغلو. انوارالحق ماته وویل: څه وخت په خیر خپل وطن ته ځې؟ ماهغه ته څرګنده کړه هرکله چې ماته تاسې اجازه راکوئ. هغه زیاته کړه که زما دپاره هم داسې بو چپن او تاج جوړ کړې ډېر زیات به درنه خوشحال شم. ما انوار الحق ته وویل: سبا په خیر بازار ته ځم او په خپله خوښه ستا دپاره ټول سامان اخلم. هغه راسره دا ومنله، شپه مو وکړه، چې سبا مو چای وڅښه ما هغه ته وویل: پنځه سوه روپۍ راکړه! هغه وویل زه هم درسره ځم دواړه به یو ځای سودا وکړو او بېرته به راشو. انوارالحق او زه دواړه دسودا داخیستلو دپاره بازار ته ولاړو. زما په خوښه مو سودا وکړه، بېرته راغلو او په کار مې شروع وکړه. په ډېر شوق مې دانوارالحق د شاهي چپن او تاج په ګنډلو پیل وکړ، دواړه مې په دوولسو ورځو اوشپو کښې په ډېر ښه شان وګنډل چې دانوارالحق ډېر زیات خوښ شول کله چې ماچپن هغه ته ور پغاړه کړه او تاج مې ورته په سر کړ او هغه ته مې وکتل ورته مې وویل: تاسې یو ځل خپل ځان په هنداره کښې ووینئ.

هغه چې خپل ځان په هنداره کښې ولیده زه یې پخپله غېږ کښې ونیولم او یو نیم زر روپۍ یې ماته بخشش راکړې. ماروپۍ بېرته هغه ته ورکړې، هغه وویل: دا بخشش دی که دا وانخلې زه ډېر خپه کېږم دهغه بخشش مې قبول کړ. انوارالحق دخندا په ډکه خوله ماته داسې وویل: ښځه لرې که څنګه؟ هغه ته مې ښکاره کړه: اوس چې وطن ته په خیر لاړم هلته به په کلي کښې یوه ښځه وکړم.

هغه وخندل ویې ویل: دلته ښځه نه کوې.

ورته ومې ویل: دلته څوک ماته خور لور راکوي. هغه راته وخندل وې ویل: زه یوه لور لرم زوی نلرم، زه لور درکوم که زما زوی لي قبلوې. هغه ته مې

څرګنده کړه: په ډېره زیاته خوشحالۍ ستا زوبولي قبلوم، هغه په غیږ کښې ونیولم په دواړو ستر ګوبې مچې کړم، راته وې ویل: مبارک دې شه ماخپله لور عزیزه تاته درکړه !ماورته وویل: ماقبوله کړه. بیا راته انوارالحق وویل: بېګاله به په خیر زما کور ته ځو چې مور اوښځه دې ووینې؛ ښه مې ورته وکړه.

هغه کور ته بوتلم ماته یې وویل: ته لږ دلته ودرېږه، زه د دروازې نه بهر لږ ودرېدم هغه دننه کور ته ننووت ماته یې لږ سات وروسته غږ وکړ:

راځه بچې! چې کور ته ور ننوتلم. انوارالحق راته لومړی خپله مېرمن معرفي کړه: نورعلم خان بچی دادې مور ده فاطمه نومېږي. دهغې لاسونه مې مچې کړه په غیږ کښې یې ونیولم هغې راته داسې وویل: دازمونږه لور ده عزیزه چې انوارالحق اوما تاته درکړېده مبارک دې شه اماچې عزیزې ته وکتل خدای شاهد دی ډېره زیاته ښکلې څېره یې درلوده. انوارالحق خپلې لور ته وویل: عزیزې بچی دا هلک چې نورعلم خان نومیږي ماته ده ته ورکړې ستا څنګه خوښه ده. هغې وویل ستاپه خوښه زما خوښه ده زه پکښې هیڅ نه وایم.

انوارالحق ماته څرګنده کړه :بچی په یوه هفته کښې به درته په خیر واده وکړم او یوه میاشت وروسته به په خیر وطن ته لاړ شې، چې پلار دې دځان سره راولې بیرته به خپل کورته راځې. انوارالحق چې اوس ماته دیو پلار حیثیت لري دهغه داخبرې زما پشان کښې نوې غوندې خبرې وې. هغه ته مې ووېل: اوس خو له ماسره دواده کولو روپۍ نشته دي ! ماته یې داسې وویل: ته اوس زما زوی یې هرڅه چې زه لرم هغه اوس ټول ستادي! هغه خپلې مېرمنې ته داسې څرګنده کړه: فاطمې بي بي ته لاړه شه زما چرمي بکس راوړه. هغه بکس خلاص کړ دسلو روپو دنوټونو بنډلې بنډلې په بکس کښې پرتې وې هغوی دواړو ماته وویل: ته اوس زمونږ زوی یې څه چې مونږ لرو هغه ټول ستادي، اوس ته هرڅه لرې هوش کوه چې بیا داسې خبره ونکړې او زیاته یې کړه: بچی زما په خبره پوه شوې. هومې ورته وویل: هغه خپله خبره را غبرګه کړه: ښه نو

چې زما په خبره پوه شوی یې څه مې درته وویل؟ ورته ومې ویل:

تا وویل چې ته زما زوی یې څه چې مونږ لره هغه ټول ستادی. ته زما پلار یې او فاطمه بي بي زما مور ده او زه ستاسې زوی یم. هو بچې بالکل همداسې ده. شکر دی مال دولت هرڅه ډېر دي هېچاته دهېڅ شي محتاج نه یو. بیا یې زیاته کړه: داکور ستادی څلور کوټې لري دوه ستا او دعزیزې دوه زما او دمور دې. سبا څو دخیره دواده ټول سامان اخلو. ستا دواده دکوټو دپاره هم سامان اخلو ددېرش زره روپو سامان، دسرو زروګاڼه او نور دواده دضرورت وړ شیان ټول واخېستل شول لکه دواده جامې ،دواده بسترې اوهمداسې نور سامان. زما دپاره یې دوه کوټې ډېرې ښکلې جوړې کړې. انوارالحق وویل سبا به دخیره نکاح تړو واده به دې وي. ددې خبرې په اورېدلو به مې داسې فکر کاوه چې دا څه اورم؟ خوب وینم که څنګه؟ خلک راغلل دواده ډوډۍ یې وخوړه ،ما دواده خپلې نوې جامې چې انوارالحق راته کړې وې واغوستلې. عزیزه یې داسې جوړه کړې وه لکه ښاپېرۍ. انوارالحق اوفاطمه بي بي راغلل زه او عزیزه یې دواړه هغه مجلس ته بوتلو چې دنکاح دتړلو دپاره جوړ شوی ؤ. دانوارالحق په کور کښې دخوشحالۍ سازو سرود غږېده زمونږ ایجاب او قبول وشه، نکاح مو وتړل شوه، بېرته یې دواړه هغه کوټې ته راوستلو چې زمونږ دپاره یې جوړه کړې وه ،هغوی دواړه رخصت شول، مونږ دواړه ځانله پاتې شوو، دخاموشۍ پرده غوړېدلې وه، نه هغه څه وایي اونه زه څه وایم. دواړه چپ ناست یو، دوه لاټېنونه په کوټه کښې راته لګېدلي دي بلېږي، ټوله کوټه ښه رڼا شوېده ماهغې ته په کراره شان وویل: ولې خبرې نه کوې؟ هېڅ غږ یې نه کاوه لږ سات چې تېرشه بیامې ورته وویل: خپه خو نه یې چې خبرې نه کوې که څنګه؟ هغې وویل: ته څنګه یې؟ دهغې دې خبرې ماته لږ جرأت راکړ ورته ومې ویل: زه نن ډېر زیات خوشحال یم چې ستا پشان ښکلې ښاپېرۍ ناوې خدای راکړېده. زما په دې خبره هغې وخندل بیا یې ما ته وویل: ته ماته و ګوره ته رېښتیا وایې!

ماچې هغې ته وکتل دواړه خپلې سترګې مې دهغې په سترګو کښې داسې خښې کړې وې چې خپلې سترګې مې ترې خلاصولی نه شوې. هغې ته مې دمینې په مسکا داسې وښودله: ته ښکلې ښاپېرۍ زما دژوند ملګرې یې زه به تاخوشحاله تر تازه او خندانه ساتم! زما په دې خبره هغې وخندل وې ویل: زما او ستا حیا پرده خوشحالي او غم یو دي. ورته په ګوته مې کړه: چې زه ژوندی یم تابه دغم او درد نه ساتم خوشحاله او خندانه به دې ساتم. په خنداشوه راته یې وویل: تادې خدای راته ژوندی لري. دهغې ددې خبرې په اورېدلو سره زما له هغې سره نوره مینه هم پیدا شوه. تر ډېره وخته پورې مو داشان خبرې کولې، دهغې سترګې دخوب نه ډکې ښکاره کېدلې. ورته ومې ویل: که ستاخوښه وي نور به اوس ویده شو. هغې راته په خندا کښې وویل: هرڅنګه چې ستاخوښه وي ستا په خوښه زما خوښه ده. زه پاڅېدم هغه مې دلاسه ونیوله ورته ومې ویل: راځه نور ویده شو دواړه په کټ کښې ویده شوو. سهار وختي هغه راپاڅېده ماته یې وویل:

پاڅه تشناب ته لاړ شه اودس وکړه چې لمونځ وکړې. لمونځ مې وکړ، هغې هم خپل لمونځ وکړ. لمراختلی ؤ فاطمه بي بي راغله چای یې راووړ ویویل: اوس مو پلار هم راځي یو ځای به تول چای وڅښو. انوارالحق راغی زه ور پاڅېدم لاسونه مې ورته مچې کړل کښیناست چای څښو هغوی دواړو زمونږ نه پوښتنه وکړه: شپه موڅنګه تېره شوه؟ نه ما څه ویل او نه عزیزې څه غږ وکړ. هغوی بیا خپله پوښتنه وکړه. ما عزیزې ته وویل: زه ورته ووایم که ته یې ورته وایې. هغې درمز دخندا په ډکه لهجه داسې وویل: ته یې ورته ووایه. ددواړو خبره یو ده! دعزیزې دې خبرې زه زړور کړم هغوی دواړو ته مې په داسې حال کښې وویل چې کتل مې عزیزې ته او خبرې مې له هغوی سره کولې: یوه دخوشحالۍ ډکه جنتي شپه وه چې دواړو په ډېره ډېره خوشحالۍ تېره کړه! بیا هغوی دواړو عزیزې ته وویل: نور علم خان رښتیا وایي بچې؟ هغې ماته وکتل: بیا یې داسې وویل:

نورعلم خان ډېر تکړه ځوان دی زه ترې ډېره زیاته خوشحاله یم.

ما هغې ته کتل او هغې داخبرې کولې دهغې سترګو زما په سترګو کښې دوه نورې سترګې پیداکړې، هغې خپلې سترګې ښکته واچولې زماد خبرې ملاتړ یې وکړاو وېې ویل: مونږ دواړه د یوبل نه ډېر زیات خوشحال یو دی زما دزړه سر دی اوزه ددهٔ دزړه سر یم! هغوی دواړه ډېر خوشحال شول مونږه دواړو ته یې دګډ نېکمرغه ژوند دعا وکړه اوبیا دواړه پاځېدل لاړل ویې ویل: غرمې ته څه شی خورئ ؟ ما عزیزې ته وویل ته ورته ووایه هرڅه چې ستاخوښه وي.

- کباب به غرمې ته وخورو، دشپې له خوامېلمانه یو یو دوه دوستان ډوډۍ راوړي. ښه مې ورته وکړه.

مازیګر دانوارالحق یو دوست ډوډۍ راوړه څونارینه او ښځې ور سره هم راغلې وې، مخکښې عزیزې ماته ویلي وو زما دپلار دوستان دي، ډوډۍ راوړي اوستادلېدلو دپاره هم راځي هغوی راغلل چې زه یې ولیدم انوارالحق ته یې مبارکي وویله چې خدای دې داسې تکړه ځوان زوم په نصیب کړی دی، بیایې دعزیزې نه داسې پوښتنه وکړه :دژوند دملګري نه دې خوشحاله یې که څنګه؟

هغې ورته وویل: زه دخپل ژوند دملګري نه ډېره ډېره راضي او خوشحاله یم! بیایې داپوښتنه زمانه وکړه هغوی ته مې وویل: زما اودعزیزې خبره یوه ده.

دیوې ورځې نه مو بلې ورځې ته مینه اومحبت زیاتېده اودګډ ژوند دمینې په چمن کښې مودمینې ښکلو رنګارنګ ګلانو جلوه کړې وه، دانوارالحق هغه دوستانو چې دشلو ورځو پورې مونږ ته ډوډۍ راوړله اوزما دلیدلو دپاره به راتلل. بېرته چې به تلل یوه تحفه به یې زما اوبله به یې دعزیزې په مخکښې کېښوده پدې تحفه کښې به روپۍ وې. عزیزې به تحفې خلاصې کړې روپۍ به یې تولې زماپه مخکښې کښېښودې. مابه ورته ویلې داټولې ستادي له خپل ځان سره یې کښېږده. یوه میاشت په ډېره خوشحالۍ تېره شوه او مونږ له یوبل سره داسې خوږه مینه پیدا کړه چې انوارالحق اودهغه مېرمن په دې ښه ډاډه شول.

ما انوارالحق ته وویل: اوس خو یوه میاشت اوڅو ورځې د پاسه زما دواده وشوې
که ماته اجازه راکړې چې وطن ته لاړ شم پلار مې راولم. هغه وویل: دا ستاخپله
خوښه ده هروخت چې ځې ستا خپله مرضا ده. دری ورځې وروسته مې د تللو
نیته وټاکله څلور ښه نوي چرمي بکسونه مې واخستل خپلو خپلوانو، دوستانو
او آشنایانو ته مې پکښې مناسبې تحفې کېښېښودلې، دسفر ټول سامان مې
برابر کړ یوه ورځ مې درخصتېدلو ورځې ته پاتې ده. انوارالحق خپلې مېرمنې
فاطمې اوخپلې لور عزیزې ته وویل: چې سبا به دخېره نورعلم خان وطن ته ځي
زمونږ نه به رخصتېږي. عزیزه راغله په سترګو کښې یې غټې غټې اوښکې را
روانې وې زما په غاړه کښې یې لاس واچاوه ویې ویل: ته چې سبائې داخوماته
ډېره ګرانه او سخته تمامېږي. ماهغې ته په داسې حال کښې چې دهغې ژړا ماته
هم ژړا راوستله وویل: ماخپلې ټولې خبرې ستا پلار ته کړېدي، دڅو ورځو دپاره
ځم بېرته ژر دخیره راځم. لږ شان ژړایې بس کړه دلاسه مې کړه او داسې مې ورته
څرګنده کړه: ته خو زما زړه یې زه کله بې زړه ژوند کولی شم. اوښکې پاکې کړه
ګرانې! ویې ویل: ته دا خبره رښتیا کوې؟ ورته په ګوته مې کړه: هو بالکل
رښتیا درته وایم. دشپې تر ډېره وخته پورې ناست وو خپلې خبرې مو کولې
اوخپل دسفر سامان مو په بکسونو کښې برابرولو، سهار وختي دخوبه راپاڅېدم
انوارالحق اوفاطمه مور دواړه راغلل چای یې راوړ، چای مې وڅښه دانوارالحق
اوفاطمې مور لاسونه مې مچې کړل په دواړو مخونو دواړو مچې کړم، رخصت
مې ترې واخیسته. عزیزې ژړلې په ژړا کښې یې راته وویل: ته چې له مانه
جلاکېږې ډېره زیاته درپسې خپه کېږم، پلار اومور چې هغې ته هرڅومره ډاډ
اوتسل ورکاوه ژړا یې نه بس کوله. بکسونه زمونږ په لاسونو کښې دې دکور
ددروازې نه راوتلم دعزیزې نه مې بکس واخسته خدای سپارلي مې ورسره
وکړه چې راته یې وویل: دتللو نه دې نه اېساروم خو یوه خبره درته کومه که
داخبره دې ومنله نو زه به ډېره خوشحاله شم. هغې وویل: دوه میاشتې وروسته

ولاړ شه او ددريمې مياشتې په لومړۍ ورځ به دخيره وطن ته لاړ شې اوزياته يې کړه: زما داسوال ومنه. کله چې مادعزيزې نه دکور ددروازې بهر داخبره واورېده چې ددريمې مياشتې په لومړۍ ورځ به دخبره ځې او زياته يې کړه چې زما داخواهش به قبلوې !ماچې هغې ته وکتل دهغې ګلابي بشره ژړه ښکاره کېدله نو بېرته کورته راننوتلم . انوارالحق او فاطمې راته وويل: څه کوې بچې دواړو ته مې داسې وويل:

دادعزيزې بي بي لومړی خواهش ؤ چې زمانه يې وکړ، مادهغې خواهش قبول کړ، ما اوس دخپل تګ نه صرف نظر وکړ کومه نېټه چې هغې ماته زما دسفر ټاکلې ده ، دوه مياشتې وروسته ددريمې مياشتې په لومړۍ ورځ به ځم دخيره. هغوی دواړه هک حېران پاتې شول او بيا چې مې عزيزې ته وکتل اوښکې يې پاکې کړې ماته يې وويل:

زه اوس په دې ډېره ښه پوه شوم چې تاته ډېره ګرانه يم اوستاخبره رښتيا ده.

بېرته خپلې کوټې ته راغلو بکسونه مې کښېښودل. انوارالحق او فاطمې مور دواړو مچې کړم او راته ويې ويل: څنګه چې تادعزيزې خبره ومنله بايد عزيزه هم ستا هره خبره ومني اوستا زړه خوشحاله وساتي .بيا دواړو راته دګډ نېکمرغه ژوند دعا وکړه هغوی لاړل زه څملاستم عزيزې خپل سر زماپه څنګل کېښود : ډېره ستومانه شوې يم لږ ځان دمه کوم.

يوه ورځ مې عزيزې ته وويل که ته ډېره خپه کېږې خير دی زه به نه ځم خو هلته زما پلار دی هغه ته مې ډېره سودا ده، زه صرف دخپل پلار دپاره ځم ، هغه ته خپل دواده عکسونه ښايم او هغه له ځان سره راولم او هلته مې يو کور او څه مځکه ده هغه به هم خرڅه کړم روپۍ به دلته راوړم خپل کاروبار به پرې شروع کړم. هغې وويل: که ته پدې خپه شوی يې چې مادسفر نه راوګرځولې نو ما عفوه کړه! ما ورته وويل څرنګه چې ماستا خبره مځکې ته ونه غورځوله ته به دې هم

په خپله وعده اوخبره ټینګه ودرېږي چې زما دسفر نېټه دې ددريمې مباشتې لومړۍ ورځ ټاکلې ده ! هغې زياته کړه: زه به همداسې کوم دخيره سره چې ددريمې مياشتې په لومړۍ ورځ به تاسې رخصتوي او ټول دسفر سامان به درته ماښه جوړ کړی وي اوزياته يې کړه زه خوښېدې خوشحالېږم چې پلار دې راولې خودارا ته ووايه چې څو ورځې به ستاسفر ونېسي ؟

-که دخدای رضا وه ډېروخت چې ونېسي اته ويشت ورځې يوه مياشت هم وخت نه نيسي.

زموږ دواړو په منځ کښې ديوې ورځې نه بلې ورځې ته مينه اومحبت زياتېده او په ډېره خوشحالتيا موشپې اوورځې ببګاه سباکولې. يوه ورځ فاطمې مور راته وويل : ته پوهېږې بچی چې عزيزې ته داسې ګران يې چې ته کله کورته ناوخته راشې درپسې ژاړي څه دم جادو دې پرې کړېدي که څنګه؟ پدې وخت کښې عزېزه راغله ماوخندل هغې راته وويل: څنګه دې وخندل چې زه راغلم؟ ورته په ګوته مې کړه: فاطمه مور وايي چې عزيزې ته ډېر زيات ګران يې چې کله کورته ناوخته راشې درپسې ژاړي. ما وې موري ماته هم ډېره زياته ګرانه ده. عزيزې راته وويل: دوه ورځې وروسته به دخيره سره ځې چې پلار دې خپل کورته راولې.

- اوته به بيا هماغه شان ژاړې!

- نه؛ نه؛ زه به داځل بالکل نه ژاړم زه به خاندم زه په خپل لوز او وعده ټينګه ولاړه يم. ورته ومې ويل: که داځل دې وژړل نو بيا بالکل نه ځم او زه به درنه ډېر خپه يم! هغې دمسکا په ډول زياته کړه: زما هماغه لوز او وعده ده چې له تا سره مې کړېده. ورته روښانه مې کړه: پلار چې مې دلته راولم ايله به مې زړه ډاډه شي او پلار به مې هم زښت خوشحال شي ځکه دهغه هلته هېڅوک نشته دي. زما دې خبرې چې دهغه هلته هېڅوک نشته دي سخته اغېزه پرې

وکړه. نوسمدستي يې له خولې دا الفاظ راووتل: شکر دی دلته يې ودان کور دی، زوی يې دی، لور يې ده، هرڅه لري، هېچا ته به محتاج نه وي! په خندا مې ورته وويل: آفرین شه دریاندې داسې ژوندی ژوندی خبرې راته کوه چې زه خوشحالېږم. دتق تق په خندا يې وويل: نورې به درته همداسې ژوندۍ ژوندۍ ستا دخوشحالتیا خبرې کوم. زمادسفر نېټه راورسېدله عزيزې سهار وختي چای راوړ چې تن په خير ستاسفر دی چې پلار دې خپل کورته راولې.

دهغې دې خبرې ما ته پوره ډاډ او اطمېنان راکړ چې داخبره دزړه نه په خوشحالۍ باندې کوي. بیا يې راته په خندا وويل: زه درسره داورګاډي پورې ځم. ښه! مې ورته وويل. داورګاډي اډې ته روان يو په لاره کښې يې راته څو دسل ګیزو لوټونو بنډلې راکړې اوزیاته يې کړه :داهغه تحفې دې چې زمادپلار دوستانو دخپلې دوديۍ سره زمونږ کورته دځان سره زما او ستادپاره راوړلې. بیاراته ښه رانیژدې شوه داسې يې راته غر ګنده کړه: يوه دخوشحالۍ خبره درته کوم چې زه نوې امیدواره شوې یم. ورته په ګوته مې کړه که لور مې وشوه نوم به يې عزيز نوره کېږدې او که زوی مې وشه نور عزيز نوم پرې کښېږده. چې زما او ستا ددواړو نومونو حرفونه يې په نوم کښې وي. يوه میاشت به لا تېره شوې نه وي چې زه به په خير دخپل پلار سره دلته راغلی یم دامې وويل او اورګاډي ته پاس وختم.

څو ورځې وروسته سپين بولدک ته راورسېدلم يوه ضابط چې زمابکسونه ولېدل ويې ويل دازما کوټې ته دبکسونو سره راولئ چې دبکسونو تالاشی يې واخلم. بکسونه رانه عسکرو واخېستل اوزه يې په وهلو وهلو دضابط کوټې ته راوستلم. ضابط چې زما بکسونه تالاشي کړل دوه دلوټونو بنډلې اوڅه سامان يې ترې واخېست. ماورته وويل: زما سامان او دلوټونو بنډلې بېرته زما په بکس کښې کېږده ضابط نور پسې ووهلم ويې ويل: داسرحددار صاحب ته بوځئ! خوشحاله شوم چې خپل عرض وداد به سرحددار صاحب ته وکړم چې ټول مال

متاع مې بېرته راکړي. ضابط دپنځو عسکرو سره دسرحددار کوټې ته راوستم.
مابښام دی، ضابط دسرحددار کوټې ته ننواته لې ساعت وروسته بېرته راووته؛
پخپله مخه ولاړ. زه عسکرو دخپلو بکسونو سره دسرحددار کوټې ته ننویستلم
څرنګه چې دسرحددار سترګې پر ما ولګېدلې عسکروته یې دقهر او غضب نه
په ډک آواز باندې داسې وویل: داقاتل خونکار راځملوئ دابه ببدرېغه
قمچین کاري کړئ.

ماورته وویل: زه قاتل او خونکار نه یم زه مسافر یم غریبي مې په
هندوستان کښې کړېده اوس وطن ته ځم، ما څوک وژلي دي چې ته راته قاتل او
خونکار وایې؟ هغه په همهاغه قهرجنه لهجه وویل: څو ورځې مخکښې درې
تنه ښکلي شازلمیان په لاره کښې چا وژلي وو، مونږ د هغوی د ډلې د قاتلانو
دری تنه ونیول چې پخپلو تحقیقاتو کښې دری واړو پدې اعتراف کړی ؤ چې
هغه دری تنه مسافر زمونږ د غلوډلې وژلي او د هغوی ټول مال اسباب مو په
خپلو منځو کښې تقسیم کړي دي. اوس دغه دي له تاسره دا چرمي بکسونه او
دغه د روپو بنډلونه ستا په بکسونو کښې پیدا شویدي نو ته دهغو رهزنانو،
غلو، قاتلانو او خونکارانو د ډلې ملګری یې چې اوس خدای مونږ ته په لاس
راکړې هغوی مو هر یو د خپلو تحقیقاتو سره خپل خپل ولایت ته استولي دي
چې کابل ته یې واستوي او تا هم ستا د تحقیقاتو سره خپل ولایت غزني ته
استوو چې بیا دې کابل ته ولیږي.

د سرحددار پدې خبرو زه هیڅ نه پوهیدم چې څه وایي ما چې هغه ته هر
څومره وویل چې مزدوری ته تللی وم مزدوري مې کړېده خپل کور ته ځم، اسلام
دی، مسلماني ده دا څه سروپ کفر مو راباندې جوړ کړیدی. زما پدې خبرو به
هغه نور هم په قهر یده نبغ نبغ به لګېده او زه به یې وهلم. دوه عسکر یې راسره
کړه راته ویویل: تا له دې تحقیقاتو او مکتوب سره غزني ته لیږو. ما ورته
وویل: زما څلور بکسونه وو دوه نه دي. هغه راته وویل: ستا قاتل او رهزن

خونکار خبره بالکل داورېدلو ور نده. ما چې هر څومره چيغې ژړا فرياد وکړ، هېڅ فايده يې ونکړه. بيا يې راباندې پهزوره په يو کاغذ باندې گوتهولگوله ماورتهووېل: دا د څهشي کاغذ دی؟ راتهويې‌ل :دا ستا خپل اقرار دی چې تا پخپلهاقرار کړيدی چې مونږ رهزنان او قاتلان يو، هر څومره چې مې عذر او زاري وکړه او ورتهومې ژړل چې د خدای پهخاطر داسې راسره مه کوه مرگ ته مې مه تېره خير دی که بکسونهمې اخلې وايې خله، خو د رهزن او قاتل نوم راباندې مهږده. ويوېل: ستا همدا دوه بکسونهوو نور بکسونهستا چرتهوو اوس په ما باندې دروغ وايې لکه په ضابط يې چې وايې ؟

-دروغ نه وايم رېښتيا وايم! دوه عسکر يې راسره کړه هغوی ته يې يوه دوسيه ورکړه، په لاری کښې کښيناستلو د غزني قوماندانۍ ته يې راوستلم يوه شپه مې وکړه، زما د يو بکس سره دری تنو عسکرو د کابل قوماندانۍ ته راوستلم هلته يې تسليم کړم دوه شپې مې په قوماندانۍ کښې وکړې په دريمه ورځې يې زما د يو بکس سره قوماندان ته پېش کړم ما قوماندان صاحب ته خپله ټوله کيسه وکړه . هغه راتهوخندل: رهزني او قتلونه هم کوئ او بيا په خلکو بهتانو نه هم لگوئ! هر څومره چې مې هغه تهووېل: چې په ما يې ډېر ظلم او ناروا کړېده.

د اسلام داردی، مسلماني ده . د هغه په غوږ داسې خبرې ښې نه لگېدلې.

ماته يې ووېل: تا په خپل جرم په خپله اقرار کړېدی، هر څه ستا په دوسيه کښې شته دي ستا خبرې ټولې چټې فضولې خبرې دي اوزه يې د يو عسکر او يوه مکتوب سره دد همزنگ جبل ته راولېږلم او دا مې څوارلسم کال دی. بيا يې په چيغو چيغو وژړل او داسې يې ووېل: اې خدايه! دا څه حال دی، رهزنان دوی په خپله دي او وايي ماته، خپل پلار مې هېڅ ونه لېده چې هغه په ژوندی وي که مړ. ښکلې د ښاپېرۍ په شان ښځه مې هلته پاتې شوه بيابه يې

داسې وويل: ای خدایه! په ما او ددې وطن په خلکو خپل فضل اورحم وکړه او زمونږ د ټولو انتقام ددې ظالمانو نه ته واخلې.

نورعلم خان چې داخبرې کولې ماته د بابا عبدالعزیز کندهاري هغه خبرې را یادې شوې چې هروخت به یې ماته ویل بچې دافرعونیان طلایان خوبه خدای غرق کړي خوزه پدې ډارېږم چې داغرېب ملت له ځان سره غرق نکړي.

بیا یې په چیغوچیغو وژړل ماته یې وویل:

نورې مې په زړه کښې چرې مه وهه زما د شاهي چپن اوشاهي تاج دپاره ټول سامان راپیداکړه چې اختر راغی او دواړه نیمکله پاتې دي. په خندا مې هغه ته څرګنده کړه: ته راته خپل سامان وایه چې زه یې یو لست جوړ کړم. ډېره ښه شوه دوه کوچنۍ اودوه غټې ګوتمۍ (انګشتانې) پنځه رنګ په رنګ دتارونو ګوټونه، بوپنډ اصیلې رنګ په رنګ کوچنۍ کوچنۍ ټوټې، شل متره اصیل پلن یو انچه لیس، بوبنډل دزري چرمې ډبل ګوټ. بیا یې څو ساړه ساړه اوسېلي وښکل او ناڅاپه یې دخولې نه داسې راوختل: دښاپېرۍ پښان نوې ناوې ښځه راڅخه پاتې شوه، پلار مې ونه لیده دهغه به څه حال وي یا خدایه! ته په ما او ددې وطن په خلکو خپل فضل او رحم وکړې او ددې ظالم حکومت دکارکوونکو دظلمونو نه نجات راکړې اوته یې پخپل قهر او غضب اخته، محوه او نابود کړې. هغه چې داخبرې وکړې ما درې ځلې آمین، آمین، آمین وویل. بیا یې راته په جدي لهجه څرګنده کړه: زما دسامان دهمدې سات نه غم کوه! هغه ته مې وویل: مخکښې ستا سامان هم صوفي جلال دکاندار پېدا کړی دی او داټول سامان به اوس هم هغه پېداکوي، راځه چې یو ځل دواړه دصوفي جلال دکان ته لاړ شو چې ستا په مخکښې ورسره ټولې ستادسامان خبرې وکړم. هغه خوشحال شه دواړه د صوفي جلال دکان ته راغلو، هغه چې ولیدلو پوه شه چې څه خبره خو ده، ماورته ټوله کیسه وکړه.

هغه وویل: ډېره ښه شوه سبا دجمعې ورځ ده زما مېرمن زما پایوازۍ ته

راڅي خوتاسې دخپل سامان ټول لست راکړئ! لست مې دڅو روپو سره ورکړ او ورته ومې ویل: چې دا ټول سامان به پوره راوړې او هرڅومره روپۍ چې پرې مصرف شوې دربه یې کړم! بیا هغه نور علم خان ته وویل: زما دوه تنه کلاه دوزان خپلوان دي دقره قلي خولۍ ګانې جوړوي که ستا دقره قلي دپوستکو کوچنۍ رنګارنګ ښکلې ټوټې په کار وي هغه به هم درته راوړي، هغه ورته وویل: که دا وشي داخو به ډېر ښه کار وشي .بیا یې راته زیاته کړه :پدې باره کښې به دشېر محمد خان یاورسره خبرې وکړو ځکه چې دهغه مېرمن یوه زنانه خیاطخانه لري له هغه سره به هم خبرې وکړو بیا درې واړه دشېرمحمد خان یاورکوټې ته لاړو اوله هغه سره مو مفصلې خبرې وکړې. هغه هم وویل چې سبا زمامېرمن راځي هغې ته به زه ووایم چې په یوه غټه خلته کښې ښکلې کوچنۍ کوچنۍ ټوټې راوړي. ماصوفي جلال او شېر محمدخان دواړو ته ددې خبرې ټینګار وکړ چې څومره ژر ممکنه وي خلتې دې دکوچنۍ ټوټونه ډکې کړی او زما په نامه یې دې دلویې دروازې داباشي ته ورکړی چې هغه یې ماته راوړي.

دوه ورځې وروسته دصوفي جلال او شېرمحمد خان یاور مېرمنو یوه یوه د سامان ډکه خلته په لویه دروازه کښې زما په نامه ورکړې وه چې داباشي زماکوټې ته راوړې چې خلتې مې خلاصې کړې په دواړو کښې ډېرې ښکلې رنګارنګ کوچنۍ ټوټې وې او ټول دلست سامان یې پوره راوړی ؤ او دقره قلي دپوستکو رنګ په رنګ دکوچنۍ ټوټو ښکلا چې مې ولیده حېران شوم ورته خلتې مې بېرته کلکې وتړلې.

مازیګرؤ خلتې راسره وې دلېونیانو درازخانې ته ننوتم چې هلته لیودرېدم اسمعیل دکوم ځای نه لېدلی وم راغی ویویل په دې خلتو کښې دنور علم خان دشاهي چپن او شاهي تاج سامان دی. په درازخانه کښې یو کوچنی برق ځوړند ؤ چې ښه رڼا یې نه کوله یو بل سل شمع ګروپ مې دصوفي جلال ددکان نه راوړ هغه مې په درازخانه کښې واچاوه ، ټوله درازخانه ښه رڼا شوه په دې وخت

کنبې نورعلم خان راغی خلتې یې چې زما په لاس کنبې ولیدلې ویویل: زما سامان دی. زما په ځای ورته اسمعیل ځواب ورکړ: په سترګو خو ړوند نه یې په لاس کنبې یې دوه ډکې خلتې ندی څه ؟ بیاراته نورعلم خان وویل: څه شی چې ډېر-ډېر ضرور ي وو زما نه هېر شوي وو، اوس مې را په یاد شوه چې کوټه دې هم داسې رڼا کړېده لکه لمر چې پکښې راختلی وي چې هغه بیاتي (قیچی) ده.

-دابه هم درته پیدا کړم! په موسکایې راته داسې وویل: زه به نن شپه څه کوم؟ کوټه هم ښه رڼا شوېده او قیچي نشته ده. اسمعیل وویل: ما یوه کوچنۍ قیچې دصوفي جلال په دوکان کښې لېدلې ده. ماهغه ته وویل: ته نن شپه خپل ټول سامان کارته برابر کړه. سبابه دخیره سره دڅو ورځو دپاره دخیاط خانې نه یوه ښه تېره قیچي امانتي راوړم ځکه چې دقره قلي پوستکی هره بیاتي نشي غوڅولی. بیایې دقره قلي کوچني پوستکي کتار کښېښودل او خندل یې ورته. ما ورته وویل: ولې ورته خاندې؟ هغه وویل: دشیطان سترګې دې ړندې وي ټول یې داسې ښکلی سامان راوړی دی چې ماهېڅ فکر نه کاوه چې داسې ښکلی سامان به ما ته څوک راوړي اوزیاته یې کړه: نن ټوله شپه چې کار وکړم ایله به سبا قیچي کولو اوګنډلو ته خپل کار برابر کړم. سبابه راته ضرور بیاتی راوړې.

سبا خیاط خانې ته ولاړم یوه ښه تېره بیاتي مې دخیاط خانې دتحویلدار نه دڅو ورځو دپاره امانتي راوړه تحویلدار راته وویل: که چېرته ورکه شوه نو پنځوس روپۍ قیمت یې دی بیابه هغه راکوې دامې له هغه سره ومنله.

دماسپښین دوه بجې دي نورعلم خان دخپلو خلتو سره زماکوټې ته راغی: ماخپل ټول سامان کارته جوړ کړی دی که قیچي دې راوړې وي رایې کړه چې په خپل کار دخیره شروع وکړم. قیچی مې هغه ته ورکړه ټینګار مې پرې وکړ چې ورکه یې نکړې پنځوس روپۍ یې قیمت دی. هغه زیاته کړه داخو زما لاس دی څوک خپل لاس ورکوي؟ هغه خپلې کوټې ته لاړ او زه پخپله کوټه

کنبي پاتې شوم. ماښام درازخانې ته لاړم چې په دروازه ور ننوتلم ټولو راته وویل: نورعلم خان ډېر زیات خوشحاله دی مونږ ته وایي چې ډېر شوروشر به نه کوئ چې بیا زمانه کار خرابېږي. ماورته څرګنده کړه: زه هم تاسې ټولو ته وایم چې ډېر شور او ځوږ به چتې نه کوئ څه چې درته نورعلم خان وایي هماغه شان به کوئ. ښه یې راته وکړه. نورعلم خان وویل: لږ سات مخکښې مې خپل کار شروع کړ نن شپه ورته بیا ښه فکر کومه چې څرنګه خپل کار وکړم نوبیا به دخیره سبا پرې کار کومه. نورعلم خان ته مې وویل: شاباس ته خپل کار کوه زه کوټې ته ځم سبا بیا راځم چې ستاکارووینم. هغه خوشحاله شه سبا چې دهغوی درازخانې ته لاړم دهغه دکوټې ټولو ملګرو راته وویل: نورعلم خان ډېر زیات ښکلی کار شروع کړی دی. ماچې دهغه کار ولیده رښتیا ډېر ښه کار یې کړی ؤ. هغه زیاته کړه مادشپې په خپلو مغزو کښې دخپل کار له پاره ډېره ښه نقشه جوړه کړې ده! ماورته وویل: څرنګه نقشه ؟ هغه داسې روښانه کړه: مثلاً دشاهي چپن په لاندې برخه به لومړی ګرداګرد یوه دقره قلي درنګارنګ مناسبو پوستکو دوره ګنډم بیابه ورته دزری لیس یوه دوره ګرځوم، بیابه ورته دکوچنی اصیلو رنګارنګ ټوټو په ډېره ښه مناسبه دوره باندې کار کومه بیا دخپلې نقشې مطابق په لستونو، یخن او شا باندې به یې مناسب ګلونه جوړومه او کله چې ماخپل کار ټول خلاص کړ شاهي چپن او شاهي تاج مې وګانده چپن مې واغوستله او تاج مې په سر کړ نوبیابه ټول خلک راباندې آفرینونه وایي. ماورته وویل: زه یې درباندې داوس نه آفرینونه وایم. چې ته خپل شاهي چپن او شاهي تاج ته دومره فکر کوې. په خندا یې راته وویل: دامتل دې اورېدلی دی که نه چې اخترپېټ مېره نه دی! ماورته وویل: دامتل مې ډېر زیات اورېدلی دی او زیاته مې کړه: سهار یوځل زما کوټې ته راشه دشپې چې دې کار وکړ نوبیا کرار وېده شه چې فکر دې برابر وي چې ښه کار وکړې. خدای سپارلي مې ورسره وکړه. سهار مې چای وڅښه کتاب لولم، نورعلم خان مې کوټه وټکوله دروازه

مې ورته خلاصه کړه ویویل: دادی راغلم څه وایې راته؟ ورته ومې ویل: څه شی دې خوړلي دي؟ په خندا یې راته وویل: ته ګرم نه یې ته دمړې ګېډې فارسی وایې، مونږ څه لرو چې ویې خورو کله چې څوک دکچالانو پوستکي واچوي هغه مېنځو بیا یې خورو اویاڅوک خپل دسترخوانونه وڅنډي نو که کومه ټوټه ډوډۍ په کښې پاتې شوې وي هغه خورو، مونږ ته څوک ډوډۍ راکوي اوخپله خبره یې داسې وغوړوله: یې غوره ظالم سرکار په وهلو ټکولو لوټ کولو اوبندی کولو ډېر ښه پوهېږي نور دچا غم نه خوری. ماچې دهغه داخبرې واورېدلې ورته ومې ویل: څه ته اوس لاړ شه څوک چې دلته لږ مالدار دی زه به له هغوی سره خبرې وکړم چې ژمی راروان دی چې له تاسې سره لږه مرسته وکړی. داچې مې هغه ته وویل: ښکته پورته یې راته وکتل په غلي شان اواز یې وویل: دانو ستاخپله خوښه ده هرڅنګه چې تاته ځان ښه ښکاري زمونږ خو دغه حال دی چې په دغه درازخانه کښې یې اچولي یو. دهغه دې خبرو زما دسینې په صندوق کښې داور سرې لمبې بلې کړې. اودبابا هغه خبرې یې راپه زړه کړې چې همېشه به یې راته ویلې: له هغه بندیانو سره چې مرستې ته ضرورت لري مرسته به ورسره کوې داستا انساني اواخلاقي وظیفه ده.

# د لېونیانو له پاره مرسته او ددوی عریضې

لومړی مې دخپلې کورنۍ دمشرانو سره پدې باره کښې خبرې وکړې چې دغه مظلومان له لوږې مرې دخپل توان او طاقت پورې ورسره ضرور مرسته پکار ده دخپلې کورنۍ ټولو غړو راسره دمرستې ورکولو وعده وکړه. بیا دهغه مظلومانو درازخانې ته لاړم ورته ومې ویل: چې ستاسې دخوانه به یوه عریضه دجیل صنعتي رئیس اویله یوه عریضه دجیل انضباطي مدیر ته ولیکم. یوه لیوني راته وویل: زه به یې درته وایم ته به هماغه لیکې دخپله ځانه به هېڅ نه لیکې، داځکه چې دادپښتو مشهور متل دی چې وایي څمکه هغه سوځي چې

اور پرې بلېږي نو ځکه مې درته وویل چې په ما او زما په ملګرو اوربلېږي مونږ سوځو، څه چې درته وایم هماغه به لیکې!

-ډېره ښه شوه قلم او کاغذ مې راواخیسته هغه ته مې وویل ښه نو ته راته خپله عریضه وایه زه به یې ټکی په ټکی لیکم.

-ډېره ښه شوه، لیکه. مونږ ډېرش تنه مظلوم انسانان چې دڅو کلونو راهیسې دشهرناپرسان دحکومت له خوا غیر حق او بې موجبه تش دسیاسي بندیانو په نوم دهمزنګ په جیل کنبې بندیان پراته یو او اوس مو دقلعۀ جدید په یوه درازخانه کنبې دسیاسي بندیانو په تش نامه راټول کړي یو چې نه خوراک راکوئ او نه پوښاک. په پسرلي او اوړي کنبې دقلعۀ جدید دویالې په غاړه چې واښه وشي هغه مو خوراک وي او په ژمي کنبې چې مالدار بندیان دکچالانو پوستکي یانور دسبزیجاتو پوستکي وارتوي هغه مېنځو او بیا یې خورو او یاچا دسترخوانونه څنډلي وي څه ډوډۍ چې پکنبې پاتې شوې وي هغه خورو یا هډوکي میده کوو هغه خورو. مونږ هم ستاسې پشان انسانان یو په ډوډۍ اوجامه خو ملامته یاست ولې ډوډۍ نه راکوئ او دژوند نور دضرورت وړ شیان. چې نه ډوډۍ راکوئ اونه مو نور غم خورئ نوبیا داسې وکړئ چې زمونږ دپوستکو نه ځانونو ته بوټان جوړ کړئ دغوښو اوهډوکو نه مو ځانونو ته صابون، چې مونږه دژوند دعذاب نه خلاص شو اوستاسې خوا راباندې بخه شي خو داهم واورئ چې یوه ورځ به زمونږ مظلومانو دزړونو تاوده آهونه دسرو لمبو داسې یو توپان جوړ کړي چې په دغه توپاني داور په سرو لمبو کنبې به ستاسې شهرناپرسان سرکار اوتاسې ټول محوه اونابود شئ.

هغوی راته وویل: داعریضه مونږه ته یوځلې ولوله، عریضه مې هغوی ته ولوستله ټولو وخندل دابالکل یوه ربښتیانۍ صحیح عریضه ده چې یو ټکی پکنبې هم دروغ نشته دی. هغوی ته مې وویل: زه به اوس کوټې ته لاړ شم چې داعریضه پاکنویس کړم. یوه عریضه مې دجیل دصنعتي رئیس اوبله مې دجېل

دانضباطي مدير په نامه پاکنویس کړې ومې لیکلې او دوی ته مې وویل: تاسې یو تن وټاکئ چې زه ور سره ولاړ شم چې عریضې دجبل صنعتی رئیس اودجبل انضباطي مدیر ته په خپل لاس ورکړي.

اسمعیل وویل: زه به عریضې ورکړم، نورعلم خان وویل: زه به هم در سره یم. ماعریضـــې اسمعیل تـه ورکړې چې دا یوه دجبل دصناعتي رئیس ده او دابله دجبل دانضباطي مدیر. درې واړه صناعتي ریاست ته ورغلو. اسمعیل رئیس ته عریضه ورکړه هغه چې عریضه ولوستله ویې ویل: زه به دا په خپله سلسله بالامقام ته ولیږم هغوی چه هرڅه امر وکړ بیا به تاسې ته خبر درکړم. بیا ددهمزنګ دجبل دانضباطي مدیر دفتر ته راغلو. اسمعیل هغه ته هم عریضه ورکړه، هغه چې عریضه لوستله خندل یې ویې ویل: راځئ چې درې واړه درئیس صاحب دفتر ته لاړ شو هلته چې راغلو مدیر، رئیس ته وویل: داعریضه تاسې وګورئ. ددوی عریضه ده. هغه ورته وویل: یوه داسې عریضه یې ماته هم راکړې ده. بیا مدیر هغوی ته وویل: عریضه څوک داسې لیکي؟ هغوی ورته وویل: دا یوحقیقت دی چې په دې عریضه کښې یو ټکی دروغ هم څوک نشي پیدا کولی. بیا مدیرهغوی ته وویل: دامو په چا لیکلې ده. هغوی وویل: مونږ ورته خپله عریضه پخپله خوله ویلې ده او ده راته لیکلې ده، ټولې زمونږه خپلې خبرې دي یوه خبره په کښې دده نشته ده. بیایې ماته مخ راواړاوه ویې ویل: داخولیونیان دي ته خو شکر دی پوه انسان یې تاته به لیونیان هرڅه وایي نو ته به هغه لیکي. ماهغوی دواړو ته داسې وویل: که تاسې دواړه ماته اجازه په دې برخه کښې راکوئ زه به هم څه ووایم!

-اجازه ده ووایه!

- دا ددوی عریضه یوه واقعي او رښتیاني عریضه ده چې هیڅ دروغ پکښې نشته دي. له دوی سره اوس دخوراک اوپوښاک مرسته وکړئ چې ژمی راځي بیا ټول د لوږې اوساړو دلاسه مري. په درازخانه کښې داټول کسان

لښونیان ندی دوی مخکښې زمونږ او ستاسې په شان روغ جوړ خلک وو. وهلو ټکولو او لوږې داسې لښونیان کړیدي اوهېڅ دجرم دوسیه یو هم نه لري صرف دتش سیاسي بندي په نامه هر یو بندي دی. ددوی په حال رحم اوشفقت په کار دی هروخت زما کوټې ته راځي او ډوډۍ راڅخه غواړي. اوزیاته مې کړه له دوی سره مرسته کول داسلامي اصولو په بنا اودانساني عواطفو او خواخوږۍ په لحاظ ډېر زیات اجرونه لري. نورعلم خان اواسمعیل دواړو په چیغو او ژړا باندې لاس پورې کړ: مونږه مو ډېرش تنه په یوه کوټه کښې اچولي یو ډوډۍ ولې نه راکوئ ظالمانو. مونږ خوماران نه یو چې خاورې به خورو په ډوډۍ جامواړبسترو مو ملامت یاست. په دې وخت کښې درئیس دفتر ته دوه تنه راننوتل چې ټولې خبرې یې واورېدلې. پوښتنه یې وکړه دابندیان وږي دي؟ هغوی دواړو رئیس او مدیر ته وویل: که تاسې دواړه مونږ ته اجازه راکوئ چې دهغه ډېرشو تنودرازخانې ته لاړ شو څه خیراتي روپۍ مو راوړې دي چې په خپل لاس یې هغوی ته ورکړو. هغوی ورته وویل: شل کرته لاړ شئ هغوی درازخانې ته له مونږ سره راغلل چې دهغوی حال یې پخپله ولیده نو ویې ویل: اوس داڅوارلس سوه روپۍ واخلئ! ما هغوی ته وویل: زه به ستاسې داڅوارلس سوه خیراتي روپۍ صوفي جلال ته ورکړم چې تاسې ته پرې ستاسې دپاره دخوړلو شیان اخلي او له هغه سره به زه حساب کوم تاسې یوتن هم دهغه نه روپۍ نه شئ اخېستلی، ټولو راسره ومنله.

## د دُر بابا ملنګ او د اختر خطابه

دلښونیانو درازخانې ته یوه شپه ناوخته لاړم چې ټول ویده شویدي ځانله نورعلم خان ویښ دی چې په شاهي چپن اوشاهي تاج باندي کار کوي ماورته وویل:

کرار ویده شه اختر خو سبا ندی ځوشپې ورځې نورې لاورته پاتې دي. هغه

راته وویل: ګل نورخان وایي چې اختر راغی او زما لباس لاتراوسه پورې تیار ندی. ماوویل د ګل نورخان په دې کښې څه دی؟

هغه د شونډو دسر په مسکا څرګنده کړه: داخو د ګل نورخان دی زما نه دی ږ

ما ورته وویل: څنګه د ګل نورخان دي ستانه دی زه خو د دې نه هیڅ خبرنه یم اونه راته مخکښې تا په دې اړوند څه ویلي دي. هغه راته وویل: ته به هلته خبر شې چې ګل نورخان خپله شاهي چپن واغوندي او خپل شاهي تاج پر سر کړي او خپله خطابه ورکوي.

د نور علم خان د دې خبرې په اورېدلو حیران شوم هغه ته مې وویل:

ته راته دا کیسه وکړه چې دا څنګه خبره ده. هغه راته څرګنده کړه: ګل نورخان به درته په خپله خوله داکیسه وکړي.

-سبا زه لږ وختي بیا راځم چې ګل نورخان درنه ویده نشي چې ماته خپله ټوله کیسه وکړي. سبا وختي دلېونیانو درازخانې ته لاړم اسمعیل خپل هډوکي تاوول را تاوول ویویل: داګل نورخان دی نبغ مې کښېنولی دی پوښتنه ترې وکړه چې خپله ټوله کیسه درته په خپله وکړي. هغه راته په داسې حال کښې چې خپلې سترګې موښلې وویل: مور او پلار مې دواړه مړه شوي او لس کلن به وم چې دخپل کلی داتو تنو نورو هلکانو سره په طالبۍ لاړم، درې کاله مو په پېښور کښې سبق ووې بیا زمونږ پنځه تنه ملګري پنجاب ته لاړل او مونږ دری تنه په پېښور کې پاتې شوو، بیا څه وخت وروسته درې واړه سوات ته لاړو هلته مو په یوه جومات کښې سبق وایه هلته یو ملاؤ ټولو طالبانو ته یې وویل: هرڅوک چې د پېریانو مسخرول غواړي چې زه ورته چهل کاف زده کړم او ټولې نورې طریقې به ورته هم زده کړم. ماچهل کاف زده کړ او دپېریانو په مسخرولو مې پېل وکړ. سبق رانه پاتې شه د پیر بابا دزیارت ملنګ شوم دوه کاله مې هلته ملنګي وکړه یو څه روپۍ هم راسره پیدا شوې. یو څو کلیوال مې د پیربابا زیارت له راغلي وو چې زه یې ولیدم راته ویویل: راځه چې ځو دلته چې دپیربابا ملنګی

کوي ولې دخپل دُربابا ملنګي نه کوي، هلته ډېر خلک راځي اوخپل وطن دې دی. له هغوی سره وطن ته راغلم په دُربابا کښې ملنګ شوم اودغازي امان الله خان دهغو عکسونو نه چې په پېښور کښې یوې چاپخانې لیلام کړي وو خرڅول يې ماتقرېباً سل قطعې کوچنی اولوی عکسونه واخېستل په دوه کاغذی کوتیو کښې مې له ځان سره سوات ته وړي وو اودسوات نه مې له ځان سره وطن ته راوړي وو او ځو دامان الله خان غازي عکسونه مې ددُربابا په زیارت کښې ځوړند کړي وو هرڅوک چې ددُربابا زیارت ته راځي اودغازي امان الله خان عکسونه ګوري ماته وایي داتا ځوړند کړي دي؟ زه ورته وایم: هو! غازي امان الله خانه! یوه میاشت وروسته دريې تنه راغلل زه یې دخوارړه خوب نه را پاڅولم راته ویویل: ته داعکسونه پېژنې؟ هو مې ورته وکړه چې دا دغازي امان الله خان عکسونه دي. زما ټول کالی یې تالاشي کړل دامان الله خان ټول عکسونه یې واخېستل. زما خبرې یې ټولې په یوه کاغذ ولیکلې زماګوته یې په کاغذ ولګوله په موټر کښې یې واچولم، جلال آباد ته یې راوستلم، هلته یې ډېر زیات ووهلم چې: رېښتیا به راته وایې داعکسونه تاته چا درکړي دي؟ مابه ورته هم دا یوه خبره کوله چې ما داټول دچاپخانې په لیلام کښې اخېستي دي! دڅو ورځو وهلو او ټکولو نه وروسته یې دضبط احوالاتو ریاست ته راوستم څو ورځې مسلسل یې تحقیقات وکړه او همدا یوه خبره یې راته کوله: هرچا چې تاته داعکسونه درکړي دي هغه موږ ته معرفی کړه ته به خلاص شې! ماورته وویل: ماته هیچانه دي راکړي ماپه لیلام کښې اخیستي دي. بیا یې د ارګ زندان ته بوتلم یو کال یې رااندې تېر کړ، بیایې دیو کال نه وروسته ددهمزنګ جېل ته راولېږلم چې دلته مې دادبندیخانې یوولسم کال دی او درې کاله کېږي چې زه ځان ته شاهي چپن او شاهي تاج جوړوم، په اخترونو او جشنونو کښې یې اغوندم اوپه بندیخانه کښې بندیانو ته خپله خطابه ورکوم داځکه چې زه شاهنشاه دجهان یم، ماخپل شاهي تاج او خپله شاهي چپن جوړوله چې نورعلم

خان ولیده راته ویویل زه به یې درته جوړه کړم نو خدای دې ور سره ډېر ښه وکړي دواړه یې راته ډېر ښکلی جوړ کړیدی. اختر ته په خیر خلاصیږي.

نورعلم خان راته وویل: درې ورځې اختر ته پاتې دي ته دصوفي جلال دکاندار سره یوځل زمونږ کوټې ته راشه چې څه خبرې درته کوو. هغه ته مې ښه وکړه. زه او صوفي جلال دواړه دلېونیانو درازخانې ته لاړو. ټول لېونیان خاندي؛ خوشحاله دي؛ هغوی راته وویل: نور علم خان دګل نور خان شاهي تاج او شاهي چپن داسې ښکلې او زېبا جوړه کړېده چې سړی یې دلیدلو په تماشا نه مړېږي. نومونږ ټولو داسې فیصله کړېده زمونږ دهغه څوارلس سوه خیراتي روپو نه چې تا صوفي جلال ته ورکړیدي د بوسلو پنځوسو یا دوه سوه پنځوسو روپو پورې دې صوفي جلال مونږ ته غوښه، وریجې غوړي او نور دخوړلو شیان واخلي او مونږ ته دې ښه مزه داره دغوښو ډک پلو پوخ کړي چې زمونږ ورته داسې زړونه شویدي چې بېخي مو دغوښو نه په ډک پلو پسې ژبې شوېده. بیا یو لېوني په جګ آواز داسې وویل:

دپښتو دامتل دې اورېدلی دی که نه؛ ښه ته یې ووایه چې څنګه متل دی چې زه یې واورم: « څه مو په هغه پسرلي چې ته مو پکښې غوا څري نه سخي » زما مقصد ددې متل نه دادی دغوښو ډک مزه دار پلو چې مونږ اوس ونه خورو دګل نورخان په شاهي تاج او شاهي چپن به څه وکړو.

هرڅنګه چې ستاسې خوښه وي هماغه شان به وکړو، ښه مزه دار دغوښو نه ډک غوړ پلو به درته پوخ کړو. صوفي جلال هغوی ټول وشمېرل دېرش کسان شول او ویې ویل: زه به سبا شپې ته دد ېرشو کسانو دپاره مزه دار دغوښو ډک پلو پوخ کړم خوستاسې دوه کسان به له ماسره د ډوډۍ په پخولو کښې کومک کوي. اسمعیل ورته وویل: یو شاګرد به دې زه شم اویل به دې ګل نور خان شي. خلیفه چې مو راته هر څه ویل هماغه شان به کوو. دخپل خلیفه به منونکي شاګردان یو.

صوفي جلال نور علم خان ته ووې: شاهي تاج او شاهي چپن دواړه اوس ماته راکړه چې زه يې په دکان کښې ځوړند کړم. هغه دواړه د دکان په مناسبو ځايونو کښې ځوړند کړل هرچاچې به ليدل په سيل او تماشا به يې هېڅ نه مړېدل.

دېرشو کسانو ته صوفي جلال ډېره ښه مزه داره ډوډۍ ورکړه چې ټولو لېونيانو يې ډډوډۍ ډېر صفتونه کول. دصوفي جلال دکان ته چې به دعمومي جېل؛ تعمير او نورو ځايونو نــه بـنديان دســودا اخـېستلو دپــاره راتــلل او دګل نورخان شاهنشاه دجهان شاهي چپن او شاهي تاج به يې لېده ډېر زيات به يې خوښېدل او هلته نوروبنديانو ته به يې هم ويل: چې دقلعه، جديد دويالې په غاړه صوفه باندې دګل نورخان شاهنشاه دجهان دنورو اخترونو په شان خپل تقرير کوی خوداځلې يې داسې شاهي چپن اوشاهی تاج جوړ کړي دي چې په مخکښې اخترونو کښې يې داسې چپن او تاج هېڅ نه درلوده. داختر شپه وه دلېونيانو درازخانې ته لاړم ګل نورخان ته مې وويل: داصابون واخله سهار به وختی پاک غسل وکړې بيابه خپله چپن واغوندې او تاج به دې په سر کړې. زه به درته عطر راوړم بيا به په ځان عطر ووهې، ته به په مخکښې روان يې او نور ټول بنديان به درپسې شاته وروسته روان وي. هرچاته موخپله وظيفه ورکړه ګل نورخان ووې رانجه راسره دي سترګې به هم توري کړم اوډېره به مې ښه ږومنځ کړم اوپه خپلو برېتونو به هم ګوتې ووهم.

-ډېره ښه شوه ته به مو مخکښې روان يې اومونږ ټول به ستا شاته په تاپسې روان يو، دويالې دغاړې دصوفې په منځ کښې به ودرېږې اوخپل تقرير به دې بنديانو ته کوې.

پاچا به چې داختر لمونځ وکړ او ټول سلطنتي مراسم به پای ته ورسېدل بيابه ددهمزنګ دجېل ټولې عمومي ذروازې خلاصېدلې، بنديان دعمومي جېل اوتعمير نه راتلل اودقلعه، جديد دويالې دغاړې صوفې نه به چارچاپېر ودرېدل. مونږ هم ګل نورخان دقلعه جدېد ددروازې نه راوښکه چې خپل شاهي

تاج یې په سر دی اوشاهي چپن یې پغاړه کړې ده. هغه هو به هو داسې ښکاره کېده لکه یو هندوستاني فلمي پاچا.

هغه د هغه ځای ته داسې کرار کرار روان دی چې په چپ لاس کښې یې خپلې څو دانې غټې تسبېې نیولې دي اوپه ښي لاس کښې یې هغه امسانیولې ده چې مادیو بندي نه امانتي اخېستې وه او هغه ته مې ورکړې وه. دی هغه ځای ته راغی چې دده د تقریر دپاره جوړ شوی ؤ . ګل نورخان لومړی دقرآن یو لنډ سورت ولوست بیا یې درود شریف ولوسته، بیا یې بندیانو ته داختر مبارکي ورکړه بیا یې وروسته داسې وویل: سږ کال زما تقریر هم دنورو کلونو پشان دی، یوازې شاهي چپن اوشاهي تاج مې دنورو اخترونو پشان نه دي، مونږ شهرناپرسان ظالم بېغوره سرکار بندیان کړي یو هېڅ جرم او ګناه نلرو صرف دسیاسي بندي په نوم یې تورن کړي یو اوبس اودلته یې راوستلي یو چې کلونه، کلونه مو تېر شول نه راته ډوډۍ راکوي اونه جامې په پسرلي او اوړي کښې دقلعه، جدید دویالې په غاړه شنه واښه خورو په مني او ژمي کښې دکچالانو پوستکي یا دنورو ترکاري بابو پوستکي لکه تور بادنجان، کدو، توری یا دترکاري بابوپاڼې چې چا غورځولې وي په اوبو یې مینځو او خورو یې اویا چې مالدار بندیان دسترخوانونه وڅنډي دډوډیو قطرې یا هډوکي رااخلو په ډبره یې مېده کوو خورو یې. بندیانو وروڼو زه به تاسې ته اوس هغه عریضې ولولم چې شل ورځې مخکښې مو دهمزنګ دجېل صنعتي رئیس اوانضباطي مدیر ته ورکړې وې چې یو نقل یې مادهمدې ورځې دپاره ساتلی و چې اوس یې تاسې ته وایم او بیا یې دهغې عریضو متن ولوست چې مونږ مخکښې راوړې دي.

بندیانو وروڼو! داد ظالم شهرناپرسان بېغوره سرکار څومره ډېر ظلم دی ټولو بندیانو به چیغې کړې: هو! څوځلې چې ټولو لېونیانو چیغې کړې چې: ډېرسخت ظالم بېغوره سرکار دی. انضباطي مدیر وویل: خواره شئ خپلو کوټو ته ننوځئ هېچاپې خبرې ته غوږ نه کېښوده، بیا یې عسکروته امر وکړ دابندیان

ټول خواره کړئ. ګل نورخان یې دصوفي نه راښکته کړ، دلېونیانو او عسکرو په منځ کښې په وهلو او ټکولو شروع وشوه نو دیو عسکر او دوه لېونیانو سرونه مات شول.

## زما او لېونیانو کوټه قلفي کېدل

بندیان خواره شول هرڅوک خپلو ځایونو ته ولاړل. دجېل انضباطی مدیر دعسکرو سره راغی ټول لېونیان یې په درازخانه کښې کوټه قلفیان کړل. بیا یې ماته وویل: داځوم ځل دی چې تاته ویل کېږي چې په بندیخانه کښې داسې کارونه مه کوه. داسې کارونه چې ته په بندیخانه کښې کوې ډېره سخته جزا لري حتی اعدام. ماورته وویل: هغوی خو تاسې ته په عریضه کښې ښکاره لیکلي دي چې مونږ ته خوراک او پوشاک نه راکوئ دځرمنو نه موځانونو ته بوټان دغوښو او هډوکو نه مو ځانونو ته صابون جوړ کړئ! مدیر وویل ځان اصلاح کړه بس. ماهغه ته وویل: زه هم انسان یم او ته هم انسان یې او هغوی هم انسانان دي لېکن فرق مو دادی چې مونږ بندیان یو او ته دسرکار له خوانه په مونږ مقرر شوی یې څه چې درته هغه وایي هماغه شان کوې.

ماهغه ته زیاته کړه: ددغو لېونیانو مظلومانو خبرې ټولې رښتیا دي. ورشه داخبرې هغوی ته وکړه چې ډوډۍ او جامې هم نه ورکوئ او اوس مو کوټه قلفیان کړي دي. زه یې هم کوټه قلفي کړم. سبا لس بجې مدیر راغی دروازه یې خلاصه کړه. کوټې ته راننووت ماته یې وویل: هوش کوه چې بیا داسې کار ونکړې. ما وخندل ورته ومې ویل: ور شه صاحبه داخبره هغه لېونیانو ته وکړه چې ډوډۍ هم نه ورکوئ او غیر حق مو کوټه قلفیان کړیدي. زما په دې خبره مدیر ډېر په غصه شه زما دکوټې نه چې واته همدومره یې وویل: زه اوس درازخانې ته ځم چې لېونیان ووینم. مدیر چې دلېونیانو کوټه خلاصوله ځولېونیان راغلل ورته ویویل: زمونږ کوټې ته څوک نشي راننوتلی، دروازه یې ټینګه نیولې وه هرڅومره چې مدیر هغوی ته وویل: دروازه خلاصه کړئ! دروازه

بې ورته خلاصه نکړه.

بوه لېونی ورته وویل هرڅوک چې زمونږ کوټې ته راننووت خپل ځان به وینی چې دبوسو خوسکی ترې په سوکانو جوړوو که نه. مدیر بېرته په هغوی پسې دروازه قلف کړه زماکوټې ته راغی ویویل: لېونیانو دشاله خوا دروازه ټینګه نیولې ده نه یې خلاصوي او ډېر زیات په قار دي وايي ترهغه وخته پورې مونږ چاته کوټه نه خلاصوو چې زمونږ هغه ملګری چې له مونږ سره همدردي کوي د کوټه قلفي نه خلاص نشي او زمونږه کوټې ته رانشي هېڅا ته دروازه نه خلاصوو. ماچې دمدیر نه داخبره واورېدله پوه شوم چې داد اسمعیل خبره ده. مدیر صاحبٍ! زه یو عادي عاجز بندی یم ،زه چې له دغو مظلومانو سره همدردي کوم زه انسان یم هغوی راته انسانان ښکاري، دانساني عواطفو له مخې له هغوی سره داچال چلند کوم، زه یو عاجز عادی بندی یم نه راسره توپ او ټینک شته دي چې هغوی ته به یې ورکړم او نه نور څه تخریبی وسایل اونه را سره کوم قوي طاقت شته دی، له مونږ سره هم نورو شریفو بندیانو داسې همدردی دلسوزی او مرستې کړېدی چې زه یې له هېڅا سره نشم کولی. هغه خپله پخوانی دغضب لهجه بدله کړه ویویل: زه خو تاته هېڅکله دانه وایم چې له هغوی سره همدردي او مرستې مه کوه خوزه هم مجبور یم څه چې راته آمران حکم کوي باید تعمیل یې کړم اوزیاته یې کړه: زه هم انسان یم زړه لرم زړه مې په دې خوارانو ډېر زیات درد کوي خوڅه وکړم. بیایې راته وویل: راځه چې دلېونیانو درازخانې ته لاړ شو. هلته چې لاړو دروازه یې همداسې دشاله خوا ټېنګه نېولې ده. دروازه مې ورته وروټکوله غږ مې وکړ: اسمعیله دروازه خلاصه کړه، زه او مدیر صاحب دواړه راغلي یو. دروازه یې خلاصه کړه دواړه ورننوتلو. ما له هغوی ټولو سره داختر مبارکي وکړه.

دجېل انضباطی مدیر زمونږ دمشرانو کوټې ته راغی او زه دصوفی جلال دکان ته لاړم له هغه سره مې خپل ګپ شپ ولګاوه دواړو خندل هغه ته مې په

گوته کړه: داختر په ورځو کښې لهونیانو ته دغوښو سره ښه مزه دار غوړ پلوونه پاخه کړه او هماغه دوه کسانو چې له تاسره یې په پخولو کښې مرسته کوله دهغوی نه هم کار واخله اوزیاته مې کړه: وروسته زه هم راځم! هغه راته وویل: ته کرار آرام وکړه یانورې ماتې گوډې دې سمې کړه هرڅه به زه سم او مرتب کړم. ښه مې ورته وکړه.

## دیوه هېواد پال هېواد وال امانت

زه ددهمزنگ عمومي جهل ته دهغو بندیانو داختر مبارکۍ دپاره لاړم چې پېژندل مې، داخترمبارکي مې ور سره وکړه، ددهمزنگ دعمومي جهل روغتون ته ور ستون شوم هلته څو پرستاران وو دهغوی سره مې هم داخترمبارکي وکړه. په دې برستارانو کښې یوه پرستار ماته وویل:

سبا قلعۀ جدید ته ستاکوتې ته درځم له ماسره دیو چا امانت دی تاته یې وایم. دپرستار دغه خبرې زه حیران غوندې کړم همدومره مې ورته وویل: دادچا امانت دی. ویویل: دا رېښتیا دداسې یو مظلوم امانت دی چې بیا به یې سبا تولـه کیسه واورې او تاته یې ځکه کوم چې ته په داسې شیانو پسې گرځې اوخپله کیسه به هم درته وکړم، خدای سپارلي مې ور سره وکړه. قلعهٔ جدید ته راغلم. سبا هغه پرستار راغی روغبړ مې ور سره وکړ بیامې ترې پوښتنه وکړه: تاسې ماته لومړی خپله کیسه په مفصل ډول وکړئ بیا وروسته را سره دامانت په باره کښې خبرې وکړه.

ډېره ښه شوه، غوړ شه راته: زما نوم سلیم دی په قام تاجک یم اصلاً دپاردریایم یعني دآمو دهغه پورې غاړې اوسېدونکی یم، زه پوځي ډاکتر وم په دویم عمومي جنگ کښې مونږ راوتښتېدلو، په مزار شریف کښې ډېره شوو مونږ ټولو چې افغانستان ته پناه راوړې وه شل کسان وو.

څو ورځې وروسته یې مونږ ټول ونیولو او داسې وهل او ټکول مو په تحقیقاتو کښې ولیدل چې هیڅ حد او اندازه نه لري، ټهل داغ، داور سره کړي سیخان به یې راته په پښو او دلاسونو په متو پورې نیول او همدا به یې راته ویلې ترڅو چې تاسې په خپله خوله اقرار ونکړئ چې مونږ روسانو جاسوسي ته را استولي یو همداشان تکلیفونه او عذابونه به وینئ! مونږ به ورته ویلې مونږ دجنګ نه راتښتېدلي یو، مسلمانان یو، افغانستان یو مسلمان وطن دی دلته مونږ داسلام داصولو سره سمه پناه راوړې ده.

پنځه تنه زمونږ دملګرو نه دشکنجو او عذابونو لاندې مړه شول، پنځلس تنه نور یې مونږ ټول ددهمزنګ جېل ته راولېږلو، دلته یې هم ډېر زجرونه او شکنجې راکړې. مونږ ټول یې په صنعتي فابریکو کښې په کار واچولو، ماورته وویل: زه پرستار یم. دداره مې ورته ویلي نه شوي چې زه پوځي ډاکتر یم زه یې دجېل په روغتون کښې دپرستار په صفت مقرر کړم، دوه میاشتې وروسته چې سرطبیب او ډاکترانو زما کار ولیده زه یې دسرپرستار په حیث مقرر کړم، یونیم کال مې دسرپرستار په صفت په شفاخانه کښې کار وکړ، یو نوی سرطبیب مقرر شو چې جګ لوړ سپین سورچاغ سړی و عبدالرحیم نومېده. ددهمزنګ دجېل دروغتون ټوله عمله یې را وغوښتله ورته ویې ویل تاسې به ټول دښه نظم او دسپلین دمقرراتو سره سم کار کوئ او دخپل آمر د حکم اطاعت به کوئ، مطیع او فرمانبردار به اوسئ او که هرچا دخپل آمر دحکم نه نافرماني وکړه سخته سزا به ورکړه شي. سرطبیب عبدالرحیم به په هفته کښې یوه ورځ دروغتون ټوله عمله خپلې کوټې ته راغوښتله او همدا یوه خپله پخوانۍ خبره به یې ورته کوله. یوه ورځ یې یو ناروغ بندي دکوم ځای نه شفاخانې ته راووست بستر مو کړ. سرطبیب عبدالرحیم خان به یې دورځې څو ځله په خپله مراقبت کاوه. پر ماباندې به یې ډېره زیاته ټینګه کوله چې دغه ناروغ «ډېر لوی خائن» سړی دی پام کوه چې هیڅوک ور سره خبرې ونکړي. له ماسره په زړه کښې شک

پیداشه دا بندي چې هرڅوک دی یو مهم سړی دی.

یوه ورځ دغه ناروغ ماته وویل: ته خو پرستار نه یې داسې معلومیږي لکه یو پوځی ډاکتر! ما چه دهغه نه دا خبره واوریده هک حیران شوم چې دا څومره انسان شناس پوه سړی دی. ماورته ووې: زه دلته له هیچا سره رښتیا خبره نشم کولای چې زه څوک یم! په کرار یې راته وویل: ته څه فکر کوې چې زه څوک یم؟ ماورته په گوته کړه هرڅوک چې یې یو پوه مهم عالم باتجربه سړی یې. ویویل: مهم سړی اوس نه یم یو بندی یم. بیایې راته وویل: زه تاته یو امانت ویل غواړم څه چې درته وایم هرڅوک چې تاته یو امانت دار، وطنپرست امین سړی در معلوم شه هغه ته زما دا امانت ووایه. ښه مې ورته وکړه.

سوړ اوسېلی یې دخولې راوښکه چې دغمونو او دردونو ترجمانی یې کوله بیایې داسې وویل:

زه یو پوځي کار کوونکی یم زما نوم سید حسن (حسن) دی دلته یې دوژلو دپاره راوستلی یم، دا زما امانت دی چې تاته مې ووایه او هغه چاته به یې وایې چې تاته صادق او امانت دار ښکاره شي. څو ورځې مې د دغه نوي بندي سره هره ورځې خبرې کولې، ماته پوره پته ولگېدله چې ډېر پوه سیاست مدار سړی دی دا هم حکومت په ناحقه بندي کړیدی. یو ماځیگر سرطبیب عبدالرحیم خان سا او تیگا وار خطا راغی. په سرطبابت کښې کښېناست ماته یې وویل: دروغتون خپل ټول پرستاران راغونډ کړه دلته یې ماته راوله یو بندي ناروغ دی پېچکاري نه کوي زه ورته پېچکاري کوم چې پرستاران یې تینگ ونیسي. سرطبیب مخکښې دی مونږ ورپسې یو دسید حسن، حسن په کوټه ننووت پېچکاري یې دبکس نه راوښکله سید حسن ته یې وویل: ته ناروغ یې ته پېچکاري ته ضرورت لرې زه درته پېچکاري کوم چې پرستاران دې تینگ ونیسي.

سید حسن ورته وویل: زه روغ یم، زه پېچکاري نه کوم، تاسې ما په

پیچکاري وژني! سرطبیب پرستارانو ته امر وکړ چې دلاسونو اوپښو نه یې ټینګ ونیسئ پیچکاري ورته کوم چې زهٔ بېرته ځم کار لرم. په زوره یې سید حسن حسن ته پیچکاري وکړه. سرطبیب چې وتلو ماته په قار شو: هوش کوه چې ناروغ ته هېڅوک پرېنږدي! یو سات چې وشه هغه په چیغو شور او فریادونو لاس پورې کړ ویل یې: ظالمانو مړمې کړئ ولې مې دومره عذاب اوسختو ته سپارئ! زه چې ورغلم ماته یې همدومره وویل: ودې لیده چې په پیچکاری یې مړ کړم زما امانت چې خیانت نکړې! ورته ومې ویل: ستاامانت به هغه چاته وایم چې ماته ایماندار ښکاره شي! دامې ورته وویل راکوز شوم ماخوستن هغه ځان حق ته وسپاره. څو ته دشپې راغلل دهغه مړی یې دشفاخانې نه وښکه. ماسلیم سرپرستار ته ووې: تا داکیسه دیو حقیقت له مخې وکړه که څنګه؟ هغه وویل: دادسید حسن حسن مظلوم له ماسره یو امانت ؤ چې ته راته امین او راستکار ښکاره شوې تاته مې وویل، ته پکښې خپله دکره کتنې پلټنې وکړه چې ټول حقایق درته ښکاره شي. ما چې د ډېر وخت نه د سید حسن په باره کښې یو څه پلټنه وکړه دا راته یو ثابت حقیقت ښکاره شو چې دسرپرستار سلیم خبره بالکل سل په سلو کښې رېښتیا او حقیقت ؤ دسید حسن حسن فرقه مشر په اشعارو کښې دهغه دوطنپالۍ ملي لوی شخصیت ښکاره او څرګند دی اوس متأسفانه له ماسره دهغه اشعار نشته دي چې دلته مې لیکلی وی پدې باره کښې ژوره پلټه پکار ده! دعبدالرحیم سرطبیب په باره کښې چې مې موثوق معلومات وکړل ګرانو لوستونکو ته یې په مخکښې ږدم:

لوی خونکار ملي خائن عبدالرحیم خان دریاست ضبط احوالاتو سره هم کار کولو اودرئیس ضبط احوالات فامیلي ډاکتر هم ؤ نوموړی سرطبیب دهلمند دسردارانو دکورنۍ نه ؤ او دسردار اسد الله خان سره یې دوستي هم درلوده ،کله چې یې سید حسن حسن ددهمزنګ دجهل روغتون ته راولېږه عبدالرحیم سرطبیب ددهمزنګ دجهل په روغتون کښې مقرر شه ،دشهید سید

حسن حسن دوژلو نه یوه میاشت وروسته عبدالرحیم خونکار د پوهنې دوزارت
د روغتیا عمومی رئیس مقرر شو ، بیا په جاپان کښې سفیر شو ، دلنډې مودې
سفارت نه وروسته د کندهار نائب الحکومه وټاکل شو او د کندهار د نائب
الحکومه ګۍ نه وروسته د روغتیا وزیر مقرر شو وروسته چې ماهر ځومره د سید
حسن شهید دوژل کېدو د علت او د هغه د اشعارو او پوره بیوګرافی په باره کښې
پلټنه وکړه په لنډه دول به یې داسې ګرانو لوستونکو ته ووایم په دې کښې خو
هیڅ شک او شبه نشته ده چې د سید حسن خان وژل یوه سیاسي وژنه ده
او حکومت د لومړي وخت نه د هغه ملي لوی قهرمان کلکه څارنه کوله ، د سید
حسن خان شهید د بندي کېدونه څو ورځې مخکښې ده له سردار اسد الله خان
سره په وزارت حربیه کښې د عسکری بېلچو په قرار داد سخت بحث وکړ چې
نوموړي قهرمان شهید ، اسد الله خان ته وویل : چې زه د دې وطن بچی یم او هغه
چا ته زه په ژوند اجازه نه ورکوم چې مادې ته مجبوره کاندې چې پر ما باندې
د قرار داد امضاً په زوره وکړي ، زه د یو خدای زور منم ، زه د خائنانو زور نه منم
او د دې خبرې نه یې وروسته هغه په ځپېړه وواهه او د هرې بدې او زشتې خبرې یې
ورته وکړې ، داهم د هر احتمال کېدلی شي چې اسد الله خان د سید حسن خان
تولې خبرې د سلطنتي دربار کورنۍ ته کړې وي ، هغوی خو مخکې د مخکې نه
سید حسن حسن ته تیار ناست وو چې تش یوه بهانه پیدا کړي ، دا یو روښانه
حقیقت دی چې شهید سید حسن خان یې په پېچکارۍ له منځه یوړ . زما
رهښتیایی لارښود بابا عبدالعزیز کندهاري چې ما ته یې د یو معنوي پلار
حیثیت درلود همېشه دا توصیه کوله هر څه چې د ریاندې په زندان کښې تېر
شوي وي او یا د رته حقایق ښکاره شي دا به تول ضرور په ضرور د وطن را تلونکي
نسل ته لېکې اګرچې د را تلونکي زماني نسل ته به د داسې شیانو اورېدل
تعجب ښکاري خو دا تعجب نه دی دا یو حقیقت دی چې ولیکل شي چې تاریخ
نیمګړی پاتې نشي. د حقایقو نه لیکل تاریخ ته ضرر رسوي نو د وطن نوي نسل

ته باید حقایق ضرور ولیکل شي.

مادسید حسن حسن په باره کښې پوره معلومات نه درلودل نو دمحترم فاضل استاد سید شمس الدین مجروح نه مې دنوموړي نامتو او لوی ملي وطنپال شاعر پوښتنه وکړه چې دهغه دپېژند ګلوۍ په باب يې لنډ معلومات راکړل.

مجروح صاحب داسې ووېل:

سید حسن فرقه مشر دسید حسین پاچا زوی ؤ په خوګیانو کښې اوسېده، څه وخت چې محمد هاشم خان صدر اعظم کبیر ننګرهار ته دسقوي حکومت په دوره کښې له خپل ورور محمد نادرخان سره دفرانس نه راغی محمد نادر خان دجنوبي په لار کابل ته روان شو او محمد هاشم خان ننګرهار ته راغی. لومړی دعبدالرحمن پڅوا ک کور ته راغی اوهلته يې څو ورځې تېرې کړې بیا په خوګیانو کښې دسید حسین پاچا یعنې دسید حسن حسن پاچا دپلار په کور کښې دېره شو چې پدغه وخت کښې محمد ګل خان مومند هم دسید حسین پاچا په کور کښې ؤ چې سید حسن خان او محمد ګل خان مومند به دواړو له محمد هاشم خان سره په ټولو کارونو کښې شریکه مشوره کوله او درې واړو به په شریکه باندې دسقاویانو دحکومت دنسکورولو دپاره خپلې ښېدرېغه هلې ځلې جاري ساتلې او همداشان دامان الله خان دسلطنت په آخره دوره کښې محمد ګل خان مومند دننګرهار دفرقې فرقه مشر ؤ اوسید حسن حسن په فرقه کښې دکرنیل په صفت ورسره کار کاوه چې دواړه رهبنتیاني او خواږه دوستان اودیوې مترقي مفکورې ملګري هم وو اودبلې خوا دواړه دخپل وخت مشهور ه پوهان، لیکوالان او ادیبان هم وو.

دانشمند سید شمس الدین مجروح صاحب دسید حسن حسن اخلاقي جرأت شهامت اوشجاعت ډېر ډېر وستایه اوبالخصوص له وطن سره دهغه مینه دومره زیاته وه چې ددوستانو په هر محفل کښې به يې دوطن دترقی او آبادۍ نه



مــرحوم سـيّد حسن حسن

په غير بله خبره هيڅ نه وه ،څه وخت چې محمد نادرخان کابل ونيوه سيد حسن حسن او محمدګل خان مومند دواړه يې وغوښتل او ددواړو نه يې په خپله خواهش وکړ چې دخپل نوي حکومت د اداري چارو په سمون کښې ورسره مرسته وکړي دغه دواړو کسانو چې ډېر تجربه کار او د پوهې خاوندان وو تر ډېره وخته پورې په يوه مشوره او مصلحت ور سره مرسته کوله .دمحمد نادرخان دمرګ نه وروسته سيد حسن حسن په وزارت حربيه کښې داردو داداري او تنظيم تولي چارې سمولې دفرقه مشرۍ رتبې ته ورسېد اودوزارت حربيې معين هم مقرر شو. يوه ورځ محمد هاشم خان صدراعظم کبير سيد حسن خان ته داسې وويل: لې دي په دې خوله باندې برغولی کېږده په هر ځای کښې دې خپل اشعار هرچاته مه وايه، خلک مه تحريکوه او په حکومت پسې پروپاګند مه کوه! هغه ورته وخندل همدومره يې ورته وويل: زه به خپلې خولې له برغولی جوړ کړم خو ددې نورو افغانانو خولو ته به څوک برغولي جوړ کړي. ددې خبرې په اورېدلو سره محمد هاشم خان صدر اعظم کبير ورته په قهر وويل:

ته دې دخپلې خولې غم وخوره دنورو دخولو غم مه خوره؛ داوطن زمونږ دتولو وطن دی ځانله ستا نه دی! سيد حسن خان ورته وويل: داريښتيا ده چې دتولو وطن دی خو تول ور سره يو شان مينه او محبت نلري او يو شان ورته نه ګوري. محمد هاشم خان صدر اعظم کبير ورته وويل: ته دې دخپل ځان دښمن يې! هغه ورته داسې په ګوته کړه :په څه دځان دښمن يم که په وطن دځان دښمن يم داسې دښمني زه په خوشحالی قبلوم.

سيد حسن خان خپل ډېر انقلابي ملي اشعار ويلی دی چې هغه دده په ژوند دکابل په سالنامه يا اردو مجله کښې چاپ شوي دي.

دګران هيواد له شاعرانو او ليکوالانو او محققانو نه په ډېره ډېره ټينګه باندې غوښتنه کوم چې دسيد حسن خان اشعار اودهغه دژوند په نور هر اړخيز مواد و پسې پلټنه وکړی اودوطن راتلونکي نسل ته يې څنګه چې هغه ؤ معرفی

کړي.

زما په نظر دا به د ملي ژبې د پښتو د ادب په آسمان کښې نوی ځلېدونکی ځلانده لمر وي وماعلینا إلا البلاغ.

د سید حسن حسن د اشعارو د اڅو نمونې محترم ملي وطنپال شخصیت سیداگل غریب یار ماته راکړېدي چې دلته یې د گرانو لوستونکو په مخ کښې د هغه وخت په نظر کښې نیولو سره ږدم او نور د دوی خپل قضاوت دی.

لومړۍ نمونه چې عنوان یې دی : وطنه زار وطنه

غمونه ستامې شوه په زړه بانـدې انـبار وطـنه وطنه زار وطنه
ستا په کړاو کښې مې وجود شه تول بیـمار وطـــنه وطنه زار وطنه
دستا له غـــصه وغـم دســتالـه درد و الم
لېمه مې ډک شوه له نم زړگي مې غوخ شه قلم
له سترگـــو ویـنې تـو یـوم ژاړم کـوکار وطـنه! وطنه زار وطنه
ته وې ځښتن د لوی نام ستـا ؤعـزت احـترام
خلکو سبا و مـــابـنـام کـاوه به تاتـه سـلام
نن دې اولاد دی خوار و زار پـــه هر دیـار وطـنه ! وطنه زار وطنه!
ستا حوایج دی بسـیار ستا ضرورت بېشمار
که ته ملا تېنگه د کـار ونـه تـــېرې په زیار
پاتې به نور هم بېرته شې له خـــپل کـتار وطـنه وطنه زار وطنه!
ته د مشرق د سرتـــاج اخېست دې باج وخـراج
نن ضرورت احـــتیاج درنه خراب کــه رواج
د پښو شوې لاندې داښا د ســر دســتار وطـنه وطنه زار وطنه!
سترگې دې پورته که جان وگــوره حـال ذزمان
واړه مـــخلوق د جـــهان مشغول په علم و عرفان
زامن د تــا اخـــته پــه چـرس و پـه قـمار وطنه وطنه زار وطنه!

له تـانه تـللي اقـوام پـه مخکښې څومره ايام
که غوا ړې هـغه مـقام لې پـه سرعت واخله ګام
عزم وهمت په مخکښې نـشته خـنډوخـار وطـنه وطـنه زار وطنه!

ستا محبت پـه ضـمير واجـب د شـاه وفـقير
ستا ودانې و تـعمير فرض د صـغير وکـبير
خاوند دې ساته د پردي لـه استـعمار وطـنه وطنه زار وطنه!

ستـا احـتياج و ضـرور کـړم نا علاج ورنځور
د عـندليـب پـه دسـتور را تـه فرياد شه منظور
زه (سيد حسن) ژړا شيون مـې دى شـعار وطنه وطنه زار وطنه!

دسيد حسن شهيد دشعر دويمه نمونه چې عنوان يې دى« بېخبره! »

بـېخـبـره د عـالـم لـه شـر او شـور يـې کـه زه ښـې خـبري کـړمـه تـه مې زوروې
سـروهـلـى د رنجـو پـه طـلـب ګـرځـې خپـلو تـورو غـټو سـترګو تـه نـه ګوري
تـا د خـپـل رسـا قـامـت قـدر ونـکـړ د پـر دو سرو تـه جګ ګوري خـمسوريې
پـه طـلب د عـلم مـلا دې چـورمـا تـيـږي جهالت پـه کار کښې منډې وهې ښوري
زړه پـه شوق باندې بې ځـايه کلام اورې دمـطـلب خـبرې ښـکارې درتـه سپـورې
پـه ظاهر لباس که سپين سپـېځلى برېښې زد دې وينم پـه باطن بـاندې تـک تور يې
کـه پـه کـپ او پـه کـالـروې عـلامـه يـې کـه پـه عـلـم او هـنـر وې د خـره وروريـې
که په خوله دې قوم پرست او وطن خواه يې پـه عـمـل بـاندې کـم بـخـتـه د پـېغـور يـې
داخـلاقـو ضـعـف داشـانـې رسـوا کـړې اوس هـم نـه وينې خپـل ځـان پـه غـبر ګوکوريې
زه د نـن ورځـې شـاعـر نـه يـم پـوهـېږم زمـانـه رسـوې غـېږد غـوږه پـورې
دا زمـا نـصـيـحـت واوره سـيـد حـسـنه! راشـه پـر پـرده دا ربـنـتـېنـى ويـنا نـوري

دشهید انقلابي اوملي ستر شاعر سید حسن خان دشعر دریمه نمونه:

چې عنوان یې دی « زده کړه »

په نغمه لکه بلبل کړېدل زده کړه
پټه خوله وینا دګل له بلبل زده کړه

رخت په سر کړه له غنچې نه رابهرشه
په هوا لکه وږمه چلېدل زده کړه

دازغي په څېر دګل سره همراز شه
په زېره صورت دګلو ساتل زده کړه

نسترن شه په آغوش سروآزاد کړه
په هر بوټي دګلشن تاوېدل زده کړه

که دنوروآسایش او آرام غواړې
ګهواري غوندې دځان کړېدل زده کړه

کورنی مرغه پشان به څومره دژوند کړې
دشاهین په دود آزاد الوتل زده کړه

دخلیل دنخلستان سرو آواز کړی
ځان قربان کړه دبسمل تپېدل زده کړه

ګړندی شه کاروان هی کړه منزل لنډ دی
دجرس په آواز تلل اوراتلل زده کړه

رمز دمرګ اودحیات په منځ کښې زور دی
دژوندون دود اودستور الول زده کړه

رژېدو له وېرې نه غوړېږي ولې
اندېښنه پرېږده غوټی توکل زده کړه

راحت پرېږده زحمت واخله (سید حسنه)
دوطن په دردوغم ژړېدل زده کړه

دشهید سید حسن خان دشعر څلورمه نمونه چې عنوان یې دی « دزلفو کور »

شانې ستاسر دي په سل ځایه اړه شي
راوړه تا پرېشانې دزلفو کور ته

هرسی غوټه کړه خپل مشک دزړه په ناف کښې
چې دستادزلفو بوی خورشه هرلورته

رم سرشته غزالانو قرار ونیو
چې دستا دقد تمکین یې ولید پورته

ستادمخ شغله چې ورغله نظرته
بېچاره پتنګ خپل ځان ګذار که اورته

........................(۱)
زړه نیولی نه شي څوک دزلفو تورته

څرنګ زړه دسړی سوړ دخپلو نه شي
دیوسف ورونو کوهی وکانه وروړته

چې دسترګو دفتنې طاقت یې نه و
بانه جار واته ترشا دوروځو لورته

برګشته حال دبڼو چې وروځو ولید
دجنګو په عزم تندې شولې پورته

د اصلاح په خیال یې خال جبین ته راغی
دمرهم شونډې یې پرانستې کافورته

وې چې عونډ شئ متفق شئ متحد شئ
تول وطن به مسخرشي ستاسي زورته

کنه خوار ذلیل به ګرځئ په دنیا کښې
نښانه به شئ د تول عالم پېغورته

له حسرته د سوسن ژبه راتجه خوري
په ګلشن چې د « حسن »اواز شه پورته

(۱) دا مصرع ونه لوستل شوه چې کاغذ یې زوړ و.

# دبهرام دردوونکي ماجرا

ددهمزنګ دجېل روغتون ته لاړم دتورن جیلاني اودستګیر ضابط سره مې روغبړ وکړ دډاکتر صاحب (محمودی )دلیدلو اجازه مې ترې وغوښتله. دواړو وویل: اجازه ده ننوځه! کوټې ته ننوتم ډاکتر صاحب راسره روغبړ وکړ بیایې داسې راته څرګنده کړه: دواړه محافظان مې راسره اوس داسې سلوک کوي لکه دوه مهربانه ملګري. په دې وخت کښې دهغه دواړه محافظان هم راننوتل. زه دډاکتر صاحب سره په کټ کښې ناست یم او هغوی دواړه دامان الله محمودي په کټ کښې. ماته هغه داسې څرګنده کړه :خبر شوی یم چې داختر په ورځو کښې دې څه تکلیف درلود ؟ما ورته همدومره څرګنده کړه :په هر اختر کښې زمونږ داحال وي! ضابط دستګیر راته داسې ښکاره کړه: داختر په ورځ زه هم قلعه جدید ته درغلی وم او هرڅه مې پخپلو سترګو ولیدل زه چې راغلم ډاکتر صاحب ته ما دټول حالات وویل خو بیا وروسته پوه نه شوم تاسې چې عسکرو قلعه جدید ته په وهلو ټکولو ننوېستلی او انضباطی مدیر هم دعسکرو په منځ کښې ؤ چې بیا نور وروسته در سره څه وشول؟ بیا ما هغه ته خپل ټول دکوټه قلفۍ حالات وویل. ډاکتر صاحب وویل: بل یو نوی بندی یې هماغه اخري کوټې ته راوستلی دی چې ماتاته ویلي وو چې یو وارې ورشه که کومک ته څه اړه لري چې مرسته ور سره وکړې! ما ډاکتر صاحب ته وویل: هغه خو ډېر ډارن سړی ؤ زه چې ورغلم ماهغه ته وویل: زه ددې دپاره راغلی یم هرڅه ته چې تاسې ضرورت لرئ ماته ویلی شئ! دهغه لاسونه له ډېره ډاره لړزېدل او څو ځلی یې راته داسې تکرار کړه: ماته ویل شوېدي چې ته له هېچا سره خبرې کولی نشې چې بیا دلته رانشې. ډاکتر صاحب محمودي راته داسې په ګوته کړه: ته رښتیا وایې مونږ ښاري خلک ډېر ډارېږو دهماغه ډارن کوټې ته یې یو بل

نوی بندي چې ناروغ دی راوستلی دی. دکندهار دی، ډېر پوه عالم انسان دی دلباس حالات یې ډېر خراب دی مرستې ته ډېر زیات ضرورت لري يوځلې ضرور هغه ووینه! له هغوی سره مې خدای سپارلي وکړه، دنوي ناروغ بندي کوټې ته راغلم دننوتلو اجازه مې وغوښتله په ډېر جرأت باندی یې داسې غږوکړ: خدای دې هر کله راوله! هغه چې راپاڅېده مادهغه ځیرې ځیرې جامې تولې ولېدلې چې خپل ځان یې په څادر کښې پټولو ما ورته همدومره ښکاره کړه: دازما فرض دی له هغه بندیانو سره دخپل طاقت او توان په اندازه مرسته وکړم چې مرستې ته ضرورت لري که تاسې هرڅه ته ضرورت لرئ ماته یې ویلی شئ! هغه همدومره ووېل: زه به درته څه ووایم ته په خپله هرڅه په سترګو وینې چې زه دڅه شي مرستې ته ضرورت لرم؟ زه دهغه په تېرولو خبرو ښه پوه شوم چې ددومره عالي همت خاوند دی چې په داسې وخت کښې هم هېڅ ته څه نه وايي چې دجامو حالات یې بېخي خراب دي. له هغه سره مې خدای سپارلي وکړه ورته ومې ویل: په یو مناسب وخت کښې به راشم انشاء الله تعالیٰ. هغه راته همدومره وویل: داستا خپله خوښه ده. دروغتون نه راښکته شوم قلعه جدید ته راغم اوېدې فکر کښې یم چې زه به څرنګه ژر یوه جوړه جامې پېداکړم. څرنګه چې دکندهار مولوي صاحب بهرام ډېر جګ لوړ سړی ؤ اودهېڅ جامې دهغه په ځان نه جوړېدلې نو داسې مې فکر ته راغله چې ددهمزنګ دزندان خیاط خانه خو زما په لاره کښې ده، خیاط خانې ته به ننوځم عبدالوهاب خیاط باشي ته به ووایم چې له ماسره په دی کښې مرسته وکړه نوموړی خیاط باشی هم په قلعهٔ جدید کښې اوسېده او زه یې ډېر ښه پېژندلم. خیاط خانې ته ننوتلم خیاط باشي زما دراتلو پوښتنه وکړه. ما ورته وویل: له تاسره ډېر زیات ضروري کار لرم ته به له ماسره څه مرسته وکړې که نه؟ هغه وویل: چې زما دلاسه وشي ضرور به در سره مرسته وکړم. ما ورته وویل: زما یو دوست دی نوی بندی دی ناروغ دی بالکل جامې نلری شفاخانې ته یې راوستلی دی دهېڅ جامې دهغه په قدااندام

نه جوړېږی که تاسې له ماسره همدا اوس يو ځل روغتون ته لاړشئ او دهغه قد اندام واخلئ! زه او خياط باشي دواړه دناروغ کوټې ته ننوتلو دهغه قداندام يې واخيست، دروغتون نه راښکته شوو، هغه راته وويل: اوس ورته تاسې دمجبس دتوکرانو دمغازې نه نهه متره توته واخلئ زه به دشپې دخياطی ماشين کوټې ته يوسم سبا سهار دچای دڅښلو په وخت کښې به درياندې جامې له يوه پرتوګاښ سره وسپارم. مايو شناخته ضابط ته دنهه متره توتې روپۍ ورکړې، ضابط توته راوړه ماعبدالوهاب خياط باشي ته ورکړه خياط باشي راته وويل: زه به پخپله وعده پر تا باندې ګنډلې جامې وسپارم. هغه سبا پخپل وخت زما کوټې ته جامې راوړې، دنوموړي نه مې شکريه وکړه. ما جامې په يو دسمال کښې وتړلې دروغتون په طرف روان شوم، دمولوي بهرام کوټه مې وټکوله بيا ننوتلم جامې مې ورکړې داسې مې ورته وويل: تاسې دا واغوندئ زه بهرته راځم. زه چې دمولوي صاحب دکوټې نه راووتم تورن جيلاني وليدم توخی يې وکړ ماچې مخ ور واړاوه په لاس يې داسې اشاره راکړه چې يو ځل دلته راشه. زه دډاکتر صاحب دليدلو دپاره دهغه کوټې ته ننوتم چې دهغه دواړه محافظان هم په ما پسې دننه راننوتل .ډاکتر صاحب زما څخه پوښتنه وکړه : څرنګه سهار دومره وختي راغلې کوم ناروغ دی بيا راوستلی دی که بله خبره ده. ماهغه ته دمولوي صاحب بهرام دجامو وويل: هغه وخندل بيا يې خپل محافظ تورن جيلاني ته داسې وويل: که تکليف نه کېږي يو ځل مولوي صاحب ته ووايه چې دلته راشه زماني هم دلته دی او که هغه ته تکليف وي خير دی زه به ورشم. جيلاني داسې وويل: زه به چای هم راوړم بيا به دزينې دسر دروازه زنځير کړم چې څوک پاس راونه خېژي او مولوي صاحب به هم دلته راشي تول به خپل ګپ شپ هم دلته ولګوو. ماته د تورن جيلاني دخبرونه داپته ولګېدله چې اوس دډاکتر صاحب محافظان له ډاکتر صاحب محمودي سره داسې سلوک کوي لکه ګران او همکار ملګري. تورن جيلاني چای او څه وچه مېوه راوړه . مولوي صاحب هم کوټې ته

رانښووت دجامو سره داسې ښکلې معلومېده چې په ليدلو يې هغوی تعجب کولو دا ځکه چې جامې دهغه په قدانداموړورې شوې وې، چای څښنو او خپلې خبرې کوو.

لومړی ډاکتر محمودي خپلې خبرې داسې پېل کړې: په اختر کښې چې ته رانغلې څو تنه تاسې يې کوټه قلفيان کړی وئ ضابط دستګير هم درغلی ؤ ماته يې دهغه بندی د تقرير خبرې ټکي په ټکي ټولې وکړې، ماهغه ته وويل: دالومړی ځل نه دی په هراختر کښې زمونږ دا حال وی.

مولوی صاحب ماته وويل: زه خود هېڅ نه خبر نه يم که ماته يې څه په تفصيل سره ووايې ډاکتر صاحب محمودي مولوي بهرام ته وويل: ددې نوي ځوان نوم هاشم زماني دی، داله ټولو هغو بنديانو سره مرسته کوي چې مرستې ته ضرورت لري. ضابط دستګير وويل: ماچې په اختر کښې دزماني دلېونيانو سره په هغه جلوس کښې ګډون وليده او هغه خبرې مې واورېدلې داراته پوره پته ولګېدله چې دادهېڅا څخه نه ډارېږي. مولوی بهرام ماته وويل: ته همداسې چپ او غلی ناست يې زمونږ خبروته دې غوږ ايښودلی دی او په خپله هېڅ خبره نه کوې ته خو هم څه ووايه چې ولې داسې کارونه کوې؟ ماهغه ته په لنډيز دا وويل: څه وخت چې مونږه کوټه قلفيان شولو هلته نور بنديان وو چې په کوټه قلفۍ کښې يې له مونږه سره داسې مرسته کوله چې زه يې په سلمه برخه هم دهغوی دکومک پشان کومک له چا سره نشم کولی په هغه بنديانو کښې يو بندی ؤ چې بابا عبدالعزيز الکوزی کندهاری نومېده، ماهرڅه په کوټه قلفۍ کښې دهغه څخه زده کړيدی، بابا عبدالعزيز زما رهښتيانی لارښود معلم ؤ او ماته يې د يو معنوي پلار حيثيت درلود چې ماته به يې همېشه داويلې بچې داستا فرض دې چې دخپل وطن افغانستان اودشريف اولس خدمت به په ډېره ايمانداری باندې کوې او دا يې راباندې ټينګار کاوه چې هر نوی بندی چې راغی دهغه پوښتنه به کوې او هرڅه ته چې يې اړتيا لرله مرسته به ور سره کوې

اودمر ګ ترورځي پورې به دوطن خپلواکي ساتي اوداستبداد له خاوندانو سره به نه ماتېدونکي مبارزه جاري ساتي اوهرڅه دي چي دلته په خپلو سترګو ليدل يادي دچانه اوربدل چي حقيقت درته ښکاره کېدل دراتلونکي نسل دپاره به يې ضرور ليکي چي تاريخ نېمګړی پاتې نشي اګرچې دوطن راتلونکی نسل به داوسنی نسل په شان نه وي اوپه هرڅه کښې به سره ډېر فرق لري اوستا داليکنه به ورته يوه خيالي افسانه ښکاري خودا خيالي افسانه نده دا يو حقيقت دی او مولوي بهرام ته مې داهم وويل: چې زه به يوه کتابچه راوړم ته به راته دخپل ژوند دحالاتو هغه برخې چې تاته مهمې ښکارې پخپله خوله کرار په کرار وايې اوزه به يې ستا دخولې نه ليکم.

کله چې زما داخبرې مولوي صاحب واوربدلې داسې يې وويل: زه په ډېره خوشالتيا حاضريم او زياته يې کړه: هروخت چې ته فرصت لرې راځه زه به يې درته کرار په کرار په خوله وايم اوته زما دخولې خبرې ليکه. له مولوي صاحب سره مې دوه ورځې وروسته وعده وکړه چې زه به ستا کوټې ته درځم اوستا دژوند دحالاتو خبرې به ستادخپلې خولې په حواله ليکم .

ده راته وويل: دکندهار نه کوټې ته په طالبۍ لاړم ديو کندهاري ملا سره هلته درې مياشتې شاګرد وم له ماسره بل يوتن شاګردهم ؤ چې هغه پخپله دکوټې دښارؤ يوه ورځ يې ماته داسې وويل: زه غواړم چې هندوستان ته لاړ شم هلته دديوبند په اسلامي مدرسه کښې تعليم وکړم ځکه چې په دغه اسلامي مدرسه کښې دطالب العلمانو دپاره ډېرې اسانتياوې موجودې دي. ما ورته وويل: زه هم غواړم چې له تاسره يو ځای ولاړ شم اوددېو بند په اسلامي مدرسه کښې شامل شم خوله ماسره دلارې خرڅ نشته دی، هغه په ډېره خوشحالتيا وويل: زه به دلارې ټول مصرف قرض حسنه درکړم اوزياته يې کړه :هلته ددې ځای نه مزدوري هم ښه پېداکېږي. دخپل استاد نه مو رخصت واخېست ملګرې مې داورګاډي ټکټونه واخېستل دديوبند اسلامي مدرسې ته راغلو ،دمدرسې

دداخلېدلو دوه فورمې موډ کې کړې امتحان یې ددواړو تــه واخیست هغه په دریم ټولگی کښې داخل شه او زه په دوهم ټولگی کښې ځکه چې دهغه اردو ښه زده وه او زما ښه نه وه زده ځرنگه چې ماد کوچنیوالي نه له اسلامي تعلیم سره ډېر شوق درلود اوپه زړه کښې مې داډیر لوی ارمان ؤ چې زه لوی مولوي شم اوخلکو ته وعظونه او تبلیغونه وکړم او اسلامي فتوی ورکړم.

ددیوبند داسلامي مدرسې دتعلیم سره دیوې ورځې نه بلې ورځې ته زما شوق اضافه کېده؛ داپه دې چې دلته دکاغذ، قلم او دیو شاگرد ټول دضرورت وړ شیان دمدرسې له خوا له شاگرد سره مرسته کېدله، یوه هفته وروسته ددویم ټولگي مدرس دخپلو شاگردانو نه چې شمېر یې سل تنو ته رسېده دخپلو ویل شوو سبقونو دامتحان په ډول پوښتنه کوله او هر شاگرد ته یې نومره ور کوله ټولو شاگردانو تـه چې یې نومرې ورکړې داسې غږ یې وکړ: بهرام په ټولو شاگردانو کښې لومړۍ نومره اخېستې ده ،دا اول ځل دی چې زه په خپل ژوند کښې دلومړۍ نومره اخیستلو غږ اورم ځرنگه چې زما اردو ژبه ډېره ضعیفه وه صرف استاد مې راته دومره وویل: شاباس اردو ژبه ښه زده کړه چې مشکل بیخی حل شي. ما دخپل استاذ نه پوښتنه وکړه: چې ځرنگه زه کولای شم چې اردو ښه زده کړم؟ هغه وویل : مونږ دهغه شاگردانو دپاره چې ژبه یې ښه نه وي زده کړې ددریو: اردو، عربي او انگریزي ژبو کورسونه لرو. دعربي دتعلیم داستاد په مرسته داردو په کورس کښې شامل شوم، زمونږ داردو ژبې دلومړي ټولگي شاگردان ټول پنځه اتیا تنه وو په امتحان کښې زه اوله نومره شوم. دعربي استاد چې مې ددې نه خبر شو چې داردود ژبې دزده کړې د امتحان په پنځه اتیا تنو کښې هم اوله نومره شوی یم ډېر خوشحال شه ماته یې وویل: شاباس شاباس خواری کوه ته ډېر ښه استعداد لرې باید تاسې ضرور تر آخره پورې خپله اول نومره گی وساتئ. دعربي په دویم امتحان کښې بیا اوله نومره شوم. داځلې مې راته استاد وویل: اردو تاسې ډېره ښه زده کړې ده! خپل استاد

به ډېر زيات تشويقولم اوله تعليم سره مې ډېر زيات شوق اوخاصه مينه پېدا کړه.

يوه ورځ دانګرېزي کورس ته ننوتلم چې معلم شاګردانو ته په توره تخته دانګرېزي الفبا ليکي اوشاګردانو ته وايي. په ما يې ډېر زيات اثر وکړو ما په اردو دانګرېزي کورس استاد ته وويل: زه کولای شم چې په دې کورس کښې کښېنم او دانګرېزي الفبا زده کړم؟ هغه داسې وويل: ترڅوچې تا ته خپل دعربي استاد اجازه نه وي درکړې اوتاماته معرفي نه کړي مونږ تانشو منلی. خپل استاد ته مې وويل: زه دانګرېزي ژبې دالفبا دزده کولو سره ډېر زيات شوق لرم تاسې مادانګرېزي ژبې دکورس معلم ته معرفي کړئ! استاد مې په ډېره خنداسره داسې وويل: په ځان ډېر فشار مه راوله! ما ورته ښکاره کړه: فشار نه راولم ډېر شوق مې ور سره دی. زما په ډېر اصرار استاد مې دانګرېزي دکورس معلم ته معرفی کړم اودخپل درس دويلو نه چې به خلاص شوم دانګرېزي کورس ته به تلم او څه چې به معلم په توره تخته ليکل هغه به مې په کتابچه کښې ليکل اوڅه چې به يې نورو شاګردانو ته په خوله ويلې هغه به مې خپلې حافظې ته سپارل. معلم به درې درې ځل خپله دانګريزي ژبې کلمه يا لنډه جمله شاګردانو ته ويله، داردو اوعربي نه مې له انګرېزی سره ډېر شوق پيدا شه. دانګرېزي کورس ته ننوتم چې معلم په توره تخته شاګردانو ته څه ليکي اوبيا يې ورته په خوله درې درې ځلې تکراروي او بيا ترې دهمدې سبق پوښتنه کوي. ځينو شاګردانو به صحيح ځواب ورکولو او ځينو به غلط. معلم په توره تخته يوه لنډه جمله وليکله دکورس دشاګردانو نه يې پوښتنه وکړه هيچا ځواب ورنکړ مالاس پورته کړ استاد ته مې وويل: ماته اجازه ده زه يې ووايم. معلم ماته څرګنده کړه: ته خو زما شاګرد نه يې! ما هغه ته وويل: تاسې ماته اجازه راکړېده ما داهر څه ستاسې نه زده کړي دي اومعلم هم تاسې ته معرفی کړی يم! هغه ووې ورشه څوکۍ راوړه دلته کښېنه. څوکی مې راوړه، کښېناستم هغه پنځه سوالونه

وکړل، پنځه واړو ته مې ځواب ورکړ بیا یې راته په خندا داسې وویل: زه خود خپلو شاګردانو ته امتحان اخلم تاسې هم امتحان ورکوئ؟ هو مې ورته وکړ. دکورس دشاګردانو شمېر پنځه څلوېښت تنه ؤ معلم دامتحان پارچې ټولو شاګردانو ته ورکړې، څه وخت وروسته یې پارچې دشاګردانو نه واخیستلې، سبا دامتحان دکوټې نه بهر ودرېدم معلم کوټې ته ننوځي چې زه یې ولیدم ویې ویل: ته څرنګه ولاړ یې؟ ماورته وویل: ما په خپله پارچه کښې هرڅه صحیح لیکلي دي! هغه زما په دې خبره ډېر وخندل ویې ویل: راځه ته هم راننوځه! معلم ټولې پارچې دمېز په سر کښېښودې یوه یوه رااخلي دهرشاګرد نوم چې یادوي شاګرد ورځي خپله پارچه ورکوي او نومره ورته وایي په خپل نوبت یې زما پارچه رااخیسته زما نوم یې یاد کړ شاباس شاباس یې راته وویل بیا یې راته ووې: ته اول نومره شوی یې! په دې غږ دومره خوشحاله شوم چې دډېرې خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځاییدم، دعربي استاد چې مې ددینه خبر شه چې دانګریزي دکورس په شاګردانو کښې هم زه اول نومره شوی یم ډېر زیات خوشحاله شه. ماته یې داسې څرګنده کړه: هرڅه ته چې ستا ضرورت پیدا کېده ماته یې وایه زه به در سره مرسته کوم اوداځل یې ډېر زیات تشویق کړم او خپله خاصه مهرباني یې دیو رښتیاني مربي استاد چې دمعنوي پلار حیثیت لري له ماسره وکړه.

ددېوبند اسلامي مدرسې ټولو استادانو به درې درې میاشتې وروسته یوه عمومي داستادانو غونډه کوله او هر مدرس او معلم به خپل ممتاز شاګرد غونډې ته معرفي کاوه.

دعربي، اردو او دانګرېزي کورس استادانو زه دخپل ممتاز شاګرد په صفت داستادانو عمومي غونډې ته معرفي کړی یم. ددېوبند اسلامي مدرسې یوه درې میاشتنۍ مجله او یو اوونیزه اخبار درلوده چې په عربي، اردو او انګرېزي درې واړو ژبو به چاپېدل او دخپلې مدرسې داسلامي تعلیماتو داصولو په اساس

اودټول جهان دعالم اسلام دپرمختیا اومهمو واقعاتو خبرونه اودخپلو ممتازو شاگردانو عکسونه به یې پکښې هم چاپول اودهغوی داستعداد او لیاقت په باره کښې به یې هم مقالې لیکلې اوخپرولې. دعربي په صنف کښې ناست یم استاد مې راته ددیوبند دریې میاشتنی مجله راکړه داسې یې راته وویل: ددریو استادانو په صنفونو کښې ته اول نومره شوی یې او هغوی دریې واړو استادانو ددیوبند داسلامي مدرسې دنشراتو آمریت ته، ته دخپل ممتاز شاگرد په صفت معرفی کړی یې اوپه دې مجله کښې ستاعکس هم چاپ شوی دی اوستا داستعداد ستاینه یې پکښې هم کړې ده دا په خپله کوټه کښې په کراره ښه وگوره اومطالعه یې کړه ، شاگردان چې ټول رخصت شول کوټې ته راغلم مجله مې دسرنه ونیوله په لیدلو اولوستلو مې لاس پورې کړ. دمجلې هغه برخه مې پیداکړه چې زما عکس پکښې چاپ شوی ؤ او دریې استادانو مې هریوه دخپل ممتاز شاگرد ریوټ دمجلې مدیر او اونیزې اخبارته ورکړی ؤ چې زما داستعداد او لیاقت ستاینه یې پکښې کړې وه ټوله شپه مې په عربي؛ اردو او انگرېزي دریې واړو ژبو باندې خپله هغه برخه لوستله چې په ما پورې تړلې وه په کومو لغتونو چې پوه نه شوم ټول مې په یوه کاغذ باندې ولیکل سباچې مدرسې ته لاړم دخپل استادنه مې دلغتونو دمعنی پوښتنه وکړه. هغه دټولو لغتونو معنی ماته وویله اوبیا یې راته داسې څرگنده کړه: مونږ دلته یوه لویه کتابخانه لرو، زه به تا هلته معرفي کړم دکتابخانې مسؤول به تاته دکتابخانې یو کارډ درکړي، بیاته کولی شې چې دکتابخانې هر کتاب چې ته ورته ضرورت لرې دڅو ورځو دپاره خپلې کوټې ته راوړې. سباچې ددرس نه خلاص شوم داستاد نه مې دکتابخانې پوښتنه وکړه چې کتابخانه په کوم ځای کښې ده اوزه دکتابخانې نه کوم کتاب کوټې ته راوړم؟ هغه راته وویل: ته ترې انگلیش اردو ډېکشنرې کوټې ته راوړه. کتابخانې ته لاړم دخپل استاد معرفی خط مې استاد ته ورکړ ماته یې په ډېره مهربانۍ دخندا په ډکه خوله کارډراکړ او ویویل: زه تاډېر ښه

پېژنم، ما هغه ته ښکاره کړه! دالومړی ځل دی چې زه له تا سره ګورم اوکتابخانې ته راځم ماله تاسره مخکښې هېڅ ندي ليدلي. زما په دې خبره هغه وخندل بيا يې راته وويل :ته په ما پسې راځه! هغه مخکښې روان دی اوزه ورپسې ورووسته روان يم يوې کوټې ته راغلو چې څو تنه هلته ديو مېز ته چارچاپېره په څوکيو ناست دي دشيدودچای يو لوی چاينک يې دڅوپيالو سره په منځ کښې پروت دی په دوه ؤ پيالو کښې يې چای واچولو زمونږ په مخکښې يې کښېښود ، دکتابخانې مسؤل پاڅېده يو څو دقيقې ورووسته راغی هغه مجله يې راوړه چې زما عکس پکښې چاپ شوی ؤ ماته يې راوښوده : ته دې عکس ته و ګوره ته دا پېژنې ؟ ماورته وويل :داخوزما تصوير دی! بيا هغه داسې روښانه کړه : زه تاډېر ښه پېژنم ماڅه کوې دکتابخانې ټول کارکوونکي تاپېژني داستاخپل استعداد ، پوهه اولياقت دی چې تاسې خلکو ته معرفي کوي.

رېښتيا خبره داده چې ددې خبرې په اورېدلو سره ډېرخوشاله او زړه مې باغ، باغ شو اوډېر زيات دتشويق احساس مې دعلم دزده کړې سره پيدا شو ، دکتابخانې مسئول ته مې وويل: زه دانګلېش اردو ډيکشنري ته ضرورت لرم هغه نومورې ډېکشنري راکړه او زياته يې کړه :زمونږ دکتابخانې اصول دادي چې دکارډ په مقابل کښې هرشاګرد ته دلسو ورځو دپاره کتاب ورکوو، لس ورځې ورووسته يه کتاب راوړې! کوټې ته راغلم يو ساعت مې ډيکشنري ولوستله چې هر انګرېزي لغت ته يې په اردو معنی ورکړشوېده خو زه په دې هېڅ پوه نه شوم چې خپل هغه دانګرېزي لغت چې په معنی يې نه پوهېږم څنګه پکښې پېداکولی شم! سبا چې مدرسې ته لاړم استاد ته مې وويل: انګلېش اردو ډيکشنري مې دکتابخانې نه واخيسته خو دانګرېزي هغه لغت چې په معنی يې نه پوهېږم په ډيکشنری کښې پيداکولای نشم ، هغه لغت پکښې څرنګه زه پيداکولای شم ؟ استاد وويل: دهرلغت دشروع دانګريزي دالفبا لومړی حرف يه پيداکوې بيايه پسې ورووسته هغه بل حرف اوهمداسې ترآخره

پورې او زه په دې پوره پوه شوم چې څرنګه د الفبا په اصولو خپل مطلب حل کړم. د ډیکشنرۍ مې ور وړه د کتابخانې مسئول راته وویل: ښه نو ته اوس بل کوم کتاب ته ضرورت لرې؟ - زه نه پوهېږم چې بل کوم کتاب به زما د پاره مفید او ضروري وي. هغه راته په ګوته کړه: ته په خپله د کتابخانې په کتابونو کښې یو کتاب خوښ کړه چې ستاسې خوښ وي او ضرورت ورته ولرې هماغه واخله کوټې ته یې یوسه ما هغه ته هېڅ ونه ویل: د کتابخانې مسئول پوه شه چې ما مخکښې کله د کتابخانې کتابونه نه دي وړي. هغه راته وویل: د کتابخانې ټول کتابونه په منظم ډول اېښودل شوي دي او د هرې برخې د الماری د کتابونو سره یو لنډ معلوماتي مفید لست هم ځړېدلی دی چې سړی په ډېره آسانتیا سره خپل مطلوب کتاب د کتابخانې نه په لاس راوړلی شي. په نیم ساعت کښې راته د کتابخانې مسئول د کتابخانې ټولې د کتابونو برخې وښودلې او زه یې پرې ښه پوه کړم چې څرنګه زه خپل مطلوب کتاب پیدا کولی شم. نو موړي ته مې وویل: زه بېرته ډیکشنري وړلی شم؟ هغه په مسکا داسې وویل: هو ولې یې نشې وړلی. بېرته مې خپله تحویل کړې ډیکشنري واخیستله کوټې ته مې راوړه. هغه راته داز یاته کړه: لس ورځې وروسته یې راوړه بېرته یې وړلی شې. د کتابخانې مسئول ته مې ښکاره کړه: زه اوس په دې وخت کښې د بل هر کتاب نه ډیکشنرۍ ته ډېر ضرورت لرم! هغه راته دا په تکرار وویل: لس ورځې وروسته خپل کتاب تحویلوه او بیا یې وروسته د لسو ورځو د پاره وړلی شې.

یوه ورځ ناوخته د خوبه راپاڅېدم ناروغ وم مدرسې ته په چټکتیا بانده‌ې روان وم په اوړه مې چا لاس کېښوده چې ورته ومې کتل ګلاب ؤ دا زما هغه ملګری ؤ چې د کوټې نه د واړه دد هویند اسلامي مدرسې ته راغلی وو او ما ته یې د سفر خرڅ روپۍ هم قرض حسنه راکړې وې. ما هغه ته یاده کړه: ستا یو سلو لس قرض حسنه روپۍ مې په یاد دي درکومه یې! ګلاب همدومره راته وویل: ماته د کوټې د استاد لیک راغلی دی تا ته یې پکښې هم ډېر سلامونه

لیکلي دي. ماهغه ته دخپلې لیلیې دکوټې نومره ورکړه داسې مې ورته وویل:
دشپې کوټې ته راشه داستاد لیک هم دځان سره راوړه چې زه یې یوځل ولولم.
گلاب دشپې راغی دوه ی موپه لیلیه کښې وخوړله، خبرې موکولې دخبرو په
منځ کښې هغه داستاد هغه پاکټ راکړ چې هغه ته یې پکښې لیک استولی او
لیکلي یې وو گلاب هروخت لیک راستوی زه هم ورته لیک استوم اوپه هرلیک
کښې تاته خپل سلام هم لیکم ضرور زما په آدرس ماته دخپل ژوند ټول حالات
اوپه خاص ډول دخپل درس او تعلیم په باره کښې راته په پوره تفصیل سره هرڅه
ولیکه. استاد ته مې دخپل ژوند دتعلیمي حالاتو په باره کښې هرڅه ښه په
تفصیل سره ولیکل اوپه لیک کښې مې په خاص ډول دعربي استاد دخاصې
مهربانۍ اوتعلیم ته زما دتشویقولو په باره کښې هم یادونه وکړه اولیک مې په
هغه مجله کښې کښېښود چې درې استادانو زه داول نومره شاگرد په صفت
معرفي کړی وم. مدرسې ته لاړم استاد ته مې لیک ورکړ هغه ته مې وویل تاسې
دخپلې مهربانۍ له مخې یوځل زما دالیک مطالعه کړئ چې څه غلطي خونه
لري، که غلطي لري چې اصلاح یې کړم. ځکه چې دکوټې استاد مې زماته دخپل
تعلیم په باره کښې معلومات غوښتي دي. استاد چې مې لیک ولوست ویویل:
ډېر ښه روان لیک دې لیکلی دی چې هیڅ غلطي نلري. گلاب چې دناوخته
پورې له ماسره ناست ؤ او خبرې موکولې داسې راته وویل: مونږ دشپې له خوا له
یوه ټېکه دار سره دشپې کارکوو شپږ تنه یو.

-څه کار کوئ؟ داسې ځواب یې راکړ: ټېکه دار سرکاري بیلډنگونه
جوړوي یوموټر پخې خښتې مو ورسره په اتیا روپۍ اجاره کړي ځکه چې دموټر نه
یې په لاسي کراچیو کښې دبلډنگ هغه برخې ته وړو چې کار پرې کوي. نور
مزدوران هم دا کار په سل روپۍ کوي مونږه یې په اتیا روپۍ نوټېکه دار راته
ویلي دي چې زه بل چاته ددې کار ټېکه نه ورکوم داټېکه هم ستاسې ده ترڅو
چې کار خلاص شي او څلوېښت روپۍ یې هم راکړې ویویل: داهم قرض حسنه

واخله زما له تاسره ټولې يوسلو پنځوس روپۍ قرض حسنه شوې هروخت چې خدای روپۍ درکړې ماته به بيا خپل قرض حسنه روپۍ راکوې او زياته يې کړه: که ستا زړه دشپې کارته کېږي تابه هم ونيسو. ماګلاب ته وويل: بيا به زه له تاسره په دې باره کښې خبرې وکړم اوس درته هيڅ نشم ويلی.

ګلاب رخصت شو ، زه ويده شوم، سبا مې خپل استاد ته دشپې دکار په باب وويل، استاد مې راته په ډېر ټينګار او تکرار وويل: هوش کوه چې دشپې دتېکې کار ونکړې او په آخر کښې يې راته په جدی ډول ښکاره کړه :که داکار دې وکړ زه به درنه ډېر زيات خپه يم زما داخبره به مني روپۍ ته چې دضرورت پيداکېده ماته يې وايه، زه يې همداسې دخدای په نامه خيراتي درکوم، ته خپل تعليم همداسې په شوق کوه دتعليم تر آخره پورې خپله اول نومره ګي وساته. استاد ته مې دهغه دخبرو ډاډ او اطمينان ورکړ: تاچې هر څه هدايت او لارښونه ماته کوله زه به خپل تعليم ستاسې دلارښوونې دپروګرام سره سم په هماغه شان سرته رسوم. بيامې استاد ته يادونه وکړه : زه ډيکشنري ته ضرورت لرم چې دتل دپاره له ماسره په کوټه کښې وي، دلسو ورځو دپاره خو زه ډيکشنري دکتابخانې نه راوړم خو ورل راوړل راته مشکل ښکاري. استادمې راته وويل: ماته زما يو دوست درې کاله مخکښې ډېره ښه انګرېزي په انګرېزي يوه جامع ډيکشنری راکړېده چې دهر انګرېزی لغت معنی يې په ډېره ساده اواسانه انګرېزي کړې ده. زه به يې سبا راوړم ته يې يوځل وګوره که استفاده دې ترې کولی شوه زه به يې همداسې بخشش درکړم اوبله درته داخبره کوم هرڅه چې په انګرېزي مطالعه کوې اودکوم لغت په معنی نه پوهېږې ته هغه جملې ته ښه فکر کوه اوټوله جمله دوه درې ځل په دقت او غور مطالعه کوه داډېر امکان لري چې دجملې دمحتوی نه دلغت په معنی پوه شې اوکه بيا پوه نه شوې بيا يې په ډيکشنري کښې وګوره. داستاد دا لارښوونه مې په خپله حافظه کښې ټينګه وساتله.

پوسته خانې ته لاړم لیک مې د مجلې په منځ کښې کېښود ،مجله مې بیا په یو مناسب پاکټ کښې ځای پر ځای کړه په پوسته خانه کښې مې رجستري تحویل کړه. سبا مدرسې ته لاړم، درسونه چې مو خلاص شول استاد مې را ته غږ وکړ: بهرامه بچې! دلته راشه ! ډیکشنري مې درته راوړېده دلغت د پیدا کولو اصول خو یې دهماغه الفبا په لومړي حرف اوبیا همداسې پله پسې حرفونو پیدا کېږی صرف دلغت معنې په آسانه انګرېزي تشرېح شوې ده چې د تشرېح نه ته پوهېدلی شې چې لغت څه معنی لری. ته چې یوه میاشت دوه دا ډیکشنري استعمال کړې بیا به خپل مشکل ټول حلولی شې. دانګلېش اردو ډیکشنري نه انګلېش په انګلېش ډیکشنري ښه ده ، په اول ځل سړي ته څه مشکل ښکاري خو یوې ورځې.نه بلې ورځې ته مشکل اسانیږي کتابخانې ته لاړم انګلېش اردو ډیشکنري مې تحویل کړه. کتابدار ته مې ووې ستا په نظر کوم کتاب به زماد مطالعې د پاره مفید وي هغه راته داسې ښکاره کړه: داستا په ذوق پورې تړلې ده. کتابدار یو کوچنی دانګرېزی د کیسو کتاب راکړ چې څو کیسې پکښې لیکل شوې وې د کتاب په لوستلو مې په کتابخانه کښې شروع وکړه ، دالومړی ځل دی چې زه دانګرېزي ناول لولم یوه کیسه مې ټوله ولوستله د دوو لغتونو په معنې پوه نه شوم خو داستاد دلارښوونې په وجه مې هماغه جمله په دقت دوه ځلې لوسته چې دهغه لغت په معنی نه پوهېدم خو د جملې نه مې ښه استفاده کولی شوله تقریباً بله کیسه مې هم ولوستله کتابدار راغی ویویل: اوس نوره کتابخانه بندېږي ټول لوستونکي د کتابخانې نه تللي دي ځانله په کتابخانه کښې ته پاتې شوی یې! ماهغه ته په ګوته کړه: زه ددې کتاب لوستلو داسې مصروف وساتلم چې هیڅ پوه نه شوم !کتابدار وویل: څه کم دوه ساعته کېږی چې ته دا کتاب لولې! د کتابدار نه مې شکریه اومننه وکړه چې داسې دلچسپ کتاب دې راکړیدی. هغه داسې ماته وویل: داڅو پانې چې تا ولوستلې دڅو لغتونو په معنی پوه نه شوې. نومورې ته مې وویل: ددریو لغتونو په معنی

پوه نه شوم خو دهغه دري واړو جملو د محتوی په معنی ډېر ښه پوه شوم چې دا دري لغتونه پکښې وو چې زه يې په معنې نه پوهېدم. کتابدار راته وويل: کتاب لوله د کوم لغت په معنی چې نه پوهېدلې دلغت لاندې په پنسل يوه نخښه کوه بيا په نخښه شوي هغه ټول لغتونه په ډيکشنرۍ کښې گوره او د انگرېزي دلغتونو په کتابچه کښې يې د معنی سره ليکه او دلغتونو معنې زده کوه. ښه مې ورته وکړه. کوټې ته راغلم د کتاب په لوستو مې پيل وکړ دکوم لغت په معنی چې نه پوهېدم د کتابدار په لارښوونه مې دهغه لغت لاندې نخښه کوله، تر ډېر ناوخته پورې مې کتاب ولوست چې ټول مې ولوست کتاب خلاص شو ټول په نخښه شوی لغات مې دانگرېزي دلغتونو په خپله کتابچه کښې وليکل او بيا يو يو مې ذانگلېش په انگلېش ډېکشنري کښې پيدا کړ او هر لغت ته مې دانگرېزي تشريح وليکله.

سباچې د مدرسې د تعليم نه فارغ شوم کتابخانې ته مې کتاب يوړ کتابدار ته مې ورکړ هغه راته وويل: بل مې درته داسې ښه ناول پيدا کړی دی پدې کښې هم ښې کيسې دي. کوټې ته راغلم دمه مې وکړه د کتاب په لوستلو مې پيل وکړ ددې ناول د کيسو نه مې هم ډېر خوند واخيست او لغتونه مې يې په نخښه کول. کتاب مې تر خلاصېدو وروسته کتابدار ته ور ووړ کتابدار راته وويل: زه پوهېږم چې ته ډېر ښه استعداد لرې او خپل تعليم ډېر په مينه او شوق باندې کوې، داخبره چې اوس تاته کومه دازما دډېر عمر داوږدې تجربې له مخې تاته وايم: تاسې په ځان ډېر فشار مه راولئ هره شپه شپږ يا اووه ساعته مطالعه کوه په ځان ډېر فشار راوستل دسري اعصاب خرابوي او تېنگار يې راباندې وکړ چې زما داخبره بهضرر منې. داځکه سړی چې د روغتيا په جامه پټ وي په ژوندانه کښې بريالی وي. خپله داخبره يې راته تکرار په تکرار وکړه. کتابدار کتاب راکړ او داسې يې زياته کړه: لومړی چې ما تاته څه وويل پدی کښې ښه فکر وکړه دخپلې مطالعې دپاره منظم پروگرام جوړ کړه بيا د کتاب په لوستلو پيل وکړه!

دخپلې لیلیې په طرف روان یم او د کتابدار په خبرو فکر کوم. د کتابدار خبرې راته ټولې درستې معلومې شوې داسې تصمیم مې ونیوه چې هره شپه شپږ نهایت اووه ساعته مطالعه وکړم پدې مې خپله فیصله وکړه چې هره شپه به اووه ساعته مطالعه کوم. لس ورځې وروسته مې کتاب کتابخانې ته ویوړو کتابدار راته دخندا په ډکه خوله خپله خبره رایاده کړه ،هغه ته مې وویل: لوی خدای دې په دنیا کښې ستا په شان خواخوږي او باعاطفه انسانان ډېر پیدا کړي او ورته زیاته مې کړه : ستا نصیحت او لارښونه به زه په خپل ژوند کښې عملي لاره جوړه کړم او په همدغه لاره به ځم او په خپله روغتیا به ډېر زیات پام او احتیاط کوم. هغه راته په خندا داسې ښکاره کړه: اوس زه پدې پوره ډاډه شوم چې زما په خبره ته ډیر ښه پوه شوی یې ، څه چې زما انساني وظیفه ده او دځان فرض یې ګڼم له یو طالب العلم سره دخپل عمر داوږدې تجربې مرسته او همدردي ده زه به یې ستا څخه هیڅ نه سپمومه او نه دریغوم.

دراتلو په وخت کښې مې ترې شکریه وکړه ،داکتاب مې هم پای ته ورساوه او خپل لوستل شوی څلورم ناول مې چې په کتابخانه کښې تحویلاوه کتابدار راته وویل: ته سبا یوځل راشه او خپله دلغتونو کتابچه دې هم دځان سره یوځل دلته راوړه چې زه یې یوځل وګورم !سبا مې چې دانګریزي د لغتونو کتابچه کتابدار ته ورکړه او زما د انګریزي ټول لغتونه یې ولیدل چې ما د انګریزي ډیکشنری نه ورته تشریح لیکلې وه . کتابدار راته وویل هرلغت ته یوه شماره ورکړه چې تاته معلومه وي چې څومره لغتونه تا په خپله کتابچه کښې لیکلي دي، خپله کتابچه خط کښې کړه د کتابچې دخط کش په لومړي ستون کښې شماره ولیکه اوبیا دانګریزي لغت اوبیا په انګریزي دلغت د تشریح معنی اوبیا دلغتونو د کتابچې په آخر ستون کښې دانګریزي دلغت اردو معنی ولیکه. ما په خپله نوې دانګریزي لغتونو کتابچه کښې د کتابدار دلارښوونې په اثر همدغه شان په ترتیب سره خپل دانګریزي ټول لغتونه ولیکل چې شماره یې دوه سوه

پنځوسو لغتونو ته رسېدله. هره ورځ به مې څلور یا پنځه لغتونه زده کول په همدې ترتیب مې خپله دانګرېزي دلغتونو ذخیره ډېره کړه ،کتابدار خپله شخصي انګلیش اردو ډېکشنري امانت هم راکړه اوراته ویې ویل : ددېنه استفاده کوه زه ورته ضرورت نه لرم دکتابدار نه مې شکریه وکړه او دهغه شخصي ډیکشنري مې هم کوټې ته راوړه ، خپله دانګرېزي لغتونو کتابچه مې دځان سره مدرسې ته یوړه دمېز په سرمې کېښېښوده استاد مې په صنف کښې ګرځي ، زما مېز ته ودرېده زما دانګرېزي لغتونو کتابچه یې راواخیستله هغه چې ولیدله ماته یې داسې څرګنده کړه : بهرامه بچی دخپلې انګرېزی کتابچې لغتونه تا په خپله داسې ترتیب کړیدي ؟ هغه ته مې روښانه کړه: دکتابخانې کتابدار راته داسې لارښونه کړېده ماد کتابدار په لارښونه په کتابچه کښې هرڅه داسې لیکلي اوترتیب کړي دي.

-څو ورځې وروسته زه تنخواه اخلم چې تنخواه مې واخیسته زه به درته نوې انګلېش اردو ډیکشنري واخلم. مدرسې ته لاړم چې شاګردان ټول رخصت شول استاد مې راته غږ کړ: چې ورغلم دمېز په سر یې یوه لویه انګلېش اردو ډیکشنري پرته وه ماته یې وویل: دا ډیکشنري مې ستاد پاره راوړې ده دا واخله دادېره ښه دنوې چاپ ډیکشنري ده چې دنورو ټولو ډیکشنریو نه پکښې لغات هم ډېر دی او هر لغت ته پکښې دانګرېزي دګرامر له اصولو سره سم یوه مخصوصه علامه هم ورکړشوېده چې دغه دګرامر مخصوصې علامې هم دډیکشنري په آخرو پاڼو کښې لیکل شویدي. زه به درسره دمثال په توګه په عملي ډول ددغه ګرامري اصولو په باره کښې په زړه پورې مرسته وکړم. استاد مې دډیکشنرۍ هغه برخه ماته وښودله داسې یې راته وویل :دابه په ډېر دقت باندې ترهغه وخته پورې ګورې چې دلغت دګرامري اصولو په معنی او علامه پوه شې بیا به پکښې خپل هغه لغت چې په معنی یې نه پوهېږې پیدا کوې. استاد مې په عملي توګه څو لغتونه راوښودل اوپه ډیکشنرۍ کښې مې پیدا کړل

او دایې هم زیاته کړه: دخپلې کتابچې دلغتونو په کتابچه کښې به هم هر لغت ته دغه گرامري علامه ورکوې چې په حافظه کښې دې ښه ځای ونیسي.
سباکتابخانې ته لاړم کتابدار ته مې خپله ډېکشنرې ورکړه. کتابدار راته وويل: ته نور دخپل ذوق سره برابر کتاب پخپله په کتابخانه کښې پیداکوه، زه به در سره هم مرسته کوم. ماپه کتابخانه کښې یو یل ناول خوښ کړ چې دفرانسوی نه په انگریزي ترجمه شوی او څلور سوه پینځه اتیا پاڼې وې.
دخپل جوړ شوي پروگرام سره مې په دو و میاشتو کښې ټول ولوسته اودهغه لغتونو په معنې چې نه پوهېدم دلغتونو په خپله کتابچه کښې مې په ترتیب سره ولیکل داهم دېر ښه ناول ؤ چې لیکونکي یې دنوبل جایزه هم اخیستې وه. په کتابخانه کښې مې تحویل کړ دخپلې لیلیې په طرف راروان یم ددیوبند داسلامی مدرسې دشایعاتو آمر مې ولیده له هغه سره مې روغبړ وکړ بیایې راته داسې څرگنده کړه: زمونږ مجله او اونیزه در رسیږي که نه؟
هو! مې ورته وکړه بیایې راته وويل:
هروخت چې دې فرصت پیداکړ یو ځل دفتر ته راشه چې دلندن نه دعالم اسلام څه نشرات رارسېدلي دي اودقاهرې دالازهر دپوهنتون شایعات هم زمونږ دفتر ته رارسېدلي دي هغه به هم یو ځل وگورې که خوښ دې شول بیایې دځان سره کوټې ته راوړه. هغه ته مې وويل: په راتلونکې هفته کښې به که دخدای رضا وه یوه ورځ درشم انشاء الله تعالی. پخپله ټاکلې وعده ددېوبند داسلامي مدرسې دنشراتو آمریت ته لاړم دمجلې او اونیزې له مدیراو دنورو غړو سره مې روغبړ وکړ: دمجلې چلوونکي راته داسې وويل: دډېرې مودې راهیسې تاسې زمونږ دفتر ته رانغلئ زما په زړه کښې وه چې داستاد نه دې دروغ جوړ پوښتنه وکړم چې بهرام څرنگه دی؟ ما هغه ته دخپل مصروفیت په تفصیل سره یادونه وکړه او هغه ټول نشرات یې راکړل چې دلندن اودمصر دالازهرپوهنتون نه راغلي وو اوداسې یې زیاته کړه: داخپلې کوټې ته یوسه په کراره او دمه زړه یې مطالعه

کړه. تر ډېره وخته پورې مو خپل ګپ شپ ولګاوه دغر مې ږودې مو وخوړله لا چای څښو چې بل یو طالب العلم راغی ماورسره روغبړ وکړ بیا یې زما څخه داسې پوښتنه وکړه: ستانوم بهرام دی؟ ماهغه ته وویل هو! بیا هغه ماته وویل: زمانوم احمد دی د سعودی عربستان یم، زه هم ستا په شان طالب العلم یم دلته دانګرېزي زده کولو دپاره راغلی یم او دایې هم راته وویل: چې ستا تصویر له ماسره اشنادی اوستا په باره کښې مې هر څه په مجله کښې لوستي دي، زه تا ډېر ښه پېژنم بیا یې راته داسې ښکاره کړه: زما کوټه ډېره لویه ده که تاسې زما کوټې ته راشئ زه ډېر زیات خوشحالېږم له ماسره به په انګرېزی کښې هم مرسته کوې او خبرې به هم دواړه په عربي اوانګرېزي کوو. ما احمد ته وویل: اوس خو زه دامتحانونو دپاره تیاری نیسم یوه میاشت وروسته امتحان دی چې امتحان مې ورکړ بیا به سره په دې باره کښې خبرې وکړو. احمدماته دخپلې لیلیې دکوټې نومره راکړاو ماهغه ته.

خپلې لیلیې ته راغلم یوه شپه مې دلندن داسلامي مدرسې اخبار ولوسته اوبله شپه مې دمصر دالازهر دپوهنتون. په دواړو ډېر ښه پوه شوم دخپل امتحان تیاری ته مې شپه او ورځ په ځان یوه کړېده خپل لوستل شوی درسونه په ډېر دقت او غور مطالعه کوم په ځان مې پوره باور پیداشه چې ټول درسونه مې ښه زده دي. امتحانونه شروع شول یوه هفته به هره ورځ دامتحان کوټې ته تلم او امتحان به مې ورکولو امتحانونه پای ته ورسېدل دامتحان دمسئولو کسانو له خوا اعلان وشو چې سبا ټولو شاګردانو ته خپلې نمرې وایی دامتحان دمسئول هیئت دمشر په مخکښې یو لوی مېز پروت دی او یوتن بل یې په خوا کښې ناست دی یوه پارچه درئیس په مخ کښې ږدی او بیا دطالب العلم نوم او نمره وایی دیو څو طالب العلمانو دنومونو پسې وروسته یې زما نوم یاد کړ ویویل: دلته راشه چې ورغلم رئیس راته مبارکی راکړه مبارک موشه تاسې اول نمره شوی یاست ماچې داغږ واورېده زړه مې دډېرې خوشالی نه په سینه کښې

تړیونه وهل د عربي استاد مې ولید چې زما په طرف راروان دی د یو رښتیاني معنوي پلار په شان یې د خپلې مینې په ګرمه غېږ کېښې ونیولم: خدایه ډېر شکر دی چې بهرام بچی مې بیا د دېوبند د مدرسې په ټولو شاګردانو کښې اول نمره شویدی! د استاد دې څو خبرو ماته داسې معنوي قوت راکړ او له خپل تعلیم سره مې یو په څو شوق اضافه شه او داستاد مې راته هغه خبره را په زړه شوه چې ماته یې داسې کړې وه:

بهرامه بچی! ته ډېر ښه استعداد لرې په ډېر شوق او مینه باندې خپل تعلیم کوه او خپله اول نمره ګې دې ضرور د تعلیم تر پای پورې وساته! داستاد دې خبرې زما په حافظه کښې داسې ځای نیولی و چې زه ئې خپل تعلیم ته داسې تشویقولم چې ډېر زحمت وکاږم او خپله اول نمره ګی وساتم.

له ماسره د عربي داستاد تشویق ډېره زیاته مرسته کوله ماهم په خپلو درسونو کښې خواری کوله او زحمت مې ګاله خو داستاد او نورو انسان دوسته خلکو لکه کتابدار او نورو تعلیم ته زما په تشویقولو کښې له ماسره په زړه پورې مرسته کړې ده تشویق او شاباس ویل انسان ته یو هغه معنوي قوت ور بخښي چې استعداد یې د ښې افادې دپاره تحریکوي.

یو انسان د هر کار دپاره تشویقول داسې مثال لرې لکه یو تږی سړی چې اوبه وڅښي او خپله تنده یې پرې ماته شي. هرڅوک چې زما د اول نمره ګۍ نه خبرېږي او ما پېژني دلیلې د تلفون په ذریعه راته تلفون کوي او مبارکي راته وایي او کتابدار خو زما دلیدلو او مبارکۍ دپاره یوه شپه زما دلیلې کوټې ته راغی او یوه تحفه یې هم دځان سره زما دپاره راوړې وه او زما په اول نمره ګۍ یې خپله زیاته خوشحالي ښکاره کوله ماته یې مبارکي وویله او دلوی خدای نه یې زما د هر اړخیز ژوند دپاره د نېکمرغۍ او بریالیتوبونو دعا کوله.

د دېوبند د اسلامي مدرسې د امتحانونه وروسته د وه هفتې عمومي رخصتي اعلان شوه چې استادان او طالب العلمان تفریح وکړي، د سهار لمونځ مې وکړ په

لیلیه کبنې چای څنبم احمد راغی دد پوهنځي د اسلامي مدرسې یوه مجله او اونیزه ورسره ده ما ته یې راکړل داسې یې وویل: ماغوښتل چې کوټې ته درشم او مبارکي درته ووایم دا مجله او اونیزه زما په آدرس ما ته رالیږي چې دواړه مې وکتل په دواړو کې ستا عکس چاپ شوېدی او ستا داول نمره ګی په باره کبنې پکښې هم هرڅه په ډېر ښه تفصیل سره لیکل شوېدي نو دلیلیې چایخانې ته راغلم چې چای وڅښم او بیا ستا کوټې ته درشم دا ما ته دلته یو ښه چانس را په برخه شو چې تاسې مې دلته ولیدلی او زیاته یې کړه: اوس خو امتحانونه هم خلاص شول تاسې چې له ماسره وعده کړې وه تاسې پخپله وعده ټینګ ولاړ یاست که څرنګه؟ ما ورته وویل: زه پخپله وعده ټینګ ولاړ یم خو دا به ډېره ښه په ځای معقوله خبره وي که ستاسو د کاریدور په لیلیه کبنې یا یل کوم ځای کبنې دوه مناسبې کوټې خوا په خوا نیژدې پیداشی یوه به ستا شي او بله به زما.

احمد را ته وویل: ته پسې هم کوښښ کوه او زه به یې هم و ګورم او دلیلیې مسئول ته به هم خپل دا مشکل ووایم چې له ماسره مرسته وکړي چې کله خوا په خوا داسې دوه مناسبې نیژدې کوټې پیداشوې بیا به په یوه کبنې ته ډېره شې او په بله کبنې زه. یوه هفته وروسته احمد کوټې ته راغی ما ته یې څرګنده کړه دلیلیې مسئول را ته دوه مناسبې کوټې خوا په خوا نیژدې پیداکړېدي ما دواړه ولیدلې ښې کوټې دي، کوټې مو ونیولې او احمد ته مې دانګریزي د درس پروګرام جوړ کړ او ورته ومې ویل:

دماښام داوو بجو نه تر اتو بجو پورې یعنی یو ساعت پوره به زه له تاسره دانګریزي په زده کولو کبنې مرسته کوم او یو ښه پروګرام به ستا د پاره زه جوړ کړم. هغه وویل هرڅرنګه چې ستاخوښه وي. ما احمد ته یادونه وکړه زما یو دوست دی هغه کتابدار دی ډېره ښه تعلیمي تجربه لري زه به ستا په باره کبنې دهغه سره مشوره کوم چې دانګریزي په زده کړه کبنې زه داحمد سره څنګه مرسته کولی شم.

کتابدار راته ووې : نوې دانګريزۍ دژده کړې ډېره ښه سلسله ده اودغه کتابونه ټول نوي کتابخانې ته راغلي دي. داسلسله ورته؛ ته شروع کړه دکورس لومړی کتاب مې ترې واخيست احمد ته مې وويل: زه بيګا يوځل داټول لولم بيابه له تاسره پکښې خبرې وکړم. ما چې کتاب ټول ولوسته. په دغه سلسله کښې معلم صرف ديو لارښود حيثيت لري چې زده کوونکي ته رهنمايي کوي چې داسې وکړه! احمد خپل درسونه دکتاب دلارښوونې سره سم چې مابه ورته ويل په ښه شان سرته رسول.

يوه ورځ احمد ماته وويل: دا يو نيم کال کېږي چې زه دانګرېزۍ کورسونه لولم دومره استفاده مې ترې نده کړې لکه چې ما دا يوه هفته ددې کتاب نه وکړه دادانګرېزي دژده کړې ډېره ښه مفيده او آسانه سلسله ده زه ددې کتاب ددرسونو دلوستلو نه ډېر خوند اخلم او يو درس دبل درس نه ستاسې په رهنمايي سره په ډېر شوق باندې لولم او ښه يې زده کوم.

له احمد سره به مې دهغه ددرس په متعلق هره ورځ ددرس نه وروسته په انګرېزي محاوره او خبرې کولې او هغه به مې تشويقولو اودښه استعداد ستاينه به مې يې کوله او درس ته به مې چمتو کولو.

په خپل صنف کښې ناست يم استاد مې راته داسې وويل: بهرامه بچی ددې پوسته چې په کتاب کښې دخپل ليک دتسليمېدلو لاس ليک وکړه. پوسته چې پاکټ راکړ، لاس ليک مې ورته وکړ، چې پاکټ مې وليده دکوېټې داستاد ليک ؤ چې ماته يې زما دليک درسېدلو اطمنان راکړی و. چې ټول صنف رخصت شه کوټې ته راغلم پاکټ مې خلاص کړ، داستاد دليک په لوستلو مې پيل وکړ په درې پاڼو کښې يې راته اوږد ليک راستولی او زما لياقت يې ستايلی ؤ. کوټې ته راغلم احمد په کارېډور کښې په مخه راغی ويويل: ستا يو ملګری چې ګلاب نومېده راغلی ؤ ستا کوټه قلف وه ستا پوښتنه يې زما څخه وکړه ماورته وويل: دشپې که اووه بجې وخت لري راشه هغه به په کوټه کښې

وي پريوه ټوټه کاغذ باندې يې راته همدوره ليکلي ووچې احمد مې ډېره قدرداني وکړه. دشپې اووه بجې راغم، دمعمول سره سم شپږ بجې احمد راغی هغه چې خپل درس پای ته ورساوه خپلې کوټې ته لاړه ،گلاب پوره اووه بجې زماکوټې ته راغی زماپه ليک کښې دکوټې استاد گلاب ته هم سلامونه ليکلي وو گلاب ته مې داستادليک ورکړ بيامې ورته په تفصيل سره داستاد دليک په باره کښې هم وويل څه

گلاب راته وويل: زه هم نور غواړم چې دشپې دټيکې کارته نه ځم دشپې له خوا خپل درس وايم، ماورته وويل همداسې وکړه دمدرسې له خوا ټول احتياجات راکوي اوڅه مياشتنی جېب خرڅ هم راکوي. گلاب وويل: همدانن شپه خپلو ملگروته وايم چې زه نور دټيکې کارنه کوم دشپې له خوا خپل درس وايم.

احمد خپلې کوټې ته لاړ، دخپل پلار هغه ليک يې ماته راکړ چې ماته يې ليکلي وو: بهرام بچې! زما دا ناچيزه تحفه دبخشش په توگه قبوله کړه ،داحمد پلار يوچک راستولی ؤ چې پنځلس زره کالداري ترې جوړېدلې ماچې داچک وليده بېرته مې احمد ته ورکړ چې دادې بېرته پلار ته ولېږه زه روپو ته ضرورت نلرم خو احمد هيله رانه وکړه چې داتحفه رد نه کړې او ماهم قبوله کړه.

سهار چې له خوبه راپاځېدم ناوخته ؤ په چټکتيا مې ځان مدرسې ته ورساوه پوسته چې راغی زمونږ دصنف دشاگردانو ليکونه يې ټول زمونږ استاد ته ورکړل، استاد ټولو شاگردانو ته خپل ليکونه ورکړل ، ماته يې هم دکوټې داستاد ليک راکړ استاد مې راته وويل سبا به ضرور داليک ماته راکوې چې زه يې يو ځل وگورم کوټې ته راغلم داستاد پاکټ مې خلاص کړ يو پکښې دکوټې داستاد ليک اوبل پکښې زما دپلار ليک ؤ داستاد دليک په لوستلو مې پيل وکړ ماته يې داسې ليکلي وو: ستاليک دهغه اونيز اخبار سره چې ستاعکس پکښې زمادليک دترجمې سره چاپ شوی ؤ ستادپلار ليک او دا اونيزه اخبار

مې ستا پلار ته ستاد غوښتنې سره سم دخپل يوه شاګرد په لاس چې هغه هم دکندهار ؤ او کور يې دکندهار په ښار کښې ؤ واستولو .

پلار مې را ته داسې ليکلي وو: دکوښتې استاد دې ستا ليک او ستا هغه اخبار چې ستا عکس پکښې چاپ شوی وو دخپل يو کندهاري شاګرد په لاس ماته راورسول. بهرامه زويه! تازما څخه په ليک کښې غوښتلي وو چې دژوند ټول حالات را ته په تفصيل سره وليکه نو ما درته دخپل ژوند ټول حالات وليکل چې دوه برخې مځکه مو په دېرش زره روپۍ ګرو کړې ده شل زره روپۍ ستا دورور په واده مصرف شويدي او نورې مونږ پدې څوکلونو کښې مصرف کړيدي اوس چې مولږه څه مځکه خلاصه پاتې ده غواړم چې هغه مځکه خرڅه کړم يو دکان جوړ کړم اوخپل دورځې دکور خرڅ پدغه دکان وباسم اوپه دکان کښې به دې راسره ورور هم کار کوي. مادخپل ژوند ټول حالات درته وليکل زه او مور دې دواړه ښه يو ، ډېرې ډېرې دعاګانې درته کوو. خدای دې په خپل تعليم کښې همېشه بريالی لره. دپلار ليک چې مې ولوسته ډېر زيات خپه شوم اودشپې له خوا مې هېڅ خوب ونکړ اوډېره ناکراره شپه مې تېره کړه.

استاد مې دکوښتې داستاد او زما دپلار ليکونه وغوښتل، ورمې کړل وی لوستل اوبيا يې راته وويل: چې ستا ټول مشکل حل شويدی داځکه چې دېرش زره روپۍ دې دپلار مځکه ګرو ده اوداحمد دپلار دتحفې چک دپنځلس زرو کلدارو دی اوپنځه څلوېښت زره افغانۍ ترې جوړېږي اوپه پای کښې راته استاد داسې وويل:

يوه مياشت وروسته کلنی امتحان دی ددې امتحان نه وروسته دمدرسې ټول شاګردان او استادان دشلو ورځو دپاره رخصتېږی اوخپله تفريح کوی. بهرامه بچی! ته کولای شې چې په دغه شل ورځې رخصتی کښې کندهار ته لاړ شې اوله خپل پلار او مور سره يې تېره کړې اوداحمد دپلار دپنځلس زرو کلدارو چک هم دځان سره يوسې دلته يا په کوښته کښې يې په افغانيو بدل کړه. داستاد

داخبرې چې مې واورېدې هغه ته مې وویل: زه ستاد لارښونې سره سم کار کوم اوهمداسې به وکړم، کوټې ته راغلم چې لږ استراحت وکړم. احمد راغی ویې ویل:

استاد لاله! ګلاب پرون راغلی ؤ ما ته یې داسې وویل: بهرام ته ووایه چې سبا لیلیې ته راشه هلته به یو ځای ډوډۍ هم وخورو او خپل ګپ شپ به هم ولګوو، زه اواحمد دواړه لیلیې ته لاړو ګلاب زمونږ راتلو ته دوه سترګې څلور کړې وې، درې واړو ډوډۍ په یوه مېزوخوړله په خپل ګپ شپ کښې مې ګلاب ته وویل: دامتحان نه وروسته شل ورځې رخصتی زه په کندهار کښې له خپلو والدینو سره تېروم.

ګلاب وویل: زه هم در سره ځم احمد راته دخندا په ډکه خوله داسې وویل: استاد لاله زه هم در سره ځم درې واړه دخیره ځو. په یو ځای کښې به رخصتی تېره کړو. درې واړو پدې فیصله وکړه چې رخصتی به یو ځای په خیر تېروو.

تر ازموینې وروسته مو دسفر ترتیبات ونیول، دخپل ټاکلي پروګرام سره سم په ګاډۍ کښې سواره شولو پخپل ټاکلي وخت کوېټې ته راورسېدلو داستاد کورته لاړو، استاد ته مې په تفصیل سره دخپل راتګ هدف څرګند کړ، هغه ډېر خوشحال شه چای مو ور سره وڅښه پنځه زره افغانۍ مې ورته په مخکښې کېښودلې استاد مې راته وویل: زماله خوادې داهم پلار ته ورکړه زما ښه کافي ګذاره کېږي. داستاد په ډېر اصرار مې دهغه خواهش قبوّل کړ، روپۍ مې بېرته په بکس کښې ځای پر ځای کړې، یو موټر مو په ډېره ښه کرایه دکندهاره پورې ونیوه. کندهار ته راورسېدلو موټر مو رخصت کړ دآسونو په دوه اسپه ګاډۍ کښې کښېناستلو احمد مې دکندهار په ټول ښار کښې و ګرځولو، بیاکورته راغلم اوله مور او پلار او کورنۍ سره مې ولیدل تر دمراستۍ وروسته مې پلار راته وویل: زه غواړم چې دا باقي پاتې مځکه خرڅه کړم او ځان ته داسې یو دکان جوړ کړم چې زمونږ دکور میاشتنی خرڅ پکښې ووځي؛ ستانظر پدې کښې څه دی؟ ما ورته وویل: پلاره! خدای مسبب الاسباب دی زه غواړم چې زمونږ

دگروی مځکه ټوله دگروی نه آزاده کړم او هغه چا ته یې په اجاره ورکړم چې دمځکې دروېو په حاصلاتو ستاسې دکور خرڅ پوره شي.

پلار مې هک حیران شه ویې ویل: دادومره روپۍ به ته څنګه پیدا کړې. مورته مې وویل: ته زما لاسی بکس چې زما جامې پکښې ځای په ځای شویدي ماته راوړه! مور مې بکس راووړ پنځه ځلوېښت زره افغانۍ مې تولې دپلار په مخ کښې کښېښودلې او دروپو دټول جریان نه مې خبر کړ او هغه ته مې زیاته کړه زمونږ دګروی مځکه هم پدې روپو خلاصیږي او که ته دخپل ساعت تیری دپاره پرې دکان جوړوې دکان هم پرې جوړیږي. زه صرف دهمدې دپاره راغلی یم چې ستا ټول مشکل حل کړم او خپل تعلیم په ډاډه زړه باندې وکړم.

په کندهار کښې دڅو خورو شپو او په زړه پورې تفریح کولو وروسته بېرته درې واړه راستانه شوو او خپلې مدرسې ته راغلو. په دېوبند کښې مې خپلو زده کړو ته دکورسونو اودرسونو له لارې دوام ورکړ په پښتو، عربي، اردو او انګریزي څلورواړو ژبو یو راز غږېدلی شوم اولیکل مو ښه کولای شول او هم په پنځلسم او شپاړسم دواړو عالي صنفونو کښې او ددیوبند داسلامی مدرسې په ټولو شاګردانو کښې اول نمره یم. خپل تعلیم مې پای ته ورساوه، ماته یې دمولویتوب دممتاز شاګرد شهادت نامه راکړه اوپټکی یې را په سر کړ اوس دمدرسې په ټولو شاګردانو کښې زه یو پېژندل شوی شاګرد یم او ټول شاګردان مې ډېر ښه پېژني. زما داول نمره ګۍ دافتخار په مناسبت ددیوبند دمدرسې دمعمول سره سم دمدرسې دریاست له خوا یو لوی دعوت جوړ شوی ؤ اوددېو بند دمدرسې ټول منسوبین یې راغوښتي وو، دشایعاتو اونشراتو امر او کتابدار راسره په ډېره مینه روغبړ وکړ او مبارکي یې راکړه. دلندن داسلامي مدرسې درئیس له خوا دمدرسې دسرمدرس اود الازهر دپوهنتون له خوا دخدمت کولو بلنې راکړل شوې وې. ددېوبند دمدرسې دخارجي ارتباط دمدیر له خوا پدې محفل کښې ماته راکړل شوې او ماته یې وویل: ستاڅرنګه خوښه ده. دلندن

داسلامي مدرسې سره دسرمدرس په حيث کارکوي که دمصر دقاهرې دالازهر په پوهنتون کښې دمدرس په حيث؟ ما هغه ته وويل: زه به په دې کښې فکر وکړم اويو به پدې دواړو کښې انتخاب کړم او هغه ته مې داسې زياته کړه: اوس خومې دتعليم دوره چې زما په ژوند کښې اوله دوره وه په خير په بريالیتوب سره پای ته ورسوله اوس مې دژوند دويمه دوره شروع کړې زه به پدې کښې خپل ژور سوچ او فکر وکړم اودپوهو تجربه کارو خلکو سره به مشوره وکړم چې زه څه وکړم؟

کوټې ته په لاره روان وم ناڅاپه هغه پخوانۍ خاطره راپه زړه شوه چې زه لوی اسلامی عالم شم اوخلکو ته داسلامي رښتياني تبليغ وعظونه وکړم خپل داسې غوځ پرېکړې تصميم مې ونيو چې لندن اومصر دواړو ته نه ځم خپل وطن ته ځم اودخپلو خلکو په منځ کښې اسلامي تبليغونه او وعظونه کوم او هلته خپله يوه اسلامي مدرسه جوړوم څه چې ما ددېوبند په مدرسه کښې زده کړيدي خپلو خلکوته به يې زده کړم اودا راته ډېره ښه ښکاره شوه او په همهغه ورځ احمد له پوستې نه زما دکوټې داستاد ليک راووړ اودخيرخيريت تر احوال وروسته يې راته ليکلي وو:

زما په شخصي عقيده اوس ستا داهغه مرحله ده چې ستا دپوهې او استعداد نه ستا وطنوال استفاده وکړي، په ليک کښې دی داسې ذکرهم کړی ؤ چې دلته په ځينو اخبارونو کښې دغازي امير امان الله په باره کښې پروپاګنډه روانه ده چې غازي امير امان الله خان کافر شويدی ټول دافغانستان خلک يې په ضد او مخالفت را پاڅېدلي دي او زما څخه مو پدې باره کښې دحقايقو معلومولو دپاره معلومات غوښتلي وو، ماپدې باره کښې په ژوره پلټنه لاس پورې کړ بهرامه بچی! څه شی چې تاته دغازی امير امان الله خان په باره کښې ليکم دادهغه افغانانو دخولې خبره ده چې په کابل کښې اوسېږي، په سياسي مسايلو ډېر ښه پوهېږي، دوی وايي دا اوازه دانګرېزانو له خوا دهغه انګرېز

مشر به داسلام نه ناخبره ملایانو په وسیله دانګریزانو دروپو ورکولو په مقابل کښې په ټول افغانستان کښې خپره شوې ده او داسې هم ویل کیږي چې ځینې انګریزان داسلام په جامه کښې چې دځانونو نه یې ملایان جوړ کړیدي په پښتو او فارسي خبرې کوي افغانستان ته رانتوتلي دي ناخبره تش په نامه ملایانو ته روپۍ ورکوي اودځانونو سره یې ملګري کوي اوپه جوماتونو کښې دامان الله خان په ضد تبلیغ کوي دهغه ملایانو قوارې او قیافې بالکل دانګریزانو په شان دي دا بالکل مطلق انګریزان دي داسلام په جامه کښې یې دځانونونه ملایان جوړ کړیدي چې دوطن ساده او داسلام نه ناخبره ملایان دروپو ورکولو په مقابل کښې دامان الله خان په مخالفت راپاڅوي داسې هم ویل کیږي چې دهمدغه ملایانو په تحریک په مشرقي کښې ځینې قامونه دامان الله خان په ضد راپاڅېدلي دي اوهمداشان دانګریزانو سفارت چې دکابل له باغ بالا سره دی دغلو او رهزنانو یوه ډله دډاکه مارانو په شان راپیداکړې ده چې جرمني ټوپک اوکار توس ورته دانګریزانو دسفارت له خوا ورکړل شویدي اودخیرخانې په کوتل کښې هغه کسان چې شمالي ته ځي یادکابل اونورو ځایونو نه شمالي ته راځي چور کوي اوټول شیان ترې اخلي دځینو کسانونه یې چې نوي کمیسونه اولونګۍ ګانې درلودلې هم اخېستې دي اودغه دانګریزانو دغلو او ډاکمارانو ډله چې مشري یې دحبیب الله بچۀ سقاو باندې شهرت لري دشپې له خوادخپلې ډلې سره دشهرارا پورې راځي اودخلکو کورونه چوروي او ځینې خلک هم وژني چې دکابل په ښار کښې بد امني پیداکړې اوس دشپې له خوا په اسونو سواره ګزمه ګرځي. څو ورځې مخکښې دبچۀ سقاو درهزنې ډلې اودګزمې په منځ کښې یو ټکر او تصادم وشه چې دواړه په شهرارا کښې سره مخامخ شول اودکابل په ښار کښې ټینګه آوازه وه چې دګزمې اوبچه سقاو په منځ کښې دیو ساعت جنګ نه وروسته دوه تنه دګزمې نه مړه شوي دی اوبچه سقاو سخت زخمي شوی او انګریزان یې دخپل سفارت په شفاخانه کښې علاج کوي. داخبره

ځکه درسته وه چې څو ورځې رهزني اوشوکه نه کېدله او ډاکې چانه کولې کراره کراري وه، دغو دوو کسانو ماته دا وویل چې انګرېزان خپل ټول کوښښ کوي چې امان الله خان له منځه یوسي دا ځکه چې دهندوستان خلک له امان الله خان سره ډېره زیاته مینه او محبت لري. دهندوستان تر مسلمانانو نه امان الله خان دهندوانو په منځ کښې ډېر محبوبیت لري او انګرېزانو ته دا ډېره ښه معلومه ده که امان الله خان دوه کاله نور پاتې شي دهندوستان ټول خلک دخپلې آزادۍ داخیستلو دپاره دانګرېزانو په ضد راپاڅېږي او انګرېزان دهندوستان نه وباسي انګرېزان په دې ډېر ښه پوهېږي چې امان الله خان دهندوستان دخلکو دآزادۍ سخت ملاتړ او طرفداري کوي اودهندوستان له خلکو سره دهغوی په آزادۍ کښې بې ساري مرسته کوي نو دانګرېزانو دپاره یوازینۍ لاره همدا پاتې ده هرڅومره چې ژر ممکنه وي چې د امان الله خان حکومت ته سقوط ورکړي.

انګرېزانو ته دادلمر پشان رڼا ده که دهندوستان خلکو دخپلې آزادي خواهۍ غږ پورته کړ غازی امان الله خان یې غږ ته لبیک وایي او هرډول مرسته ورسره کوي. نو انګرېزان شیطانان په دې ښه پوهېږي چې د افغانستان خلک اکثراً ناخوانه او بې سواده دي او په سلو کښې به پکښې یو دسواد خاوند هم پیدا نشي دعلم اومعرفت نه هېڅ خبر نه لري څه چې ورته ملایان وایي هغه په پټو سترګو مني او هماغه شان کوي اوپدې خبره یې ماته ټېنګار او تأکید کاوه چې دغلو دډلې مشر ته یې اته سوه جرمني ټوپک دکارتوسو دصندوقونو سره ورکړي دي او ډېرې زیاتې روپۍ یې هم ور کړیدي او داسې وعده یې ورسره کړېده هرڅومره خلک چې تاسې دخپل ځان ملګري کولای شئ دمیاشتې پنځه سوه روپۍ تنخواه، ټوپک او کارتوس مونږ تاته درکوو ته یې هغوی ته ورکړه چې دامان الله خان په مخالفت اوضد راپاڅي. حبیب الله بچۀ سقا دخپلې منطقې ټولو خلکو ته داخبره وکړه چې امان الله خان کافر شویدی راځئ چې ټول یې په ضد جګړه شروع کړو اود کابل نه یې وباسو! خلکو ورته وویل: ډېره ښه شوه له تاسره

مونږ پدې شرط ملګري کېږو چې مخکښې به ټوپک او کارتوس راکوې او دهرې میاشتې په آخر کښې به هرسړي ته پنځه سوه روپۍ ورکوې. داسې ټینګه آوازه ده چې اوس د حبیب الله سره اته سوه کسان دي او ورځ په ورځ ورسره د شمالي د کوهدامن خلک ملګري کېږي او لښکرې ډېرېږي. دانګرېزانو د ملایانو سخته پروپاګنډه عوامو ته داده چې امان الله خان کافر شوی دی نو عام خلک له امان الله خان سره نه ملګري کېږي له بچه سقاو سره ملګري کېږي. په خاص ډول د کوهدامن خلک.

کله چې ما دخپل استاد ټول لیک ولوسته نو تصمیم مې ونیوه او ټینګه اراده مې وکړه چې د خپلو پېژندل شوو کسانو سره پدې باره کښې خبرې وکړم اوزما ملاتړ وکړي. نو د الغازی امیر امان الله خان په طرفدارۍ مې لومړی د جمعې تر لمانځه وروسته د دېوبند د اسلامي مدرسې په جامع جومات کښې د امام په اجازه خلکو ته وویل:

زه خبر شوی یم چې انګرېزانو د غازي امان الله خان په ضد سخته زهر جنه پروپاګنډه شروع کړېده او غازي امان الله خان ته یې د کافر خطاب کړی دی. زه وطن ته ځم د خلکو په منځ کښې د امان الله خان په طرفدارۍ وعظونه او اسلامي تبلیغ کومه چې امان الله خان پاک سوچه مسلمان دی که څوک ستاسې په منځ کښې داسې وي چې له ماسره په دې لاره کښې ملګرتوب کوي او د انګرېزانو د باطلو خبرو د ردولو د پاره له ماسره پدې لاره کښې مرسته کوي ما ته دې ووایي.

د دېوبند د اسلامی مدرسې یو سلو شلو تنو مولویانو په لومړي ځل له ما سره د خپلې ملګرتیا اعلان وکړ ټولو په دې موافقه وکړه چې یو اسلامي مشورتي انجمن دې جوړ شي رئیس دې وټاکل شي د افغانستان د غازي امیر امان الله خان په طرفدارۍ دې د اسلامي تبلیغ او وعظ یو انجمن جوړ شي د انجمن مشر؛ مرستیال او د منشي مرستیال مو وټاکل، زه د منشي مرستیال شوم منشی په

خپل کتاب کښې د یو سلو شلو تنو نومونه ولیکل او د دغو یوسلو شلو تنو دنومونو لست یې ماته هم راکړ. دراتلونکې جمعې په ورځ چې لمونځ وشه ټول خلک بېرته خپلو کاروته لاړل دامان الله خان طرفداران مولویان یو سلو شل تنه پاتې شول منشي له ما څخه هغه لیک وغوښت چې ماته د کوټې استاد رااستولی ؤ ما لیک منشي ته ورکړ، منشي ټول لیک حاضرینو ته ولوسته دمشورتي انجمن مشر اومرستیال او نوروغړو داسې فیصله وکړه چې داوس نه دې هرڅوک چې په رضا کار ډول داسلامي تبلیغ دپاره افغانستان ته ځی خپل تیاری دې و نیسي اودخپل مصرف روپۍ دې هم دځان سره واخلي اوپه یوه هفته کښې دې منشي ته خبر ورکړي اودخپل اورګاډي د ټکټ روپۍ دې هم ورکړي اوکه له چا سره روپۍ نه وي یو له بل سره دې قرض حسنه وکړي.

لسو کسانو ته به څه معذرت پیدا شوی ؤ یو سلو لسو کسانو منشي ته داورګاډي دټکټ روپۍ ورکړې، په ټاکلي وخت موږ یوسلو لسو کسانو دکوټې داورګاډي ټکټونه واخیستل کوټې ته ورسېدلو چې داورګاډي نه راکوز شولو څرپولیسان راغلل ویویل: تاسې ټول یوځل تانې ته لاړ شئ هلته ستاسې نه څه پوښتنې کېږي. دپوښتنو په بهانه یې څو ورځې په عمومي تانه کښې وساتلو وروسته بیا یې مرکزي جېل ته واستولو څه کم دوه میاشتې یې راباندې په جېل کښې تېرې کړې. بیا یې راخلاص کړو داهغه وخت دی چې امان الله خان دکندهار نه راغلی دی اودکندهار نه بېرته دکابل په خوا ځي اودحبیب الله بچه سقاو سره جنګ کوي. څرنګه چې موږ یو سلو لس کسه اسلامي مبلغان دخپل وعظ اوتبلیغ دپاره دافغانستان خاورې ته داخل شوو خبر شولو چې امان الله خان پرون دافغانستان دخاورې نه خارج شوی دی.

دانجمن رئیس موږ ته وویل: اوس دومره راغلی یو باید اوس خپل اسلامي تبلیغ او وعظونه وکړو او د کندهار په جوماتونو کښې مو تبلیغ شروع کړ د انجمن مشر څرګنده کړه: موږ باید په هغو ځایونو کښې تبلیغ وکړو چرته چې په

امان الله خان دکفر فتوی صادره شوېده .

دکابل په طرف موحرکت وکړ اوکرار په کرار مو کلي په کلي دخپل اسلامي تبليغ لمنه وغوړوله دغزني په ښار او خوا وشا علاقه کښې مو په زړه پورې تبليغونه شروع کړه اوپه خلکو کښې يې ډېر ښه تاثېر وکړ خو همدا يوه خبره ټولو راته کوله امان الله خان نشته دی موږ څه وکړو ؟ داسلامي انجمن مشر؛ مرستيال او غړو يې يوه جلسه جوړه کړه اوپه جلسه کښې يې داسې فېصله وکړه چې امان الله خان اوس په هندوستان کښې دی يو ليک دې هغه ته وليکل شي اوشپږ تنه مولويان دې په هغه پسې لاړ شي او هغه ته دې زموږ داليک ورکړي اوکندهار ته دې راشي موږ به ورته ځو ورځې په کندهار کښې انتظار وباسو اودکندهار دخلکو سره به بيا دکابل دراتګ يو ځايي ګډ تصميم ونيسو پدې مو فيصله وکړه بېرته کندهار ته راغلو اوليک مو وليکه شپږ تنو مولويانو ته مو ورکړ چې په چټکتيا باندې هندوستان ته لاړ شي يوه هفته وروسته هغوی بېرته راغلل داسې يې وويل: چې امان الله خان دهندوستان نه خارج شويدی داسې ويل کېږي چې ايطاليا ته رسېدلی دی. داسلامي انجمن مشرانو غونډه وکړه داسې فيصله يې وکړه داسلامي تبليغ منشي دې امان الله خان ته يو ليک وليکي دکندهار مشران دې هم لاس ليک کړي چې امان الله خان بېرته کندهار ته راشي اوپدې ټينګار وکړي چې داليک دې امان الله خان ته په لاس ورکړ شي منشي ليک وليکه اودکندهار مشرانو امضاء وکړه. داسلامي تبليغ دانجمن غړي دکندهار نه بېرته هندوستان ته رخصت شول.

ما دانجمن مشر ته وويل: زه هم دلته پاتې کېږم. دانجمن مشر زياته کړه دامان الله خان ليک منشي ته ورکوم چې هغه ته يې په لاس ورکړي. خدای دې وکړي چې امان الله خان زموږ او دکندهار دمشرانو خبره ومني اوبېرته راشي چې دکابل په لوري يو ځای حرکت وکړو.

ما يو ليک احمد ته وليکه اودټولو حالاتو نه مې خبر کړاو دامې ورته هم

ولیکل چې زه اوس دلته ددې دپاره پاتې شوم چې یوه اسلامي مدرسه جوړه کړم او اسلامي تعلیم طالب العلمانو ته ورکړم او د احمد دلیک سره مې د احمد پلار ته هم یو لیک ولیکه چې زه په کندهار کښې یوه اسلامي مدرسه جوړول غواړم تاسې که له ماسره د مدرسې په جوړولو کښې مرسته کوئ خپله مرسته مو احمد ته راولېږئ چې احمد یې بیا زما په پته کندهار ته راواستوي. په لومړي ورځو کښې مې د هرې جمعې له لمانځه وروسته د کندهار په جامع جوماتونو کښې خلکو ته اسلامي تبلیغ او وعظونه کول.

ماچې په جامع مسجدونو کښې د جمعې له لمانځه وروسته د خلکو د پاره څو اسلامي تبلیغونه او وعظونه وکړل د خلکو په منځ کښې یې خورا ښه تأثیر وکړ او د یوې ورځې نه بلې ورځې ته مې له خلکو سره ښه شناخت پیدا کېده. یوه ورځ د جمعې له لمانځه نه وروسته چې تبلیغ او وعظ مې وکړ خلکو ته مې وویل: زه غواړم چې یوه اسلامي مدرسه جوړه شي چې طالب العلمانو ته اسلامي تعلیم ورکړم تجارانو وویل: موږ حاضر یو چې د دغه اسلامي مدرسې په جوړولو کښې در سره په زړه پورې ښې مرستې وکړو او دا اسلامي مدرسه په داسې مناسب ځای کښې جوړه شي چې ټول خلک ورته په آسانۍ سره رسېدګي کولی شي او هېڅ ته پکښې تکلیف نه وي، شتمنو او تجارانو دروپو ورکولو وعده وکړه او د پرو زیاتو ځوانانو او خیرخواه کسانو رضاکارانه د مدرسې د جوړولو په کار کښې خپل چمتووالی او تیاری ښکاره کړ او د رضاکارانه کارکولو د ټهنګې مرستې وعده یې ورکړه.

خلکو ته مې وویل: که ستاسې خوښه وي او ما ته اجازه راکوئ زه به ددې کار د پاره یو پلان او نقشه جوړه کړم ټولو خلکو زما خبره ومنله. ماداسې پلان جوړ کړ:

د مدرسې د جوړولو د پاره دې د ښار څو مشران چې د خلکو په منځ کښې په امانت دارۍ شهرت لري یوه کمیټه جوړه کړي چې دغه کمیټه یو رئیس یو

مرستیال یو منشي او یو دمنشي مرستیال او یو خزانه دار او یو مرستیال اوڅلور تنه نور فعال غړي چې دمدرسې دجوړولو دکارونو دښه تنظیم دپاره کار وکړي.

پخپل تاکلي وخت دښار دمشرانو له خوا لس کسیزه کمېټه جوړه شوه دښار شتمنو او تجاراتو دلومړي ځل دپاره اتیا زره افغانۍ خزانه دار ته ورکړې دمدرسې دجوړولو دکار دپاره سلو تنو رضاکارانو نامنویسي وکړه. هرڅوک چې دمدرسې دجوړېدلو نه خبرېدل دخپل طاقت پورې به یې ور سره نغدي مرسته کوله.

دمدرسې دجوړولو دکمېټې له خوا منظم دفتر جوړ شو او په ډېر سرعت باندې دمدرسې دجوړولو کار پیل شو.

داحمد پلار دمدرسې دجوړولو دپاره دپنځوس زره کلدارو چک مرسته احمد ته رالېږلې وه احمد دخپل لیک سره دپلار چک زما په پته راستولی ؤ ماته چې راورسېده مادا احمد دپلار دپنځوس زرو کلدارو چک دکمېټې رئیس ته ورکړ او هغه ته مې ځینې معلومات هم په دې باره کښې ورکړل. زما دې اقدام د کمیټې رئیس او غړي اوهرڅوک چې به زما ددې اقدام نه خبرېدل ماته به یې شاباس ویل او تحسین به یې راکولو، په اتو میاشتو کښې مدرسه جوړه شوه په مدرسه کښې یوه لویه مناسبه کتابخانه جوړه شوه. دیني ضروري کتابونه موهم خرېداري کړه د کتابخانې په الماریو کښې مو ځای په ځای کړه دلومړي ځل دپاره مې لومړی او دویم ټولګي جوړ کړه چې په اول صنف کښې سل تنه او په دویم صنف کښې اتیا تنه وو، رضاکاران معلمان هم پیدا شول مدرسه شروع شوه ما به په هفته کښې اول او دویم صنف ته دوه ورځې درس ورکولو او ددواړو صنفونو دشاګردانو مراقبت به مې هم کولو. دهغه لیک ځواب چې داسلامي مبلغانو او واعظانو اودکندهار دمشرانو له خوا غازي امان الله خان ته لېږل شوی ؤ امان الله خان یې پخپله په څلورو پاڼو کښې ځواب لیکلی ؤ چې لنډیز یې دادی:

ستاسې دمهربانۍ نه ډ ک لیک راورسېده ډېره مننه او شکریه کوم. زما دکوچنیوالي نه دا هیله او آرزو وه چې گران وطن افغانستان خپلواک او داستقلال خاوند شي. افغانانو خپل استقلال دانگرېزانو نه دخپلو وینو په قیمت اخېستی دی. افغنستان به تل آزاد وی او دافغانستان استقلال به دلوی خدای په فضل باقي وي زه له تاسي سره په دې عقېده اومفکوره کښې ځان شریک گڼم چې لیکلی مو دی:

انگرېزان خپل ټول ناوړه زهرجن تبلیغات ددې دپاره کوي چې هندوستان دهغوی دوامداره مستعمره پاتې شی او دهندوستان خلک تر ډېره وخته پورې خپل د آزادي خواهۍ غږ دانگرېزانو په ضد پورته نکړی ماهېڅکله دانه غوښتل او اوس هم نه غواړم چې افغانان دې زما دسلطنت دبقا دپاره دیو بل سره په قتل وقتال اخته وي او د سرو وینو رودونه دې وبهېږي او داسې ورور وژنه دې دوام پیدا کړي نوځکه زه دافغانستان نه راووتم ، گرانو عزیزانو زما دسلطنت دبقا دپاره دافغانانو ورور وژنه زما وجدان نه منله سخت زجر به یې راکولو اوزه به خپل وجدان محاکمه کولم. یوازې دافغانستان نه زه اوزما کورنۍ راوتلي دي دافغانستان ملت اواستقلال دافغانستان له ملت سره هلته پاتې دي.

دادیو خپلواک ملت حق دی هرڅوک چې دخپل افغان ولس دمشرتابه دپاره ټاکي دادهغوی منلی او قانونی حق دی اودهغوی خپله خوښه ده ځکه چې اوس افغانان خپل استقلال لري او هېڅوک دهغوی نه دا استقلال نشي اخېستلی. داحمد پلار ته مې لیک واستولو داسلامي مدرسې دجوړولو دمرستې مې دهغه څخه دځان اودکندهار دمشرانو له خوا شکریه وکړه.

مدرسې ډېر ښه رونق پېداکړ اوټول طالب العلمان په ډېر شوق سره خپل تعلیم کوي. ماپه مدرسه کښې داسلامي تبلیغ اووعظ یو مرکز هم جوړ کړ دکندهار دښار اوداطرافو عالمان مې راوغوښتل اوهغوی مې دخپل نظر نه خبر کړل اوداسې پېشنهاد مې ورته وکړ : که ستاسې خوښه اورضا وي. زماپه نظر

یو اسلامي مرکز په دې مدرسه کښې جوړول ډېر ضرور دي. ټولو حاضرینو عالمانو زما نظر تائید کړ او اسلامي مرکز مو د خلکو دافکارو دروښانولو دپاره جوړ کړ. رئیس او معاون اومنشي مو ورته انتخاب کړل. داسلامي مرکز رئیس؛ معاون او ټولو غړو په مطلق اکثریت باندې زه رئیس اودرئیس مرستیال وټاکلم منظم یو دفتر مې جوړ کړ اودرې تنه نور مرستندوی عالمان مو هم دکارونو دښه کولو دپاره تعیین کړل. په لومړي ځل اسلامي مرکز شل تنه غړي درلودل یوه میاشت چې تېره شوه دغړو شمېر یې یوسلو شلو تنو ته ورسېده او ورځ په ورځ دغړو شمېر زیاتېده چې درې مېاشتې وروسته دغړو شمېر یې څلور سوه څو تنو ته ورسېده. چې دهلمند؛ فراه او هرات ځینې عالمان یې هم غړي شول. حتی چې دغزنی؛ کابل او جنوبي عالمانو هم غړیتوب درلود. څه وخت وروسته دکوېټې داستاد درالېږلي لیک له مخې کوېټې ته لاړم استاد مې ولېده استاد دهندوستان ټول اخبارونه راکړل چې په ټولو کښې داسې لیکل شوي وو:

سپه سالار محمد نادر خان دورونو سره دفرانس نه راغلی دی وایي چې له حبیب الله سره دجنګ دپاره کابل ته ځم، حبیب الله دکابل نه شړم بېرته کابل ته امان الله خان راولم! په جوماتونو او هرځای کښې همدا یوه خبره کوي چې زه پاچایي دامان الله خان دپاره نیسم نه دځان دپاره. دهندوستان خلک چې دمحمد نادر خان دخولې نه داخبره اوري له هغه سره دملګرتیا اعلان کوي خپلې روپۍ ورکوي اوډېره زیاته چنده ورته ورکوي دهندوستان ښځې په چنده کښې ورته خپل زېورات ورکوي. زه بېرته دکوېټې نه کندهار ته راغلم او داسلامي مرکز رئیس؛ مرستیال او غړو ته مې داټول حالات په تفصیل سره بیان کړل او زیاته مې کړه: تاسې داسلامي مدرسې کاروبار ته دوام ورکو ئ ستاسې په اجازه زه یو ځل هندوستان ته ځم چې دحالاتو نه پوره ځان خبر کړم اوداسلامي مدرسې دپاره به هم دچندې امکانات برابر کړم ټولو زما دا خبره ومنله کوېټې ته راغلم دوه شپې مې له استاد سره وکړې بیامې دځان دپاره داسې یو پلان جوړ

کړ:

لومړی، به د دیوبند اسلامي مدرسې ته لاړ شم ځینې استادان او دوستان به هم هلته ووینم او دهغه ځای نه به ځان ته پته ولګوم چې محمد نادر خان دهندوستان په کوم ښار کښې دی، د دیوبند اسلامي مدرسې ته په اورګاډی کښې ولاړم احمد په کوټه کښې چای څښلو زه چې یې ولیدم ډېر زیات خوشحال شه روغبړ یې راسره وکړ وییل: استاد لاله ډېر زیات مې یاد یدلې هغه مدرسې ته لاړه، زه کتابخانې ته راغلم چې کتابدار ووینم او دهغه نه دحالاتو پوښتنه وکړم. دروغبړ نه وروسته کتابدار پوښتنه وکړه: څرنګه راغلی یې؟ ماهغه په ټولو حالاتو پوه کړ. هغه راته په مسکا باندې داسې ښکاره کړه:

نادرخان په ډیلي کښې دی بیاد کابل په لوري روانیږي! ما تصمیم ونیوه چې دوه درې تنه مولویان هم له ځان سره ملګري کړم او ځان ډیلي ته ورسوم، دوه کسانو نورو آشنایانو عالمانو ته مې چې له موږ سره داسلامي تبلیغ او وعظ دپاره کندهار ته راغلي و وویل: هغوی دواړو راسره موافقه وکړه په اورګاډي کښې مو دډیلي په طرف حرکت وکړ په خپل ټاکلي وخت ډیلي ته ورسېدلو داورګاډي په سټېشن کښې چې دګاډي نه راښکته شوو دډیلي دښار اخبارخرڅوونکو په خپلو غږو کښې ګډې ګډې اخبارونه نیولي دي او یو یو خپل اخبار یې په لاس کښې جګ نیولی دی داسې اعلانونه په ډېر شوق په جګ آواز باندې کوي:

نن دجمعې له لمانځه نه وروسته محمد نادر خان دډیلي په جامع جومات کښې خلکو ته خپل ډېر مهم تقریر کوي. موږ خپل ځانونه دډیلي جامع جومات ته ورسول دسرکار له خوا دجومات په دروازه کښې سرکاري خلک ولاړ وو هرڅوک چې به جومات ته ننواته تالاشي کولو به یې، ښه به یې لټولو بیا به یې جومات ته دننوتلو اجازه ورکوله.

په جومات کښې دننه او بهر خواوشا ځایونو کښې دسپه سالار محمد نادر

خان دپاره ښه حفاظتي دامن و امان دځارنې ژور پروګرام جوړ شوی ؤ ، زموږ تالاشي یې واخیستله بیا یې جومات ته دننوتلو اجازه راکړه. له موږ سره ددیوبند دمدرسې دوه کارډونه هم وو ، چاچې زموږ تالاشي واخیستله او زموږ دمولویتوب کارډونه یې ولیدل دجامع جومات پېش امام ته یې وروپېژندلو دهغو په خوا کښې کښېناستو ، زمونږ دراتګ پوښتنه یې وکړه ، ما ورته ټول هرڅه په ډاګه کړل. دډيلي دجومات پېش امام وویل: نن دجمعې دلمانځه نه وروسته سپه سالار محمد نادر خان دهندوستان خلکو ته خپل یو مهم تقریر کوي که په تاسو کښې یو تن هم دامان الله خان په باره کښې تقرير کوئ ما ته یې ووایئ چې زه یې نوم دخپلو مقررینو په لست کښې ولیکم. ما ورته خپل نوم ورکړ ، دجمعې تر لمانځه وروسته حاضرینو ته چې دیو نیم زر کسانو په شاو خوا کښې وو سپه سالار محمد نادر خان داسې وویل: ورونو لومړی تاسې حاضرینو او دهندوستان ټولو خلکو ته خپل سلامونه او احترامات رسوم چې زما دتقرير داوریدلو دپاره دلته راغلي یاست ددې څو خبرونه یې وروسته دخپل جیب نه یو لیکل شوی کاغذ راوویست وې لوست اوهغه خبرې یکښې وې چې اخبارونو خبرې کړې وې اوله خلکو نه یې مرسته وغوښته.

دمحمد نادر خان تقرير ټول حاضرین په جم و جوش راوستل اودهندوستان دټولو خلکو په وکالت یې دهرډول مرستو او چندو ټینګه وعده وکړه اودمحمد نادر خان دکابل سلطنت نیول دغازي امان الله خان دپاره یې دلوی خدای په دربار کښې دعاګانې وکړې اودسپه سالار محمد نادرخان دغه اقدام یې ډېر ډېر وستایه اومحمد نادر خان یې دغازی امان الله یو صادق وفادار ، راستکار خدمتګار وباله. دڅو تنو مقررینو پسې دجامع جومات امام زما نوم یاد کړ اودتقرير دکولو بلنه یې راکړه. ما خپل لنډ جامع تقرير په انګریزي وکړ لومړی مې حاضرینو ته خپل ځان معرفي کړ چې زه افغان یم ددیوبند داسلامي مدرسې نه فارغ شوی یم بیا مې یو لنډ اسلامي تبلیغ وکړ اوپه پای کښې مې دمحمد

نادرخان دغه نېک اقدام وستايه اودلوی خدای څخه مې دهغه ددغه نېک اقدام دبريالیتوب‌ونو دعاوکړه اودهندوستان دټولو خلکو نه مې هیله وکړه چې له محمدنادرخان سره خپله هر ډول مرسته جاري وساتي چې په خپل پلان کښې بريالی شي اودسلطنت مقام غازي امان الله خان ته تسلیم کړي ماچې خپل تقرير پای ته ورسولو دمحمد نادرخان يو پوځي محافظ انضباط راغی ماته يې وويل: سپه سالار محمد نادرخان تاغواړي يوځل ورشه.

زه چې هغه ته ورغلم په دواړو مخونو يې مچې کړم بيايې هغه محافظ انضباط ته وويل: په هغه سرکاري مهمانخانه کښې چې زه اوسېږم بهرام نن ماځيگر يوځل راوله. پخپل تاکلی وخت محافظ انضباط دمحمد نادرخان ځای ته بوتلم. هغه زما څخه دکندهار دخلکو پوښتنه وکړه ماهغه ته په مختصر ډول دکندهار دخلکو دحالاتو په باره کښې خبرې وکړې. هغه وويل: زه هم داسې خبرونه لرم څرنگه چې تاسې وويل اوزياته يې کړه: دوه ورځې وروسته زما پروگرام دلته پای ته رسېږي يوه ورځ پروگرام په لاهور کښې لرم اوبيا راساً پېښور ته ځم بيا دهغه ځای نه خپل پروگرام جوړوم افغانستان ته ځم. ستاپروگرام څه دی؟

-له ماسره دلته نور ملگري دي زه به له هغوی سره خپل پروگرام جوړ کړم.

هغه داسې وويل: که ملگري دې رخصتوې اوپېښور ته ځې بيابه دې هلته ووينم.

ډېره ښه شوه ملگري به رخصت کړم. ملگري مې رخصت کړل دهغوی نه مې شکريه وکړه لاهور ته راغلم. په لاهور کښې هم همدا اعلانونه وو.

دوه ورځې مې دلاهور په ښار کښې تېرې کړې، دپېښور ښارته ورسېدم هلته مې ډېلي او لاهور په شان دخلکو په منځ کښې دامان الله خان په طرفدارۍ جنبش ولېد چې په اخبار کښې ليکل شوي وو دپېښور دښار اودپېښور دعلاقې اوسرحد آزاد خلک دمحمد نادر خان راتگ ته په انتظار

سترګې په لار دي او د محمد نادرخان راتګ ته د پاچا خان عبدالغفار خان پارټۍ او د نورو پارټیو غړو د محمد نادرخان د ښه استقبال د پاره جلوسونه راوښکلي وو او داسې په ډاګه معلومېدله چې د سرکار له خوا له نومورۍ سره مرسته کېږي او د هغه د پاره منظم پروګرامونه جوړېږي. د خپل ټاکلي پروګرام سره سم محمد نادرخان پېښور ته راورسېده، داورګاډی په سټېشن کښې ورته عظیم الشان جلوسونه راوتلي وو، زه هم په دغه جلوس کښې ولاړ وم د جلوسونو مشرانو هغه ته ښه راغلاست وویل. بیا وروسته هغه په یو سرکاري موټر کښې کښېناست سرکاري مهمانخانې ته لاړ او په اخبارونو کښې هماغه شان اعلانونه شوي څرنګه چې د ډیلي او لاهور په اخبارونو کښې شوي وو یو پکښې دا خبرۀ چې سبا محمد نادرخان په وزیر باغ کښې خلکو ته تقریر کوي. وزیر باغ ته په زرونو خلک د محمد نادرخان د تقریر داورېدلو د پاره راغلي وو، سپه سالار محمد نادرخان ورته هماغه شان خبرې وکړې چې د ډیلي او لاهور خلکو ته یې کړې وې.

داڅو لنډې خبرې خان عبدالغفار خان محمد نادرخان ته وکړې داسې یې وویل: د صوبه سرحد ټول خلک تا ته ښه راغلاست وایي داچې تاسې عزم او اراده کړې ده چې د کابل سلطنت د حبیب الله نه ونیسئ او د سلطنت مقام امان الله خان ته تسلیم کړئ او د ځان د پاره سلطنت نه نیسئ موږ ستا د وفادارۍ او ایماندارۍ د غه نېک اقدام ستا یو او بریالیتوب مو د لوی خدای نه پدې لاره کښې غواړو.

د صوبه سرحد ټول خلک هر ډول ځاني او مالي قربانۍ ورکولو ته حاضر دي او د لوی خدای نه تا ته پدې لاره کښې توفیق غواړو! چې د حاضرینو له خوا د الله اکبر په نارو استقبال شه، په اخبارونو کښې بیا داسې لیکل شوي وو چې د سپه سالار محمد نادرخان پسې د جنوبي د خلکو مشران راغلي دي د ځانونو سره یې دوه ورځې وروسته جنوبي ته بیایي او د جنوبي مشران هم ور سره یو ځای په سرکاري مهمانخانه کښې استوګنه لري.

زه مائیگر سرکاري مهمانخانې ته لاړم په يوه ټوټه کاغذ باندې مې همدومره وليکل: زه مولوي بهرام دکندهار اوسېدونکی ستاسې نه رخصت اخلم کندهار ته ځم. محمد نادرخان ماته داسې وويل: دکندهار ټولو خلکو ته زما سلامونه اوتعظيمات ورسوه او زياته يې کړه: ماپسې خو اوس دجنوبي خلکو خپل مشران راليږلي دي چې دجنوبي دلارې نه له حبيب الله سره دجنګ تياری ونيسم چې حبيب الله دکابل نه و شړم اوامان الله خان راولم اودايې راته هم وويل: څه خبرې چې تازما دخولې نه اورېدلې دي زما دسلامونو سره به يې يو ځای دکندهار خلکوته رسوې. محمدنادرخان ته مې اطمينان او ډاډ ورکړ چې ستادخولې ټولې خبرې به ستادسلامونو سره يو ځای دکندهار خلکو ته ورسوم! دمحمد نادرخان نه مې رخصت واخيسته کندهار ته راغلم داسلامې کمېټې غړې زمادراتګ نه خبر شوي وو ټول راغلل دشپې تر ډېره وخته پورې مو له هغوی سره خبرې وکړې اوهغوی ته مې دخپلو سترګو ليدل شوي حالات بيان کړل. سبا مدرسې ته لاړم او دمعمول سره سم مې دمخکښې پشان شاګردانو ته په تعليم ورکولو پيل وکړ. دکابل نه؛ چې به کله څوک کندهار ته راغی اومابه دکابل دحالاتو پوښتنه ترې وکړه داسې به يې ويل: دجنوبي خلک ټول له محمد نادرخان سره ملګري شوي دي او يو لوی لښکر يې جوړ کړی دی دکابل په طرف راروان دي چې کابل ونيسي څو ورځې وروسته داسې اوازه خوره شوه چې دمحمد نادرخان دجنوبي لښکر کابل محاصره کړی دی او سخت جنګ په کابل روان دی. بله ورځ داسې يو خبر راورسېده چې حبيب الله بچه سقاو دارګ نه تېښتېدلی دی او دمحمد نادرخان لښکرې دکابل ښارته ننوتلې دي او ارګ يې نيولی دی. دکندهار دښار مشرانو دوه تنه ددې خبرو معلومولو دپاره کابل ته واستول چې په کابل کښې څه حال احوال دی؟ هغه دوه کسان بېرته دکابل نه راغلل دکندهار خلکوته يې داسې وويل : محمد نادرخان په کابل کښې پاچا شويدی. دجنوبی دخلکو لښکر چې په ښار کښې چور کولو محمد

نادرخان ښېرته ټول جنوبي ته لېږلي دي او داسې يې ورته ويلي دي: اوس ټول خپلو کورونو ته لاړ شئ هروخت چې تاسې ته بيا ضرورت پيداشه ښېرته به مو راوغواړم. خلکو ورسره داومنله اوس د کابل په ښار کښې پوره امن و امان دی د کابل دامنيت د ښار د ساتلو د پاره پوره په منظم ډول ښه ترتيبات نيول شوېدي او دا يې هم وويل چې دافغانستان د ټولو ولايا تو نه د قامونو مشران کابل ته راځي او له محمد نادرخان سره خپل بيعت کوي. يوه ورځ په کندهار کښې دجمعې له لمانځه نه وروسته يوه مشر خلکو ته داسې وويل: دافغانستان دولايا تو ټول خلک کابل ته ځي محمدنادرخان ته مبارکي ورکوي او بيعت ور سره کوي ځانله تر اوسه پورې د کندهار خلک نه دي تللي. يويل قامي مشر داسې وويل: د کندهار دهرقام له مشرانو نه دې په دې باره کښې مشوره اومصلحت واخيستل شي چې څه وايي فيصله په دې وشوه چې پنځلس تنه قامي مشران او پنځه تنه نور عالمان دې کابل ته لاړ شي زه يې هم په دې پنځو عالمانو کښې راوستلم . د کندهار دخلکو په وکالت موږ شل کسان کابل ته راغللو په هغه دولتي مهمانخانه کښې دېره شولو چې ددولت له خوا جوړه شوې وه. په دې دولتي مهمانخانه کښې دافغانستان دولايا تو نور کسان هم وو چې دمهمانخانې دمشر له خوابه دهرقام مشرانو په خپل نوبت له محمدنادرخان سره ملاقات کولو. دمهمانخانې مشرموږ ته وويل: سبا دخيره ستاسې نوبت دی چې سلطنتي ارګ ته لاړ شئ اوله محمد نادرخان سره ملاقات وکړئ. موږ سبا دمحمدنادرخان په حضور مشرف شولو. دډوډۍ دخوړلو نه وروسته يې دکندهار مشرانو ته داسې وويل: اوس دخدای په فضل په ټول افغانستان کښې امنيت قايم دی او ورځ په ورځ حالات ښه کېږي ديو سات دخبرو کولو نه وروسته د کندهار يو مشر چې موږ دخبرو کولو دپاره دمشر په صفت ټاکلئ و او په دې مو مشوره اوفيصله کړې وه چې محمدنادرخان ته به داسې وايې: اوس خوموبچهٔ سقاو حبيب الله د کابل نه وشاړه تاسې څه وخت امان الله خان ښېرته راولئ

اودکابل دسلطنت مقام ورته تسلیموئ! هغه ددې خبرې په اورېدلو یو څو دقیقې ساکت او خاموش پاتې شه بیا یې داویو یو گېلاس وڅښه بیا یې په ډېرمهارت سره داسې وویل: خدای به هرڅه په خپل وخت سره ډېر ښه وکړي. ماورته وویل: اوس همدا ډېر ښه وخت دی چې امان الله خان ته سلطنت تسلیم کړې او خپله وعده سرته ورسوې. زما په دې خبره دکندهار مشرانو ټولو په یو غږ زما خبرې تائېد وکړ اوپه تکرار یې ورته دا خبره بیاهم وکړه.

محمد نادر خان یو دوه ټوخې وکړل نوکریوال محافظ راغی موږ ته یې وویل: ستاسې وخت پوره شوېدی اوس دنورو ولایاتو دمشرانو نوبت دی موږ رخصت واخیسته، کندهار ته راغلو. ما دخپلې اسلامي مدرسې د تعلیم ورکولو اودمدرسې د کارونو په ښه تنظیم کښې خپلې هلې ځلې کولې چې یوه ورځ دکندهار امنیه قوماندانی راپسې مدرسې ته یو ضابط او دوه تنه عسکر راولېږل چې دکابل ددارالعلوم له خوا موږ ته رسمي مکتوب راغلی دی چې مولوي بهرام دکابل دارالعلوم ته راواستوه چې په دارالعلوم کښې درئیس په صفت مقرر شي. ماورته وویل: زما ددارالعلوم ریاست نه دی پکار زه په خپله مدرسه کښې کار کوم. بیا قوماندان داسې وویل: دکابل دامنیه قوماندانی له خوا موږ ته رسمي مکتوب راغلی دی چې فوراً مولوي بهرام دیو محافظ سره تحت الحفظ کابل ته راولېږه ! ماچې هرڅومره اصرار وکړ چې زه کابل ته نه ځم زه دلته اسلامي مدرسه لرم شاگردانو ته اسلامي تعلیم ورکوم. قوماندان راته وویل: زه مجبور اومکلف یم چې دامر تعمیل وکړم او تادکابل قوماندانی ته تحت الحفظ دیو محافظ سره ولېږم. زه مجبور شوم ورته ومې ویل: زه ستا دزور داجبري ناروا امر نه منم ! زما ددې خبرو په اورېدلو قوماندان یو ضابط ته امر وکړ چې دا دوسیه واخله او مولوي بهرام په توقیف خانه کښې وساته او سبایې دکابل قوماندانی ته ددې مکتوب او دوسیې سره تسلیم کړه او د تسلیمی مکتوب یې بېرته راوړه ، ماته د قوماندان دا خبرې بالکل نا سلا او نوې دي چې

دا څه لیونی خبرې کوي. زما خبرو هیڅ فایده نه درلوده، زولنې یې راواچولې دوه محافظان یې راسره کړل، په لارۍ کښې یې واچولم .دکابل قوماندانی ته یې راوستلم قوماندان ته یې دهغه دوسیې سره چې دکندهار قوماندان زما محافظانو ته ورکړې وه پېش کړم. قوماندان ماته وویل: کښېنه زه په بوه چوکۍ کښېناستم .قوماندان ددوسیې پاڼې اړوې را اړوې ماته یې همدومره وویل: چې ته تخریب کار یې په حکومت پسې پروپاګنډه کوې. ما ورته همدومره وویل: چې تاسې ظالمان یاست اوبې موجبه خلکو ته آزار ورکوئ.

ددې خبرې په اورېدلو یې زما دوهلو او ټکولو امر ورکړ بیا یې یو مامور راوغوښت ددوسیې او محافظانو سره یې هغه ته تسلیم کړم زما څخه یې لومړی دا پوښتنه وکړه چې ته دحکومت په ضد ولې کارونه کوې او ته مجرم یې!

ماته خو ته یو ځل زما جرم ووایه چې ماڅه جرم کړیدی. مامور راته وویل: ته دې دخپلې دوسیې نه خبر یې چې ستادوسیه ټوله دهغه شیانو نه ډکه ده چې ته به خپل عمل ووینې! ماهغه ته ډېر اصرار وکړ: وروره! ته خوماته خپل یو جرم راپه ګوته کړه چې ماڅه جرم کړیدی. هغه داسې وویل: ستا په دوسیه کښې ثوثوځلې ضبط احوالاتو ته داسې خبر ورکړ شوی دی چې مولوي بهرام ویلي دي چې سپه سالار محمد نادرخان دهندوستان ټولو خلکو ته ویلي چې زه پاچايي دځان دپاره نه نیسم زه بېرته امان الله خان راولم اودسلطنت مقام هغه ته سپارم .ما هغه ته وویل: وروره! داخو یو حقیقت دی چې دمحمدنادرخان دخپلې خولې نه؛ دهندوستان په ټولو اخبارونو کښې لیکلي شوېدي او په خپلو ټولو جلسو کښې یې خلکو ته ویلي دي . زما داټولې خبرې هغه په یو کاغذ باندې ولیکلې او زما په دوسیه کښې یې کښېښود . یو کال یې راباندې دولایت په توقیف کښې تېر کړ دیو کال بندیخانې نه وروسته یې دارګ بندیخانې ته ولېږلم ،درې کاله په ارګ کښې بندی وم، بیا یې دارګ له بندیخانې ته نور نوي بندیان راوستل. دارګ دبندیخانې ټول زاړه بندیان یې دکابل دولایت توقیف

خانې او ددهمزنګ زندان ته راوستل زه یې دولایت توقیف خانې ته راوستلم پنځه کاله دولایت په توقیف خانه کښې کوټه قلفي وم. ددهمزنګ دزندان دروغتون سرطبیب دمعمول په ډول دکابل دولایت دتوقیف خانې دلېدلو دپاره راغلی ؤ زه ډېر ناروغ وم زما جامې ټولې په غاړه شیرې شیرې او ټوټې ټوټې شوې وې. داځادر یو بندي راکړ چې: دځانه یې راچاپېر کړه خپل ځان دې پکښې پټ کړه اوس پنځلس ورځې کېږي چې دلته یې راوستلی یم کله کله ډاکتر (محمودي) سره دخپل زړه درد کومه.

ډاکتر محمودي مولوي بهرام ته همدومره وویل: بابا عبدالعزیز ډېر پوه او باتجربه انسان او ډېر ښه استاد ؤ اوزماني دهغه ښه شاګرد دی چې دخپل استاد ټول وصیتونه عملي کوي همداسې استاد او همدا شاګرد، زه به دفارسي په دې مشهور متل خپله خبره غوڅه پرېکړم چې وایې «همین آش و همین کاسه» په دې متل مولوي صاحب لږ وخندل ماته یې څرګنده کړه: دوه ورځې مخکښې چې ما تاته دارګ دبندیخانې دیوې تالاشۍ کیسه کوله ټول یادداشتونه مې برابر کړيدي ته څه وخت فرصت لرې چې زه یې درته ووایم او ته یې ولیکې. دډاکتر صاحب نه مو اجازه واخیستله زه او مولوی صاحب بهرام دواړه هغه کوټې ته راغلو. مولوي صاحب خپله خبره داسې پیل کړه: دارګ په بندیخانه کښې په یوه کوچنۍ کوټه کښې دنورو بندیانو په شان بندي یم یوه نیمه بجه دشپې ده چې کوټه مې چاپه ډېره وارخطایۍ څوځلې وټکوله چې دکوټې دروازه مې ورته خلاصه کړه درې تنه غبرګ کوټې ته په بده مونه دقهره ترینګلي راننوتل یوتن ماته داسې وویل: مور راغلي یو چې دبندیانو کوټې تالاشي کړو لومړۍ یې زه ولټولم بیایې داسې په ګوته کړه: اوس نور ته دکوټې نه ووځه چې مونږ یې تالاشي کوو هېڅ پوښتنه مې ترې ونه کړه چې دڅه دپاره تالاشي اخلئ له کوټې راووتم نور بندیان هم دکوټو نه راوتلي ټول دبندیخانې په دهلېز کښې ولاړ دي زه هم د هغوی سره ودرېدم په خپلو منځو کښې سره په کراره خبرې کوو. یو

بندي وويل: داوخت د تالاشۍ د کولو دی چې تول بنديان يې دخواړه خوب څخه را پاڅول؟ بل بندي ورته داسې دخپلې خولې د ماتم دسرود پاز ويرجنه ارمونيه وغږوله: ته مې د هر سر زوری زورور سرې وليدلې، ددوی باداران چې دانګرېز زرخريد غلامان دي غواړي چې موږ وځوروي زجر او تکليف راکړي اوبې خوبه مو کړي دادنيا هيڅ پر تپکه نده اخيستې چې تل به په دنيا کنبې ژوندي وي او هرڅه چې يې زړه غواړي هغه به کوي په ناز او نعمت کنبې به تل خوشحاله ژوند کوي، دهلاکو اوچنګيز تاريخونه پاتې شويدي چې هرڅوک پرې اوس لعنتونه وايي په دوی به دهغوی په شان لعنتونه وايي. زه ددې دواړو بنديانو دخبرو په منځ کنبې را ولوېدم داسې مې هغوی ته څرګنده کړه: خدای عزيز ذو انتقام دی فرعون ته هم خدای وخت ور کړی ؤ چې وروسته دخپلو اعمالو په جزا ورسېده د پښتو دامشهور منل شوی متل دی چې وايي ( څه چې کړې هغه به رېبې ) دتالاشۍ والاو دکوټو تالاشي وکړه دکوټو نه بهر راووتل دکوټو ددروازو په مخ کنبې و درېدل بنديانو ته يې داسې غږ وکړ: تالاشي خلاصه شوه هرڅوک خپلو کوټو ته لاړ شئ زه چې خپلې کوټې ته ننوتم داسې يې راته وويل: ستا په کوټه کنبې مو يو پنسل پيدا کړ او يو ځل ستا هغه قرآن مجيد پاڼه په پاڼه ګورو چې په حاشيه کنبې دې څه تخريبي شيان ليکلي نه وي بيا بېرته قرآن مجيد در کوو. ما ددې خبرې په اورېدلو هغوی ته وخندل. هغوی راته دتمسخر په ډول په ګوته کړه: ستاژړا اوخندا څه فايده نه کوي.

يوه هفته وروسته درې کسان زما کوټې ته راننوتل. دارګ دزندان آمر چې په خواجه آغا بې شهرت درلوده، لومړی يې ماته خپل قرآن مجيد راکړ او وروسته يې راته نور هغه دوه کسان داسې راوپېژندل:

مولوي صاحب دا يو دکابل امنيه قوماندان توره بازخان دی او دابل دضبط احوالاتو رئيس صاحب احمد شاه خان دی، دوی دواړه له تاسره خپلې څه مخصوصې خبرې کوي، زه ځم نوره دلته زما وظيفه ختمه شوه . قوماندان توره

باز خان پاڅېده کوټه یې قلف کړه چې چا کوټه وټکوله خواجه آغا په پتنوس کښې چای اوڅه کلچې راوړې پتنوس یې کېښوده هغه بهرته د کوټې نه ووت.

قوماندان په دریو پیالو کښې چای واچولو یوه پیاله یې زما په مخکښې کېښېښوده، بله داحمدشاه خان اوبله یې دځان دپاره. پخپلو منځو کښې چای څښو توره بازخان وویل: دکندهار دښار دخلکو لس تنه مشران راغلي دي داعلیحضرت محمد نادر خان په حضور درئیس صاحب ضبط احوالات په ذریعه مشرف شول اوس به نورې خبرې له تاسره پخپله رئیس صاحب وکړي. رئیس صاحب ضبط احوالات پخپلو درباري مزاجه چاپلوسانه غرورو چنو دخپلې خولې صندوقچه گی داسې خلاصه کړه :دکندهار لسو تنو مشرانو پرون ستاد خلاصېدو دپاره یوه عریضه اعلیحضرت ته ورکړه، اعلیحضرت دهغوی عرض منظور کړ اوماته یې امر وکړ چې دکابل دولایت امنیه قوماندان توره بازخان او تاسې دواړه به دارگ بندیخانې ته ځئ او له مولوي بهرام سره به خبرې کوئ، ماد کندهار له مشرانو سره داسې فیصله کړېده چې تاسې به د مولوی بهرام له خوا یو لیکل شوی ضمانت خط په دې شان ورکوئ چې مولوی بهرام به نور دحکومت په ضد تخریبات قطعي نه کوي او تاسې به د دغه لیکل شوي ضمانت خط لاندې داسې لیکئ: څه چې د کندهار مشرانو زما په باره کښې فیصله کړېده زه به عماغه شان کوم او په حکومت پسې به تخریبات نه کوم او دکندهار مشرانو ته اعلیحضرت داهم فرمایلی دي چې مولوي بهرام دکار سړی دی او زه یې د هر ښه پېژنم، د هر ښه یوه دیني عالم دی دا د مولوي بهرام خپله خوښه ده چې پدې لاندې وظیفو کښې هره یوه وظیفه خوښوي: اول –داسلامي دار العلوم رئیس. دوم – د تمیز رئیس یا قاضي القضات او یا دعدلیې وزیر. رئیس ضبط احوالات دخپلې خبرې لمنه داسې وغځوله :اعلیحضرت په ماټینگار کړی دی چې مولوي بهرام ته به قناعت ور کوې او زما داټولې خبرې به ورته کوې او که هغه ستا له خبرې سره خپل مصلحت ونه ښوده یوه هفته وروسته

به یې بیا دلته ماته راولې چې زه یې ورته پخپله خوله ووایم او خپله غاړه ورته آزاده کړم. بیا یې د خپل لاسی یکس نه هغه ضمانت خط را وښکه چې د کندهار په مشرانو یې امضاء کړی ؤ. رئیس ضبط احوالات د خپلو ډېرو خبرو کولو نه وروسته ماته داسې وویل: تاخو ماته هېڅ ونه ویل. ما هغه ته داسې وویل: لومړی مې کوم جرم نه دی کړی چې د کندهار د مشرانو نه تاسې لیکل شوی ضمانت خط اخلئ او بیا یې په ما هم امضا کوئ. ما هغه ته زیاته کړه: محمد نادرخان به ماته هم دا خبرې کوي چې تا راته تکرار په تکرار وکړې، باید هغه څوک د کندهار له مشرانو او زمانه معافي و غواړي چې غیر حق اوبې موجبه یې زه بندي کړی یم او که محمد نادرخان ماته څه خبرې کوي نو د کندهار مشران به هم حاضر وي او ته به هم یې چې سپینې، سپینې پاکې پاکې خبرې ورسره وکړو.
خواجه آغا راغی احمد شاه خان ماته داسې وویل: زه به خپل ټول گذارشات داعلیحضرت په حضور عرض کړم. بیا چه هغه هرڅه و فرمایل زه به هم هغه شان اجراأت وکړم. څو ورځې وروسته د ارگ د بندیخانې آمر خواجه آغا زما کوټې ته سا او تیگا راغی داسې یې وویل:
رئیس صاحب ضبط احوالات سبا راځې چې تا داعلیحضرت په حضور مشرف کړي. سبا د خپل ټاکلي پروگرام سره سم رئیس ضبط احوالات راغی له هغه سره په موټر کښې ارگ ته لاړم په انتظار خانه کښې دواړه کښېناستو داعلیحضرت د ملاقات مسؤول یوتن راغی رئیس صاحب هغه ته څه وویل.
څو دقیقې وروسته راغی هغه احمدشاه خان ته څه وویل: د ضبط احوالاتو رئیس ماته وویل: را پاڅه راځه چې ځو! هغه مخکښې روان دی او زه ور پسې وروسته ځم زه یې برابر هغه کوټې ته بوتلم چې د محمدنارخان د ملاقات کولو کوټه وه. محمد نادرخان د چوکۍ نه را پاڅېده روغبړ یې راسره غېږ په غېږ وکړ په سرېې مچې کړم بیا یې راته په لاس اشاره وکړه چې په دغه چوکۍ کښېنه! هغه د خپلې خبرې د کشتۍ لنگر داسې واچولو: د کندهار څو تنه مشران راغلي

وو ستاپه باره کنبې يې راته عرض وکړ مادهغوی عرض منظور کړ او له هغوی سره يوې موافقې ته ورسېدم نو ځکه مې احمد شاه تاته در ولېږه چې دټولو حالاتو نه تا پوره خبر کړي. احمد شاه خان ماته وويل: چې مولوی بهرام ستا اود کندهار دمشرانو خبره نه مني او هغه فيصله هم نه مني چې تادکندهار دمشرانو سره کړې ده. ما محمد نادرخان ته وويل: احمدشاه خان دادی حاضر دی چې ما ورته ويلي ؤ زه له محمد نادر شاه يو ځای دمشرانو په شمول خپلې خبرې کوم. اوس هغوی دلته هېڅ حضور نلري ځانله زه يم.

محمد نادرخان رئيس ضبط احوالات ته وويل: دکندهار مشران دې ولې نه دي راوستلي هغوی څه شول. هغه ورته وويل: هغوی کندهار ته لاړل ماته يې ويلي دي هروخت چې مونږ ته ضرورت پېداشه خبر راکړه مونږ به راشو او محمد نادرخان ته يې زياته کړه: ماهغه ضمانت خط هم مولوي صاحب ته ورکړ هغه يې هم ټول ولوسته څه چې په ضمانت خط کنبې ليکل شوي دي هغه مولوي بهرام نه قبلوي.

محمد نادرخان ماته وويل: مادکندهار له مشرانو سره وعده کړې ده چې دهمدې ضمانت خط دفيصلې مطابق به مولوي بهرام خلاص او دده دخوښې سره سم به په کار وګومارل شي اوس زه له تاسره پخپله خوله مخامخ خبرې کوم چې ته ولې داسې کوې دکندهار دمشرانو او زما فيصله نه مني! ماورته وويل: ماکوم جرم نه دی کړی زه دڅه شي ضمانت خط درکړم زما جرم هماغه خبره ده چې تاپخپله خوله دهندوستان ټولو خلکو او اخبارونو ته په جلسو کنبې کړې وه اوماتکرار کړې ده.

محمد نادرخان زما ددې خبرې په اورېدلو سره ډېره په پسته نرمه خوږه لهجه داسې وويل: زه هم په دې نامه افغانستان ته راغلم خو کله چې مادافغانستان له خلکو سره دامان الله خان په باره کنبې خبرې وکړې چې بېرته يې راولم چې سلطان شي دافغانستان ټولو خلکو يې سخت مخالفت کولو. دافغانستان

خلکو ماته بیعت وکړ اوزه یې خپل سلطان وټاکلم. بیا یې خپله داخبره څوځلې تکرار په تکرار وکړه چې دافغانستان خلکو امان الله خان نه غوښته ځکه حبیب الله بچه سقاو دکابل نه وشاړه اوسلطنت یې ترې واخیسته. خدای شاهد حال دی چې دډېر فکر نه وروسته مې هغه ته داسې وویل: امان الله خان انګرېزانو نه غوښته، انګرېزانو حبیب الله بچه سقاو غوښته هغه یې را ووست. زما ددې خبرې په اورېدلو سره یې په مخ توره لمبه وګرځېدله اوبیا یې وغوښتلې اوبیا چې یې وڅښلې احمدشاه خان رخصت واخیست چې: موږ رخصتېږو د محمد نادرخان ماته دا آخرینه خبره وه چې ویې کړه: دخپل ځان دښمن یې هرکله دې چې په هغه وظیفو کښې کومه خوښه شوه چې مملکت ته کار وکړې بیا یې رئیس صاحب ته ووایه. زما وروستی خبره محمد نادرخان ته داوه دظالم اخره خطاده هر سړی دخپل عمل په جزا رسېږی تاپخپله خبره وفا ونکړه او هرڅوک چې پخپله خبره وفا ونکړي له هغه سره کار کول په کار نه دي. زما آخره خبره له محمد نادرخان سره داوه: نه به ته یې او نه به زه یم خدای به تل وی، افغانستان به وي او افغانان او تاریخ به قضاوت وکړي. احمدشاه خان غږوکړ راځه چې ځو! هېڅ رخصت مې ترې وانه خیسته په چوپه خوله یې دکوټې نه راووتم دارګ بندیخانې ته یې راوستلم.


PROPERTY OF ARIC Established 1989

## دپای خبره

دیارلس کاله زندان او اته کاله تبعید له تراژیدي او کومیډي خاطراتو نه ډک ژوند چې په یوه یا دوه کتابونو کښې یې ګنجایش او ځایول مشکل ښکاري داڅو پاڼې په دې کتاب کښې دمشت نمونه ، خروار په مثال وړاندې شوې.

(پای)

PROPERTY OF ACKU 9237



ددې اثر لیکوال